اِرشادُ الطّالبین

په قندهاری پشتو شرح

زادُ الطّالبین

Greater Afghan Library
@Greater_Afghan_Library93
@Greater_Afghan_Library_Group

مؤلّفه
ډاکټر عاشق الٰهی البرنی

ترتیب او تصحیح
مولوي عبدالدیان حلیم

مکتبه سلطانیه الهاشمیه
کانسی روډ - کوئټه

بسم الله الرحمن الرحيم

نوی او زیات جالب کتاب په حسین اوخوندور کتابت

ارشاد الطالبین

په قندهاری پشتو

شرح زادُ الطالبین

تالیف

مولانا عاشق الهي البرني مدظله

ترتیب او تصحیح

مولوي عبدالديان حليم

ناشر

المكتبة السلطانية الهاشميه

Greater Afghan Library
@Greater_Afghan_Library93
@Greater_Afghan_Library_Group

https://m.facebook.com/Ezatullah.sultanzai
https://T.me/Ezatullah_sultanzia/
WhasApp: 0093706912702

باور کتابتون
https://Bawar.net/

تقريظ

دشيخ الحديث حضرت مولانا
صوفي محمدسرور صاحب دامت برکاتهم

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمدلله رب العالمين والصلواة والسلام علي سيدالمرسلين وعلي آله واصحابه واتباعه احمعين.

امابعد: دخپل اقاچه څومره هم شکر وکړم کم دي چه هغه کوم ځاي په کروړونو انعامات راکړي دي هلته يې يوډير لوي احسان، اکرام، او انعام بغير داستحقاق څخه داهم فرمايلې دي چه نيک اولاد يې راکړي ده چه دازما دستر ګو يخوالي ده الحمدلله حمداً کثيراً طيباً مبارګافيه کمايحب ربّنا ويرضي دبنده مينځني ځوئې عزتمند محمد عتيق الرحمن سلمه دي وخت کي په ټولو بچو کي په ذهانت او محنت کي دټولو څخه وړاندي په نظر راځي اللهم زد فزد او دهغې يوه نښه دهغه دامحنت ده کوم چه هغه تقريباً دپنځه ويشتو کالوپه عمر کښې دزاد الطالبين دمختصر شرح په صورت کښې تيار کړي ده داده اول تصنيف ده او بنده دالله جل جلاله له رحمت څخه دزياتي اميد ساتي بنده داشرح له شروع څخه تر آخره پوري يويو لفظ ويلي ده دخپل عمر په لحاظ سره دعزتمند داډير دحوصلي زياتولو والا ديني خدمت ده دترجمي او ترکيب يې پوره اهتمام کړي ده په بعضي بعضي مسئلو کي يې ډير تفصيل کړي ده اوزيات يې له مختصر وضاحت څخه کار اخستي ده کوم چه داول تصنيف کيدلو په درجه کي کامياب محنت ده ابتدائي طالبانو اوعوامولپاره يوډيره زياته فائده منده ذخيره ده الله جل جلاله دي دعزتمند دامحنت قبول کړي دهغه اوبنده مسکين لپاره دي دآخرت ذخيره جوړه کي آمين يارب العلمين.

وصلي الله تعالي علي سيدنا ومولانا محمدٍ وآله واصحابه واتباعه اجمعين.

کتبه محمد سرور عفي عنه

۱۹ دجمادي الاولي سن (۱۴۱۴ھ)

پرليکه کوونکی : عزت الله سلطانزی

۰۷۰۶۹۱۲۷۰۲

تقريظ

دحضرت مولانامفتي عبدالقادر صاحب مدظلهم
شيخ الحديث دارالعلوم عيدگاه كبير والا

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله الذي جعل علم الحديث زادًا للطالبين ومزادًا للرّاغبين وافضل الصلوات والتسليمات علي من صدرمن مشكواة نبوته جوامع الكلم ونبع من قلبه منابع الحكم وعلي آله واصحابه الذين سمعوا احاديثه فحفظوها ووعوها وادّوها كماسمعوا فرض الله عنهم اجمعين.

امابعد: عزتمند ورور حضرت مولاناعتيق الرحمان صاحب زيد مجده په اردو كښي د زاد الطالبين شرح بالكل دځوانئ په شرع كښي وليكله ماشاالله دعلم طالبانولپاره يوه بهترينه تحفه ده دهرحديث تخريج يې سره له صفحي اوكرښي كړي ده دهرحديث ترجمه مفهوم، اوتشريح اودهغه تركيب يې په ډيرښه انداز كي ليكلي ده نكتي اولطائف بيانولو سره يې دكتاب قدرزيات كړي ده.

بنده ترجمه اوتشريح كتلي ده بعضي بعضي ځايونوكي چه يې خطايې وليدله دهغه اصلاح يې وكړه الله ﷻ دي داشرح دطالبانو لپاره فائده منده اودمؤلف لپاره دي دخپلي رضاذريعه جوړه كړي آمين يارب العلمين.

عبدالقادر عفي عنه مدرس دارالعلوم كبير والا.

(٢٠ دشوال المكرم سنه ١٤١٤ھ)

تقريظ

دحضرت مولانا محمد قاسم مدظلهم
استاذ الحديث جامعه مدنيه لاهور

بسم الله الرحمن الرحيم حامدًا اومصليًا

دبعضو احاديثو تشريح اوتحقيق مي وكاته كلام مي ډيرښه، بهتر اوصحيح بيا موندلو الله ﷻ دي دخپلي رضا ذريعه جوړه كړي ددنيا اوآخرت ترقي دي وركړي آمين يارب العالمين.

فقط احقر محمد قاسم خادم جامعه مدنيه

(١٩شوال ١٤١٤ھ)

بسم الله الرحمن الرحيم

الا لا الاء الا الاءُ الله اللهم صل علي سيدنا ومولانا

محمدٍ وعلي آل سيدنا ومولانا محمد وبارک وسلم .

امابعد: زاد الطالبين چه دمولانا عالشق الهي البرني صاحب تأليف ده کوم چه د (۳۲۹) احاديثو مجموعه ده داکتاب د طالبانو لپاره لوي احسان ده داکتاب د علم حديث فن سره تعلق ساتي اوپه دي خبره کي هيڅ شک نسته چه د علم حديث فن په ټولو فنونو کي اعلي او افضل شمار لي سي په دي سره په دين باندي پوهه حاصليږي او د اخلاقو اصلاح کيږي او داکتاب چونکه د دويمي درجي په نصاب کي هم شامل ده د دي وجه څخه طالبانو ته د علم صرف جاري کولو موقع په لاس ورځي اوپه دي کتاب سره د نحوي ترکيبونو مهارت هم حاصليږي اوپه علم ادب هم نظر ساتلي شي بياچونکه د علم د کمي په دي زمانه کي طالبان په هرفن کي اساتيا خوښوي په دي وجه احقردا وغوښتل چه د دي کتاب شرح وليکل شي چه په هغي کي د هرحديث ترجمه ، تشريح ، او تخريج ، لغوي او صرفي تحقيق او ترکيب ټول يوځاي جمع کړي سي او دارشاد الطالبين طالبانو ته لاربنوونکي کتاب په نوم سره د کتونکو لپاره تحفه ډالۍ جوړه سي الحمد لله الله ﷻ داکار له احقر څخه واخست د ټولو لوستونکو او کتونو څخه د دعا درخواست ده چه الله ﷻ خالص په خپل فضل او کرم سره د اشرح قبوله کړي او بغير د عذاب څخه جنت د تلو لپاره يې زمانه ذخيره وګرځوي .

آمين ثم آمين يارب العالمين صلي الله علي النبي الامي وآله وسلم .

د زاد الطالبين طريقه او خاصيتونه

(۱) ترکيبي حيثيت سره ټول احاديث جمع کړل سوي دي . (۲) د ټولو څخه اول جمله اسميه سره شروع سوي ده بيا دهغه پنځه قسمه بيان سوي دي : (۱) چه دهغې په شروع کي الف لام وي . (۲) هغه چه دهغې په شروع کي الف لام نه وي . (۳) هغه چه د هغې په شروع کي لانافيه وي . (۴) هغه چه دهغې په شروع کي اِنّ وي . (۵) هغه چه دهغې په شروع کي اِنمَا وي . (۳) بيايې جمله فعليه وليکله چه په هغې کي يې شپږ قسمونه جوړ کړل : (۱) بغير د څه حرف داخلولو څخه . (۲) هغه چه دهغې په شروع کي لاوي . (۳) دامر اونهي په صورت کي . (۴) چه ليس ناقصه يې په شروع کي لګيدلي وي . (۵) چه من حرف شرط پکښې راغلي وي . (۶) چه اذا حرف شرط ورسره لګيدلي وي . (۴) بيايې دبعضې مغيباتو (يعني دغيب بعضي خبرو) په عنوان سره . (۲۵) خبرونه دمغيباتو ذکر کړي دي . (۵) بيايې دويم باب قائم کړي ده په هغه کي يې څلويښت قيصي ذکر کړي دي .

دارشادالطالبين طريقه اوخاصيتونه

(۱)دعامو اوخاصوتهولودپاره مفيد ده ځکه چه دهرحديث ترجمه او تشريح ليکل سوي ده.(۲)چونکه دزادالطالبين ټول احاديث دمشکواة شريف څخه راايستل سوي دي له دي وجه دقديمي کتب خاني والادچهاپ مشکواة باقاعده هرحديث سره حواله صفحه نمبر اودليکې نمبرليکل سوي دي دتخريج په عنوان سره .(۳)داصل کتاب نوم له هرحديث سره ليکل سوي ده چه دمسلم ده يادبخاري ده يادابوداؤد يادترمذي اويادغيره .(۴)له هرحديث سره دصحابي راوي نوم هم ليکل سوي ده .(۵)دترجمي اوتشريح څخه بغير دعلماؤ پداره لغوي اوصرفي تحقيق اهتمام هم سوي ده .(۶)داول باب په هريو لفظ باندي اعراب هم لګيدلي ده پردوهم باب باندي اعراب له دي وجه نه ده لګيدلي چه طالبان په عبارت ويلو کي مهارت حاصل کي .(۷)دکوم حديث چه شان ورود وي يعني په يوه موقع کي هغه حديث بيان سوي وي هغه هم تشريح سره اوپه بعضي ځايونو کي په جدأعنوان سره ليکل سوي وي .(۸)دکتاب تصحيح اونظر ثاني دبنده والد صاحب حضرت صوفي محمد سرور صاحب مدظلهم کړي ده اوحضرت مفتي عبدالقادر صاحب ددارالعلوم کبيروالاشيخ الحديث کړي ده .

دهمدي شرحي مأخذونه اوورکړسوي حوالې

(۱)مشکواة(۲)مرقات شرح مشکواة(۳)لمعات(۴)بخاري (۵)مسلم(۶)ترمذي(۷) ابوداؤد (۸)ابن ماجه(۹)نسائي (۱۰)بيهقي(۱۱)دارمي(۱۲)زين(۱۳)احمد(۱۴)شافعي(۱۵)شرح السنة(۱۶)فتح الباري(۱۷)عمدة القاري (۱۸) الخيرالجاري(۱۹)فتح الملهم(۲۰)ارشاد الساري(۲۱)مجمع الزوائد (۲۲) الخيرالاصول(۲۳)خداکي باتين (۲۴) السراج المنير (۲۵) حسن المعبود(۲۶)المنجد (۲۷) مصباح اللغات(۲۸)لغات فيروزي فارسي(۲۹)قاموس (۳۰) فيروز اللغات(۳۱)تاج المصادر(۳۲)بيان اللسان (۳۳)الاضافات(۳۴)بهشتي زيور(۳۵) کليد بهشت (۳۶) سنت وبدعت (۳۷)تاج العروس (۳۸)جامع الصغير(۳۹)نصب الرايه(۴۰) مختارالصحاح (۴۱)مدخل(۴۲) الجنة (۴۳)جصاص (۴۴) فتاوي افريقه (۴۵)مکتوبات مجددالف ثاني حصه دوم(۴۶)کتاب الاعتصام للشاطبي (۴۷) المنهاج الواضح(راه سنت)(۴۸)حاشيه مقامات مولانا ادريس(۴۹)پاکت عربي اردو لغات(۵۰)معارف القرآن مولانا مفتي شفيع صاحب.

زمورد استاذانو نومونه

(۱)حضرت مسيح الامت مولانا مسيح الله خان صاحب (۲)حضرت مولانا سرفراز خان صاحب دامت برکاتهم(۳)حضرت مولانا عبيدالله صاحب مدظلهم.(۴)حضرت مولانا صوفي محمد سرور صاحب مدظلهم (۵)حضرت مولانا محمد موسي صاحب روحاني بازي مدظلهم (۶)حضرت مولانا عبدالرحمن اشرفي صاحب مدظلهم(۷)حضرت مولانا محمد يعقوب صاحب مدظلهم (۸)حضرت مولانا نورمحمد صاحب مدظلهم(۹)حضرت سيد نفيس شاه صاحب مدظلهم(۱۰) مولانا فضل الرحيم صاحب مدظله(۱۱)مولانا وکيل احمد شيرواني صاحب مدظله (۱۲) مولانا محمود اشرف صاحب مدظله(۱۳)مولانا محمد اکرم کاشميري صاحب مدظله(۱۴)مولانا مفتي ممتاز صاحب(۱۵)مولانا عبدالرحيم چترالي صاحب مدظله (۱۶)مولانا فياض الدين چترالي صاحب مدظله.

بسم الله الرحمن الرحيم

ترجمه: شروع کوم په نامه د الله ﷻ چه رحمن او رحيم ده. **تشريح**: مصنف خپل کتاب له بسم الله څخه شروع کړې چه په حديث باندې عمل ونه سي هغه حديث داده «کل امر ذي بال لم يبدأ ببسم الله فهو ابتر» يعني که د هر کار شروع بغير له بسم الله وسي هغه به بې برکته وي. **سوال**: بسم الله ويل هم يو کار ده او تر هر کار له مخه بسم الله په کار ده لهذا د بسم الله په مخکې هم بسم الله په کار ده نو نتيجه به يې داسي چه تسلسل لازم سي او دا محال ده؟ **اول جواب**: بسم الله ويل داسي کار ده چه په دې کې شروع د الله ﷻ په نامه سره کيږي لهذا د بسم الله تکرار نه ده ضرور. **دويم جواب**: حديث مخصوص ده له ذيال څخه مراد غير د بسم الله ده. **بسم الله**: ب جار ده ورپسې مجرور ده هر جار مجرور سره متعلق کيږي لهذا بسم الله به هم له څه شي سره متعلق وي ډيره غوره داده چه د دې متعلق فعل وي او مؤخر وي مثلاً اشرعُ فعل ځکه غوره ده چه فعل په عمل کې اصل ده اسم نه ده اصل او مؤخر ځکه غوره ده چه د الله ﷻ نوم تر فعل مخکې سي که فعل مقدم وي نو ابتداء به فعل سره کيږي له د الله ﷻ په اسم سره به نه کيږي ده اسم له سَمو څخه مشتق ده لکه څنګه چه نحويان د بصري وايي په معني د اوچتوالي سره يا د وَسم څخه مشتق ده لکه څنګه چه نحويان د کوفي وايي په معني د علامت نخښې، او داغ سره په لفظ د اسم کې اتلس لغتونه دي له د اشعر څخه واضح کيږي:

سَمَّ ءٌ سِمٌ وَسُمٌ سَمَاةٌ كَذَا ... سَمِيٌّ وَزِدْ سُمَّةً وَاثْلُثْ أَوَائِلَ كِلْهَا

الله: د محققينو په نزد د الفظ د د اسي ذات نوم ده چه هغه د ټولو صفاتو لپاره جامع ده يا د الفظ د کومې ژبې ده عربي ده که عجمي؟ په دې کې دوارې قوله دي که څوک وايي چه لفظ د الله ﷻ عربي ده دهغوي په خپل مينځ کې اختلاف ده چه دا اسم جامد ده که مشتق په دې کې هم دوارې قوله دي چه څوک داوايي چه لفظ د الله ﷻ مشتق ده په دې کې يا اختلاف ده چه د وَلَهَ څخه مشتق ده او بعضې وايي چه د اَلَهَ څخه مشتق ده بهر حال په دې کې شل اقواله دي چه په بيضاوي شريف کې ليکل سوي دي لفظ د الله د الله ﷻ ذاتي نوم ده. **الرحمن الرحيم**: دا دوارې د مبالغې صيغې دي رحمت د باب سمع څخه مشتق ده د رحمت لغوي معني د زړه نرميدلو ده. **سوال**: الله ﷻ خو له زړه څخه پاک ده يا هغه د رحمن او رحيم له صفت سره څنګه متصف کيږي؟ **جواب**: بنه پوه سئ چه داسي کوم يو صفت هم وي چه د الله ﷻ لپاره ثابت وي له هغه څخه مراد د دې صفت انتهاء اثر او نتيجه وي دا رنګه دلته هم د رحمت معني د زړه نرمي ده خو د دې مقتضي نتيجه احسان او انعام ده او هم دا دلته مراد ده دا اثر او نتيجه ده د زړه د نرم والي چونکه د فعلان وزن د فعيل څخه ابلغ وي پهدي وجه د رحمن له رحيم څخه ابلغ ده. **فرق**: د رحمن د علم اونوم په رقم ده هم دا وجه ده چه په غير الله باندې د رحمن اطلاق جائز نه ده په خلاف د رحيم چه د دې طلاق په غير الله باندې صحيح ده د رسول ﷺ له په قرآن کريم کې رحيم ويل

سوي دي إِنَّهُ بِالنَّاسِ لَرَءُوفٌ رَّحِيمٌ .ترکيب: ب حرف جار، اسم مضاف، لفظ الله موصوف، الرحمن صفت اول، الرحيم صفت دويم، موصوف سره له خپلو دواړو صفتونو مضاف اليه سو مضاف سره له مضاف اليه مجرور سو جار سره له مجروره متعلق شو اَشْرَعُ فعل په دي کي انا ضمير ددي فاعل فعل سره له خپل فاعل او متعلق نه جمله فعليه سوه .

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ شَرَّفَنَا عَلٰی سَائِرِ الْاُمَمِ بِرِسَالَةِ مَنْ اخْتَصَّهُ مِنْ بَیْنِ الْاَنَامِ بِجَوَامِعِ الْکَلِمِ وَجَوَاهِرِ الْحِکَمِ ﷺ وَعَلٰی اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَبَارَکَ وَسَلَّمَ مَا نَطَقَ اللِّسَانُ بِمَدْحِهٖ وَنَسَخَ الْقَلَمُ .

ترجمه: تول تعريفونه دالله ﷻ لپاره دي هغه الله ﷻ چه هغه مور ته ترټولو امتونو فضيلت راکړ د داسي ذات رسول جوړولوسره چه هغه يې دخلقو په مينځ کي خاص کړدجمله ووجامعيت سره اودحکمتونوموتيانو(غمو)سره الله ﷻ دي پرهغو اود هغوي پراولادوباندي او پر صحابه ووکرامو باندي کامل رحمت اوبرکتونه نازل کړي ترڅوپوري چه ژبه دهغه په تعريف باندي مشغوله وي اوترڅو پوري چه قلم ليکل کوي . تشريح: سوال: په الحمدلله کي تول دچشي ترجمه ده ؟جواب: پوه سئ چه دالف لام څلور قسمونه دي جنسي، استغراقي، عهدخارجي، عهدذهني .(١)الف لام جنسي هغه ده چه دهغه له مدخول څخه ماهيت مرادوي لکه الرجل خيرٌ من المرئة په الرجل کي الف لام جنسي ده يعني ماهيت اوجنس سړي ترښځه ښه ده.درجل تعريف:مذکر من بني آدم جاوز من حد الصغر الي حد الکبر.(٢)الف لام استغراقي هغه ده چه دهغه له مدخول څخه تول افراد مراد وي لکه إِنَّ الْاِنْسَانَ لَفِیْ خُسْرٍ يعني تول انسانان په تاوان کي دي .(٣)عهدخارجي هغه ده چه دهغه له مدخول څخه هغه بعضي افراد راد وي کوم چه په خارج کي متعين وي لکه فَعَصٰی فِرْعَوْنُ الرَّسُوْلَ يعني فرعون درسولالله ﷺ نافرماني وکړه په الرسول کي الف لام عهد خارجي ده يعني موسي عليه السلام مراددە .(۴)عهدذهني هغه ده چه دهغه له مدخول څخه معين افراد نه وي مرادبلکه صرف دمتکلم ذهن کي وي لکه وَاَخَافُ اَنْ يَّاْکُلَهُ الذِّئْبُ چه يوسف عليه السلام به شرمښ وخوري چونکه دیعقوب عليه السلام په ذهن کي غير معين شرمښ ووپه دي وجه الف لام عهد ذهني جوړسودلته په الحمدلله کي «تول» دالف لام استغراقي ترجمه ده دلته جنسي اواستغراقي دواړه صحيح دي ځکه چه جنس تعريف هم دالله ﷻ لپاره خاص دي تول تعريفونه هم خاص الله ﷻ لره دي عهد خارجي هم صحيح ده خوښ حمد به مراد وي شَرَّفَنَا دالهباب تفعيل څخه دهددي معني عزت ورکول دي تشريف ددي مصدر ده چه شَرَّفَنَا جلاصيغه ده شَرَّفَنَا جلاصيغه ده شَرَّفَنَا په فتحه دفاء سره دماضي واحد غائب صيغه ده په دي کي هُوَ ضمير ده چه هغه دالله ﷻ طرفته راجع ده اونَا جدامفعول ده.

يعني مورږ ته الله ﷻ شرافت راکړدا صيغه دلته ده اوبل شَرَّفَنَا په سکون د فاء سره ده دا د ماضي د جمع متکلم صيغه ده يعني مورږ شريف جوړ کړ. سَائِرِ الْأُمَمِ په عربي کي دسائر دوي معناوي راځي: (۱) باقي (۲) ټول، دا د فتح يَفتح باب څخه د اسم فاعل صيغه ده دلته د دي معني ټول، دالأمم جمع ده د أُمَّةٌ دا أُمَّةٌ پنځه معناوي دي: (۱) جماعت (۲) د خلقو ډله (۳) طريقه (۴) وخت (۵) قدوقامت، دلته اوله معني مراده ده په ټولو امتونو باندې يعني د ټولو نبيانو په جماعتونو باندې. بِرِسَالَةٍ: ب جاره جداده رسالة جداده رسالة د فعالة وزن ده د دي جمع رسائل او رسالت ده په لغت کي د دي دري معناوي راځي (۱) پيغام (۲) پيغامبري (۳) خط، درسالې اصطلاحي معني داده مَا كَبُرَ عِلْمُهُ وَصَغُرَ حَجْمُهُ حجم دشي مقدار اندازي ته وايي د دي جمع حُجُوم راځي يولفظ رسول ده د دي معني هم دغه ده خو جمع د دي رُسُل رُسَلَاء راځي. الانام: انام دسحاب وزن ده مفرد ده د دي جمع انام راځي لغوي معنايې مخلوق ده

بِجَوَامِعِ الْكَلِمِ: ب جاره جداده اوجوامع الكلم جدا جوامع د جامع جمع ده او الكلم د كلمة جمع ده د جوامع الكلم څخه مراد هغه الفاظ دي چه د هغه الفاظ کم وي او معاني يې ډيري وي په اصل کي مصنف اشاره کوي هغه حديث طرف ته چه په هغي کي د جوامع الكلم ذکر دي هغه حديث دادي أُعْطِيتُ جَوَامِعَ الْكَلِمِ وَنُصِرْتُ بِالرُّعْبِ. وَجَوَاهِرِ الْحِكَمِ: جواهر د جوهرة جمع ده په لغت کي جوهر هر هغه کانې ته ويلي سي چه د هغه څخه د فائدي شي جوړ سي الحكم د حكمت جمع ده د دي په لغت کي ګڼي معناوي دي (۱) انصاف (۲) علم (۳) صبر (۴) فلسفه (۵) د حق موافق وينا (۶) د کار صحيح والي دلته دغه دويمه معني مراده ده يولفظ حكيم ده د هغه معنى پوهه او علم ده د هغه جمع حكماء راځي جوامع الحكم څخه مراد نبه نبه خبري دي د قيمتي ملغلرو په رقم. صَلَّى اللهُ تَعَالَى عَلَيْهِ الخ: صَلّى د ماضي صيغه ده قانون داده چه د ماضي په الفاظو سره کله د دعاء وسي ترجمه به يې د مستقبل کيږي بَارَكَ هم د ماضي صيغه ده او سَلَّمَ هم د ماضي صيغه ده. صَحْبِهِ: دا جمع د صاحب ده معنى يې داده: (۱) ملګري (۲) يوځاي ژوند تيروونکي (۳) مالک (۴) وزير (۵) ګورنر. د صاحب دا جمعي راځي: (۱) صَحْبٌ (۲) أَصْحَابٌ (۳) صِحَابٌ (۴) صُحْبَانٌ (۵) صِحَابَةٌ (۶) صَحَابَةٌ دا صحاب جمع بيا اصاحيب راځي مَا نَطَقَ اللِّسَانُ بِمَدْحِهِ مَا په معني د مَادَامَ سره يعني ترڅو پورې چه ژبه خبري کوي دهغه په تعريف سره دلته هم نطق ماضي ده د ضَرَبَ يَضْرِبُ له بابه څخه ليکن معني يې د مستقبل کولي سي ځکه چه دا ځاي د دعاء ده د دي مصدر نطقًا هم راځي منطقا او نطوقا هم راځي په معني د وينا لسان ژبې ته وايي دالفظ ترمذکر زيات استعماليږي د دي هم ډيري جمع راځي (۱) اَلسِنَّةٌ (۲) اَلسُنٌ (۳) لُسُنٌ (۴) لِسَانَاتٌ، لغت او پيغام هم د دي معانې راځي مدح د فتح له باب څخه مصدر ده په معني د تعريف کولو. وَنَسَخَ الْقَلَمُ: نسب هم د فتح له باب څخه ده د ماضي واحد غائب صيغه ده په معني دوړانولو، باطل کولو، اوليکلو. القلم مفرد ده جمع يې اقلام او قِلام راځي د قلم اطلاق د قلم جوړولو څخه وروسته کيږي. تشريح امابعد: مادشرط لپاره راځي اګرچه د ابتداء څخه شروع وي يا د تيرسوي اجمال تفصيل وي دلته خو اجمال نه ده تيرسوي نو خامخا دلته اَمَّا استنافيه لپاره ده بَعدُ مبني ده په ضمي سره يعني اَمَابَعدَ البَسمَلَةِ وَالحَمدَلَة

والصلواة امابعدُ څخه وروسته همیشه فاء جزائیه راوړل کیږي یودبعدُ بل دامابعدُ ښه معلومات په کارده چه امابعدُلیکل اوویل سنت دي اوله بعدُ سره سنت نه اداکیږي.

امابعدُ له کوم وخت څخه شروع سو

په دي باره کي مختلف قولونه دي دبعضو په نزد باندي دداؤد علیه السلام له وخت څخه شروع ده اودبعضو په نزد دسحبان بن وائل خلاصه داده چه په دي کي شپږ اقواله نورهم راغلي دي فَهٰذَا كِتَابٌ وَجِيزٌ دایو مختصر کتاب ده فاء په جواب داماکي ده اوهذا اسم اشاره ده. سوال: مشارالیه محسوس طرف ته اشاره کولو ته ویل کیږي اودهغه دپآره راځي دلته مشارالیه نه ده معلوم؟ جواب: خطبه پردوه قسمه ده یوه خطبه الحاقیه ده دویمه ابتدائیه ده که چیري خطبه ابتدائیه سي نوبیا کتاب مشارالیه نه سي کیدلای ځکه چي خطبه ابتدائیه هغه وي چي مصنف مخته خطبه ولیکي اوبیاهغه باقي کتاب نوشته کړي نو ؤس لاد کتاب وجود نسته مشارالیه به په کوم اندز جوړشي او که چیري خطبه الحاقیه سي بیاهم صحة نلري ځکه خطبه الحاقیه هغه وي چي مصنف مخته کتاب لیلکلی وياوخطبه وروسته ولیکي کله چي موږ خطبه الحاقیه ومنو نوبه یه مشارالیه صرف نقوش وي یاصرف الفاظ یاصرف معاني یاد دواړو مجموعه اویا دد ریو مجموعه نو ټول اوه صورتونه سول چي په هغه کي دري صورتونه داسي دي چي دهغه وطرف ته په هذا سره اشاره کول جوازنلري: اول صورة دادی چي صرف الفاظ مشارالیه وی داباطل دي علة دادی چي زادالطالبین صرف دالفاظو نوم نه دی. دوهم: داچه صرف معاني مشارالیه وي داهم صحة نلري ځکه چي زادالطآلبین صرف دمعانیو نوم نه دی بلکه دالفاظو او معانی وو دواړو دمجموعي نوم دی. دریم: داچي دالفاظو اومعانیو دواړو مجموعه مشارالیه وي داځکه صحة نلري چي هذا دیوو دپاره وي چي هغه په ستر ګو باندي لیدونکی وي دالفاظو اومعانی وو مجموعه داسي نه ده باقي پآته هغه دنقشو والا څلور صورتونه پاته سول هغه باطل دي. (۱) صرف نقوش، دویم: نقوش الفاظ، دریم: نقوش اومعاني. څلورم: نقوش، الفاظ، معاني. داڅلور صورتونه هم باطل دي ځکه چي زادالطالبین دنقوشو نوم نه دی اوهر کله چي یوصورة هم مشارالیه نه شي جوړیدلای په خطبه الحاقیه کي اوپه ابتدائیه کي خوسره له دي دکتاب وجود هم نسته نودلته مشارالیه کوم یودی؟ تعین په تاسو پوري اړه لري. **جواب**: خطبه ابتدائیه ده ته به سوال کوي چي فی الحال خو کتاب وجود هم نلري موږ وایو چي دمصنف په زړه کي مکمل موجود وو نوله همدي وجي یه په هذا ورته اشاره وکړه. وجیز: دفعیل پروزن دی معنی یه اختصار ده په علم بلاغة کي دکلام پنځه قسمونه دي: ایجاز، مساواة، اطناب، تطویل، حشو. (۱) **ایجاز** په لغة کي اختصار ته ویل کیږي اوپه اصطلاح کي هرهغه کلام ته ویل کیږي چي دهغه الفاظ کم وي او معناوي یه زیاتی وي. (۲) **مساواة**: په لغة کی برابري ته ویل کیږي اوپه اصطلاح کي هرهغه کلام دی چي دهغي دمعنی مطآبق الفاظ وي یعني څومره اندازه چي الفاظ وي په هغه اندازه یه معنی وي. اطناب: هغه دی چي دځه

نکته په وجه الفاظ زیات وي. **تطویل**: په اصطلاح کي هرهغه کلام ته وایي کوم چي ډیراوږد وي بغیر د فائده څخه خو په مقصد کي خلل کي اچونکی نه وي. **حشو**: په لغت کي په کلام کي زیات والي ته وایي او په اصطلاح کي په کلام کي هغه زیات والي ته وایي چي بې فائدې وي او خلل اچونکی هم وي زیات وضاحت د علم بلاغت په کتابونو (تحسین المبانی) وغیره کي وګورئ. مُنْتَخَبٌ كَلَامِ الشَّفِيعِ الْعَزِيزِ: منتخب دباب افتعال څخه داسم مفعول صغیغه ده په معنی دخوښولو سره او انتخابات هم ددې په معنی کي .شفیع په معنی دسفارش کوونکي سره دی جمع شُفعاء راځي. **عزیز**: دضرب دباب څخه دصفت مشبه صیغه ده چي په هفت اقسام کي دمضاعف څخه دی ددې ډیرمعناګاني راځي.(۱):شریف.(۲):مضبوط.(۳):ناآشنا.(۴): عزت مند.(۵): لوړي مرتبې والابادشا. چي دهغی حاصلول ډیرمشکل وي اوهغه مغلوب نه وي اوڅوک هغه عاجزه کولی نه سي اودهغه په شان بل هیڅوک نه وي او دا دالله جَلَّ جَلَالُهُ په نومونو کي یو نوم دی .ددې جمع عِزاز اوعَزّاء اوعَزّةٌ راځي. اِقْتِبَسْتُهُ مِنَ الْكِتَابِ اللَّامِعِ الصَّبِيحِ: داقتباس لغوي معنی ده اور اخیستل اوپه اصطلاح کي اقتباس هغه ته وایي چي کوم شاعریاعام سړی په خپل نثري نظم کي د قرآن یاحدیث یوه حصه شامله کړي اودا وضاحت ونکړي چي داد قرآن یاحدیث تکړه ده، کتاب مصدردی دنصرینصر دباب څخه دی معنی یې ده .۱: په کوم شي کي چي لیکل وسي. ۲: خط. ۳: صحیفه. ۴: فرض. ۵: حکم. ۶: اندازه. ددې جمع کُتُبٌ کُتُبٌ راځي.لامع دفتح دباب اسم فاعل صیغه ده په معنی دځلیدلو سره ،ددې جمع لُمّع راځي الصبیح په معنی دښکلي راځي جمع یې صباح ده .مطلب دادی چي ماداکتاب حاصل کړی دی دښکلي او ځلیدونکي کتاب څخه کوم چي دمشکوة المصابیح په نامه باندي مشهوراومعروف دی. بِمِشْكَوةِ الْمَصَابِيحِ: د مشکوة دوې معناګاني راځي یوهغه سوری چي هغه دیوطرف څخه بند وي دویمه هغه اوسپنه چي دباتي دواړو طرفونو ته وي.مصابیح دمصباح جمع ده ،مصباح په څومعنا ګانو باندي راځي .اول : ډیوه.دویم : پلنه نیزه .دریمه : لویه پیاله چي په هغه کي دسهار شراب څښل کیږي.

وَسَمَّيْتُهُ زَادَ الطَّالِبِيْنَ مِنْ كَلَامِ رَسُوْلِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ

ژباړه: اومادا کتاب نامداره کړو په زادالطالبین باندي.دتولوجهانونو دپالونکي د رسول د کلام څخه. **توضیح**: زادالطالبین کي لفظ زاد اسم جامد دی اوداپه معنی د توښې دی یعني په سفر کي دخوراک څښاک شیان. الطالبین دنصرینصر دباب اسم فاعل جمع مذکر صیغه ده،داسم فاعل جمع مذکر طالبون راځي په حالت رفعي کي لیکن دلته حالت جري دنصب تابع دی ،داسم متمکن دشپاړسو قسمونو څخه دولسم قسم دی: جَاءَ طَالِبُون، رَأَيْتُ طَالِبِين، مَرَرْتُ بِطَالِبِينَ. طالب مفرد دی اوددې جمعې صیغې دادول راځي: طلاب. طلبة. طلب. دطلب معنی تلاش ده په

دې خبري باندې ځان پوهول پکار دئ چې د طالب جمع طلباء نه راځي ځکه چې د فاعل جمع فعلاء نه ده. **پوښتنه**: ته وايې چې د فاعل جمع فعلاء نه راځي او په قرآن کريم کې د شاعر جمع شعراء استعمال سوی ده: وَالشُّعَرَاءُ يَتَّبِعُهُمُ الْغَاوُونَ؟ **جواب**: داشاذ دی. **پوښتنه**: دشاذ استعمال په قرآن کريم څنګه راغلی حالانکه په قرآن کريم کې خو هغه الفاظ استعمالیږي کوم چې ډير زيات فصيح اوبليغ وي؟ **جواب**: دشاذ درې معناګاني دي او هغه ته دري قسمونه هم وايي.

اول: هغه دی چې د قاعدې او استعمال دواړو مخالف وي. **دويم**: هغه دی چې د استعمال مخالف وي او د قاعدې موافق وي. **دريم**: هغه دی کوم چې د قاعدې مخالف وي او د استعمال موافق وي، لومړي دواړه قسمونه مردود دي د قبلولو قابل نه دي دريم قسم مقبول دی او همدا په قرآن کريم ذکر دی. **پوښتنه**: چې طلباء د طالب جمع نه ده نو ييا طلباء بروزن فعلاء څه شي جمع ده؟ **جواب**: فعلاء د فعيل جمع ده نو لهذا طلباء د طليب جمع ده.

(**د طالب او طليب په مينځ کې فرق**): د طالب لغوي معنی طلب کوونکی ده او د طليب معنی ډير زيات طلب کوونکی ده، نو په اصطلاح کې طالب هغه ته وايي چې لږ سبق ويوونکی وي او په سبق کې ناغه او چتې کوي او طليب هغه ته وايي چې بغير د چتې وغيره کولو څخه ډير سبق وايي: رَسُولٌ رَبِّ الْعَالَمِين. د رسول تعريف او تحقيق د رسالې په لفظ کې تير سوی دی، رب د بعضو په نزد مصدر دی د نصر ينصر د باب څخه دی او د بعضو په نزد مبالغې صيغه ده، د دې ډير معناګاني راځي.

اول: تربيت کوونکی. **دويم**: پالونکی. **دريم**: مالک يا واکدار. **څلورم**: بادشاه. **پنځم**: معبود. **شپږم**: سردار. **اووم**: مدبر وغيره. داد الله تعالی د نومونو څخه يو نوم دی، په دې وجه د اضافت څخه بغير د مخلوق لپاره نه استعمالیږي. العالمين د عالم جمع ده عالم د اسم آلې صيغه ده. **پوښتنه**: د اسم آلې خو درې وزنونه دي: مِفعل، مِفعلة او مِفعال. دا په يو وزن هم برابر نه ده نو د اسم آلې صيغه جوړول صحيح نه سول؟ **جواب**: د اسم آله غير قياسي ده لکه خاتم او قالب (د خښتو غالب) د مطلق آله تعريف دادی: ما يفعل به: او د عالم تعريف دادی: كُلُّ مَاسِوَى اللهِ فَهُوَ عَالَمٌ. **پوښتنه**: د عالم د جمعې جوړولو څه ضرورت دی هر کله چې عالم پخپله هغه شي ته وايي کوم چې د الله تعالی څخه سوا وي؟ **لومړی جواب**: د جمعې ضرورت ځکه دی چې: رِعَايَةً لِلْفَاصِلَة. يعنې د سورت فاتحې د آيا تونو د آخروزن يو شان جوړولو لپاره دويم جواب: عالم کلی مشکک ؤ د دې دلاندې د افرادو شامليدل يقيني نه ؤ عالمين يې جمع وارولو چې شمول يقيني جوړ سي.

اَلْفَاظُهُ قَصِيْرَةٌ وَمَعَانِيْهِ كَثِيْرَةٌ يَتَنَضَّرُ بِهِ مَنْ قَرَاَهُ وَحَفِظَهُ وَيَبْتَهِجُ بِهِ مَنْ دَرَّسَهُ وَسَمِعَهُ وَرَتَّبْتُهُ عَلَى الْبَابَيْنِ يَعُمُّ نَفْعُهُمَا فِي الدَّارِيْن.

ژباړه: ددې الفاظ لږ دی اومعاني يې ډيرې دي ،ترو تازه کيږي دې سره هغه کس څوک چې دا وايي اودايادوي او روښانه کيږي په دې سره هغه سړی څوک چې داوايي اوزده کوي يې اود رنړا والاجوړيږي په دې سره هغه سړی څوک چې دانبايي (اوبل ته يې لولی) اوڅوک چې دا آوري. او مادې ته ترتيب ور کړی دی په دوو بابونو کي ،ددې دواړو نفع دي عامه وي په دواړو جهانو کي . (آمين) اَلْفَاظُهُ قَصِيْرَةٌ وَمَعَانِيْهِ كَثِيْرَةٌ. دادجوامع الکلم مفهوم دی چې دهغه ذکر وراندي تير سوی دی: اَلْفَاظُهُ قَصِيْرَةٌ. دلفظ لغوي تعريف دادی :الرمی يعني غورځول ،او اصطلاحي تعريف (حدتام) يې دادی : مايتلفظ به الانسان .(قصيرة) په اصل کي هغه ښځي ته وايي چې هغی ته دکورنه دوتلو اجازت نه وي ،قصر په معنی دلرګي هم راځي .اودمحل په معنی هم،ددې جمع قصور راځي داد نصرينصر دباب څخه دی .اومصدر يې قصور راځي: وَمَعَانِيْهِ كَثِيْرَةٌ. دمعان جمع ده ددې واحد معنی راځي لغوي معنی يې (مقصد) دا محاوره ده :فلان حسن المعانی. فلانکی دښو صفتونو خاوند دی : کثر دکرم د باب څخه هم راځي اودنصر ينصر څخه هم ،دکثير معنی ده ډيره يَتَنَضَّرُ بِهِ مَن قَرَاَهُ وَحَفِظَهُ. يوحديث طرف ته اشاره ده کوم چې امام احمد رحمه الله په مسند احمد کي نقل کړی دی: نَضَّرَ اللّٰهُ امْرَءًا سَمِعَ مَقَالَتِيْ فَحَفِظَهَا وَوَعَاهَا وَاَدَّاهَا. يعني دالله تعالی دي هغه سړی تر اوتازه کړي چاچې زماخبري واوريدی هغه يې يادي کړی او و راندي يې ورسولی ،په دې حديث سره دعلم حديث لوستونکو اوښودونکو فضيلت ثابت ،ځکه چې په حديث کي دعاء ذکر ده : وَيَبْتَهِجُ بِهِ مَن دَرَسَهُ وَسَمِعَهُ. ابتاج په معنی دښائست اوخوشحالي ، درس دباب تفصيل څخه دماضي واحد غائب صيغه ده بل ته دښودلو په معنی سره دی وَتَبَتَهُ عَلَى البَابِيْن يَعُمُّ نَفْعُهُمَا فِي الدَّارَيْن. يعني ماداکتاب په دوو بابونو کي تقسيم کړی دی په لومړي باب کي مواعظ حسنه دی اوپه دويم باب کي دځلويښتو قصوبيان دی،الله تعالی دي ددې دواړو بابونو فائده په دواړو جهانو کي عامه کړي. وَاللّٰهُ اَسْئَلُ اَنْ يَّجْعَلَهُ خَالِصًا لِوَجْهِهِ الْكَرِيْمِ وَسَبَبًا لِدُخُوْلِ دَارِ النَّعِيْمِ فَاِنَّهُ وَاسِعُ الْمَغْفِرَةِ وَاِنَّهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيْمِ. **ژباړه**: اوزه خاص دالله څخه سوال کوم چې جوړ کړي داکتاب خاص دخپل کريم ذات لپاره اوجنت ته ددا خليدو سبب يې هم جوړ کړي ځکه چې هغه ډير مغفرت والا اوډير لوی فضل والا دی. **توضيح : پوښتنه** :زه خاص دالله تعالی څخه سوال کوم دا(خاص) ترجمه دڅه ده؟ **جواب**: دلفظ الله اسئل لپاره مفعول مقدم دی اوداقاعده ده چې تقديم ماحقه التاخير موجب دحصر وي لهذا(خاص) ترجمه دحصر ده .اسئل دفتح يفتح څخه دمضارع واحد متکلم صيغه ده، په دې کي يوه خبره د توجه وړ ده هغه داچې : سئل يسئل سوالا. که چيرې مصدر راسي نو ددې معنی پوښتنه کول دي اوکه چيرې مسئله يې مصدر راسي نو ددې معنی ده غوښتل.

دَارِ النَّعِيْمِ. دادجنت لقب دی ځکه چې هغه دنعمتونو کور دی .

اَلبَابُ الاوّلُ

فِي جَوَامِعِ الْكَلِمِ وَمَنَابِعِ الْحِكَمِ وَالْمَوَاعِظِ الْحَسنة

ژباړه: لومړی باب دجامع کلمو په بیان کي اودحکمتونو دچینو په بیان کي اودښه نصیحتونو په بیان کي دی. **توضیح**: دباب لغوي معنی: مایتوسل به الی غیره. ده او د مصنفینو په اصطلاح کي کي ددې معنی: هُواِسم لِجُملَةٍ مُختَصةٍ مِنَ العِلمِ. ده ددې جمع (ابواب) راځي لفظ اول منصرف هم استعمالیږي اوغیر منصرف هم. غیر منصرف هغه وخت کي استعمالیږي کله چي لفظ اول دزون فعل سره وصف هم وي یعني چی په دې کي دوصفیت معنی هم موجوده سي، په دې معنی چي لومړی کېدل، دویم کېدل یو صفت دی: مثلا: لَقَيْتُهُ عَامًا اَوّلَ. په باقي صورتونو کي منصرف دی: مثلا: مَارَاَيْتُ لَه اَوّلاً وَاَخِرًا. منابع دمنبع جمع ده، چي ددې معنی چینه ده، مواعظ دموعظة جمع ده چي ددې معنی ده وعظ اونصیحت، حسنه په معنی دنیکی اوښیګړي ده. **ترکیب**: (الباب) موصوف (الاول) یې صفت دی موصوف سره دخپل صفت مبتداء (فی) حرف جار. (جوامع) مضاف. (الکلم) یې مضاف الیه. مضاف سره د خپل مضاف الیه دامعطوف علیه، (و) حرف عاطفه. (منابع) مضاف (الحکم) یې مضاف الیه، مضاف سره دخپل مضاف الیه دامعطوف اول سو (و) حرف عاطفه (المواعظ) موصوف (الحسنة) صفت، جار سره دخپله مجروره دامتعلق دثابت پوري، ثابت اسم فاعل دی، په دې کي هو ضمیر دی هغه یې فاعل سو، اسم فاعل سره دخپل فاعل او سره دخپله متعلقه دابه شبه جمله، خبر دمبتداء، مبتداء سره دخپله خبره داجمله اسمیه خبریه سوه.

قَالَ النَّبِي ﷺ اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّيَاتِ وَاِنَّمَا لِاِمْرِءٍ مَانَوَى فَمَنْ كَانَ هِجْرَتُهُ اِلَى اللهِ وَرَسُوْلِهِ فَهِجْرَتُهُ اِلَى اللهِ وَرَسُوْلِهِ وَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ اِلَى الدُّنْيَا يُصِيْبُهَا اَوِ امْرَاَةٍ يَتَزَوَّجُهَا فَهِجْرَتُهُ اِلَى مَاهَاجَرَ اِلَيْهِ. (بخاري، مسلم)

ژباړه: نبي کریم ﷺ وفرمایل: چي بې شکه دعملونو دار مدار په نیتونو باندي دی اوبیشکه هرسړي لپاره هغه څه دي دڅه چي هغه نیت کړی وي، پس د کوم سړي هجرت چي وي دالله اودالله درسول په طرف، نودهغه هجرت دالله ﷻ اودالله درسول ﷺ په طرف اود کوم سړي هجرت چي وي ددنیا په طرف چي دادنیا حاصله کړي یا دښځي طرف ته چي هغی سره نکاح وکړي نودهغه هجرت هغی طرف ته دی کوم طرف ته چي هغه هجرت کړی وي.

توضی: مصنف رحمه الله د تولو څخه وړاندي په دې حدیث سره شروع وکړه ددې وجه داده چي هر یوسړی دلوستلو څخه وړاندي خپل نیت صحیح کړي: .انما مفرد دی اوکه مرکب؟ نو په دې کي دواړه قولونه موجود دي، بیا ددې په مرکب کېدلو کي درې قوله دي. لومړی قول: دبعضو په

نزد (اِنّ) مشبه بالفعل څخه اود (ما) کافه څخه مرکب دی .دویم قول: اودبعضو په نزد د (اِن) حرف مشبه بالفعل اود (ما) زائده څخه مرکب دی.دریم قول : اودبعضو په نزد د (ان) حرف مشبه بالفعل اود (ما) نافیه څخه مرکب دی . **پوښتنه** : که چیرې د (اِنّ) او (ما نافیه) څخه مرکب ومنل سي نوییا خوبه ضدین جمع سي؟جواب: داسوال دمفرد کېدلو په صورت کي واردیږي ،دمرکب جوړېدلو څخه ورسته ورباندي هیڅ اشکال نه راځي ،ځکه چې په مرکب کي صرف دحصر معنی اخیستل کیږي جلاجلا نه اخیستل کیږي . **پوښتنه** (اِنّ) او (ما) دواړه صدارت د کلام غواړي یعني (اِنّ) هم داغواړي چې په شروع کي راسم او (ما) هم داغواړي نومو به کوم یو په شروع کي راوړو ؟جواب:دمرکب کېدلو څخه وروسته دااشکال هم نه واردیږي بیا (انما) دحصرلپاره راځي د (ما) او (اِلاّ) په معنی سره دی لکه نسته معبود مګر یوالله جَلَّ جَلَالُهٗ دی یعني یواځي هم الله تعالی معبود دی ،داترجمع دحصرده ،دغه ډول دلته هم دی چې هیڅ یو عمل معتبر نه دی لیکن په نیت سره ، (الاعمال) جمع دعمل ده دیو کار کولو ته عمل ویل کیږي . **پوښتنه** :بیا په فعل اوعمل کي څه فرق سو؟ **جواب**: (۱): په عمل کي قصد او اراده شرط ده په فعل کي قصد او اراده شرط نه ده ،غیراختیار کار ته هم فعل ویل کیږي (۲): په عمل کي علم اونظر اوفکر شرط دی په فعل کي داسي نه ده ،نیات دنیة جمع ده دیا په شد سر هم ویل کیږي اوبغیرشد څخه هم ،دنیت لغوي معنی داده : دیو کار قصد کول اودشریعت په اصطلاح کي دفعل اراده کول دالله جَلَّ جَلَالُهٗ درضا لپاره ،مطلب ددې دادی چې دټولو عملونو دار مدار په نیت دی په الاعمال کي الف لام استغراقي دی: کي (۱): مشهور اوفصیح لغت دادی چې کوم اعراب په اخري همزه باندی راځي هغه په راء باندي راځي : هٰذَا اِمْرِءٌ رَأَيْتُ اِمْرَءً وَمَرَرْتُ بِاِمْرِءٍ .(۲): دویم لغت دادی لیکن فصیح نه دی چې راء باندي همېشه فتحه سي .(۳): دریم لغت هم سته کوم چې انتهایي ردي دی هغه داچې په راء باندي همېشه پیش(ضمه) وویل سي ،ماخویامصدریه ده یاموصوله دواړه قوله په کي شته دي ،ددې جملې مطلب دادی چې هرسړی ته به په اندازه دنیت ثواب ورکړل کیږي که چیرې په یو عمل کي یې ډیر نیتونه وکړل نو هغه ډیر عملونه جوړیږي په دوو جملو کي فرق دادی چې د :والاجمله کي دنفس نیت ذکر دی اوپه کي دنیت دتعین ذکر دی. **دهجرت معنی**: (۱): هجرت ظاهر . (۲): باطنه . هجرت ظاهره دادی چې د دار الکفر څخه دارالاسلام ته څوک راسي او هجرت باطنه هغه ته وایي چې څوک ترک دمعصیت وکړي . **مشهوراعتراض**: که چا هجرت وکړو الله تعالی اودهغه رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طرف ته نو هغه هجرت وکړو الله تعالی اورسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طرف داخو مبتداء اوخبر یو سو اودغه شان شرط اوجزاء یوسول . **جواب** : داسي نه ده فرق یکي موجود دی په شرط کي د (قصداً) لحاظ سوی دی اوپه جزاء کي د ثواب . وَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهٗ اِلَى الدُّنْيَا يُصِيْبُهَا اودچا هجرت چې ددنیالپاره وي چې هغه حاصله کړي یادښځي لپاره چې دهغې سره واده وکړي نوڅه شئ لپاره چې هجرت یې چې هجرت

کړیدی هغه طرفته به یې هجرت وي. **پوښتنه**: دلته یې ولي دنیا او امرأة دوباره ذکر نه کړل؟ **جواب**: په دې وجه چې دې کاره شي نوم دوباره اخیستل نه دي پکار. **اهمه فائده**: ددې حدیث څخه داخبره بالکل نه ثابتیږي چې واده نه دی کول پکار ځکه چې دلته صرف په غلط نیت سره د هجرت کولو ممانعت دی.

ددنیا تعریف او وجه دتسمیه

ددنیا تعریف(۱): مَجْمُوْعُ هَذَا الْعَالَمِ. چې څه سره تعلق زموږ د مرګ څخه وړاندې وي او راندې دی. (۲): مَاعَلَى الْاَرْضِ. (۳): مَايُلْهِيْكَ عَنِ اللهِ فَهِيَ الدُّنْيَا. دنیا خو یا مشتق ده د: دَنُوَّ. څخه په معنی د نژدی والي. په دې وخت کې دنیا ته ځکه دنیا ویل سوی دی چې دا آخرت ته نژدی ده او یا مشتق ده د: دَنَاءَةٌ. څخه په معنی دبې کاره. نو داهم بې کاره ده ځکه دې ته دنیا وایي.

شان ورود حدیث: طبراني په خپل معجم کبیر کې ددې واقعې تخریج کړی دی چې یوسړی یوې ښځې ته د نکاح لپاره مرکه وراستولی وه هغی داشرط لګولی وُ چې هجرت به کوی بیا زه ستاسره نکاح کولی سم، دا ښځه اُم قیس نومی ده ددې نوم قیله دی. هغه سړي ددې سره د نکاح کولو په غرض هجرت وکړو نو په دې وجه هغه ته مهاجر ام قیس وویل سو، په دې موقعه باندې نبي کریم ﷺ دا ارشاد وفرمایلو. **ترکیب**: دلته شپږ ترکیبونه دی: قَالَ فعل النبی فاعل، د فعل سره د خپله فعل دا جمله فعلیه خبریه سوه، صَلّٰی فعل لفظ دالله فاعل، عَلَیه جار، مجرور دجار سره دمجرور نه متعلق په دصلي پورې. صلی سره د فعل او فاعل نه اوسره دمتعلق نه معطوف علیه واو حرف عاطفه، سلّمَ فعل هو فاعل، فعل سره دفاعل نه معطوف، ومعطوف علیه سره د معطوف نه جمله دعائیه انشائیه معترضه معطوفه (انما) حرف مشبه بالفعل (الاعمال) مبتداء، باجار. (النیات) یې مجرور، جار سره دمجرور نه متعلق په (معتبرة) پورې سو. معتبرة اسم مفعول په دې کې ضمیر دهی دی هغه یې نائب فاعل سو، اسم مفعول سره دنائب فاعل نه اوسره دمتعلق نه خبر دمبتداء، مبتداء سره دخبر نه جمله اسمیه خبریه سوه، واو حرف عاطفه انما حرف مشبه بالفعل. (ل) جار امر یې مجرور، جار سره دمجرور نه متعلق په ثابت پورې، ثابت اسم فاعل په دې کې ضمیر دهو مستتر دی هغه یې فاعل، اسم فاعل سره دفاعل نه اوسره دمتعلق نه خبر مقدم ما موصوله (نوی) فعل، په دې کې دهو ضمیر مستتر دی هغه یې فاعل فعل سره دفاعل نه جمله فعلیه خبریه صله سوه، موصول سره دصلی نه مبتداء موخره سره دخپل خبر مقدم نه جمله اسمیه خبریه اجمال سو. (فاء) تفصیلیه، (من) موصوله (کانت) فعل ناقص (هجرت) مضاف (ه) مضاف الیه. مضاف سره دمضاف الیه نه اسم د کانت. (الی) حرف جار لفظ (الله) معطوف علیه، (واو) حرف عاطف، (رسول) مضاف (ه) مضاف الیه، مضاف سره دمضاف الیه نه معطوف، معطوف سره دمعطوف علیه نه مجرور د جار، جار سره دمجرور نه متعلق په مقصودة پورې، مقصودة اسم مفعول، په دې کې (هی) ضمیر

مستتر دی هغه یې نائب فاعل . ،اسم مفعول دخپل نائب فاعل اومتعلق سره شبه جمله خبریه سوه د کانت . کانت سره دخپل اسم اوخبر نه جمله فعلیه خبریه صله دموصول ، موصول سره دخپلي صلي نه مبتداء چې متضمن ده معنی دشرط لره ،(فاء) جزائیه، (هجرت)مضاف(ه)مضاف الیه مضاف سره دمضاف الیه نه مبتداء ،(الی) جار لفظ د (الله)معطوف علیه(واو)حرف عطف،(رسول)مضاف(ه)مضاف الیه،مضاف سره د مضاف الیه نه معطوف علیه،معطوف علیه سره دخپل معطوف نه مجرور دجار،جار سره دمجرور نه متعلق سو په مقبولة پوري ،مقبولة اسم مفعول ،په دې کي هی ضمیر دی هغه یې نائب فاعل مفعول سره دخپل نائب فاعل نه اوسره دمتعلق نه خبر دمبتداء ، مبتداء سره دخبر نه قائم مقام دجزاء ،شرط سره دجزاء نه جمله شرطیه معطوف علیه ،(واو) حرف عاطفه (من) موصوله . (کانت) فعل ناقص ،(هجرت) مضاف (ه) ضمیر مضاف الیه،مضاف سره دمضاف الیه نه اسم د کانت.(الی) حرف جار.(دنیا) موصوف .(یصیب) فعل (هو) فاعل ،(ما) مفعول به ، فعل سره دفاعل (او) سره دمفعول به نه جمله فعلیه خبریه صفت دموصوف ، موصوف سره دصفت نه معطوف علیه.(او) حرف عطف.(امرأة) موصوف (یتزوج) فعل (هو)فاعل(ها)مفعول به ،فعل سره دفاعل اوسره دمفعول به نه جمله فعلیه خبریه صفت دموصوف ،موصوف سره دصفت نه معطوف ،معطوف سره دمعطوف علیه مجرور دجار،جار سره دمجرور نه متعلق په مقصوده پوري ،مقصودة اسم مفعول (هی) پکي هغه نائب فاعل ،اسم فاعل سره دنائب فاعل نه اوسره دمتعلق نه خبر د کانت، کانت سره دخپل اسم اوخبر نه جمله فعلیه خبره صله دموصول،موصول سره دصلې نه مبتداء چې متضمن ده معنی دشرط لره،(فاء) جزائیه (هجرت) مضاف(ه) مضاف الیه مضاف سره دمضاف الیه نه مبتداء (الی) حرف جار.(ما)موصوله(هاجر)فعل ضمیر دهو پکي مستتر هغه فاعل .(الی) جار (ه) مجرورجار سره دمجرور نه متعلق په هاجر پوري ،هاجر فعل سره دخپل فاعل او سره دمتعلق نه جمله فعلیه خبریه صله دموصول ،موصول سره دخپلي صلی نه مجرور دجار،جار سره دمجرور نه متعلق جمله فعلیه خبریه صله دموصول ،موصول سره دخپلي صلې نه مجرور دجار ،جار سره دمجرور نه متعلق په ثابتة پوري ،ثابتة اسم فاعل ،په دې کي هی ضمیر یې فاعل سو ،اسم فاعل سره دخپل فاعل نه اوسره دمتعلق نه شبه جمله خبر دمبتداء سره دخبر نه جمله اسمیه خبریه خبر چې قائم مقام دجزاء دی شرط اوجزاء دواړه جمله شرطیه معطوف،معطوف علیه سره دخپل معطوف نه تفصیل داجمال،اجمال سره د تفصیل نه معطوف،معطوف سره دمعطوف علیه څخه مقوله(مفعول به)سو .د قال،قال فعل سره دخپل فاعل اوسره دمقولې (مفعول به) نه جمله فعلیه خبریه سوه

اَلْجُمْلَةُ الْاِسْمِيَّة

(۲) اَلدِّيْنُ النَّصِيْحَةُ: (مسلم) (تخریج مشکوة صفحه (۴۲۳) عن تمیم الداری مرفوعا

ژباړه: دين خيرخواهي ده ،په دې عبارت کې انتهايي لنډوالی اواختصار دی اودا جمله دجوامع الکلم څخه ده ،ددې تعبير لپاره ددې څخه غوره بله جمله نسته ،نصيحت دمسلمانانو دحقوقو نه دی، او نصيحت عام دی ،پوره حديث داسی :چې نصيحت دچالپاره دی ،نبي کريم ﷺ و فرمايل:چې دالله تعالی لپاره، يعني چې دهغه دوجود دصحيح عقيده ولرل سي اودهغه دکتاب لپاره يعني چې دهغه کتاب ربښتونی وګڼل سي په دې باندې عمل وکړل سي اودهغه تلاوت وکړل سي اودهغه د رسول الله ﷺ لپاره، يعني دهغه نبوت ومنل سي اوفرمانبرداري يې وکړل سي اودعامو خلګو لپاره يعني دهغوی دفائدې رسولو سوچ وکړل سي اونقصان تريې ختم کړل سي.

د لفظ دين لغوی اوصرفي تحقيق:لفظ دين مصدر دی د ضرب يضرب دباب څخه دی ددې ډيرې معناګاني راځي . اول: حساب له همدې جملې څخه :يَومُ الدِّين. دی . دويم : ملکيت . دريم : قدرت. څلورم: حکم. پنځم :مذهب . شپږم : ملت . اووم :حالت. اتم: عادت. نهم: تدبير. لسم:اطاعت .يولسم : نافرمايي .دولسم : بدله: ديارلسم: رسوائي . څوارلسم : قهراوغلبه . پنځلسم : ګناه . ددې جمع اديان راځی يوبل لفظ دی دَين په فتحې ددال سره ددې معنی ده قرض ، ددې جمع ديون او ادين راځي(النَّصِيحَةُ اسم مصدر دی ،په دې ځای ځان پوهول پکاردي . چې يومصدر دی اوبل اسم مصدر او علم مصدر دی . دمصدر تعريف دادی چې په معنی دحدثی دلالت وکړي اومشتق منه يې واقع وي . اواسم مصدر هغه دی چې په معنی حدثي باندې دلالت وکړي اومشتق منه يې واقع نه وي .اوعلم مصدر هغه دی کوم دمصدر لپاره نوم واقع سوی وي . د دې مادې باب دفتح يفتح څخه استيعمال سوی دی: نَصَحَ يَنْصَحُ نَصْحًا وَنِصَاحَةً. (النَّصِيحَةُ) چې دا اسم مصدر دی ددې جمع نصائح راځي او ددې لغوی معنی اخلاص هم راځي اودخير اوښيګړي طرف ته بللو ته هم ويل کيږي . **ترکيب**: الدين: مبتداء النصيحة يې خبر . مبتداء سره دخبر نه جمله اسميه خبريه . **پوښتنه**:الدين مذکر دی اوددې خبر النصيحة مؤنث دی نوپه دواړو کې مطابقت پاتې نه سو؟ **جواب**: (١): نصيحة اسم مصدر دی اوپه اسم مصدر کې تاد تانيث نه راځي عموما دلته هم داسي دی . (٢): داچې مبتداء اوخبر کې مطابقت هغه وخت ضروري دی کله چې دخبر ضمير مبتداء طرف ته راجع وي اوخبر مشتق وي دلته خبر دالنصيحة څخه مشتق دی نه مشتق منه دی بلکه اسم مصدر دی په دې وجه مطابقت دلته ضروري نه دی که چيرې مشتق وګڼل سي بيا هم مبتداء طرف ته ضمير نه راجع کيږي .

(٣) الْمَجَالِسُ بِالْأَمَانَةِ: (ابوداود) تخريج مشکوة صفحه ٤٣٠ س ١٥ عن جابر رضي الله عنه مرفوعا

ژباړه :مجلسونه امانت دی. **توضیح** : یعني په مجلس کي چي کومه خبره وي هغه دباندي کول پکار نه دي ځکه چي بعضي خبري د پردې اوخفیه ساتلووي اوپه دباندي کولو سره انسان بې پردي کیږي اوچاته یې بې پردې کول جائز نه دی لهذا کومه خبره چي په مجلس کي وي هغه امانت ګڼل پکار دي ځنګه چي امانت اته نه سي ورکولی دغه شان د مجلس خصوصي خبري هم داجازت څخه بغیر دباندي نه سي کولی. **لغوي اوصرفي تحقیق** :مجالس جمع ده ددې مفرد مجلس راځي اود مجالس درې معاني دي اوهغه په لاندي ډول دي. **اول** : دناستي ځای. **دویم** :ناست خلک. **دریم** : دخلکو مجموعه چي ورته کچهري وایي ،دضرب یضرب دباب څخه دی اومصدر یې جلوس اومجلس راځي. (الامانة) په معنی دامانت سره جمع یې امانات راځي. **ترکیب**:(المجالس) مبتداء (باء) حرف جار (امانة) یې مجرور ،جار سره دمجرور نه متعلق په ثابت محذوف پوري ،ثابت اسم فاعل هی ضمیر پکي مستتر دی هغه یې فاعل ،اسم فاعل سره دفاعل اوسره دمتعلق نه شبه جمله خبر دمبتداء ،مبتداء سره دخبر نه جمله اسمیه خبریه سوه.

(۴) اَلدُّعَاءُ مُخُّ الْعِبَادَةِ: ترمیذي تخریج مشکوة ص(۱۹۴)س(۲۶ عن انس رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه :دعا دعبادت مغز دی. **توضیح** :دعاء اصل دعبادت دی ،ځکه چي په دې کي انتهایي عاجزي وي هم داوجه ده چي هیڅ یوه دعاء هم بې کاره نه ځي بلکه که چیري سمدستي قبوله نه سي نو یاخو مصیبت لري کیږي یا دعاء په اخرت کي ذخیره کولی سي ،په النهایة کتاب کي دی چي دعاء ته یې دعبادت مغز دووجو ویلی دی. (۱): داچي دعاء غوښتل دالله جل جلاله ددې حکم اطاعت دی :. چي تاسو زما څخه غوښتنه کوی اوزه یې قبلوم ،په دې وجه دعاء خالص عبادت اودعبادت مغز دی. (۲): داچي کله بنده سوچ وکړي چي په ټولو کارونو کي کامیابي دالله جل جلاله دطرفه ده اودغیر الله (یعني مخلوق) له ټول امیدونه ختم سو نو اوس بنده خاص دالله جل جلاله نه خپل حاجتونه غواړي او پوره کوي دااصل دعا ده اوهم عبادت مغز دی. **لغوی اوصرفی تحقیق** :الدعاء مصدر دی دنصر ینصر دباب څخه دی دعاء مصدر دی اودعوی ه ددې لغوي معاني داسي دی. اول : آواز. رغبت کول. مدد غوښتل. **دمخ معانی داسي دی** : اول : دهډوکي نلی. دویم :مغز. دریم: دسترګو چربي . څلورم : خالص.ددې جمع مخامخ راځي او مخخة هم راځي ،عبادت دنصر ینصر باب نه دی ،ددې مصدر :عبادة عبودیّة اوعبودة .راځي. **ترکیب**:(الدعاء) مبتداء مخ مضاف العبادة مضاف الیه ، مضاف سره دمضاف الیه نه خبر دمبتداء ،مبتداء سره دخبر نه جمله اسمیه خبریه.

(۵) اَلْحَیَاءُ شُعْبَةٌ مِنَ الْاِیمَان :(بخاري ،مسلم) تخریج مشکوة صفحه ۱۲ عن ابی هریرة رضی الله عنه مرفوعا

ژباړه: حیاء دایمان یوځانګه ده. **توضیح**: شرم اوحیاء دایمان یوه حصه ځانګه ده، دشعبه معنی دشي یوې حصې ته وایي. القطعة من کل شئ. حیاء ته یې دایمان یوه حصه ځکه ویلی ده چې حیاء کوونکي دخپل شرم اوحیاء په وجه دګناهونو څخه منع کیږي اوښکاره خبره ده چې کوم شي دګناهونو دمنع کولو ذریعه وي هغه دایمان ښاخ دی، په یوبل حدیث کي دي چې دایمان (۷۷) حصې اوځانګي دي په هغه کي ادنی حصه داده چې دلاري نه ضرر رسونکی شی لري کړي. په یو بل حدیث کي دي چې حیاء اوایمان یوځای یوځای دی که چیرې یو په دې کي نه وي نو دویم به هم نه وي.

لغوي اوصرفي تحقیق: دحیاء لغوي تعریف دادی: اَلْحَیَاءُ هُوَ تَغَیُّرٌ لِخَوْفِ الْمُذَمَّةِ اَوِ الْعِتَابِ. چې د چا دبدویلو نه یادسزا دویرې نه دمخ رنګ بدل سي، حیات ژوند ته وایي اوحیاء شرم اوحیاء ته وایي د شعبة باب دفتح یفتح هم راځي اود سمع یسمع هم اود دې لغوي معناګاني دادي: **اول**: فرقة. **دویم**: دڅه شي ډله. **دریم**: ځانګه. **څلورم**: د دوو ښکرونو یاد دوو ځانګو ترمینځ فاصله. **پنځم**: داوبو بهیدلو ځای. **شپږم**: دغره ګنډاؤ. ددې جمع شعب اوشعاب ده اوشعب دشعیب جمع ددې معناګاني دادی: **اول**: کجاوه. **دویم**: زور مشک. توښه دان. الایمان په معنی دمنلو اوتصدیق کولو سره دی.

ترکیب: (الحیاء) مبتداء (شعبة) صیغه دصفت موصوف (من) جار. (الایمان) مجرور. جار سره دمجرور نه متعلق سو ثابته صفت پورې موصوف سره دخپل صفت نه خبر دمبتداء، مبتداء سره دخبر نه جمله اسمیه خبریه سوه.

(۶) اَلْمَرْءُ مَعَ مَنْ اَحَبَّ: تخریج مشکوة صفحه ۴۲۶ س ۳ عن ابن مسعود رضی الله عنه مرفوعاً

ژباړه: سړی به دهغه چاسره وي چاسره چې هغه محبت کړی وي. **توضیح**: حضرت عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه فرمایي چې یوسړي درسول الله صلی الله علیه وسلم څخه پوښتنه وکړه چې ناسو دهغه سړي په هکله څه فرمایی چې هغه دیوبزرګ سره محبت کوي خودعمل په اعتبار سره دهغه درجې ته نه سي رسیدی؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: اَلْمَرْءُ مَعَ مَنْ اَحَبَّ. یعني هرهغه سړی به دهغه چا سره وي دچاسره چې دهغه محبت وي، ددې څخه معلومه چې اولیاء الله سره محبت اوصحبت دانسان لپاره دولایت حاصلولو ذریعه ده. (معارج القرآن جلد ۳ صفحه ۵۵۰) **لغوي اوصرفي تحقیق**: دمرءُ تحقیق په (انمالامرء) کي تیر سوی دی. (مع) اسم دی کوم چې مضاف استعمال سوی دی، احب دباب افعال نه دماضي واحد غائب صیغه ده.

ترکیب: (المرء) مبتداء (مع) مضاف. (من) موصوله (احب) فعل. هو ددې فاعل، فعل سره دخپل فاعل نه جمله فعلیه خبریه صله سوه دموصول، موصول سره دصلې نه مضاف الیه دمضاف، مضاف سره دمضاف الیه نه خبر دمبتداء، مبتداء سره دخبر نه جمله اسمیه خبریه.

(۷) اَلْخَمْرُ جُمَّاعُ الْاِثْمِ :تخریج مشکوة صفحه ۴۳۴ س ۱۷ عن حذیفه رضی الله عنه مرفوعا

ژباړه : شراب د ګناهونو جړ (اصل) دی . **توضیح** : دشرابو وروسته انسان ډیر ګناهونه کوي ،په دې وجه یې شرابو ته د ګناهونو جړ اومجموعه وویله . دامطلب نه دی چې چا شراب وڅښل نو هغه تول ګناهونه وکړل بلکه ددې مطلب دادی چې دډیرو ګناهونو احتمال دی په دې سره جنګ جګړې کیږي ،حادثات پیښیږي . ښکنځل کول کیږي وغیره وغیره په دې وجه ددې سزاهم لویه ده ، هغه داچې شراب څښونکی ته د قاضي دطرف اتیا درې ورکول کیږي چې کله په شرعي طریقه ثابت سي چې ده شراب څښلي دي .زنا او لواطت اولمونځ پریښودل وغیره زیات تردد دې وجې نه کیږي. **لغوي اوصرفي تحقیق** : خمر مونث سماعي دی .ابن حاجب په مؤنثات سماعیه کې خمر هم شمار کړیدی اوپه حدیثونو کې هم دې ته دمونث ضمیرونه راجع سوی دي. **پوښتنه** :په یوحدیث کې داسي راځي :الخمر حرام. دې څخه معلو میږي چې خمر مذکر دی ځکه که چیرې مذکر نه سي نو په مبتداء اوخبر کې به مطابقت پاتې نه سي ؟ **جواب** : ددې جواب په :الدین النصیحة . کې تیرسوی دی چې مبتداء اوخبر کې مطابقت هغه وخت ضروري دی کله چې خبر مشتق وي اوضمیر یې وروسته راجمع کیږي اوکه داسي نه وي نومطاقت ضروري نه دی ، ددې لغوي معنی داده هغه شراب چې دانګورو څخه جوړسوي وي جماع مصدر دی دفتح یفتح دباب څخه ده ددې معنی ده جامع کېدل اوجُمّاع هم ویل کیږي دمبالغې صیغه به سي یعني ډګناهونو جړه اودبدو بنیاد شراب دی ،داثم معنی ده ناجائز کار،ګناه . جرم . ددې جمع اثام ،ماثمة اوماثم راځي ،داثم طلاق زیات تر په ګناه کبیره باندې کیږي اودسیئه ،خطاء اود ذنب اطلاق زیات تر په وړو ګناهونو باندې کیږي . **ترکیب** :(الخمر) مبتداء .(جماع) مضاف . (الاثم) مضاف الیه . مضاف سره دمضاف الیه دابه خبر لپاره دمبتداء سي ،مبتداء سره دخپله خبر دابه جمله اسمیه خبریه سي .

(۸) اَلْاَنَاةُ مِنَ اللّٰهِ وَالْعُجْلَةُ مِنَ الشَّیْطٰنِ :(تخریج مشکوة صفحه ۴۲۹ س ۲۴ عن سهل بن سعد رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه :صبر دالله جل جلاله دطرفه دی اوتلواره دشیطان دطرفه ده . **توضیح** :وقار اوحلم اوصبر دالله تعالی دطرفه وي یعني هرکار په اخلاص اواطمینان سره کول پکار دي . په سوچ اوفکر سره کول پکار دي اودالله تعالی نه مشوره اخیستلو یعنی استخاره کولو سره پکار دي کوم کار چې داسي وسي هغه به دالله تعالی دطرفه وي اوکوم چې په تلواره کې وي هغه به دشیطان دطرفه وي ،په دې وه هرکار په آرام سره کول پکار دي ،دنیا په کارونو کې عجلت دی اودشیطان دطرفه دی اوپه نیکۍ کې سرعت دی اوخوښ دی . **لغوي اوصرفي تحقیق** :د(الاناة) ډیر معناګاني دي :وقار .بردباري .انتظار اومهلت .د(عجلت او عُجالة او العَجل) معنی دتلواره ده اودعجل معنی ده سخي ،شیطان دنصرینصر دباب څخه دی معنی یې ده سرکش اونافرمان (هغه که انسان وي اوکه حیوان اویا پیږی) اودشیطان جمع شیاطین

راځي اوبل لفظ دالشطن ددې معنی رسی ده اوددې جمع اشطان راځي. **ترکیب**: (الاناة) مبتداء (من) جار (لفظ الله) مجرور، جار سره دمجروره دامتعلق دثابت پوري. ثابت اسم فاعل ضمیر هی په کې دی هغه فاعل فعل سره دفاعل اوسره دمتعلق نه خبر، مبتداء سره دخبرنه جمله اسمیه خبریه معطوف علیه (واو) حرف عاطف (العجلة) مبتداء (من) جار. (الشیطان) مجرور، جار سره دخپله مجرور متعلق نه دثابت پوري، ثابت اسم فاعل هی ضمیر په کې دی هغه فاعل، اسم فاعل سره دفاعل اوسره دمتعلق نه خبر دمبتداء مبتداء سره دخبرنه جمله اسمیه خبریه معطوف، معطوف علیه سره دخپل معطوف نه جمله معطوفه

(۹) اَلْمُؤْمِنُ غِرٌّ کَرِیْمٌ وَالْفَاجِرُ خَبٌّ لَئِیْمٌ: احمد وترمذی. تخریج مشکوة صفحه ۴۲۲ س ۶ عن ابی هریره رضی الله عنه مرفوعاً

ژباړه: مؤمن سیدها ساده سړی دی اومنافق دهوکه باز اورذیل وي. **توضیح**: مؤمن عاجزه سیدها ساده بنده وي اوناتجربه کاره وي اوساده اوشریف وي څوک نه تنګوي که چیري په چاباندې احسان نه سي کولی نوتکلیف هم نه ورکوي. اوګناه کار اوبدکار هم دهوکې ورکوي اوکمینه وي، مؤمن په خلګو باندي ښه ګمان کوي اوښه معامله ورسره کوي، دخپل جهالت په وجه نه بلکه دخپل عزت اوشرافت په وجه، داخو ددنیا په معامله کي دسیدها ساده کېدلو معنی سوه په آخرت کي دسیدها ساده کېدلو مطلب دادی چې دخپل مرګ په فکر کي مشغول وي اودخپل آخرت په تیاري کي هروخت مصروف وي اودجنت طمع دار وي ددې په مقابله کي فاجر سړی دخلګو په مینځ کي دفساد اچولو کوشش کي مشغول وي اودیوځای خبره بل ځای کولو کي اوپه غیبتونو کي اوپه ښکنځلو وغیره کي مشغول وي.

لغوي اوصرفي تحقیق: (غِرٌّ) وایي ناتجربه کارته، دادنصر، ضرب، سمع دروبابونه راځي. دکریم معنی ده: کرم والا. معافي کونکی. داداسم فاعل صیغه ده، دباء دکرم نه، فاجر دنصر ینصر دباب څخه دی اسم فاعل، دفاجر معناګاني دادی: زناکار. دګناهونو تابعدار. جادوګر. ددې جمع فاجرون اوفجرة اوفجّارٌ راځي، خَبٌّ دباب دنصر اوسمع څخه دی مصدر دی، ددې معنی ده مکار کېدل اودهوکه ورکول. لَئِیمٌ دفعیل وزن دی اودباب دکرم څخه دی اوددې مصدر لؤم راځي اوددې جمع لِئام او لؤمان راځي.

ترکیب: (المؤمن) مبتدا. (غِرٌّ) خبر اول. (کریم) خبر ثانی. مبتداء سره دد واړو خبرینو څخه جمله اسمیه خبریه معطوف علیه. (واو) حرف عاطف. (الفاجر) مبتداء. (خب) یې خبر اول. (لَئِیمٌ) خبر ثانی، مبتداء سره دد واړو خبرینو داجمله اسمیه خبره معطوف، معطوف علیه سره دمعطوف نه جمله معطوفه سوه.

(۱۰) اَلظُّلْمُ ظُلُمَاتٌ یَوْمَ الْقِیَامَةِ: متفق علیه. تخریج مشکوة صفحه ۴۲۲ س ۲۶ عن ابن عمر رضی الله عنه مرفوعاً

ژباړه: ظلم به دقیامت په ورځ دتیارو سبب وي. **توضیح**: لکه څنګه چې نیک عمل دنور سبب دی دغه شان به ظلم دقیامت په ورځ دظلمت اوتیارو سبب وي، دویمه معنی یې داهم سوی ده چې دظلمان څخه مراد تکلیفونه اوسختی دي، ظلمات جمع یې په دې وجه راوړه چې دهرظالم لپاره یوجدا ظلمت

يعني تيارہ اوسختي وي اوداخبرہ يادساتی چي ظلم ګناہ کبيرہ دہ. **لغوي اوصرفي تحقيق**: دظلم معنی دہ وَضَعَ كُلِّ شَيْئٍ فيغيرِ محلِّهِ . يعني څه شی بې ځايه اېښودل. دضرب يضرب دباب څخه دی .ظلمات په ضمې دلام په فتحې دلام اوپه سکون دلام سره جمع ده ،ددې مفرد :ظلمة راځي په معنی د تيارې .لفظ يوم مفرد دی ددې جمع ايّام راځي اودايام جمع اَيّاويمٌ راځي ،ديوم دوې معنی دي ،اول: ورځ . دويم :قيامت . يعني دمرګ څخه وروسته پاسېدل. **ترکيب**: (الظلم) مبتداء. (ظلمات) موصوف. (يوم) مضاف .(القيامة) مضاف اليه . مضاف سره دمضاف اليه نه مفعول فيه دثابت لپاره ، ثابت اسم فاعل ضمير دهی په کي موجود دی هغه يې فاعل اول ،فعل سره دفاعل اوسره دمفعول فيه نه صفت دموصوف . موصوف سره دخپله صفت نه خبر دمبتداء ، مبتداء سره دخبر نه جمله اسميه خبريه سوه .

(۱۱) اَلْبَادِءُ بِالسَّلَامِ بَرِيءٌ مِّنَ الْكِبْرِ : بيهقي. تخريج مشكوة صفحه ۴۰۰ س ۲۱ عن عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه مرفوعا

ژباړه: سلام سره شروع کونکی دتکبر نه بري وي. **توضيح**: څوک چې په سلام کي لومړی والی کوي هغه دتکبر نه بري وي .ځکه چې څوک وړاندې سلام کوي هغه به خپل ځان وړوکی ګڼي نوسلام به کوي اوحوک چې ځان لوی ګڼي هغه په سلام کي لومړی والی نه کوي ځکه چې دهغه داخواهش وي چې زه لوی يم نوهغه دي ماته سلام واچوي په دې وجه سلام کي لومړی والی نه کول سبب دتکبر دی اوپه سلام کي لومړی والی د تکبر لپاره ايتمي وسله ده . **لغوي اوصرفي تحقيق**: اَلْبَادِءُ. دنصر دباب څخه دی داسم فاعل صيغه ده .السلام مصدر دی، د سمع دباب څخه دی ،برئ دصفت مشبه صيغه ده. الکبر په معنی دغرور اولويه ګناه ده دکرم دباب څخه دی . **ترکيب**: (البادئ) اسم فاعل په دې کي ضمير دهو پروت دی هغه يې فاعل .(ياء) جار .(السلام) يې مجرور ،جار سره دمجرور نه متعلق سو په البادئ پوري .البادئ اسم فاعل ضمير دهو پکي پروت دی هغه فاعل ،اسم فاعل سره دفاعل اوسره دمتعلق نه شبه جمله مبتداء . (برئ) صيغه دصفت ده ضمير دهو پکي پروت دی هغه يې فاعل (من) جار (الکبر) مجرور ، جار سره دمجرور نه متعلق په برئ پوري ،برئ صفت مشبه (ضمير دهو پکي موجود دی هغه يې فاعل) صفت مشبه سره دخپل فاعل اوسره دمتعلق نه شبه جمله خبر دمبتداء سو ،مبتداء سره دخپله خبر نه جمله اسميه خبريه سوه .

(۱۲) اَلدُّنْيَا سِجْنُ الْمُؤْمِنِ وَجَنَّةُ الْكَافِرِ : مسلم. تخريج مشكوة صفحه ۴۳۹ س: ۱۵ عن ابی هريرة رضي الله عنه مرفوعا

ژباړه: دنيا دمؤمن لپاره قيدخانه ده اود کافر لپاره جنت دی. **توضيح**: دنيا دمؤمن لپاره دقيد خانې پشان ده ځکه چې هغه ددې دنيا څخه وتل اوآخرت ته تلل غواړي اوهمېشه په دنيا کي اوسيدل نه غواړي اوهم په دنيا کي هر قسمه خوندونه حاصلول نه غواړي ،ددې په مقابله کي دنيا د کافر لپاره جنت دی ،ځکه چې هغه داغواړي چې هم دلته ماته تول لذتونه راکړل سي ، اوتول راحتونه راته مهيا سي ځکه چې کافر په

دنیا کې دهمېشه اوسېدلو آرزو کوي ،ددې وجې نه دنیا دمؤمن لپاره دقید په شان ده اود کافر لپاره دجنت پشان ده . **لغوي اوصرفي تحقیق** :ددنیا معناوي په حدیث نمبر(۱) کې تیري سوی دي ،دسجن معنی جیل خانه ده ،ددې جمع سجون راځي دنصر ینصر دباب څخه ده . جنت مفرد دی ددې جمع جنان اوجنات راځي ، ددې معنی ده باغ اوباغیچه ، کافر دنصر ینصر دباب څخه داسم فاعل صیغه ده ، ددې ډیري معناګاني راځي : ناشکري . دایمان مقابل . تیاره شپه .سمندر .توري وریځي . زمیندار . پټ سوی مقیم .**ترکیب**:(الدنیا)مبتداء.(سجن)مضاف.(المؤمن)مضاف الیه . مضاف سره دمضاف الیه نه معطوف علیه . (جنت) مضاف .(الکافر) مضاف الیه.مضاف سره دمضاف الیه نه معطوف. معطوف علیه سره دمعطوف نه خبر دمبتداء ،مبتداء سره دخبر نه جمله اسمیه خبریه .

(۱۳) اَلسِّوَاکُ مَطْهَرَةٌ لِلْفَمِ وَمَرْضَاةٌ لِلرَّبِ: (تخریج مشکوة صفحه ۴۴ س:۲۶ :عن عائشة رضی الله عنها مرفوعا)

ژباړه :مسواک خله پاکونکی دی اورب لره راضي کونکی دی .**توضیح**:دمسواک لوی دوې فائدې دی اول: دنیوي .دویم : اخروي . دنیوي فائده یې داده چې غاښونه به صفا وي چاته به یې دخُلې بدبویي نه ورځي اودخلې اومعدې دناروغې نه به په امن کې اوسیږي او اخروي فائده یې داده چې الله جل جلاله دمسواک وهونکي څخه خوشحالیږي.**پوښتنه**:برش لګول څنګه دی ؟**جواب**:برش لګول جائز دی لیکن مسواک وهل سنت دی ، هغه ثواب کوم چې په حدیث کې ذکر دی چې مسواک وهولو سره کوم لمونځ وکړل سي نود اویا(۷۰)لمونځونو ثواب ورته ملاویږي هغه دمسواک موجودګي کې په مسواک کولو سره دی په برش باندې نه دی ،الله تعالی خودبخښني بهانه غواړي هغه خوپه لږشان لرګي (مسواک) په خله کې وهلو سره راضي کیږي ،په یوحدیث کې دي چې نبي کریم صلی الله علیه وآله وسلم به داودس په وخت اودلمانځه په وخت اودخوب څخه دپاڅیدلو په وخت اودغاښونو زیړوالي په وخت اودخُلې دبدبویې په وخت کې مسواک وهلو. **دمسواک فائدې**:دذکر سوو فائدو څخه علاوه څه فائدې نورې هم بیان سوي. **اول**:دمرګ نه علاوه دهرمرض شفا ده. **دویم** انسان زرنه بوډا کیږي. **دریم** : نظر تیزیږي. **څلورم** : دپل صراط سختي اسانیږي . پنځم : معده قوي کیږي . شپږم : دمرګ په وخت روح آساني سره وزي . اووم: په مظاهرحق کې دیوحدیث په تشریح کې لیکلي دي چې دمسواک وهولو اویا (۷۰) فائدې دي دټولو څخه وړه فائده یې داده چې دمرګ په وخت کې به ورته کلمه دشهادت نصیب کیږي ، اوپه افیمو کې اویا نقصانونه دي دټولو څخه کم نقصان یې دادی چې کلمه دشهادت به ترینه دمرګ په وخت کې هیریږي .الله جل جلاله دي په پابندي سره دمسواک کولو توفیق موږ ته رانصیب کړي . (آمین ثم آمین)

لغوي اوصرفي تحقیق:مسواک دنصر ینصر دباب نه مصدر دی ،ددې جمع سوک راځي لکه کُتب . مُطهرة مصدر میمي هم ویلی سي په دې صورت کې معنی به یې داوي چې مسواک خلې لره

صفا کړنکی دی. مطهرة هم وېلی سي په دې صورت کي به يې معنی داسي سي : چې مسواک دخلې صفا کولو آلې ده ، دغه شان دواړه صورتونه په مرضات کي هم دي .فم د(فا) په درې واړو حرکاتو سره معنی يې خله ده .دالفظ په اصل وضع کي (فوه) ؤ ددې تثنيه فمان اوفمو ان اوفميان راځي،ددې جمع افواه افمام ده .دلفظ د رب تحقيق دخطبې په تشريح کي تېر سوی دی . فانظر . **ترکيب**:(مسواک) مبتداء.(مطهرة) مصدر په معنی داسم فاعل په دې کي هی ضمير مستتر دی هغه يې فاعل .(لام) جار (فم) يې مجرور . جار سره دمجرورنه متعلق په مطهرة پورې مطهرة سره دفاعل اوسره دمتعلق نه معطوف عليه (واو) عاطفه (مرضاة) ه مصدر په معنی داسم فاعل دی په دې کي ضمير دهی پروت دی هغه يې فاعل .(لام) جار .(رب) مجرور. جارسره دمجرورنه متعلق په مرضاة پورې ، مرضاة سره دفاعل نه اوسره دمتعلق نه معطوف. معطوف عليه سره دخپل معطوف نه خبر دمبتداء ،مبتداء سره دخبره جمله اسميه خبريه.

(۱۴) اَلْيَدُ الْعُلْيَا خَيْرٌ مِنَ الْيَدِ السُّفْلٰى: تخريج مشکوة صفحه ۱۶۳ س: ۲۰ عن ابن عمر رضی الله عنه مرفوعا

ژباړه: پورتنی لاس غوره دی دلاندې لاس څخه. **توضيح**: اوشان ورود :حضرت ابن عمر رضی الله عنه فرمايي چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم په منبر باندې دصدقې په باره کي بيان کولو اودسوال څخه دخلاصون لپاره يې ذکر فرمايلو اود :. وضاحت يې فرمايلو : هغه داچې د :. څخه مراد خرڅ کونکی اوورکولو والا لاس دی اود :. څخه مراد اخيستونکی اوغوښتونکی لاس دی . ددې حديث دشان ورود څخه وروسته دامسئله ښه پېژندل پکار دي چې چاسره ديوې ورځې دخوراک خښاک سامان وي بيا هغه چاته لاس ونيسي اوهغه سړی څه ورکړي دواړه ګناه کاران دي دي ،په داسي صورت کي اخيستل اوورکول ناجائز دي .پاتې سود هديې والا صورت نو په دې کي هديه اخيستونکي لپاره جائزده اګرچې هغه يد سفلی هم دی .ليکن غوښتونکی خو نه دی ، دلته ديد سفلی څخه مراد غوښتونکی لاس دی ،بزرګانو ليکلی دی چې هديه اخيستونکی لره پکار دي چې دپورته طرف څخه يې واخلي ددې لپاره چې ديد سفلی مصداق ته نژدی هم ورنسي ،بهرحال دسوال کولو څخه پرهيز پکار دی اودصدقې طرف ته توجه ورکول پکار دي

لغوي اوصرفي تحقيق:داليد معنی ده لاس ،په اصل کي يَدَیٌ ؤ ددې تثنيه يدان ده اوجمع يې اَيدی اويُدیِ ده اوجمع الجمع يې (اَيادِیٌ) ده ، عُليا او عَليا په ضمی اوفتحې سره هرهغه شي ته وايي کوم چې لوړ او اوچت وي ، خير داد ضرب يضرب دباب څخه دی مصدر هم راځي اوداسم تفضيل لپاره هم استعماليږي جمع يې خيور راځي ، د سپلی معنی ښکته اولاندې راځي دا نصر ينصر ، دسمع يسمع اوکرم څخه مستعمل دی ، سفل سفول اوسفال وغيره يې مصدر راځي .**ترکيب**:(اليد) موصوف .(العلياء) يې صفت .موصوف سره دصفت مبتداء.(خير) اسم تفضيل په دې کي هوضمير دی هغه يې فاعل.(من) جار (اليد السفلی) موصوف صفت .موصوف سره دصفت مجرور دجار ،جارسره دمجرورنه متعلق په اسم تفضيل پورې ،اسم تفضيل سره دخپل فاعل اوسره دمتعلق نه خبر دمبتداء ،مبتداء سره دخبرنه جمله اسميه خبريه.

(۱۵) اَلْغِيْبَةُ اَشَدُّ مِنَ الزِّنَاء: تخريج مشكوة صفحه ۴۱۰ س ۲۱. عن ابی سعيد خدری رضی الله عنه مرفوعاً

ژباړه: غيبت زيات سخت دی دزنا څخه. **توضيح**: کله چې نبي کريم صلی الله عليه وآله وسلم وفرمايل: چې غيبت زيات سخت دی دزنا څخه نو صحابه کرامو عرض وکړو چې اې دالله رسوله! صلی الله عليه وآله وسلم څنګه غيبت دزنا څخه سخت دی؟ ده صلی الله عليه وآله وسلم وفرمايل: چې سړی زنا وکړي بيا توبه وباسي نو الله تعالی يې معاف کوي ليکن غيبت کونکی چې ترڅو پوري توبې سره دهغه چا نه معافي ونه غواړي کوم چاچې يې غيبت کړی دی نو معاف کيږي نه اوغيبت په دې وجه هم دزنا څخه لويه ګناه ده چې انسان خو اول غيبت ګناه نه ګڼي او که ګڼي يې هم نو سپکه ګناه يې ګڼي، حال دادی چې غيبت لويه ګناه ده او کله چې لويه ګناه بار بار کول کيږي نو پخپله دزنا څخه زيات کيږي، دغيبت تعريف دادی چې چا پسې پشې شا خبري کول چې په هغه بده ولګي دغيبت کونکی غيبت که چيرته هغه چا ته ورسي چې دچا غيبت يې کړی دی نو بيا که چيرې معافي يې ونه غوښته مړ سو نو ويره ده يې دده نيکي به هغه ته ورکړي سي چې دچا غيبت يې کولو او غيبت کول دمړ مسلمان وروره غوښه خوړل دي کومه چې حرامه ده. **لغوي او صرفي تحقيق**: الغيبة په معنی دچا پسې پشې خبره کولو ته وايي دادضرب يضرب دباب څخه استعمال سوی دی، اشد داسم تفضيل صيغه ده دضرب يضرب دباب نه په معنی دسختي سره، الزنا مصدر دی دضرب يضرب باب نه په معنی دزنا کولو سره. **ترکيب**: (الغيبة) مبتداء. (اشد) صيغه داسم تفضيل (من) جار (الزنا) مجرور، جار سره دمجرور نه متعلق په اشد پوري (اشد) اسم تفضيل سره دخپل فاعل (چې هو ضمير دی) اوسره دمتعلق نه شبه جمله خبر سو، مبتداء سره دخبر نه جمله اسميه خبريه سوه.

(۱۶) اَلطُّهُوْرُ شَطْرُ الْاِيْمَانِ: مسلم تخريج مشكوة صفحه ۳۸ س ۱۵. عن ابی مالک اشعری رضی الله عنه مرفوعاً

ژباړه: صفايي نصف ايمان دی. **توضيح**: ددې حديث دوې معناوي دي، پاکوالی اوصفاني نصف يې ايمان دی يادايمان يوه حصه ده، ځکه چې دشطر دوې معناوي دي (۱): ينم (۲): په جز کي حصه. که دشطر معنی معنی جز واخيستل سي نو په دې کی څه اشکال نسته ځکه چې صفايي دايمان حصه ده، عقل يې هم مني ليکن که دشطر معنی نيم واخيستل سي نو په دې کي اشکال دی هغه داچې لمانځه ته يې نيم ايمان نه دی فرمايلی بلکه صفايي ته يې نيم ايمان ويلی دی ددې څه وجه ده؟ **جواب**: صفائي ته يې ځکه نيم ايمان وويلو چې صفايي سره ظاهري پاکي حاصليږي اوايمان سره باطني صفايي راځي اوهمدا دوې صفاياني مقصود دي، دويم: ايمان مرکب دی دتخليه اوتحليه نه دتخليه معنی ده خپل ځان دګنده اخلاقو څخه صفا کول اودتحليه معنی ده خپل ځان په ښو اخلاقو ښائسته کول، په اودس سره تخليه راځي ځکه چې په دې ګناه معاف کيږي اوايمان سره تحليه کيږي ځکه يې دې ته نيم ايمان

ویلی دی. **لغوي او صرفي تحقيق**: الطهور دباب د کرم اونصر څخه دمصدر صیغه ده چې لغوي معنی یې هغه شی ده چې په هغه سره پاکي حاصلیږي یعني طاهر اومطهر دواړو ته طهور ویلی سي. شطر مصدر دی د کرم دباب نه معنی یې ذاده: (۱): جزء اوحصه. (۲): نیم. (۳): لری والی. (۴): طرف. هم په دې معنی باندې: فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ. راغلی دی یعني مسجد حرام طرف ته دلته مخکنۍ دوه معاني مراد کېدی سي. **ترکیب**: (الطهور) مبتداء. (شطر) مضاف. (الایمان) یې مضاف الیه. مضاف سره دمضاف الیه نه خبر دمبتداء، مبتداء سره دخبر نه جمله اسمیه خبریه.

(۱۷) اَلْقُرْآنُ حُجَّةٌ لَّكَ اَوْ عَلَيْكَ: مسلم تخریج مشکوة صفحه ۳۸ س ۱۷. عن ابی مالک اشعری رضی الله عنه مرفوعاً

ژباړه: قرآن کریم به یا ستا لپاره حجت وي اویا به په تاباندې حجت وي. **توضیح**: که چیرې دقرآن مطابق عمل دی نوقرآن زمونږ لپاره حجت دی اودلیل دی اوذریعه دنجات ده اوکه چیرې خدای مکړه دقرآن خلاف دی نوهم داقرآن په قیامت کي زمونږ خلاف دلیل دی، په یو حدیث کي راځي چې قرآن یادولو څخه وروسته هیرول ډیره لویه ګناه ده، په یوبل حدیث کي دي چې دهغه مفهوم دادی چې چا قرآن ونه لوستلو بند یې وساتلو نوپه قبر کي به په خله باندې وهلی سي اوکوم کس چې قرآن ډیر لولی نوپه قیامت کي به قرآن مجید دهغه سفارش کوي، داقرآن هغه شی دی چې په دې سره دالله جل جلاله نزدیکت زر او زیات ملاویږي، امام احمد بن حنبل رحمه الله په خوب کي (۹۹) ځله دالله تعالی زیارت وکړو، یوځل یې داسوال وکړو چې اې الله جل جلاله! ستا نزدیکت کوم شي سره ملاویږي؟ نوالله تعالی وفرمایل: قرآن کریم سره بیایې پوښتنه ورڅخه وکړه چې دپوهي سره اوکه بغیر دپوهني څخه؟ الله تعالی جواب ورکړو چې سره د پوهني یې لولی اوکه بغیر دپوهني یې لولی. **لغوي او صرفي تحقيق**: القرآن دفتح یفتح دباب څخه دی مصدر دی په معنی د کلام الله سره. حجة دنصر ینصر څخه دی مصدر دی په معنی ددلیل اوبرهان سره دی ددې جمع حجج اوحجاج راځي. **ترکیب**: (القرآن) مبتداء (حجة) مصدر په معنی داسم فاعل. (ل) جار (ک) مجرور، جار سره دمجرور معطوف علیه (او) حرف عاطف (علی) جار (ک) مجرور، جار سره دمجرور نه معطوف، معطوف علیه سره دمعطوف نه متعلق په حجة پورې، حجة په معنی داسم فاعل سره دخپل فاعل نه اوسره دمتعلق نه خبر دمبتداء، مبتداء سره دخبر نه جمله اسمیه خبریه.

(۱۸) اَلْجَرَسُ مَزَامِيْرُ الشَّيْطَانِ: مسلم. تخریج مشکوة صفحه ۳۸ س ۱۸. عن ابی هریرة رضی الله عنه مرفوعاً

ژباړه: تلی دشیطان شپیلی ده. **توضیح**: تلی دشیطان شپیلی ده، چیرته چې تلی وي هلته شیطان خوشحالیږي ددې څخه مراد هرهغه تلی ده چې هغه بغیر دضرورته غږول کیږي، په یو روایت کي راځي چې یوه جینی حضرت عائشې رضی الله عنها ته راغله چې دهغې په

پښو کي جلاجل ګونګروګان اچولی ؤ (په دې کي هم يوقسم ګونګرو وي)نوهغې ته يې وويل چې :دباندې ووزه داسې ځای ته فرشتې نه راځي .په يو بل روايت کي دي چې حضرت عمر رضي الله عنه فرمايي : چې ماد نبي کريم صلى الله عليه وسلم څخه واورېدل چې دهر ګونګروسره يو شيطان وي ، امام نووی رحمة الله عليه ددې وجه بيانوي فرمايي چې جرس دناقوس په شان دی چې د (لرګي يا اوسپنې غټه ټکړه په وړو کي نکړي سره ټنګوي او غږوي) په دې وجه منع دی يا په دې وجه چې دادهغه معالقونه (ګونګرو ګانو) دی چې دهغه نه منع راغلی ده چې دهغې آواز کي کراهت دی په دې وجه فرشتې نه راځي ، ددې زيات تحقيق به په حديث نمبر (١٣٨) کي راسي . ان شاء الله.

لغوي او صرفي تحقيق: الجرس: مصدر دی دضرب يضرب دباب څخه دی ددې معنی ګونګرو. جرس اوګهريال ده،جمع يې اجراس راځي،مزامير جمع مزمارده ددې معنی شپيلی ده. **ترکيب**: (الجرس) مبتداء. (مزامير الشيطان) مضاف اومضاف اليه. خبر د مبتداء ، مبتداء سره دخبر نه جمله اسميه خبريه.

(١٩) اَلنِّسَاءُ حَبَائِلُ الشَّيْطَانِ : رزين. تخريج مشکوة صفحه ٢٧٤ س ١٧. عن ابی حذيفه رضي الله عنه مرفوعا

ژباړه: ښځې دشيطان جالونه دي. **توضيح** : ښځې دشيطان جالونه دي ،سړو ته خپل مخ ښائسته ښکاره کوي ،نوشيطان دسړو په زړه کي واچوي دې سره خبرې اترې وکړه اودې طرف ته ښه وګوره اودې سره دوستي شروع کړه وغيره . شيطان په ښځو کي پټ سوی وي همدغه وجه چې په يو حديث کي راځي چې جهنم کي به ښځې زياتې وي ،(دبې پردګۍ اودغيبت په وجه سره) اوهم په دې وجه دښځو دفتنې نه بچ کېدو لپاره دحديث نه دعا ثابت ده : اللهم انی اعوذبک من فتنة النساء . **لغوي او صرفي تحقيق**: نساء جمع دامرأة ده اودامرأة نوري جمعې هم راځي مثلا : نسوة ، نَسوَةٌ نِسنِينَ اونسوان وغيره . حبائل جمع دحبالة ده په معنی دجال اوام سره ده ، يو لفظ حبل دنصر ينصر دباب څخه دی مصدر دی په معنی درسی دهغه جمع حبال . احبل ،حبول . اواحبال راځي . **ترکيب** :(النساء) مبتداء (حبائل الشيطان) مضاف اومضاف اليه ،مضاف سره دمضاف اليه نه خبر دمبتداء ،مبتداء سره دخبر نه جمله اسميه خبريه

(٢٠) اَلطَّاعِمُ الشَّاكِرُ كَالصَّائِمُ الصَّابِرِ : ترمذی. تخريج مشکوة صفحه ٢٦٥ س ٢٦. عن ابی هريرة رضي الله عنه مرفوعا

ژباړه: خوړونکی شکر ګذار دصبر کونکی روژه دار په شان دی. **توضيح**: خوراک څښاک والاسړی که شکر کوي نودده ثواب دصبر کونکی روژه دار په شان دی يعني څومره ثواب چې دغه روژه دار ته ورکړی کيږي هغومره دې خوراک اوڅښاک کونکی ته ورکړل کيږي : اَلطَّاعِمُ الشَّاكِرُ. مقيس دی او: الصَّائِمُ الصَّابِرِ. مقيس عليه دی کوم چې قياس کړی سي هغه ته مقيس وايي اوپه کوم چې قياس وکړل سي هغه ته مقيس عليه وايي ،دلته طاعم شاکر مقيس دی داقياس سوی دی په صائم صابر باندې په دې وجه صائم صابر مقيس عليه دی او دمقيس عليه لپاره شرط دادی چې دهغه لپاره نص وي يعني قرآن

یاحدیث کي دهغه اصل موجوود وي نوچونکه دصائم صابر لپاره په حدیث کي راغلیی دی چي ډیر ثواب دی اوددې ادنی صبر دادی چي دروژې ماتونکو شیانو څخه بچ سي،لهذا دمقیس یعني دطاعم شاکر به همدغه ثواب دی ځکه چي صائم دلوږي په وجه دژړا فریادونه کوي اوخوراک کونکی ناشکري نه کوي. **لغوي اوصرفي تحقیق** :الطاعم دسمع دباب څخه داسم فاعل صیغه ده په معنی دخوراک کونکی،الشاکر او الصائم دنصر ینصر دباب څخه دي داسم فاعل صیغې دی ،الصابر دضرب دباب څخه دی اسم فاعل دی . **ترکیب** : (الطاعم) موصوف . (الشاکر) یې صفت ،موصوف سره دصفت نه مبتداء (ک) جار (الصائم) موصوف (الصابر) صفت موصوف سره دصفت نه مجرور دجار ،جار سره دمجرور نه متعلق په ثابت پوري . ثابت اسم فاعل دهوضمیر په کي پروت دی هغه یې فاعل،اسم فاعل سره دفاعل اوسره دمتعلق نه خبر دمبتداء ،مبتداء سره دخبر نه جمله اسمیه خبریه .

(۲۱) اَلاِقْتِصَادُ فِي النَّفَقَةِ نِصْفُ الْمَعِيْشَةِ: رزین. تخریج مشکوة صفحه ۴۴۲ س ۱۷. عن ابی حذیفه رضی الله عنه مرفوعا

ژباړه : په اخراجاتو کي میانه روي کول دژوند تیرولو نیمه حصه ده . **توضیح** : په خرچه کي میانه روي ساتل پکار دئ ،یواځي دتنخواه زیاتولو فکر نه دي کول پکار بلکه هم په دغه تنخواه کي دخرچ پوره کولو کوشش پکار دی ،همدا نیم ژوند دی اود ژوند تیرولو نیمه حصه ده اوداډیره دتجربې طریقه ده ځکه چي څومره تنخواه زیاتیږي نوهغومره دمال حرص هم زیاتیږي. **لغوي اوصرفي تحقیق** : الاقتصاد دباب دافتعال څخه دمصدر صیغه ده ،داپه لازمي بابونو کي دضرب یضرب څخه راځي ،په معنی دمیانه روی اختیارولو سره .النفقة دادانفاق اسم دی په معنی دخرچ ددې جمع نفقات اوانفاق راځي یولفظ دی نفق په معنی دسُری سره ددې جمع انفاق راځي نصف دنصر ینصر دباب څخه مستعمل دی ،دالفظ په تثلیث دنون سره دی . ددې جمع انصاف راځي المعیشة ضرب یضرب څخه مصدر دی په معنی دژوندي پاتي کېدلو اود ژوند ذریعه. **ترکیب** : (الاقتصاد) مصدر (فی) جار (النفقة) مجرور ، جار سره دمجرور متعلق سو په مصدر پوري ،مصدر سره دخپل متعلق نه مبتداء .(نصف المعیشة) مضاف اومضاف الیه ،مضاف سره دمضاف الیه نه خبر دمبتداء مبتداء سره دخبر نه جمله اسمیه خبریه .

(۲۲) وَالتَّوَدُّدُ اِلَى النَّاسِ نِصْفُ الْعَقْلِ: بیهقي. تخریج مشکوة صفحه ۴۳۰ س ۲۶. عن ابی حذیفه رضی الله عنه مرفوعا

ژباړه : اوخلکو سره محبت کول نیم عقل دی. **تشریح** :خلکو سره محبت کول پکار دي اودانیم عقل ځکه دی چي کله سړی خلکو سره محبت کوي نودجنګ جګړي ،بنکنځلو اوفسادونو څخه به بچ وي اوخلکو سره په داسي طریقه ملاویدل چي دجنګ جګړو وغیره نه بچ سي همدانیم عقل دی پوره عقل هغه وخت وي کله چي په دین باندي پوره پوره عمل کونکی سي ،خلاصه داسوه چي دبندګانو حق اداکول نیم عقل دی اوداالله جل جلاله حقونه اداکول په دې سره عقل پوره کیږي. **لغوي اوصرفي تحقیق** : تودّد

دباب تفعل څخه مصدر دی په معنی دمحبت کولو سره . الناس اسم دی اودانسان جمع ده ،نصف په تثلیث دنون سره دی ددې جمع انصاف ده په معنی دهرشي نصف یعني نیم ، دعقل درې معناګاني دي ،اول : روحاني نورچه په هغه سره دغیرمحسوس شیانو ادارک کیږي . دویم : زړه . دریم : دیت جمع یې عقول راځي **نکته** :یوداسي حدیث وښایاست چې په هغه کې نهه ځله لفظ دنصف ذکر وي ؟ هغه هم دادی .**ترکیب** :(واو) عاطفه .(التودد) مصدر. (الی) جار.(الناس) یې مجرور.جار سره دمجرور متعلق شو په مصدر پوري ،مصدر سره دخپل متعلق نه خبر دمبتداء ،مبتداء سره دخبر نه جمله اسمیه خبریه .

(۲۳)وَحُسْنُ السُّؤَالِ نِصْفُ الْعِلْمِ: تخریج مشکوة صفحه ۴۳۰ س ۲۶ .عن ابن عمر رضی الله عنه مرفوعا

ژباړه : ښه پوښتنه نیم علم دی. **توضیح** :دزاد الطالبین په بعضو نسخو کې داجمله نسته اوپه بعضو کې سته لیکن په اصل کتاب مشکوة کې داجمله موجوده ده اوداحدیث په مشکوة کې په حواله دبیهقي سره موجود دی اوداد نصف والا درې واړه جملې په یو حدیث کې ذکر دی ، ددې مطلب دادی چې ښه سوال کول پکار دي اوفضول سوال نه دي کول پکار اوددې ویرې نه چې خلک به څه وایي ،سوال پرېښودل نه دي پکار ،په دې حدیث کې یې داستفتاء طریقه ښودلی ده چې سوال اواستفتاء واضحه پکار ده . **لغوي اوصرفي تحقیق** :حسن ویل کیږي ښائست اوښکلي والي ته ددې جمع خلاف قیاس محاسن راځي اویولفظ حَسَن دی کوم چې دصفت صیغه هم ده اودنصر ینصر نه دمصدر صیغه هم اود حسن جمع حِسان اوحُسان راځي اوداد کُرم دبان هم استعمال سوی دی ،سُؤال دفتح یفتح د باب نه مصدر دی باقي تحقیق ددې تیرسوی دی دنصف معنی هم اوس تیره سوه ، العلم مصدر دی دباب دسمع یسمع نه ددې معاني دیوشي دحقیقت ادراک یقین اوپیژندل دی ددې جمع علوم راځي .

ترکیب : (حسن) مضاف (السؤال) مضاف الیه . مضاف سره دمضاف الیه نه مبتداء .(نصف العلم) مضاف اومضاف الیه ،مضاف سره دمضاف الیه نه خبر دمبتداء ، مبتداء سره دخبر نه جمله اسمیه خبریه .

(۲۴)اَلتَّائِبُ مِنَ الذَّنْبِ كَمَنْ لَا ذَنْبَ لَه: تخریج مشکوة صفحه ۲۰۶ س ۲۶ .عن عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه مرفوعا

ژباړه :دګناهونو څخه توبه ایستونکی دهغه سړي په شان دی چې دهغه لپاره هیڅ ګناه نه وي .

توضیح : دتوبې معنی داده چې په تیرسوو ګناهونو باندې ویریږي پښیمانتیا سره معافي وغوښتل سي اوپه راتلونکی وخت کې دګناهونو څخه دبچ کېدلو پخه اراده وکړي اودګناهونو نه ځان ساتي ،بیاخداي مکړه که چیرې توبه ماته سي نوبیا دې توبه وباسي که بیا ماته شي نوبیا توبه وباسي ،په یومنټ کې د زړه دکومې توبې سره دسلو کالو ګناهونه معاف کیږي ،په توبه کې وروسته والی کول بالکل نه دی پکار ،چاته معلومه ده چې مرګ کله راځي اودګناهونو څخه ځان ساتل پکار دي ،دګناه په وخت هم مرګ راتلی سي .نوبهرحال توبه کونکی دی داسي جوړیږي لکه چې ګناه یې نه وي کړی اوداالله جل جلاله ډیرلوی انعام

دی دلته لفظ ذنب راغلی دی چې دې معنی عام طور په وړو ګناهونو سره کیږي ،دې مطلب دا دی چې وړه ګناه هم کول نه دی پکار (ځکه چې هغه بار بار کولو سره لویه ګناه جوړیږی) لیکن که خدای مکړه وړه ګناه هم وسي نو سمدستي توبه ایستل پکار دي اود ګناهونو نه پاک صفا کېدل پکار دي اوداسي جوړېدل پکار دي لکه چې ګناه یې نه وي کړی اوحقیقت دادی چې داسي یوه ګناه نسته کومه چې پرېښودل کیږي نه اودهغې څخه پخه توبه نه ایستل کیږي . **لغوي اوصرفي تحقيق** :التائب : داسم فاعل صیغه ده ،دنصر ینصر دباب څخه استعمال سوی ده ،دې ډیر مصدرونه راځي:

(تَوبًا وَتَوْبَةً وَتَابَةً وَمَتَابًا وَتَتوِبةً) ذنب مصدر دی دضرب اونصر دباب څخه معنی یې ګناه ده ددې جمع ذنوب راځي اوجمع الجمع یې ذنوبات راځي اوبولفظ دی ذنب په فتحې دنون سره په معنی دلکنی ددې جمع اذناب ده **ترکیب** :(التائب) اسم فاعل ،په دې کي هوضمیر پروت دی هغه یې فاعل سو ،(من) حرف جار (الذنب) مجرور ، جار سره دمجرور نه متعلق په التائب پوري ،التائب سره دخپل فاعل او متعلق نه مبتداء .(ک) حرف جار .(من) موصوله (لا) دنفس جنس ،(ذنب) ددې اسم (ل) جار (ه) ضمیر مجرور، جار سره دمجرور نه متعلق په موجودٌ محذوف پوري ،موجودٌ اسم مفعول ،په دې کي هو ضمیر دی هغه ددې نائب فاعل سو ،اسم مفعول سره دنائب فاعل نه خبر ،لا لنفی جنس سره دخپل اسم اوخبر نه جمله اسمیه خبریه صله سوه ،موصول سره دصلې نه مجرور دجار ،جار سره دمجرور نه متعلق په ثابت پوري ،ثابت اسم فاعل په دې کي هوضمیر پروت دی هغه یې فاعل ،اسم فاعل سره دخپل فاعل نه اودمتعلق نه خبر دمبتداء ،مبتداء سره دخبر نه جمله اسمیه خبریه سوه .

(۲۵) اَلْكَيِّسُ مَنْ دَانَ نَفْسَه وَعَمِلَ لِمَا بَعْدَ الْمَوتِ وَالْعَاجِزُ مَنْ اَتْبَعَ نَفْسَه هَوَاهَا وَتَمَنَّى عَلَى اللهِ

(تخریج مشکوة صفحه ۴۵۱ س ۱۵ .عن شداد بن اوس رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه : هوښیار سړی هغه دی چې دخپل نفس خیال وساتي (بدله ورکړي) اوعمل وکړي دهغه شي لپاره کوم چې دمرګ څخه وروسته دی ، کم عقل اولیونی هغه دی چې هغه دخپل ځان نفس خواهشاتو پسې ولګیږي او آرزو به الله تعالی باندې کوي . **توضیح** : عقل منداوهوښیار هغه دی څوک چې په خپل نفس باندې غالب راسي اونفس دالله جل جلاله دحکمونو لپاره فرمانبردار جوړ کړي او وخت په وخت یې خیال وساتي اونفس ته بدله ورکوي ددې لپاره چې ګناهونو څخه خلاص سي اودمرګ لپاره تیاري وکړي اوبې وسه اوبې وقوف هغه دی چې دنفس ناجائز خواهشات هم پوره کوي اوبغیر دنیکی کولونه دالله جل جلاله نه دا امید ساتي چې زه وبخښل سم . **پوښتنه** : د (الکیس) معنی ده عقلمند ، ددې په مقابله کي (بَلِیدٌ) په معنی دکم عقل اوبې وقوف راتلل پکار ؤ نو ځکه عاجز ولي راغی .؟ **جواب** : چونکه بې وقوفي سره عجز لازم دی په دې وجه یې عاجز لفظ راوړلو اودغه ډول په حدیث کي دبد شئ ذکر کم کیږي په دې

وجه يې بلېد ذکر نه کړو. **لغوي او صرفي تحقيق**: الکيس په تشديد ذياء سره اوپه کسرې دياء سره په معني د پوهنې راځي ښه سوچ او پوهې والا ، ددې جمع اکياس او کيسى راځي ،دادضرب يضرب دباب څخه استعمال سوى دى او يولفظ کيس دى چې هغه مصدر دى چې دهغه دامعناګاني دي :(۱): عقل .(۲): پوهه. (۳): هوښيارتيا. (۴): فکر. (۵):جماعت . (۶) : بخښش . (۷): په کارونو پرهه. کِيَاسةٌ يې هم مصدر راځي اوبل لفظ کِيس دى په معنى د تهيلى اوبتوې سره ،ددې جمع اکياس اوکيسة راځي ،دان دضرب يضرب څخه په معنى دبدلهورکولو اوذليل کولو سره ،نفس دنصر دباب څخه مصدر دى په معنى دروح او وينې سره دى، که چيرې دنفس څخه مراد روح وي نوييا دامؤنث دى لکه :خَرَجَتْ نَفْسُهُ . اوکه نفس څخه سړى وي نوييا دامذکر دى لکه :عندي خَمْسَةٌ عشَرَ نَفْسًا . ددې جمع انفس اونفوس راځي بل لفظ دى نفس په فتح دفاء سره ددې معناګاني دادى . اول :دهوا چيه. دويم : سله . دريم : مهلت .څلورم: ګنجائش . پنځم : فراخي . ددې جمع انفَاس راځي . عمل دباب دسمع نه ماضي ده . په معنى دکار کولو ،محنت کولو خپلې ارادې سره ، ددې جمع اعمال ده . په فعل اوعمل کې فرق د: انما الاعمال بالنيات. په حديث کې تيرسوى دى ، الموت مصدر دى دنصر ينصر دباب څخه په معنى دمړ کيدلو سره دى ، بياکوم مرګ چې په قتل سره وي هغه ته الموت الاحمر وايي اوکوم چې طبعي يا اچانک راسي هغه ته الموت الابيض . وايي اوکوم مرګ چې په تيز سيلاب يا به رود وغيره راغلى وي هغه ته الموت الاسود وايي ،العاجز دضرب اوسمع دباب څخه دى داسم فاعل صيغه ده په معنى دعاجز کيدلو اوطاقت نه لرلو سره دى ددې دامصادر راځي : عَجْزًا عُجُوزًا عَجَزانا .مَعجِزاً .مَعجِزَةً .

بل لفظ العجز دى: ددې معنى تورە ده اود العَجَز اوالعجز معنى ده وروستنى حصه کوناتى . ددې جمع عواجز راځي ، يوبل لفظ دى عَجُوز ددې جمع عَجُز او عَجَائز راځي ددې دشپيتو څخه زياتي معناګاني دي مثلا . بوډى. شراب. مصيب . کشتى. اسپه .هغه حيوان چې مړي خوري . زمرى . غوايى . اوښه . شرمش . لړم . مرګ وغيره ،اتبع داد باب افعال څخه دماضي واحد غائب صيغه ده ،ددې مجرد دسمع يسمع څخه راځي اود مجرد څخه ددې مصادر تبعا اوتباعا اوتباعة راځي .

ترکيب : (الکيس) مبتداء (من) موصوله .(دان) فعل دى ضمير دهو په کې موجود دى هغه يې فاعل ،(نفس) مضاف (ه) مضاف اليه ،مضاف سره دمضاف اليه نه مفعول به سو ، فعل سره دفاعل اوسره دمفعول به نه جمله فعليه خبريه معطوف عليه ،(واو) حرف عاطفه (عمل) فعل د هو ضمير په کې پروت دى هغه يې فاعل (ل) جار (ما) موصوله (بعد) مضاف (الموت) مضاف اليه ، مضاف سره دمضاف اليه نه مفعول فيه سو دفعل مقار يثبت ،يثبت فعل سره دخپل فاعل چې دهو ضمير دى اوسره دمفعول فيه نه صله دموصول ،موصول سر. دصلې نه مجرور دجار ،جار سره دمجرور نه متعلق په عمل پورې . عمل فعل

سره دهو ضمير فاعل نه اوسره دمتعلق نه معطوف ،معطوف عليه سره دخپل معطوف نه صله دمن ، من موصوله سره دخپلي صلې نه خبر دمبتداء ،مبتداء سره دخبرنه جمله اسميه معطوف عليه . (واو) عاطفه(العاجز) مبتداء (من) موصوله (اتبع) فعل په دې کي دهو ضمير دی هغه يې فاعل،(نفس) مضاف (ه)مضاف اليه ،مضاف سره دمضاف اليه نه مفعول اول (هواها) مضاف مضاف اليه (واو) حرف عاطفه (تمنی) فعل ضمير دهو په کي موجود دی هغه يې فاعل .(علی) جار(لفظ الله) يې مجرور .جار سره دمجرور نه متعلق سو د تمني پوري . فعل سره دخپل فاعل اومتعق نه معطوف ،معطوف عليه سره دخپل معطوف نه صله دموصول ، موصول سره دصلې نه خبر دمبتداء، مبتداء سره دخبرنه جمله اسميه خبريه معطوف سو ،معطوف عليه سره دخپل معطوف نه جمله معطوفه سوه .

(۳۶) اَلْمُؤْمِنُ مَأْلَفٌ وَلَا خَيْرَ فِيْمَنْ لَا يَأْلَفُ وَلَا يُؤْلَف

(تخريج مشكوة صفحه ۴۲۵ س ۹ .عن ابی هريرة رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه :مسلمان دمحبت ځای دی په هغه سړي کي خير نسته چي نه هغه دچا سره محبت کوي اونه دهغه سره څوک محبت کوي. **توضيح** : مسلمان دمحبت ځای دی يعني دده سره محبت اونرمي سره اوښه اخلاقو سره معامله پکار ده که څه خبره ورته کوی نوپه خندا سره يې کوه په مينه يې ورته کوه ،دغصې اظهار مه کوه ،په يو بل حديث کي راغلی دی چي کله تاسو خپل مسلمان ورور سره ملاقي کيږی نوپه فراخ تندي ورسره ملاقي کيږه يعني په خندا ورسره ملاو سه ،داسي ورسره مه يوځای کيږه چي مخ اوتندی دی ورته ګونجي کړی وي وريسې يې صفاييان وفرمايل چي داسي سړی چي هغه نه دچاسره محبت کوي اونه ده سره څوک محبت کوي نوپه ده کي څه ښيګړه اوخير نسته ، يعني انسان لره سخت طبيعته نه دی پکار ،دهرسړي دمرتبې اودرجې مطابق مسخرې اوګپي هم کول پکار دي،ديو بزرګ څخه چاپوښتنه وکړه چي آيا صحابه کرامو به (هم) خندل؟ نووی فرمايل : چی صحابه کرامو به دومره خندل چي په يو بل دپاسه به ورپرپوتل ،دغفلت خندا سره زړه مړ کيږي ،دصحابه کرامو خندا دغفلت نه وه . **لغوي اوصرفي تحقيق** :دمألف معنی خوښ اومحبوب شئ . جمع مألف راځي داد سمع يسمع دباب څخه استعمال سوی دی اوددې څخه ألفة(دوستي اومحبت کول)اوتاليف (کتاب) اومؤلف(مصنف) مالف داسم ظرف صيغه ده او آلف (زر عدد) او الف (دحروف تهجي لومړی حرف). **ترکيب** :(المؤمن) مبتداء .(مألف) يې خبر .مبتداء سره دخبرنه جمله اسميه خبريه سوه ،(واو) استنافيه(لا) لنفی جنس . (خير) اسم (فی) جار (من) موصوله . (لايألف) فعل په دې کي ضمير دهو يې هغه يې فاعل دی .فعل سره دفاعل جمله فعليه خبريه معطوف عليه (واو) عاطفه.(لايولف) فعل ضمير دهو پکي شدی هغه يې نائب فاعل ،فعل سره دخپل نائب فاعل نه جمله فعليه خبريه معطوف . معطوف عليه سره دخپل

معطوف نه جمله معطوفه صله دموصول، چې مَن دی . موصول سره دخپلې صلې نه مجرور دجار، جارسره دمجرور نه متعلق په ثابت پورې ،ثابت اسم فاعل په دې کې ضمیر دهو پروت دی هغه یې فاعل ، اسم فاعل سره دخپل فاعل اوسره دمتعلق نه خبر سو دلالنفی جنس لپاره . لا لنفی الجنس سره دخپل اسم اوخبر نه جمله اسمیه خبریه سوه .

(۲۷) اَلْغِنَاءُ يُنْبِتُ النِّفَاقَ فِي الْقَلْبِ كَمَا يُنْبِتُ الْمَاءُ الزَّرْعَ (بيهقي:

تخریج مشکوة صفحه ۴۱۱ س ۴ .عن جابر رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه: ګانا (لوبه) په زړه کې نفاق پیدا کوي داسې لکه څنګه چې اوبه چې فصل زرغون اوشین کوي **توضیح**: غزلی ویلو سره په زړه کې نفاق پیدا کیږي اودا مشبه ده اومشبه به وروسته ده لکه څرنګه چې اوبه فصل زرغونه وي ،دغه شان په زړه کې نفاق زیاتیږي ،غزلي ویل او غزلي اورېدل په شریعت کې ناجائز دي اوحرام دي ، اوګناه کبیره ده اودګناه کبیره بار بار کولو سره ایمان په خطره کې پرېوزي چې چیرته ضائع نه سي ، ځکه چې په حدیث کې راځي : چې بنده کله ګناه وکړي نو په زړه باندې تور ټکی پیدا سي اوکله چې انسان بار بار ګناه کبیره کوي نو ښکاره خبره ده چې زړه به یې تور سي اودایمان نه به لاس پرسر سي ،وراندې دنفاق شکل ؤ اوس حقیقي نفاق راځي په دې وجه هره موسیقي اوهرقسمه غزلي اولوبي اودهرقسم فضول خبري کولو او اورېدلو نه پرهیز پکار دی . **لغوي اوصرفي ت**حقیق : الغناء په قصر اومد دوادو سره په معنی دلوبي اوسندري ،بل لفظ غنی دی او الغناء په معنی دمالداري سره غَنیٌ معنی یې مالدار ده جمع یې اغنیاء راځي ،ددې باب سمع یسمع دی (غنی الرجل) په معنی دنکاح کولو ،ینبت دباب افعال څخه دمضارع واحد غائب صیغه ده اوددې مجرد نصر ینصر نه استعمال دی ،ددې معنی ده زرغونول اوپیدا کول ،بل لفظ دی نَبتٌ ددې جمع نبوت راځي اومعنی یې سبزیات دي اوالنبات یې مصدر دی دنصر ینصر نه کوم شی چې دزمکي څخه راپورته کیږي ، النفاق مصدر دی په مجرد کې دباب نصرنه اوپه مزیدو کې دباب مفاعل نه ، په مجردو کې ددې معنی ختمیدل اوکمیدل دی اوپه مزیدو کې ددې معنی په زړه کې کفر پټول دي ،یولفظ دی نَفَق په معنی دسوري . جمع یې انفاق راځي اوبل لفظ دی نَفَقَة په معنی دلګښت سره ،ددې جمع نفقات اونفاق اوانفاق راځي القلب په معنی دزړه اوعقل سره ، ددې جمع قلوب راځي اودادسمع ،نصر اوضرب څخه استعمال سوی دی که چیرې نصر اوضرب نه راسي نوددې معنی ده په زړه باندې وهل اوکه دسمع نه راسي نوددې معنی ده الټه شونډو والا ،بل لفظ قلیب دی په معنی دکوهي اوبل لفظ قلیب دی ،په شد سره په معنی دشرمخ اوزمري ،الماء په معنی داوبو ،ددې اصل موهٌ دی اوتصغیر یې مویَهٌ دی اودې جمع میاه اواموا راځي ،الزرع دفتح دباب څخه مصدر دی اومعاني یې دادی،اول: پټې دکښت زمکه.دویم : اولاد . دریم :کرل اوتخم اچول . جمع یې زروع راځي

اوزرعه تخم ته وايي . **ترکيب** :(الغناء) مبتداء (ينبت) فعل په دې کي هوضمير دی هغه يې فاعل دی (النفاق) مفعول به (فی) جار (القلب) مجرور جار سره دمجرور متعلق اول سو دفعل(ک) حرف جار(ما) موصوله ،موصول سره دصلې نه مجرور دجار ،جار سره دمجرورنه متعلق ثانی سو دفعل ،فعل سره دخپل فاعل اوسره دمفعول به نه اوسره د دواړو متعلقينو نه جمله فعليه خبريه خبر دمبتداء ،مبتداء سره دخپل خبر نه جمله اسميه خبريه .

(۲۸) اَلتُّجَّارُ يُحْشَرُوْنَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فُجَّارًا اِلَّا مَنِ اتَّقٰى وَبَرَّ وَصَدَقَ : مشکوة ص(۲۴۳ س ۱ عن عبيد بن رفاعه مرفوعا)

ژباړه : تجاران به د قيامت په ورځ جمع کول کيږي د بد کارو په حالت کي ،مګر هغه چاچي پرهيزګاري وکړه اونيکي يې وکړه اورښتيا يې وويل . **توضيح** : سوداګر به د قيامت په ورځ بد کار جوړ کړی کړی سوي پورته کولی سي ، البته هغه سوداګر چي هغو دحرامو څخه ځان ساتي اوپه قسمونو کي رښتونی وي اورښتيا وايي ، نوهغه به په قيامت کي دنبيانو سره ،صديقينو سره اوشهيدانو سره راپورته کول کيږي لکه څنګه چي په راتلونکی حديث کي را روان دي ، اوهغه به پخپله هم دنيکانو څخه وي ،د دې حديث څخه صفا معلوميږي چي کم ناپ کول اوکم تلل ډيره لويه ګناه ده . اول خو قسمونه خوړل نه دي پکار اوکه خوړلی يې وي نو دهغه پوره کول هم پکار دي اود دوکانداری چلولو لپاره د دروغو قسمونه هم نه خوري .

لغوي اوصرفي تحقيق : التجار جمع د تاجر ده ،اوتِجّارٌ اوتَجرٌ هم د تاجر جمع راځي دا د نصر ينصر دباب څخه استعمال سوی دی د فعل مضارع مجهول د جمع مذکر غائب صيغه ده ،معنی يې داده چي جمع به کړل سي ،هم د دې څخه حشرات الارض يعني چينجي هم دی وحشرات جمع د حشرة ده ، (اِتّقٰی يَتّقِی اِتّقَاءً) دابا افتعال څخه دی په معنی د پرهيزګاری اختيارولو اوددې مجرد دباب ضرب څخه راځي ، يقی وقاية په معنی د حفاظت کولو اوبچ کولو ، بردضرب څخه د ماضي واحد غائب صيغه ده په معنی د اطاعت کولو ،بنه سلوک کول ، صفت يې بردی جمع يې ابرار راځي ،يولفظ دی البَرُ دا د الله جَلَّ جَلَالُهٗ دنومونو څخه يونوم هم دی اوددې معنی وچه زمکه هم راځي د دې جمع برور راځي اوبل لفظ دی اَلبِرّية په معنی د .اول: اطاعت . دويم : هديه . دريم : صلاحيت . څلورم : رښتيا . پنځم : زړه . شپږم : د ګيډې بچی . اووم : مړه . اتم : غټه مړه . اوبل لفظ اَلبَرّ . دی د اجمع ده واحد يې برة راځي په معنی د غنمو ،صدق د نصر دباب څخه د ماضي واحد غائب صيغه ده ،د دې مصدرونه دا دول دي : صِدقًا اوصَدَقًا اومَصدوقَةً اوتَصدَاقًا بل لفظ دی صدقة په معنی د خيرات د دې جمع صدقات ده اوبل لفظ دی صداق اوصَداق په معنی د مهر ،د دې جمع اَصدقة اوصُدوق راځي هم د دې نه دې صداقة په معنی د رښتونی دوستي اوهم د دې نه دی الصّدق په معنی د رښتيا . فضيلت . صلاح . سختي . مضبوطی . **ترکيب** : (التجار) مبتداء (يحشرون) فعل په دې کي هوضمير پروت دی هغه يې ذوالحال . (يوم القيامة) مضاف مضاف اليه . مضاف سره دمضاف اليه نه مفعول فيه ،(فجار) حال . ذوالحال سره دخپل حال مستثنی منه . (الا) حرف استثناء (من)

موصوله (اتقی) فعل فاعل . فعل سره دفاعل معطوف علیه ، (واو) عاطفه (بر) فعل ضمیر دهو پکي پروت دی هغه یې فاعل ،فعل سره دفاعل معطوف اول ، (واو) عاطفه صدق فعل ضمیر دهو پکښې دی هغه یې فاعل ،فعل سره دفاعل معطوف ثانی ، معطوف علیه سره دخپلو دواړو معطوفو نه جمله معطوفه مستثنی .مستثنی منه سره دخپلي مستثنی نه نائب فاعل ،فعل سره دخپل نائب فاعل نه اوسره دمفعول فیه نه جمله فعلیه خبریه خبر دمبتداء ، مبتداء سره دخبر نه جمله اسمیه خبریه سوه

(۲۹) اَلتَّاجِرُ الصَّدُوْقُ الْاَمِیْنُ مَعَ النَّبِیِّیْنَ وَالصِّدِّیْقِیْنَ وَالشُّهَدَآءِ

(تخریج مشکوة صفحه ۲۴۳ س ۲۳ عن ابی سعید رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه :امانت دار رښتونی سوداګر به په نبیانو او صدیقینو او شهیدانو سره یو ځای وي

توضیح : په تیر سوي حدیث کي دبد سوداګر بدي بیان سوی وه اود ښه سوداګر صفت طرف ته اشاره وه اوس په دې حدیث کي صفا ذکر دي چي څوک صحیح سوداګر وي امانت دار وي اورښتونی هم وي دهوکه باز نه وي هغه به په قیامت کي به په ښه محشر کي وي یعني هغه به پخپله نیک وي او به محشر کي به یا د شهیدانو سره وي یا د صدیقینو سره اویا به د نبیانو سره وي ،دهر سوداګر درجه ده څومره چي یې نیکي زیاتي وي په تجارت کي به یې هغومره درجه زیاتیږي په قیامت کي به اخري درجه داوي چي دغه سوداګر به د حشر په میدان کي د پیغمبرانو سره راپورته کول کیږي .

لغوي اوصرفي تحقیق : التاجر د دې تحقیق په مخکني حدیث کي تیر سوی دی .(الصدوق) ډیر زیات رښتیا ویلو والا دمبالغې صیغه ده اوددې ماده صدق په وړاندي حدیث کي تیره سوی ده . الامین په معنی دهغه سړي چي هغه سره امانت اینبودل کیږي دویم دهغه سړي په معنی چي هغه دچاسره امانت کښیږدي .ددې جمع امناء ده . النبیین جمع دنبیٌ ده دنبي اونبوة معناګاني دادی : پیغمبر .پیغمبري . الصدیقین جمع دصدیق ده په معنی دډیر زیا ت رښتیا ویلو والا.شهدآء جمع دشهید ده ،دشین په فتحې سره هم راځي اوپه کسرې سره هم ،ددې معناګاني دادی : حاضر.په ګواهي کي امانتدار. هغه ذات چي دهغه دعلم څه شئ مخفی نه وي .دالله جل جلاله په لاره کي وژل سوی ، که چیري دادسمع دباب څخه راسي نو معنی یې حاضر ده اوکه چیري دکرم دباب څخه راسي نو بیایې معنی ګواهي ورکول دي ،هم ددې نه شاهد په معنی دژبي دی . ددې جمع :شَهدٌ و شُهودٌ واَشهادٌ ده .

ترکیب : (التاجر) موصوف (الصدوق) یې صفت اول .(الامین) یې صفت ثانی ، موصوف سره د دواړو صفتونو څخه مبتداء (مع) مضاف (النبیین) معطوف علیه (واو) عاطفه (الصدیقین) معطوف اول.(واو) عاطفه (الشهداء) معطوف ثانی ، معطوف علیه سره د دواړو معطوفونه مضاف الیه ، مضاف سره دمضاف الیه نه خبر دمبتداء،مبتداء سره دخپل خبر نه جمله اسمیه خبریه سوه .

(۳۰) آيَةُ الْمُنَافِقِ ثَلَاثٌ اِذَا حَدَّثَ كَذَبَ وَاِذَا وَعَدَ اَخْلَفَ وَاِذَا اؤْتُمِنَ خَانَ:

(بخاري في الامانة)(تخريج مشكوة صفحه ۱۷ س ۱۴ عن ابی هريرة رضي الله عنه مرفوعا)

ژباړه : دمنافق درې نښې دي کله چې هغه خبره کوي نو درواغ وايي او کله چې وعده کوي نو هغه وعده خلافي کوي او کله چې څوک دهغه سره امانت کښيږدي نو په هغه کي خيانت کوي. **توضيح** : دمنافق درې غټې نښانيان دادي چې کله هم خبره کوي نو درواغ وايي او کله چې هم وعده کوي نووعده خلافي کوي او کله چې څوک دده سره امانت کښيږدي نو په هغه کي خيانت کوي. **پوښتنه** : منافق هغه دی چې په زړه کي کفر ساتي ، منافق مسلمان نه وي نودامطلب سو چې درواغ ويونکی اوامانت کي خيانت کوونکی ،غرض داچې هره کبيره ګناه کونکی مسلمان نه دی حالانکه په حديث کي راځي چې صرف کلمه شريف ويونکی مسلمان دی او کله خو به ضرور جنت ته ولاړسي اوڅوک چې منافق وي هغه خو به جنت ته نه ځي غرض داچې آيا کبيره ګناه کونکی دايمان څخه وزي. **جواب** : کبيره ګناه کونکی د ايمان څخه نه وزي بلکه ايمان يې کمزوری کيږي دلته ګناه ذکر ده دې مطلب دادی چې دداسي کارونو کونکی دمنافق په شان ګرځي. **داحديث دمعتزله ؤ دليل دی** : هغوی دا وايي چې کبيره ګناه کونکی دايمان څخه وزي اوهميشه هميشه لپاره دجهنم حقدار جوړيږي ،مونږ دې جواب دا ورکوو چې ايمان نه مراد کامل ايمان دی معنی يې داده چې کبيره ګناه کونکی د کامل ايمان څخه وزي کمزوری مؤمن جوړيږي يعني دهغه ايمان کمزوری کيږي. **لغوي اوصرفي تحقيق** : آية دا اسم دی په معنی دعلامت دی . د دې دوې جمعې راځي .(۱): آی .(۲): آيات . المنافق : هغه څوک دی چې په زړه کي کفر کونکی وي باقي دې مادې تحقيق په حديث نمبر (۲۱) کي تيرسوی دی ، ثلث : دامصدر دی دنصر ينصر دباب څخه دی . ثلثا يې هم مصدر راځي دې معناګاني درې ده اوهم دې څخه دې (الثُّلثُ والثلث) په معنی ددريمي حصې ،دې جمع اثلاث راځي اوهم دې څخه دی الثلث چې معنی يې داده چې دا اوښي دريم بچی . حَدَّثَ : دادباب تفعيل څخه دماضي واحد غائب صيغه ده په معنی دبيانولو .خبرورکولو ،روايت کولو سره دی ، دې مجرد دباب دنصر څخه استعمال سوی دی په معنی دواقع کيدلو هم دې نه دی الحدث ښه خبرواترو کولووالا ، اوهم دې نه دې الحدث په معنی دنوي شئ . دست څخه خلاف . په دين کي نوی خبره . غټ اودس مات . دې جمع احداث راځي ،هم دې څخه دی احاديث دالفظ احاديث د دريو مختلفو لفظونو جمع ده (۱): أحدوثةٌ : خبره اوقصې . (۲): حديث نبوي . (۳): حديث خبر کذب دا د باب ضرب نه دماضي واحد غائب صيغه ده . دې ګټو مصادر راځي (كَذِبًا وكِذبًا وكَذِبَةً وكِذَابًا وكِذَابًا) په معنی د درواغو ويلو سره دی ،په قصد سره غلطه خبرورکول هم دې څخه دی . أكذُوبَةٌ په معنی د درواغو جمع يې اکاذيب ده هم دې نه کذوب هم راځي ،په معنی دلوی درواغجن . جمع يې (كُذُبٌ اوكَذَبَان) ده وَعَدَ داد ضرب دباب څخه دماضي واحد غائب صيغه ده دې دامصادر راځي (وَعْدًا وعِدَةً ومَوعِدَةً

ومَوعوداً ومَوعودة) ددې معنی ده وعده کول هم ددې څخه دی میعاد په معنی دوعدی وخت یاځای ،جمع یې مواعید ده ،الوعدمصدر دی ،دبعضو په نزد ددې جمع نه راځي اودبعضو په نزد وُعود راځي،اخلف دادباب افعال څخه دماضي واحد غائب صیغه ده اوددې مجرد دنصر باب نه هم راځي اودسمع نه هم داخلف لغوي معنی دیوې بدلیدل یاخرابیدل ده ،بیا دموقعې مطابق استعمالیږي لکه (اخلف الثّوب) په معنی د(جاموته تکړی) ګنډلو (اخلف لاَهله) دخپلو خلکو لپاره اوبه رایستل (اخلف ویوعده) وعده خلافي کول ، دلته ددې حدیث هم دامعنی ده ، دلته دري الفاظ دی .(۱): الخلف دی په معنی دیوې ډلې کومه چې دبلې ډلې څخه وروسته وي .(۲): الخلف دی په معنی اول : دوعده نه پوره کول .دویم : دسپرلي واښه . دریم : داوښې دغلانزي سر . دخلف جمع اخلاف راځي . أوتمن دامانت څخه دی ،ددې معناګي په حدیث نبمر(۳): تیرسوی دی ،خان دنصر دباب څخه دماضي واحد صیغه ده ،ددې مصادر داسي دي : خَوانًا اوخِيانة اومَخَانَة اوخَانَةً .په معنی دامانت کي خیانت کول ،ددې نه دی :الخان. په معنی د دوکان سرائ . ددې جمع (خَانات) راځي اوددې څخه (خُوَان اوخِوانٌ) په معنی ددسترخوان ددې جمع (اَخونة اوخُونٌ) راځي .**ترکیب** : (آیة المُنافق) مضاف مضاف الیه .(ثلث) مبدل منه (اذا) حرف شرط (حدث) فعل هو ضمیر یې فاعل.فعل سره دفاعل شرط (کذب) فعل هوضمیر یې فاعل ،فعل سره دفاعل جزاء دشرط، شرط سره دجزاء معطوف علیه ،(واو) حرف عاطفه (اذا) شرطیه (وعد) فعل هوضمیر یې فاعل . فعل سره دفاعل شرط(اخلف) فعل هم ضمیر یې فاعل ،فعل سره دفاعل جزاء ، شرط سره دجزاء نه معطوف اول .(واو) حرف عاطفه (اذا) شرطیه (أوتمن) فعل هوضمیر یې نائب فاعل ،فعل سره دخپل نائب فاعل نه شرط ،(خان) فعل هوضمیر یې فاعل ، فعل سره دفاعل جزاء دشرط ، شرط سره دجزاء نه معطوف ثانی معطوف علیه سره دخپلو دواړو معطوفو توبدل ، مبدل منه سره دبدل نه خبر دمبتداء ،مبتداء سره دخبر نه جمله اسمیه خبریه.

(۳۱) اَلْكَبَائِرُ اَلْاِشْرَاكُ بِاللّٰهِ وَعُقُوقُ الْوَالِدَيْنِ وَقَتْلُ النَّفْسِ وَالْيَمِيْنُ الْغَمُوْسُ

(تخریج مشکوة صفحه ۱۷ س ۲ عن عبدالله بن عمر رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه :ګناه کبیره الله سره شریک جوړول دي اودمور پلار نافرماني کول دي اونفس قتلول دي اود درواغو قسم خوړل دي . **توضیح** : په دې حدیث کي بعضي لوي لوي ګناهونه ذکر سوي اوشمیرل سوي دي ،دټولو څخه لویه ګناه داده چې دالله تعالی سره څوک شریک کړل سي اودویمه داچې دمور پلار څوک نافرماني وکړي یعني مور اوپلار ورته وایي چې لمونځ کوه اوهغه یې نه کوي اومور اوپلار ورته وایي چې دا وکړه اوهغه یې نه کوي ،البته که دچا مور پلار دا ورته ووایي چې ببره وخریه نودلته به دهغوی خبره نه مني ،د : لَا طَاعَةَ لِمَخْلُوقٍ فِي مَعْصِيَةِ الْخَالِقِ . په وجه ،غرض داکه په یو جائز کار کي څوک دمور اوپلار نافرماني کوي نودالویه ګناه ده اودریمه لویه ګناه په دې حدیث کي داده چې څوک

په قصد سره بغیر دځه شرعي وجي نه قتلوی . **پوښتنه** : ښکار کول څنګ دي په دې کي خو قصدا قتل هغه دی راځي ؟ **جواب** : دحلالو ځناورو ښکار جائز دی اوهغه دخوراک لپاره کولی سي اودادځه مقصد لاندي ښکار کول کیږي البته کوم ځناور چي حلال نه دی نو په هغه کي دضرر رسونکو حیوانانو قتل جائز دی . **پوښتنه** : دمیږي وژل څنګه دي ؟ **جواب** : بغیر دسخت ضرورت نه میږی وژل جائز نه دی . **سوال** : کوم میږی چي د پښو لاندي راسي دهغه حکم څنګه دی ؟ **جواب** : څومره احتیاط چي کیدی سي هغومره احتیاط کول پکار دي ،باقي الله تعالی پخپله د دوی حفاظت کوي ،د پښو لاندي ډیر کم میږیان مړه کیږي، اوځلور مه لویه ګناه په دې حدیث کي د درواغو قسم خوړل دي ،د درواغو قسم خوړلو په باره کي په احادیثو کي ډیرو عیدونه ذکر دی ، داډیره لویه ګناه ده ،قسم درې قسمه دي . (۱): یو یمین لغو کوم چي د تیري سوي زمانې په باره کي وي اوپه خپل خیال کي بنده ریښتونی وي ،ددې حکم دادی چي نه ورباندي ګناه سته اونه کفاره . (۲): یمین غموس چي داهم د تیري سوي زمانی په باره کي وي لیکن په خپل خیال کي بنده درواغجن وي ددې حکم دادی چي ګناه ده کفاره ورباندي نسته . (۳): دریم یمین منعقده دی چي په دې کي د را روانې زمانی په باره کي وعده وکړي ،ددې حکم دادی که قسم یې پوره نه کړو نو کفاره به ورکوي د قسم کفاره داده چي یا خو غلام آزاد کړي . یا لسو مسکینانو ته دوه وخته په مازه نس ډوډی ورکړي یا ورته جامي ورکړي یا یو مسکین ته لس ورځي تقریبا د دووسیرو غنمو یا داوړو قیمت وکړي او که داهم نسي کولی نو دیو قسم ماتولو لپاره دي درې روژې ونیسي او که ډیر قسمونه یې مات کړی وي نو په دغه حساب سره په هرڅه کوي .

پوښتنه : آیا غټ ګناهونه هم دادی کوم چي په دې حدیث کي دي که نوری هم سته که چیري سته نو ولي یې ذکر نه کړل ؟ **لومړی جواب** : کبیره ګناهونه خو ډیر زیات دي لیکن په کومه موقع باندي چي یې داحدیث بیان کړی دی نونبي کریم ﷺ په دغه موقع باندي هم دومره مناسب کنړلی دي . دویم جواب دادی چي دالوي ګناهونه دي چي دې ته :اکبرالکبائر. وایي . دریم جواب : دادی چي داځلور لوی ګناهونه معلومیږي ،مثلا شراب څښل ،غلام کول اوزنا کول وغیره داهم لوی ګناهونه دي .

لغوي اوصرفي تحقیق : الکبائر جمع د کبیرة ده اوکبیرات یې هم جمع راځي ، کبیرة د کبیر مؤنث دی په معنی دلوی ،د کبیر جمع کِبَارٌ اوکُبَرَآءُ راځي دا د نصر ،سمع اوکَرُمَ څخه دی ،ددې معنی ده د چا څخه لوي کیدل ، ددې دامصادر دي : کِبراًومَکبَراً و کُبراً وکَبَارَةً .ددې څخه دي (کَبُرَ کَبِیرَةً اوکَبَارَةً) په معنی دبوډاوالي اولویه ګناه اوددې څخه دی کبر په معنی د کفر اوشرک اوددې نه دی کُبر په معنی دډولکي جمع یې کِبَارٌ او اکبار دی . الاشراک دادباب افعال مصدر دی ، ددې مجرد دسمع دباب څخه راځي ، ددې مصادر دادی : شَرَکًا وشَرِکًا وشَرِکَةً . شِرَکَةً په معنی د شریکیدلو ددې څخه دی ،الشرک

په معنی دجال اود ام سره . ددې جمع شُرک اواَشراک راځي او ددې څخه دی . الشِّراک په معنی د بوټ د تسمې ددې جمع هم شرک راځي لیکن اشراک نه راځي ، ددې په ځای الشراک جمع اُشرک راځي و دلفظ الله تحقیق په بسم الله کې تیرسوی دی ، دحقوق معنی ده نافرماني ،عقوق دنصر نه هم راځي په دغه وخت کې به یې معنی شلول وي اوعقوق دسمع دباب څخه هم راځي په دې وخت کې به یې معنی چودل وي ،عقیقة هم ددې څخه دی په معنی دنوي پیدا سوي ماشوم ویښته ،دخوراک څښاک اینبودلو لوښی ، نهر هغه پسه یا وزه ده کومه چې د پیدائش په اوومه ورځ ویښتو خریلو په وخت حلاله کړي ،والدین تثنیه ده ، ددې مفرد والد دی په معنی دپلار ددې جمع والدون راځي هم ددې څخه والدة دی په معنی دمور جمع یې ولدات راځي اوهم ددې څخه دی وَلَدٌ وُلْد وِلْدٌ . په معنی دبچي مذکر اومونث اوتثنیه اوجمع ټولو ته شامل دی ، قتل داد نصر باب څخه مصدر دی په معنی د قتلول او وژلو سره ، اوتقتالا یې هم مصدر راځي اوهم ددې نه لفظ قتیل دی په معنی دمقتول مؤنث مذکر دواړو لپاره اود قَتیل جمع قتلی اوقُتَلاء اوقَتَالی .راځي اوهم ددې څخه القتل دی په معنی د دوست .دښمن،برابر، مثل اوهم ددې څخه القتل دی په د :نفس،قوت، دنفس تحقیق په وړاندې حدیث دنمبر (۲۵) کی تیرسوی دي . الیمین په معنی دقسم دی ددې جمع ایمن اوایمان راځي اوددې څخه یمنی هم دی راسته طرف یاراسته اندام ،غموس دادصفت مشبه صیغه ده اودادضرب یضرب دباب څخه استعمال سوی ده په معنی دغوټې وهلو ده ،الیمین الغموس د درواغو قسم ، دغموس جمع غمس راځي هم ددې څخه دی الغموس،مصیبت کې اچونکی معامله اوهم ددې نه دی لیل غمیس توره شپه اوهم ددې څخه دی غماسة ایلی جمع یې غماس راځي . **ترکیب** : (الکبائر) مبتداء ،(الاشراک) مصدر (با)جار (لفظ الله جل جلالہ) مجرور ، جار سره دمجرورنه متعلق په الاشراک پورې معطوف علیه ،(واو) عاطفه (عقوق الوالدَین) مضاف اومضاف الیه ،مضاف سره دمضاف الیه معطوف اول ،(واو) حرف عاطفه (قتل النفس) مضاف اومضاف الیه،مضاف سره دمضاف الیه نه معطوف ثانی (واو) عاطفه(الیمین) موصوف (الغموس) صفت ، موصوف سره دصفت نه معطوف ثالث .معطوف علیه سره دخپلو دروواړو معطوفینو خبر دمبتداء،مبتداء سره دخپل خبر نه جمله اسمیه خبریه سوه .

(۳۲) اَلبِرّ حُسْنُ الْخُلُقِ وَالاِثْمُ مَاحَاکَ فِیْ صَدْرِکَ وَکَرِهْتَ اَنْ یَّطَّلِعَ عَلَیْهِ النَّاسُ (مسلم)

(تخریج مشکوة صفحه ۴۳۱ س ۱۱ عن نواس بن سمعان رضی اللہ عنہ مرفوعا)

ژباړه : نیکي داخلاقو نښه کېدل دي اوګناه هغه ده کومه چې ستا په زړه کې راسي اوته یې ناخوښه ګڼړې چې خلک دي په دې باندې خبرسي. **توضیح**: ددې حدیث شان ورود دادی چې نواس بن سمعان رضی اللہ عنہ دنبي کریم صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم څخه دنیکی په باره کې پوښتنه وکړه چې نیکی څه شئ دی ؟نونبي صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم ورته

په جواب کي وفرمايل: چي نيکي د اخلاقو ښه کېدل دي يعني د رذيلو اخلاقو څخه زړه بالکل صفاوي او په اخلاق حميده باندي زړه ښه وي يعني ښه اخلاق په زړه کي وي او بد اخلاق د زړه څخه وباسي نو دا نيکي ده او ګناه هغه ده چي ستا په زړه کي شک او شبه پيدا سي او په زړه کي اطمينان پاته نه سي چي داځکه کار دی او دويم علامت د نيکي د پيژندلو دا دی چي ته نه خوښه وی چي خلک دي په دې خبره خبر سي او هغوی دا ووايي چي دی څه کوی، دا حديث د صوفياؤ او دلوئي درجې سالکينو لپاره دی چي په دې کي د زړه شک اولږشان تردد ته ګناه ويلی سوی ده. **صرفي او لغوي تحقيق**: دالبر تحقيق په حديث نمبر (۲۸) کي تيرسوی دی. حُسن په معنی د ښائست دی الحَسن دامصدر دی په معنی د مړوندسره د نژدې هلوکي، لوړه غونډی، الحسنة نيک کار، ښيګړه، نيکی هم د دې څخه دی او هم د دې نه دی دفعل تعجب د رې صيغې (ماأحسنه واحسن به وحسُن) او هم د دې څخه دی حُسنی: ښه کار. ښه انجام. دالله جَلَّ جَلَالُهٗ څخه ويره او په هغه باندي فکر سوچ. شهادة جمع يې حُسنات ده، دالخلق لغوي معنی طبيعت، عادت طبعي وخوی ده، د دې جمع اخلاق ده دا د نصر. سمع او کرم د باب څخه استعمال سوی ده، په معنی د پيدا کولو، اوهم د دې څخه دی الخلقة په معنی د فطرت او هيئت اوهم د دې څخه اَلخَلق په معنی د زړه وايي چي: ثوب خلق، دا د مؤنث مذکر دواړو لپاره استعماليږي او الخليق هم د دې څخه دی په معنی د مناسب اولائق، ويل سوی دي چي هُوَ خَلِيق به. چي هغه د دې لائق دی کامل اخلاقو والا دی. د (خليق جمع خُلُقٌ اوخلقاء) راځي دالاثم تحقيق په حديث نمبر (۷) کي تيرسوی دی. حَاک د نصر د باب څخه دی په معنی د شک کولو، حَوکا وحِياکَة وحِياکا. يې مصادر دی او هم د دې څخه دی مَحوکَةٌ په معنی د جنګ او جګړې سه او هم د دې څخه دی محاکة په معنی د پرېکولو سره محاوره ده، چي (ماأحاک) سَيفَهُ چي د هغه توري پرېکول ونکړه، د صدر لغوي معنی د هر هغه شئ مخامخ لوړه حصه سينه. د هر شئ ابتداء يعني شروع. د هر شئ تکړه، د نصر او ضرب د باب څخه استعمال سوی دی. د دې (صدرا اومصدرا) مصادر راځي، په معنی د واپس کېدلو هم د دې څخه صادر په معنی (د واپس کېدلو والا) دی د دې اطلاق اکثر د ګودرنه واپس کېدونکی باندي کيږي د دې په مقابله کي لفظ دی وارد (راتلوتکی اوبوته) هم د دې څخه دی، صدارةٌ د وزيراعظم عهده او هم د دې څخه دی (صَدرَةٌ او صَدرِيّةٌ) په معنی د واسکټ او هم د دې څخه المصدر دی په معنی د ځای راتلو جمع يې مصادر راځي، هم د دې څخه دی مُصَدّرٌ په معنی د پلني سينې والا. کَرِهَ د باب د سمع څخه دی چي د دې مصادر کَرْهًا وکُرْهًا وکَرَاهَةً وکَرَاهِيَةً ومَکرَهَةً ومَکرُهَةً) راځي په معنی د نه خوښولو، د کرم د باب څخه هم استعمال سوی دی په معنی د بد شکله، د دې څخه الکَرهُ والکُرهُ هم دی په معنی د انکار سره او د دې څخه دی الکره په معنی د قبيح اوهم د دې څخه دی (الکراهة) په معنی د سختي زمکي اوهم د دې څخه دی المکروه په معنی د ناخوښه شئ

،يطلع دادمضارع دواحد غائب صيغه ده دباب افعال څخه په معنی دپوهيدلو ، داپه مجردو کي دباب دنصر سمع اوفتح څخه استعمال سوی دی په معنی دراختلو اوښکاره کيدلو ، ددې مصدر (طُلُوعًا او مَطْلَعًا اومَطْلِعًا) راځي ددې څخه دی اَلطّلْعُ په معنی دمقدار او ددې څخه دی اَلطِلعُ په معنی دمار او ددې څخه دی اَلطالعُ په معنی دلومړی شپې میاشت او ددې څخه (اَلمَطلَعُ او اَلمَطْلِعُ) په معنی د مشرق ، پورې . دحفاظت ځای اود مطلع اومطلِعُ جمع مطالع راځي ،دالناس تحقيق په حديث (۲۲) کي تيرسوی دی .

ترکيب :البرمبتداء (حسن) مضاف (الخلق) مضاف اليه : مضاف ره دمضاف اليه نه خبردمبتداء ، مبتداء سره دخبرنه جمله اسميه خبريه معطوف عليه (واو) حرف عاطفه (الاثم) مبتداء (ما)موصوله (حاک)فعل ضمير دهوپه کي پروت دی هغه ددې فاعل دی (فی) جار(صدر) مضاف (ک) مضاف اليه ،مضاف سره دمضاف اليه نه مجرور دجار ، جارسره دمجرور نه متعلق په فعل پورې سره پل فاعل اوسره دمتعلق نه جمله فعليه خبريه مطعوف عليه (واو) حرف عاطف (کرهت) فعل ضمير په کي پروت دی هغه يې فاعل . (ان) ناصبه مصدريه ،يطلع فعل (عليه) جار مجرور ،جارسره دمجرورمتعلق په فعل پوري ، الناس يې فاعل ، فعل سره دفاعل نه اوسره دمفعول نه جمله فعليه خبريه معطوف ، معطوف عليه سره دخپل معطوف نه صله دما موصوله ، موصول سره دخپلي صلې نه خبر دمبتداء ، مبتداء سره دخبرنه جمله اسميه خبريه معطوف ، معطوف عليه سره دمعطوف نه جمله معطوفه سوه .

(۳۳) اَلْخَلْقُ عِيَالُ اللهِ فَاَحَبُّ الْخَلْقِ اِلَى اللهِ مَن اَحْسَنَ اِلَى عِيَالِهِ

(بيهقي، تخريج مشکوة صفحه ۴۲۵ س ۱۳ عن انس رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه :مخلوق دالله تعالی تعلق داران دي ،پس په مخلوق کي الله ته هغه سړی زيات محبوب دی کوم چي دهغه د تعلق دارانو سره ښه سلوک کوي . **توضيح** :مخلوق دالله جل جلاله خاندان دی نودالله تعالی په نزدبه هغه څوک زيات خوښ وي څوک چي دخلګو سره اود ټول مخلوق سره دښه نه ښه سلوک کوي ،يواځي دانسانانو سره ښه سلوک مراد نه دی بلکه د ټول مخلوق سره ښه سلوک کول مراد دی ،چي په هغه مخلوق کي انسانان د ټولو څخه وړاندي دي او درجه په درجه دهريو خيال ساتل ضروري دی ،په يو حديث کي دي چي په تاسو د ټولو څخه بهتر هغه څوک دی چي هغه دخپل کورنۍ دغړو سره ښه وي . **لغوي او صرفي تحقيق** :دالخلق تحقيق په وړاندي حديث کي تيرسوی دی ،عِيال عِيّل په وزن دجيد جمع ده اوداد ضرب يضرب دباب څخه دی اوددې مصدرونه دا راځي (عَيْلاً وعَيْلَةً وعُيُوْلا ومَعِيلاً) په معنی دمحتاج کيدلو ،ددې څخه (اَعَائِلُ) هم دی په معنی دکور دخلګو جمع يې عيائل راځي ددې (رَجُل مِعَيَّل) په معنی داهل اعيال والا هم راځي ،اَحَبُّ دضرب دباب څخه داسم تفضيل صيغه ده په معنی

دمحبت کولو ،داد نصر او کرم څخه هم مستعمل دی،هم ددې څخه دی (اَلْمُحِبَّةُ) یو خورښ شئ ته دطبیعت میلان ددې څخه اَلحبُ دی په معنی دعاشق د دوستي ، ددې جمع احباب اوحبّان اوحبیبة اوحُب اوحبوب دی ددې څخه دی الحبّ مصدر دی په معنی دمنګي یا چاتي ، ددې څخه دی الحب په معنی ددانې سره جمع یې حبوب راځي ، ددې څخه الحبة محبوب ،محبوبة ، دباقي الفاظو تحقیق تیر سوی دی . **ترکیب** : (الخلق) مبتداء (عیال الله) مضاف اومضاف الیه ، مضاف سره دمضاف الیه نه خبر دمبتداء، مبتداء سره دخبر نه جمله اسمیه خبریه سوه . (فا) تفریعیه (احب) صیغه داسم تفضیل مضاف (الخلق) مضاف الیه (الی الله) جار اومجرور، جار سره دمجرور نه متعلق په احب پوري ،احب سره دخپل مضاف الیه اوسره دمتعلق نه مبتداء . (من) موصوله (احسن) فعل هو فاعل (الی) جار (عیاله) مضاف اومضاف الیه ،مضاف سره دمضاف الیه نه مجرور دجار ، جار سره دمجرور متعلق په فعل پوري ،فعل سره دخپل فاعل اوسره دمتعلق نه جمله فعلیه خبریه صله دموصول ،موصول سره دصلې نه خبر دمبتداء ،مبتداء سره دخبر نه جمله اسمیه خبریه سوه .

(۳۴) اَلْمُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُوْنَ مِنْ لِّسَانِهٖ وَيَدِهٖ

تخریج مشکوة صفحه ۵۱ س ۲ عن ابی هریرة رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه : مسلمان هغه دی چې دهغه د ژبې اولاس څخه مسلمانان محفوظ وي .

توضیح : کوم سړی چې په ژبه یالاس سره چاته تکلیف ورکوي هغه کامل مسلمان نه دی ، کامل مسلمان به هغه وخت وي چې کله یو مسلمان لره په ژبه چیرې چاړ سره تنګ نه کړي اونه یې په لاس سره تنګ کړی ، ددې حدیث څخه دانه معلومیږي چې څوک په پښو سره تنګول وي هغه کامل مسلمان دی ځکه چې د پښې ذکر په کې بالکل نسته دا ځکه چې د ژبې اولاس ذکر کول د ډیر استعمال په وجه دی اومعنی دحدیث داده چې په هریواندام سره یو مسلمان تنګول داسلام د تهذیب څخه خلاف دی ،بیایې ژبه وراندې ذکر کړه ددې لومړي وجه داده چې په ژبې سره چیرې چاړ زیات کیږي اودویمه وجه داده چې د ژبې چیرې سره ډیر ژور زخم جوړیږي اولاس وغیره سره وهل سوی زخمي ځای جوړیږي لیکن د ژبې نه اوړېدلی سوی خبره په زړه کې ناسته وي هغه زخم زر نه ښه کیږي لکه چې شاعر ویلی دی .

جَرَاحَاتُ السِّنَانِ لَهَا الْتِيَامُ ..... وَلَا يَلْتَامُ مَاجَرَحَ اللِّسَانُ

د شعر ژباړه اومطلب دادی چې دنیزو زخمونه ښه کیږي لیکن کوم چې ژبې زخمي کړی دهغه ډکیدل نسته .

لغوي اوصرفي تحقیق : المسلم داد باب افعال څخه داسم فاعل صیغه ده . ددې جمع مسلمون راځي په معنی ددین اسلام اتباع کوونکی ، ددې مجرد دسمع دباب څخه استعمال سوی دی په معنی دخلاصون مونډلو سه دی ، ددې څخه اسلام دی په معنی دملاقات په وخت کې دعاء او ددې څخه دی الاسلام په معنی ددې چې دالله جل جلاله په وړاندې بغیر د دلیل څخه منل او ددې څخه دی السلم په معنی

دصلح کونکی ،وایي چي : اَنَا سِلْمٌ لِمَنْ سَالَمَنِیْ وَحَرْبٌ لِمَنْ حَارَبَنِی .چي زه صلح کوونکی یم دهغه چاسره چي هغه زما سره صلح کوي اوزه جنګ کونکی یم دهغه چاسره چي څوک ماسره جنګ کوي ،دلسان تحقیق په خطبه کي تیرسوی دی اود یَد تحقیق په حدیث (۱۴) کي تیرسوی دی. **ترکیب** : (المسلم) مبتداء (من) موصوله (سلم المسلون) فعل (من) جار (لسانه) مضاف اومضاف الیه ، مضاف سره دمضاف الیه نه معطوف علیه (واو) حرف عطف (یده) مضاف اومضاف الیه ،مضاف سره دمضاف الیه نه معطوف ، معطوف علیه سره دمعطوف نه مجرور دجار ،جار سره دمجرور نه متعلق په فعل پوري ،فعل سره دفاعل نه اوسره دمتعلق نه جمله فعلیه خبریه صله دموصول ،موصول سره دصلې نه خبر دمبتداء ،مبتداء سره دخبر نه جمله اسمیه خبریه.

(۳۵) وَالْمُؤْمِنِ مَنْ اَمِنَهُ النَّاسُ عَلٰی دِمَائِهِم وَاَمْوَالِهِمْ

(تخریج مشکوة صفحه ۱۵ س ۳ عن ابی هریرة رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه :مومن هغه دِی چي دهغه نه خلک محفوظ وي په خپلو وینو باندي اوپه خپلو مالونو باندي .

توضیح : کامل مؤمن هغه څوک دی چي دهغه څخه خلک تنګ نه وي دخلکو بدنونه اوعزت اودهغوی مال محفوظ وي ،دا حدیث یوه حصه ده دایو وړد حدیث دی کوم چي د : اَلْمُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ الخ څخه شروع کیږي اوپه : وَالْمُهَاجِرُ مَنْ هَجَرَ الْخَطَایَا وَالذُّنُوْب .باندي ختمیږي ، ددې پسې دوې ټکړی نورې هم دی یوه : اَلْمُجَاهِدُ مَنْ جَاهَدَ فِیْ سَبِیْلِ اللهِ . اوبله یې اَلْمُهَاجِرُ . ده. **لغوي اوصرفي تحقیق** : دَ اَمَنَ ماده په حدیث نمبر (۳) کي اود الناس په حدیث نمبر (۲۲) کي تحقیق تیرسوی دی ،دماء جمع دمٌ ده ، دمٌ په اصل کي دَمَیٌ ؤ اودبعضو په نزد دَمَوٌ ؤ (ل) کلمه حذف کړل سوه اوکله دا په میم سره بدل کړل سوه په شد سره یې وایي دمّ ددې تثنیه دمان اودمیان او دموان استعمالیږي اود دمٌ تصغیر دُمَیٌ دی اودنسبت لپاره اَلدَمِیٌ او الدَّمَوِیٌ ویل کیږي ،اموال جمع دمال ده په معنی د دولت ده دادنصر دباب څخه استعمال سوی ده ، مصدر یې :مَولاً او مُولا ږدی په معنی دډیر زیات مالدار کیدل دي ددې څخه اَلْمَالِیَّةٌ. په معنی دشاهي خزانې دولت ، (اَلْمُولَةٌ) جولاګی ددې جمع اَلمولُ راځي .**ترکیب** : (واو) حرف عاطفه (المؤمن) مبتداء . (من) موصوله (امن) فعل (ه) مفعول به (الناس) فاعل (علی) جار (دمائهم) مضاف اومضاف الیه ،مضاف سره دمضاف الیه نه معطوف علیه (واو) عاطفه (اموالهم) مضاف اومضاف الیه ، مضاف سره دمضاف الیه نه معطوف ، معطوف علیه سره دمعطوف نه مجرور دجار جار سره دمجرور نه متعلق په فعل پوري ،فعل سره دفاعل نه اوسره دمتعلق نه صله دموصول ،موصول سره دصلې نه خبر دمبتداء ،مبتداء سره دخبر نه جمله اسمیه خبریه سوه .

(۳۶) وَالْمُجَاهِدُ مَنْ جَاهَدَ نَفْسَهُ فِیْ طَاعَةِ اللهِ :تخریج مشکوة صفحه ۱۵ س ۴ عن فضالة رضی الله عنه مرفوعا

ژباړه : اومجاهد هغه څوک دی کوم چې دالله تعالی په اطاعت کې دخپل نفس سره جهاد وکړي. **توضیح** :حقیقي اواصلي مجاهد هغه سړی دی کوم چې دالله تعالی په اطاعت کې دخپل نفس سره جهاد وکړي یعني دنفس هرخواهش ونه منې ځکه چې دنفس اکثرخواهشات بد وي که چیرې دالله ﷻ په اطاعت پاتې کیږي نوبالکل دي دنفس خبره نه منې ځکه چې دانسان دښمنان دوه دي یونفس اودویم شیطان ،کله یې شیطان دهوکه کوي اوکله یې نفس ، دې دواړو سره دومره جهاد کول چې دګناهونو څخه بچ سي دافرض عین دی ، ټول خلګ مجاهدین دی خو څوک ددنیا په سامان ګټلوکې مجاهد دی څوک ددفتر ډیوټي ورکوي دنفس مخالفت کوي اوڅوک دوکانداري کوي ، نفس سره جهاد کوي اوڅوک څوکیداري کوي اودنفس مخالفت هم کوي ،خوافسوس چې داهرڅه دخیټې لپاره اودښځې او اولاد لپاره کول کیږي ،داجهاد نفس سره جهاد کولو سره بدلول پکار دي اودالله تعالی په اطاعت کې مضبوط ټینګ پکار دي ،چې دنفس ددهوکې څخه خلاص پاتې سي.

لغوي او صرفي تحقیق : (المجاهد) دباب مفاعل څخه داسم فاعل واحد مذکر صیغه ده په معنی دجهاد کولو والا ،دباب مفاعل یو اصل خاصیت دادی چې د دواړو طرفونو څخه وي یعني دمجاهد معنی داده چې دې به دهغه سره جنګیږي اومخالفت به یې کوي اوهغه به دده سره جنګیږي اومخالفت به ورسره کوي ،دلته جهاد دنفس سره دی ،نفس یوڅه وایي اومجاهد بل څه وایي ،ددې مجرد زیات تر دفتح دباب څخه راځي ، په معنی دډیر کوشش کولو سره ، ددې څخه (اَلْجُهْدُ وَالْجَهْدُ وَالْمَجْهُود) دی په معنی دطاقت اواستطاعت دی او ددې څخه (اَلْجِهَادُ) هم دی په معنی ددین دحفاظت دخاطر نه اود اعلاء کلمة الله لپاره جنګ کول او ددې الجهاد په معنی هغه سختي زمکي چې څه نه شنه کوي . الجهید په معنی دښه وانبو والاځای (طاعة) دادنصر دباب څخه استعمال سوی دی په معنی داطاعت کولو اوفرانبردار کېدلو ، ددې څخه دی (المتَطَوِّع او المطوِّع) په معنی دواجباتو اوفرائضو څخه علاوه نورنیک عملونه په طوردنفلو اداکونکی . **ترکیب**: (واو)مستانفه(المجاهد) مبتداء (من) موصوله(جاهد) فعل دی په دې کې دهوضمیر پروت دی هغه یې فاعل دی (نفسه) مضاف اومضاف الیه دی ،مضاف سره دمضاف الیه نه مجرور دجار،جار سره دمجرور نه متعلق په فعل پورې ،فعل سره دفاعل اوسره دمفعول به نه اوسره دمتعلق نه جمله فعلیه خبریه صله دمن موصوله ، موصول سره دصلې نه خبر دمبتداء ، مبتداء سره دخبر نه جمله اسمیه خبریه سوه.

(۳۷)وَالْمُهَاجِرُ مَنْ هَجَرَ الْخَطَايَا وَالذُّنُوْب (تخریج مشکوة صفحه ۱۵ س ۵ عن فضالة رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه : اومهاجر هغه سړی دی چاچې ټولې غلطیاني اوګناهونه پریښودل . **توضیح** : حقیقي مهاجر هغه څوک دی چې هغه ټول ګناهونه په مکمله طور باندې پریږدي ،بیاخدای مکړه که وسي نوفورا دزړه دکومي توبه باسي ،دهجرت قسمونه په حدیث (۱) کې تیرسوی دی ،یو هجرت دیوځای څخه بل ځای

ته کیږي اوبل هجرت د ګناهونو څخه نیکی. طرف ته کیږي اوهم دلته دغه مراد دی اودا اصل هجرت دی ځکه چې دیوځای څخه بل ځای ته هجرت چې څوک کوي بنده خوهغه دې لپاره کوي چې هلته دی اطاعت نسي کولی اوکوم ځای چې سړی اوسیږي اواطاعت نسي کولی ،دهغه ځای نه هجرت فرض وي بهرحال اصل هجرت د ګناهونو پرېښودل دي په دې وجه هریوه ګناه پرېښودلو سره دهجرت ثواب هم اخیستل پکار دی . **لغوي اوصرفي تحقیق** : دهجرت تحقیق په حدیث نمبر (۱) کي اود ذنوب تحقیق په حدیث نمبر (۲۴) کي تیر سوی دی ،الخطایا جمع ده خطیئة یې مفرد دی اود خَطِیئَةٌ جمع خطیئات هم راځي دا د سمع دباڅخه استعمال سوی دی ،په معنی دغلطی. کولو سره ، الخط والخطایا هم ددې جملې څخه دی په معنی د ګناه سره ،دبعضو په نزد بغیر دارادې نه ګناه کولو ته خطاء ویل کیږي ،دامادہ دفتح دباب څخه هم راځي . **ترکیب** : (واو) مستانفه (المهاجر) مبتداء (من) موصوله (هجر) فعل ضمیر دهوپه کي پروت دی هغه یې فاعل دی ،(الخطایا) معطوف علیه (واو) عاطفه (الذنوب) معطوف ، معطوف علیه سره دمعطوف نه مفعول به ، فعل سره دفاعل اوسره دمفعول به نه جمله فعلیه خبریه صله دموصول ، موصول صره دصلې نه خبر دمبتداء ، مبتداء سره دخبر نه جمله اسمیه خبریه سوه .

(۳۸) اَلْبَیِّنَةُ عَلَی الْمُدَّعِی وَالْیَمِیْنُ عَلَی الْمُدَّعٰی عَلَیْهِ .

ترمذی ، تخریج مشکوة صفحه ۳۲۷ س ۱۸ عن عمرو بن شعیب عن ابیه عن جده رضی الله عنه مرفوعا .

ژباړه : شاهدان په دعوه کونکی باندې ده او قسم په هغه چاباندې دی په چاچې دعوه سوی وي .

توضیح : په دې حدیث کي دفقهي ډیرلوی اصل بیان کړل سوی دی هغه داچې دعوی کونکی باندې لازم دی چې هغه ګواهان پیش کړي ،نوهله به دهغه شئ شمارل کیږي اودعوی به یې منل کیږي کنی نو نه به شمارل کیږي مثلا زید وایي چې دا سائیکل زما دی اوخالد وایي چې دازما دی دده نه دی ، نواوس به زید دوه شاهدان راولی که چیري زید شاهدان راوستل نو شرعا به داسائیکل دزید وي اوکه چیري ګواهان یې نه راوستل نودخالد څخه به قاضي قسم اخلی که چیري خالد قسم واخیستی اووی ویل : چې داسائیکل زید نه دی نوبیا به قاضي دخالد په حق کي فیصله کوي ،اصول همدا دي چې څوک انکار کوي لکه په دې (مثال کي خالد) هغه به وروسته قسم خوري ،په یوروایت کي داسي هم دي چې : اَلْبَیِّنَةُ عَلَی الْمُدَّعِی وَالْیَمِیْنَ عَلٰی مَنْ اَنْکَرَ . په دې حدیث کي دویم سړي ته منکر وایي اوپه پورتني حدیث په وجه سره ورته مدعی علیه وایي . **پوښتنه** : داڅنګه معلومه سوه چې مدعي څوک دی اومدعی علیه څوک دی ؟مدعی هم دا وایي چې داشئ زما دی اومدعی علیه هم داوایي چې دا دده نه دی زما دی ،نو تعین به څنګه کیږي ؟ **لومړی جواب** : شئ چې دچا په قبضه کي وي هغه مدعی علیه دی اومنکر دی دده خلاف دویم ته مدعی ویل کیږي . **دویم جواب** : مدعی هغه دی چې هغه په جګړه کي نسي

مجبورولی، که چیري هغه معامله پریږدي نوختمه به سي اومدعي علیه هغه دی چي که هغه معامله پریږدي نوپه هغه باندي به زور کول کیږي. **لغوي اوصرفي تحقیق** : البینة په معنی د شهادت، دلیل اوحجت، دادباب ضخه دضرب دی (بان یبین بینا) په معنی د ښکار کېدل جدا کېدل، ددې څخه تباین په معنی د تضاد، فرق اوانشار دی ددې څخه البیان په معنی د ډرپوټ یعني جمع یې بیانات راځي، مدعی په معنی ددعوه کونکی، مدعی په معنی دهغه چادی چي په چا دعوی سوی وي (ملزم) ددې څخه دی دعوی په معنی دمقدمې دادباب دنصر څخه استعمال سوی دی، ددې تحقیق حدیث نمبر (۴) کی تیرسوی دی اودیمین تحقیق په حدیث نمبر (۳۱) کي تیرسوی دی. ترکیب : (البینة) مبتداء (علی) جار (لمدعی) مجرور، جار سره دمجرور نه متعلق په ثابت پوري، ثابت اسم فاعل ضمیر دهی په کي پروت دی هغه یې فاعل، اسم فاعل سره دخپل فاعل نه اوسره دمتلعق نه خبر دمبتداء، مبتداء سره دخبر نه جمله اسمیه خبریه معطوف علیه. (واو) عاطفه (الیمین) مبتداء (علی) جار (المدعی) اسم مفعول، په دې کي ضمیر دهو پروت دی هغه یې نائب فاعل (علیه) جار اومجرور، جار سره دمجرور نه متعلق په اسم مفعول پوري، اسم مفعول سره دخپل نائب فاعل نه اوسره دمتعلق نه مجرور دجار، جار سره دمجرور نه متعلق په ثابت پوري، ثابت اسم فاعل ضمیر دهی په کي پروت هغه یې فاعل اسم فاعل سره دخپل فاعل اوسره دمتعلق نه شبه جمله خبر دمبتداء. مبتداء سره دخبر نه جمله اسمیه خبریه معطوف معطوف علیه سره دخپل معطوف نه جمله معطوفه سوه.

(۳۹) اَلْمُؤْمِنُ مِرْآةُ الْمُؤْمِنِ : تخریج مشکوة صفحه ۴۲۴ س ۱۱ عن ابی هریرة رضی الله عنه مرفوعا

ژباړه : مسلمان دمسلمان آئینه ده. **توضیح** : ددې حدیث ډیر مطلبونه دي (۱) : مطلب (کوم چي په یوبل حدیث کي ذکر دی) دادی چي په تاسو کي یومسلمان دمسلمان لپاره شیشه ده، که چیري یومسلمان په عیب کي وویني نوتاسولره پکار دئ چي دهغه نه دهغه عیب لري کړی، یومسلمان بل مسلمان ته ګوري نوکله چی دهغه عیب وویني نوخومره چي کېدی سي دهغه لري کول پکار دي لکه څنګه چي په شیشه کي دننه انسان خپل شکل ویني نوناخوښه شئ دخپل مخ څخه لیري کوي نوهم دغه شان دبل لپاره هم شیشه جوړبدل پکار دي. (۲) : مطلب دادی چي انسان لره دومره نیک جوړبدل پکار دي چي بل سړی ده ته وګوري پخپله نیک جوړسي لکه څنګه چي شیشې ته په کتلو سره انسان خپل ځان صحیح کوي اوشیشه خاموشه وي اوپخپله صحیح وي دغه شان هرانسان لره پکار دي چي بغیر دڅه شهرت کولو څخه خپل ځان داسي صحیح کړي چي نور خلګ پخپله دده په لیدلو سره صحیح سي. **لغوي اوصرفي تحقیق** : مرآة مفرد دی ددې جمع مَرَاٰیا اومَراء راځي په معنی دآئینې سره، ددې څخه المَرْءدی په معنی دسړي، ددې جمع رجال راځي (مِنْ غَیْرِ لفظه) لکه د (اِمْرَأة) جمع چي (مِن غیرلفظه) نِساءٌ راځي. **ترکیب** : (المؤمن) مبتداء (مرآة المؤمن) مضاف اومضاف الیه، مضاف سره دمضاف الیه نه خبر دمبتداء، مبتداء سره دخبر نه جمله اسمیه خبریه سوه.

(۴۰) وَالْمُؤْمِنُ اَخُو الْمُؤْمِنِ يَكُفُّ عَنهُ ضَيعَتَه وَيَحُوط مِن وَرَائِه

(تخريج مشكوة صفحه ۴۲۴ س ۱۱ عن فضالة رضي الله عنه مرفوعا)

ژباړه : مسلمان دمسلمان ورور دی منع کوي دهغه نقصان اوحفاظت کوي دهغه شاته.

توضيح : داحديث اوړاندي ذکر سوی حديث دواړه يو دي يعني په يو موقع کي نبي کريم ﷺ ارشاد فرمايلی دی ددې حديث دعبارت مطلب دادی چې مسلمان دمسلمان لپاره ورور دی هغه به دخپل وسه پوري دنقصان څخه بچ کوي اوجائداد به يې بچ ساتي اوکله چې هغه نه وي دهغه په غير موجودګی کي دهغه حفاظت کوي ،دهغه دښځي اودبچو ياد نورو شيانو حفاظت به کوي همدادی دمؤمن شان ، داسي نه چې هروخت خپل فکر وي اودبل چاخيال ورسره نه وي ،دنورو خيال ساتل اوهغوی ته ترجيح ورکول همدا ورورولي اوقرباني ده. **لغوي اوصرفي تحقيق** : اخو په معنی دورور ،دوست ،ملګری، دغه شان د(الاخ) د(اَلاَخُ او اَلاَخُو) هم دغه معانی دی ، ددې تثنيه اخوان ده ، اوجمعي يې دادي (اِخْوَةٌ و اُخُوَةٌ واِخْوَانٌ واُخْوَانٌ واَخُونٌ واَخَاءٌ) بعضو په اخوان اوباقي نورو جمعو کي دافرق کړی دی چې (اَلاِخْوَانُ دهغه اَخٌ جمع ده کوم چې دنسبي ورور معنی ورکوي ، ددې څخه دې اَلاُخْتٌ په معنی دخور ، جمع يې اَخَوَاتٌ راځي ، اوداد نصر دباب څخه استعمال سوی دی په معنی د ورور يادوست جوړيدل (يَكُفُّ) دادنصر دباب څخه دمضارع واحد غائب صيغه ده کفا او کفافة يې مصدر دی ،په معنی دلاس اود کفس سره جمع يې اکُفٌّ او کفوفٌ او کُفٌّ راځي ، هم ددې څخه دی الکفة په معنی د غونډی شئ،منګی چې داوبو څخه ډک وي او ددې څخه دی الکفة په معنی دڅه شئ غاړه اوجائی (طرف) سره ، ددې څخه دی (مَاكَافَّهُ) کوم چې دعمل نه بندونکی وی ، صيغه دضرب دادضرب نه مصدر دی،ددې نورمصدرونه هم راځي (ضِيعًا اوضَيعًا او ضِيَاعَةً)په معنی دخرابيدلواوتباه کيدلواودبيکاره کيدلو سره (الضَيعَةُ) په معنی د جائيداد سره هم راځي اودپيشي هم راځي ،يَحُوط دادنصر دباب څخه دمضارع واحدمذکر غائب صيغه ده حَوْطًا اوحِيطَةً اوحِيَاطَةً يې مصدرراځي ،په معنی دحفاظت کولو سره ددې څخه دی (اَلحَائِطُ) په معنی د ديوال ،باغ د(حَائِط جمع حِيطَانٌ اوحِيَاطٌ) دی اوددې څخه دی اَلمُحِيطُ يعني دډائری احاطه کونکی ،وراء په معنی د ورور،وړاندي ،نوسي ،داد فتح دباب څخه استعمال سوی دی ددې معنی ده لري کول .**ترکيب** :(واو) عاطفه (اَلمُؤمن) مبتداء (اخوالمؤمن) مضاف اومضاف اليه ، مضاف سره د مضاف اليه خبر اول(يكف) فعل په دې کي ضمير دهودی هغه يې فاعل (عنه) جار او مجرور،جار سره دمجرور نه متعلق په فعل پوري .(ضيعته) مضاف اومضاف اليه ،مضاف سره دمضاف اليه نه مفعول به ،فعل سره دخپل فاعل اومفعول به نه اوسره دمتعلق نه جمله فعليه خبريه مطعوف عليه ،(واو) عاطفه(يحوط)فعل هوضمير يې فاعل (من) جار (ورائه) مضاف اومضاف اليه ،مضاف سره دخپل مضاف نه مجرور دجار، جار سره دمجرور نه متعلق په فعل پوري ،فعل سره دفاعل اوسره دمتعلق نه معطوف ،معطوف عليه سره د معطوف نه خبر ثاني دمبتداء ، مبتداء سره د دواړو خبرونو څخه جمله اسميه خبريه سوه.

(۴۱) اَلْمُؤْمِنُوْنَ كَرَجُلٍ وَاحِدٍ اِنِ اشْتَكٰى عَيْنُهُ اِشْتَكٰى كُلُّهُ وَاِنِ اشْتَكٰى رَأْسُهُ اِشْتَكٰى كُلُّهُ

مسلم، تخریج مشکوة صفحه ۴۲۲ س ۵ عن نعمان بن بشیر رضی الله عنه مرفوعا.

ژباړه: مسلمانان دیوسړي په شان دي که دده سترګه خوږ سي نو ټول بدن يې خوږيږي او که دده سر ناروغه سي نو ټول بدن يې ناروغه وي. **توضیح**: مسلمانان دیوسړي داندامونو په شان دي داخو جمله خبریه ده خو په معنی د جملې انشائې ده او مطلب دادی چې شئ تادیوسړي داندامونو په شان چې کله دیوسړي دسترګي شکایت کوي یعني خوږسي نو دهغه ټول بدن ته تکلیف وي او اثر ورته رسیږي او که چیرې دانسان په سر کې تکلیف وي نو هم په ټول بدن باندې اثر وي اوبنده آرام غواړي نو همدغه شان که یو مسلمان ورور ته تکلیف وي نو په ټولو باندې دهغه اثر کېدل پکار دي یعني فکر يې کول پکار دي دلته تشبیه په همدردۍ کې ده چې هر یو سره د همدردۍ سلوک کول پکار دي. **لغوي او صرفي تحقیق**: رجل په معنی د بالغ سړي، د دې په عربي کې معاني ټيرې سوی دي یعني: مذكر من بني آدم جاوز من احد الصغر الى حد الكبر. دا د باب د سمع څخه راځي په معنی د پیدل تللو سره او د نصر څخه هم راځي په معنی د پښې باندې وهلو سره، د سمع باب څخه د دې مصدر رَجلاً راځي او باب د نصر څخه د دې مصدر رجلاً راځي د دې څخه الرِّجلُ په معني د پښې سره جمع يې اَرجُل راځي، دالَجُل نوري معناګاني هم سته دی مثلا: پرتوګ. سپین ساده کاغذ. دسړي اودس ماتی. د پیریدلې کېدونکی سړی. لکه رجل چې په معنی د پښې د هغه جمع (اَرجُلٌ) ده او که نوري معناګاني يې واخیستل سي نو بیا د دې جمع (الرِّجَالُ) د دې څخه مراد بالغ سړی دی، د دې د پیرې جمعې راځي (اَراجِلٌ و رَجَلات و رِجلةٌ و رَجَلَةٌ) د دې څخه دی مرجَل په معنی د دیګچې. ګومنځ د دې جمع مَراجِلُ ده واحد په دیوسره، دا د باب د ضرب څخه استعمال دی، د دې مصادر دا راځي: وَحْداً و وُحوداً و وَحْدَةً و واحِدَةً و وَحَادَةً. په معنی د یو کیدلو، د دې څخه دی تَوحید. په معنی د یو جوړولو سره، د دې څخه دی (اَلْاَحد) په معنی د یو، بې نظیر او بې مثله. **نکته**: لفظ احد صرف په دوو موقعو کې د واحد په شان معنی ورکوي (۱): دالله جل جلاله په صفت کې وایي: (۲): اَحَدٌ وَعشرُون وَواحِدٌ وَعِشرُونَ. لفظ احد په اصل کې خو د مذکر لپاره دی لیکن کله کله د مؤنث لپاره هم راځي لکه په قرآن کریم کې چې دی: . نو په داسې موقع باندې د شئ معنی ورکوي، د احد تانیث احدی دی د دې څخه: يَومُ الْاَحَد. ده (دیکشنبې ورځ) جمع يې آحاد ده. **د احد او واحد خاص فرق**: دلفظي په معنی سره د دواړو ترجمه په یو سره کول کیږي لیکن د فرق کولو لپاره د لفظ احد په معنی کې دا هم شامل دی چې هغه د ترکیب او تجزیې څخه او د تعداد او دځه شئ سره مشابهت او مشاکلت څخه پاک وي یعني هغه دیو یا ډیرو مادونه څخه وي جوړ سوی اونه په هغه کې د تعداد امکان وي اونه دځه شئ مشابه وي، الله جل جلاله واحد هم دی او احد هم دی په دې کې دهغه خلکو جواب

کیږي کوم چې الله جل جلاله په باره کې پوښتنه کوي چې هغه د سرو سپینو څخه جوړ دی یا د څه جوهر څخه جوړ دی په لفظ احد کې ددې جواب وسو .د(اشتکی) معنی ده ناروغه کېدل د اډباب د نصر ینصر څخه استعمال سوی دی: شَکَی یَشْکُوْ ،شَکْوٰی وشَکْوًا وشِکَایَةً وشَکَاوَةً وشَکِیَّةً . په معنی د شکایت کولو . عینٌ داد ضرب دباب څخه مصدر دی ددې ډیرې معناګانې دي ځینې معناګاني یې دادی : ښار والا . د کور والا .بدنظر کول . جاسوس . جماعت . بیرغ . داوبو چینه . لمر .هرموجوده شئ . ښه شئ . ددې څخه العینة دی په معنی د ښه مال . ددې څخه د ی العین په معنی د شنې غوا ، عین مونث دی اوددې جمعې داډول راځي : اَعْیُنٌ .عیون ،عِیون اواَعْیَانٌ) اوجمع الجمع یې اَعینات ده . **نکته** : عَیون د عین په فتحې سره داپه ظاهره د عینٌ جمع معلومیږي حالانکه دا څه شئ جمع ده بلکه عیون پخپله مفرد دی په معنی د بدنظر سره ددې جمع عَینٌ اوعُیُنٌ راځي .د کُلٌ دا معناګاني دي . (۱): ټول . (۲): هریو . داداسې اسم دی چې ډیرو افرادو لره ګیرولو لپاره یا دواحد اجزاء عام کولو لپاره مقرر سوی دی ، د کُل لفظ مفرد اومذکر لپاره استعمالیږي دادضرب دباب څخه استعمال سوی دی : کَلَّ یَکِلُّ . کَلًّا . وکُلُوْلًا وکَلَالَةً وکُلُوْلَةً وکَلَالًا . په معنی دستړي والي ددې څخه دی کلاله په معنی دستړي والي او په معنی دهغه څوک چې دهغه پلار او اولاد نه وي اودهغه سړي چې دهغه نسبي رشته دار نه وي ، هم ددې څخه دی کُلِیَاتٌ په معنی دهغه مفهوم کوم چې به ډیرو افرادو باندې صادق وي ، رَاس . دازیات تر کرم اوضرب دباب څخه استعمال دی اودفتح څخه هم استعمالیږي په معنی دسردار کېدلو ،رأسا اورَأسَةً یې مصدر راځي اَلرَّأسٌ په معنی دسر جمع یې رُؤُسَاء راځي . **ترکیب** : (المؤمنون) مبتداء (ک) جار (رجل) موصوف (واحد) یې صفت ، موصوف سه د صفت نه مجرور د جار ،جار سره د مجرور نه متعلق په ثابتون پورې ،ثابتون اسم فاعل هم ضمیر په کې پروت دی هغه یې فاعل ، اسم فاعل سره د خپل فاعل نه اوسره د متعلق نه خبر د مبتداء، مبتداء سره د خپل خبر نه جمله اسمیه خبریه مبین . (ان) حرف شرط (اشتکی) فعل (عینه) مضاف اومضاف الیه ،مضاف سره د مضاف الیه نه فاعل ، فعل سره د فاعل شرط (اشتکی) فعل (کله) مضاف اومضاف الیه ، مضاف سره د مضاف الیه نه جزاء ،شرط سره د خپلې جزاء نه جمله شرطیه جزائیه معطوف علیه .(واو) عاطفه (ان) حرف شرط (اشتکی) فعل (رأسه) مضاف اومضاف الیه ،مضاف سره د مضاف الیه نه فاعل ، فعل سره د فاعل شرط . (اشتکی) فعل (کله) مضاف اومضاف الیه ،مضاف اوسره د مضاف الیه نه فاعل ، فعل سره د فاعل نه جزاء ،شرط سره د خپلې جزاء نه جمله شرطیه معطوف . معطوف علیه سره د خپل معطوف نه جمله معطوفه بیان د مبَیّن ،مبَین سره د خپل بیان یا مبین نه جمله بیانیه سوه .

(۴۲) اَلسَّفَرُ قِطْعَةٌ مِّنَ الْعَذَابِ يَمْنَعُ اَحَدَكُمْ نَوْمَه وَطَعَامَه وَشَرَابَه فَاِذَا قَضٰى اَحَدُكُمْ نَهْمَتَه مِن وَجْهِه فَلْيُعَجِّلْ اِلٰى اَهْلِه. (بخاري ومسلم، تخريج مشكوة صفحه ۳۳۸ س ۲۷ عن ابی هريرة رضي الله عنه مرفوعا)

ژباړه: سفر دعذاب یوه ټکړه ده منع کوي په تاسو کي هریو دخپل خوب څخه اودخپل خوراک څخه اودخپل څښاک څخه، پس کله چې پوره کړي په تاسو کي هریو خپل حاجت د هغی د موقعې نه نو هغه لره پکار دي چې ییرته سمدستي خپل کور ته واپس راسي.

توضیح: د (قطعة من العذاب) مطلب دادی چې سفر یو د تکلیف شئ دی ځکه چې په سفر کي خوب نه پوره کیږي اوپه خوراک او څښاک کي هم خلل راځي لهذا سفر کول نه دی پکار البته که ضرورت وي نو بیا تکلیف نه برداشت کول پکار دي او کله چې ضرورت ختم سي یا د کوم کار لپاره یې چې سفر کړی ؤ دهغه کار څخه د فارغ سي نو کور ته په راتلو کي وخت تیرول پکار نه دي ځکه چې د کور هم حقوق وي اوپه خپله د مسافر هم خپل معمولات وي. **پوښتنه**: دسفر ممانعت د تکلیف په وجه دی اونن صبا په سفر کي تکلیف نه وي لهذا نن صبا ممانعت نه دي پکار، بیاولي ممانعت دی؟ **اول جواب**: دسفر څخه ممانع د تکلیف په وجه دی اوهغه تکلیف چې څنګه په وړاندي زمانه کي ؤ اوس هم موجود دی چې په خوب اوخوراک اوڅښاک کي خلل راځي البته په سفر کولو کي به مخکي زمانه کي زیات تکلیف ؤ اوس لږ کم تکلیف وی نو اصل شئ اوعلت دادی چې په خوراک څښاک اوپریوتلو پورته کیدلو تکلیف هغه شان وي لکه څنګه چې په مخکي زمانه کي ؤ. دسفر کولو دنن صبا سهولتونه په هغه زمانه کي نشکاره نه ؤ لیکن پټ ؤ ځکه چې په قرآن مجید کي دي: اوالله تعالی به پیدا کوي داسي داسي سورلی چې اوس تاسو هغه نه پیژنې نو دا آیت کریمه په نبي کریم ﷺ باندي نازل سو نو دهغه وخت نه هغه ټ، لي سورلئ په دې کي داخل دي کوم چې هغه وخت کي نه وي. **دویم جواب**: حکم دا کثرو خلګو په اعتبار سره دی، اکثرو خلګو ته سهولیات نه ملاویږي. **دریم جواب**: دادی چې موږ داخبره منو چې نن صبا په سفر کي سهلتونه سته لیکن خومره چې په کورونو کي سهولتونه وي دهغه په اعتبار سره نن صبا هم سفر دعذاب یو ټکړه ده. **فائده**: دسفر کولو څخه لومړی انسا لره دوه شیان غورځول پکار دي اول غصه چې په ټول سفر کي ده ته نږدی هم رانسي اوکه داسي نه وي نو دسفر مزه به یې خرابه سي لکه څرنګه چې مشاهده ده، دویم آرام غوښتل مثلا په سفر کي داویل چې خوراک ښه ملاویدل پکار دي، سیټ دانه هغه پکار دي، دضرورت هریوشئ سمدستي حاصلیدل پکار دي، آرام طلبي په سف کي هیڅکله نه ده پکار. نو بیا به سفر مزی سره تیر سي اوکه داسي نه وي نو بیا به مزه نه وي لکه څنګه چې مشاهده ده دې تائید مرسته کوي. **لغوي اوصرفي تحقیق**: السفر په معنی د (۱) مزل پوره کولو (۲): دلمر پرېوتلو څخه وروسته وخت، ددې جمع اسفار ده اودنصر اوضرب څخه استعمال سوی دی، مصدر یې (سَفَرًا اوسَفَارَةً

وسفُور) دی په معنی دسفر لپاره وتل ، ددې څخه اَلسِّفْرُ دی چې په معنی دلوی کتاب جمع یې اسفار راځي ، ددې څخه السَّفْرُ ده په معنی دداغ چې دانسان په بدن باندې وي جمع یې سُفُور ده ددې څخه دی سفیر په معنی د دوو قومونو کی صلح کونکی ،قطعة په معنی دټکړې دادفتح دباب څخه استعمال سوی دی په معنی دپرېکولو ، ددې څخه دی (اَلقِطعُ) په معنی دهغه چاچې آواز یې منقطع سي او ددې څخه دی (اَلقُطَع) خپلولي پرېکونکی . ددې څخه دی القطعُ د درختي پرېکړل سوی حصه ، او ددې څخه دی (اَلقُطع) د خیتي درد اوپیچش او ددې څخه دی (القَاطِعُ) بندولو والا (سیفٌ قاطع) تیره توره . قاطع الطریق غل،ډاکو جمع قُطَّعٌ اوقُطَّاعٌ راځي. العذاب (۱):هرهغه شي چې هغه دانسان لپاره سبب دتکلیف وي(۲) : تکلیف.(۳):سزا ددې جمع اَعذِبَةٌ ده،دباب دسمع، کرم اوضرب څخه استعمال سوی دی،په معنی دخوږالي،خوشګوارکېدل،هم ددې څخه دی :اَلعَذَاب . دامصدر دی په معنی د (۱):ګندګی.(۲):ډکي .(۳):د درختي ښاخونه.(۴):دتلې پارسنګ،یمنع دفتح دباب څخه دمضارع واحد مذکر غائب صیغه ده،په معنی دمحروم کولو، ددې څخه دی المنع په معنی دکنی کبر جمع یې مُنُوع راځي نودا مصدر دی دنصر دباب څخه ،نیام هم مصدر راځي معنا ګاني یې دادی : ویده کېدل. دخوب جوتې .مرکیدل اونوم دنائم نُیّام اونُوّام وغیره دی ، ددې څخه دی النومة په معنی د (۱):ډیر ویده کېدلو والا (۲):ناخبره.(۳):غیرمشهور. طعام دادسمع دباب څخه مصدر دی اوطعما هم مصدر راځي په معنی څکل اودفتح څخه مستعمل دی ،دې وخت کې یې معنی داده چې په مړه خیټه خوراک خوړل،ددې څخه دی الطعم په معنی دخوندسره جمع طُعوم ده اوددې څخه دی الطّعمة دخوراک طریقه اوددې څخه دی الطعام په معنی دخوراک جمع یې اطعمة ده اوجمع الجمع یې اطعمات ده،په معنی دغنمو،ددې څخه دی الطعامی خوراک خرڅونکی او ددې څخه دی المطعام ډیر میلمه دوست اوددې څخه دی المطعوم په معنی دخوراک .تېښکه . شراب په معنی دڅکلو هرشی جمع یې اشربة ده دادباب دسمع اونصر څخه مستعمل دی : (شُربًا . شَرْبًا شِرْبًا مَشْرَبًا اوتَشْرَابًا) یې مصادر راځي ، ددې څخه دی اَلشّربة کوم چې یوځل وڅښل سي، ددې څخه دی الشربة په معنی د زیات څښل ، دګرمی زیاتیدل .تنده ، قض دا د ضرب څخه دماضي واحد مذکر غائب صیغه. قَضَاءً اوقَضِيَّةً اوقَضِيَّةً یې مصادر راځي په معنی دفیصلې کولو ، ددې څخه دی القاضي په معنی دشرعي حاکم جمع یې قُضَاة . راځي اوددې څخه دی قَضِية په منزد منطقیانو چې دهغه ویونکی ته درواغجن یا رښتونی ویلی سی ، نَهمة دامصدر دی د(سمع ،فتح اوضرب) دباب څخه په معنی د :حاجت . سخت خواهش ددې څخه دی النِّهَام .لوهار او ددې څخه النّهام په معنی د :ګونګي .راهب جمع یې نُهُم راځي وجها دامصدر دی دکرم اوضرب څخه په معنی د :مخ . اراده اونیت .هغه کارچې دانسان هغه ته توجه وي . نوع قسم .اَوجُه ووُجُوه واَجُوه یې جمع راځي . ددې څخه دی وجاهت ، داهم مصدر

دی په معنی دمرتبې اوعزت او ددې څخه دی وجیهة په معنی دقوم سردار . (فَلْیَعْجَل) دادامر غائب صیغه ده ، دسمع دباب څخه استعمال سوی ده . (عَجَلاً او عَجَلَةً) یې مصادر دی په معنی دتندی کولو . ددې څخه دی العجل په معنی دسخي جمع یې (عجول اوعَجَلَةٌ اوعَجَالٌ) ده ددې څخه دی العجلة په معنی د(۱): تلواره . (۲): دسامان وړلو موټر (۳): سپک والی (کمزورتیا) (۴): ختمه . ددې څخه دی العجول په معنی دمرګ ،اهل دامصدر دنصر ،ضرب اوسمع دباب څخه دی اواُهُولاً یې هم مصدر هم راځي په معنی د(۱)خاندان.(۲):خپلوان.ددې جمع (اَهْلُوْنَ واَهَالٌ) او (اَهَالٌ واَهْلاتٌ واَهْلَاتٌ) راځي ددې څخه دی اهلا وسهلا په معنی دپخیر راغلی . اصل کې داکلام داسې دی : صَادَفْتَ اَهْلًا لَا غُرْبًا وَوَطِئْتَ سَهْلًا لَا وَعْرًا . یعني تا دخپل کور والا خلک پیدا موندل نه پردی اوپه نرمه زمکه راغلی نه په سخته زمکه او ددې نه دی اهیلة په معنی دقابلیت او ددې څخه دی (اِلَّاهْلِیْ) په معنی دکورني څاروي **ترکیب**:(السفر)مبتداء.(قطعة)موصوف(من العذاب) جار اومجرور ، جارسره دمجرورنه متعلق په ثابت پورې ، داصفت سو ، موصوف سره دصفت نه خبر اول ، (یمنع) فعل هوضمیر په کې دی هغه یې فاعل (احدکم) مضاف اومضاف الیه ، مضاف سره دمضاف الیه نه مفعول اول (واو)عاطفه (طعامه)معطوف اول (واو) عاطفه (شرابه) معطوف ثاني ، معطوف علیه سره دخپلو دواړو معطوفونو مفعول ثاني ، فعل سره دخپل فاعل اوسره د دواړو مفعلونو جمله فعلیه خبریه خبر ثانی د مبتداء ،مبتداء سه دخپلو دواړو خبرونو څخه جمله اسمیه خبریه سوه . (فاء) تفریعیة (قضی) فعل (احدکم) مضاف اومضاف الیه ، مضاف سره دمضاف الیه نه فاعل ، (نهمته) مضاف اومضاف الیه ،مضاف سره دمضاف الیه نه مفعول به (من) جار (وجهه) مضاف اومضاف الیه ، مضاف سره دمضاف الیه نه مجرور دجار ، جارسره مجرور نه متعلق په فعل پورې ،فعل سره دخپل فاعل اومفعول اومتعلق نه شرط . (فاء) جزائیه (لیعجل) فعل امر ضمیر دهو په کې دی هغه یې فاعل (الی) جار (اهله) مضاف اومضاف الیه ،مضاف سره دمضاف الیه نه مجرور دجار ، جارسره دمجرور نه متعلق په فعل امر پورې ، فعل امر سره دخپل فاعل اوسره دمتعلق نه جزاء دشرط .شرط سره دجزاء څخه جمله شرطیه سوه .

نَوعٌ آخَرُ مِنهَا

(۴۳)قَفلَةٌ کَغَزْوَةٌ:(ابوداود)(تخریخ مشکوة صفحه ۳۳۳ س۱۹ عن عبدالله ابن عمر رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه :راستنیدل (دجهاد څخه) دجهاد په شان دي. **توضیح**: کله چې مجاهد دجهاد لپاره ځي نوښکاره خبره که چیرې نیت دده صحیح وي نو ډیر زیات ثواب دی ،نونبي کریم ﷺ وفرمایل لکه څنګه چې په تلو کې ثواب دی په واپس راتلو کې هم دغه هومره ثواب دی ،په واپس راتللو کې دامه ګټې چې اوس دجهاد د ثواب څخه محرومه سوم ،ځکه چې واپس ځونه بلکه واپسي د تللو تتمه ده ، په واپس کې هم پوره ثواب دی ، هرکله چې په واپس تلو کې ثواب دی نو د تللو په وخت اوهلته به څومره ثواب وي ،غرض داچې دجهاد لپاره دوتلو څخه وروسته هیڅ یو وخت د ثواب نه خالي نه تیریږي ،دجهاد ډیر فضیلت په

احادیثو کي راغلی دی ،په یوحدیث کي راځي چي یوه ورځ په جهاد کي چوکیداري کول ددنیا څخه اوڅه چي په دنیا کي دی دټولو څخه بهتر دی ،په یوبل حدیث کي دي چي دمجاهد لپاره به په جنت کي سل درجې وي ،دهر دوو درجو په مینځ کي به دومره فاصله وي څومره چي دزمکي اوآسمان ترمینځه ده ، په یوبل حدیث کي دي چي کوم سړی دزړه په اخلاص سره شهادت وغوښتلو نوهغه اګرچي په کور کي په بستره وفات سي مګر هغه ته به دشهید ثواب ورکړل کیږي . **لغوي اوصرفي اوتحقیق** : قفلة په معنی دواپسې دادباب دنصراوضرب اوسمع څخه استعمال سوی دی په معنی دسفرڅخه دواپس راتلو دی (قَفْلًا اوقَفَلًا اوقُفُوْلًا یې مصادر راځي ، ددې څخه (اَلْقُفْلُ) په معنی دقلف سره . ددې جمع (اَقفالٌ اوقُفُولٌ اواَقفُلٌ) ده . ددې څخه دی القفل په معنی د درختي وچه حصه ،غزوة په معنی دجنګ په معنی دیوه جملې راځي دادنصر دباب څخه مستعمل دی په معنی دطلب کولو ،قصد کولو ، ددې څخه دی الغزاة په معنی د مهم .حمله جمع یې غزواتٌ ده . ددې څخه دی غازیٌ جنګ کولو والا . ترکیب : قفلة : مبتداء (کغزوة) جار اومجرور ، جارسره دمجرور نه متعلق په ثابت پوري ، ثابت اسم فاعل ،په دې کي ضمیر دهی پروت دی ددې فاعل دی ،اسم فاعل سره دخپل فاعل نه اوسره دمتعلق نه خبر دمبتداء ،مبتداء سره دخپل خبر نه جمله اسمیه خبریه سوه .

(۴۴) مَطْلُ الْغَنِيِّ ظُلْمٌ :تخریج مشکوة صفحه ۲۱۵ س ۲۷ عن ابی هریرة رضی الله عنه مرفوعا

ژباړه : دامیر تال متول کول ظلم دی . **توضیح** : یوسړی چي قرض واخلي بیا مالداره سي نوددائن یعني قرض ورکونکی سره تال متول کوي یعني بار بار دا ورته وایي چي دربه کړم ،دربه کړم لیکن ورکوي یې نه صرف وخت ورباندي تیره وي نوداظلم دی اوزیاتی دی په قرض ورکونکی باندي ځکه چي هغه عاجز خپل حق غواړي دې یې بیاهم نه ورکوي ، دظلم تعریف دادی : وَضْعُ كُلِّ شَيْءٍ فِيْ غَيْرِ مَحَلِّهِ. یو دخپل ځای څخه په بل ځای اینبودل ظلم دی ، مثلاً پیزار په سر اینبودل ، دلته هم هغه کوم چي ده ته راغلی دی او دې مالدره سو نواوس هغه مال چي ده قرض اخیستی ؤ هغه خپل ځای ته نه رسوي یعني قرض ورکونکی ته قرضنه واپس کوي نوداظلم دی . **فائده** : ددې حدیث څخه یوه دافقهي مسئله راووتله چي بغیر دضرورت نه قرض اخیستل نه دی پکار ،خکه چي کله ضرورت ؤ نو قرضه یې واخستله بیاضرورت پوره سو یامالداره سو نووخت په تیرول او تال متول کول ظلم دی اوناجائزه ده ، نومعلومه سوه چي بغیر دضرورت څخه قرضه ناجائز ده .دویمه مسئله دا راووتله که چیري څوک قرض وغواړي نو ورکول یې پکار دي . دریم فقهی مسئله داده چي قرض واپس کولو کی تلواره پکار ده .

لغوي اوصرفي تحقیق : مَطْلٌ دادنصر دباب څخه مصدر دی په معنی د تال متول کولو ددې څخه دی (اَلْمَطَالُ) په معنی داوسپنی ویلی کولو والا . دویم : ډیر تال متول کولو الا . الغنی په معنی دمالدار ،دولت مند ، جمع یې اغنیاء راځي ،دادسمع څخه مستعمل سوی دی ،باقي تحقیق ددې مادې په

حدیث (۲۷) کی تیرسوی دی ،ظلم دامصدر دی دباب :نصر ،سمع نه په معنی دیوشئ غلط استعمالول ،شئ بې ځایه اېښودل ،شرارت . دحق کمي ، ددې څخه دی اَلظُّلْمَةُ وَظُلْمَةُ په معنی دشپې تیاره . جمع یې (ظُلَمٌ او ظُلُمَاتٌ او ظُلَمَاتٌ) ددې څخه دی اَلظُّلم په معنی دقمر میاشتي اخري درې شپې . ددې څخه دی اَلظَّلم په معنی د واوري سره ، ددې څخه دی ظالمٌ جمع یې (ظالمون وظُلاّمٌ وظُلَمَةٌ) ده ددې څخه دی الظَّلَم په معنی د وجود .بدن . غر جمع یې ظلوم راځي . **ترکیب** : (مطل الغنی) مضاف اومضاف الیه . مضاف سره دمضاف الیه نه مبتداء . (ظلم) یې خبر ، مبتداء سره دخبر نه جمله اسمیه خبریه سوه .

(۴۵) سَيِّدُ الْقَوْمِ فِي السَّفَرِ خَادِمُهُم :بیهقي،تخریج مشکوة صفحه ۳۳۰ س ۲۲ عن سهل بن سعد رضی الله عنه مرفوعا

ژباړه :دقوم سردار په حالت دسفر کي دهغوی خدمت کونکی وي **توضیح**: دقوم مشرلره پکار دي چې هغه په سفر کی د قوم خدمت وکړي ،دیو جماعت امیر دي یاصدر دي نوهغه لره پکار دی چې هغه په سفر کي دخپل جماعت ښه پوره خدمت وکړي . ددې حدیث دویم مطلب عالمانو داهم لیکلی دی چې څوک په سفر کي خدمت کوي هغه به دهغوی سردار وي . **فائده** : ددې حدیث څخه فقهي مسائل دا راوو تله چې سفر کي هریولره پکار دي چې دبل خدمت وکړي ،غصه او آرام غوښتل دځان ته نژدی هم نه پریږدي .ددې تفصیل په حدیث نمبر ۴۲ کي تیرسوی دی. **لغوي اوصرفي تحقیق** : سید په معنی د سردار جمع یې (اَسْيَادٌ اوسَادَةٌ اوسَيَائِدُ) دا د نصر دباب څخه استعمال دی،سِيَادَةً وسِيْدُوْدَةً وسُوْدًا) وغیره یې مصادر راځي ، القوم دا د نصر دباب څخه مصدر دی (قَوْمًا او قِيَامًا وقَوْمَةً وَقَامَةً) یې مصدر راځي،په معنی د اورېدلو، د تللو څخه بندیدل ، ددې څخه دی القوم دخلکو یوه ډله جمع یې (اَقْوَامٌ وَاَقَاوِمُ وَاَقَائِمُ واَقَاوِيْمُ) راځي ددې څخه دی قومة په معنی درکوع څخه وروسته نیغ درېدل . ددې څخه دی القیامة په معنی دمړ ک څخه وروسته دوباره ژوندي کېدلو سره ددې څخه دی القِيمَةُ په معنی دقیمت سره جمع یې قِيَم راځي . ددې څخه دی (اَلاِقَامَةُ او اَلْمُقَامَةُ) په معنی داقامت سره . ددې څخه دی (اَلتَّقْوِيْمُ) په معنی دوختونو نقشه . ددې څخه دی (اَلْمُقِيْمُ او اَلْمُقَامُ) وغیره ، خادم داداسم فاعل صیغه ده دنصر اوضرب دباب څخه اودصفت صیغه هم ده . ددې جمع خُدَّامٌ ده معنی یې خدمت کولو والا ده . (خِدْمَةٌ او خَدْمَةٌ) یې مصادر راځي په معنی دخدمت کولو . ددې څخه دی (الخدمة) په معنی دوخت او ددې څخه دی الخدمة په معنی دپنډی . دخلکو دائره ،هم ددې څخه دی خادِمِيَة په معنی دنوکري ،ددې څخه دی خَدِيم په معنی دنوکر ،غلام . ددې څخه دی مخدوم په معنی دآقا ،مولا . ددې څخه دی المخَدَّمًا په معنی دهغه آس چې په پښه یې سپین داغ وي ،مونث یې خَدَمَاء دی

(۴۶) حُبُّكَ الشَّيْءَ يَعْمِي وَيُصِمُّ : (تخریج مشکوة صفحه ۴۱۸ س ۱۶ عن ابی الدرداء رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه :دیوشئ محبت تاهم وړنده وي اوهم دي کنوي. **توضیح** : کوم شئ سره چې انسان محبت کوي نودهغه په عیب باندي نظر نه ساتي دهغه د ټولو عیبونو څخه خپل ځان روند اوکونړ ساتي ،په دې وجه الله تعالی سره محبت کول پکار دی ، اودښه شئ یا دښه انسان سره محبت کول پکار دی ،یا دهغه عیبونو څخه روند اوکونړ کېدل پکار دي دمحبت تقاضا داده چې دمحبوب اشاروباندي هم دخپل ځان قربانولو لپاره تیار سي اودهغه حکمونه خوهروخت پوره کوي ،الله تعالی سره زمونږ محبت دی نودهغه ټولو حکمونوباندي عمل کول پکار دي. **لغوي اوصرفي تحقیق** : دحب معنی اوتحقیق په حدیث نمبر ۶ کې تیرسوی دی .الشئ دادفتح دباب څخه مصدر دی (مشیئة ومشاءة ومشائیة) مصادر راځي معنی اراده کول ، غوښتل ده . ددې څخه دی الشئ په معنی د(۱) دشئ . (۲) کوم شئ چې پیژندلی سي اودهغه خبرورکړل سي ددې څخه دی (الشّیئة) په معنی دارادې .یُعمی دادباب افعال څخه مضارع واحد غائب صیغه ده اوپه مجردو کي سمع نه ډیراستعمالیږي اودضرب څخه هم معنی یې روند کېدل دي ، مصدر یې دمجرد څخه عمیا راځي اوکه عمایَةً راسي نوبیایې معنی (۱) : اصرار کول . ګمراه کېدل . ددې څخه دی العمیٌ په معنی دروند جمع یې عمون ده . ددې څخه دی الاعمی په معنی د روند جمع یې عمیٌ وعُمیانٍ واَعماءٌ دی .یُصِمّ دادباب افعال څخه دمضارع واحد غائب صغیه ده اوپه مجرود کي نصر اوسمع نه استعمال سوی دی (صَمًا وصَمَمًا یې مصدر راځي په معنی د کونړ کېدلو سره دی . ددې څخه دی الصمام په معنی ددشیشې نچه . جمع یې (اَصِمَّةٌ وَالصِّمَامَةٌ) راځي ددې څخه دی الصم په معنی دسخت مصیبت سره ،نکته اصم دمضاعف دویم نوم دی. **ترکیب**:(حب) مصدر مضاف (ک) . ضمیر فاعل مضاف الیه ، الشئ مفعول به ،مصدر سره دخپل فاعل اوسره دمفعول به نه شبه جمله مبتداء (یُعمی) فعل هوضمیر ددې فاعل ، فعل سره دخپل فاعل نه معطوف علیه ،(واو) عاطفه (یصم) فعل هوفاعل ،فعل سره دفاعل معطوف ،معطوف علیه سره دمعطوف نه خبر دمبتداء ، مبتداء سره دخپل خبر نه جمله اسمیه خبریه سوه .

(۴۷) طَلَبُ الْعِلْمِ فَرِیْضَةٌ عَلٰی کُلِّ مُسْلِمٍ :بیهقي وابن ماجه (تخریج مشکوة صفحه ۳۴ س ۱۵ عن انس رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه : علم حاصلول په هرمسلمان باندي فرض دی. **توضیح** :هرمسلمان نارینه اوزنانه لپاره ددین ضروریات پیژندل دومره فرض عین دی چې هغه سره دورځې شپې راپیښیدونکي مسئلې حل سي .اوعالم جوړېدل فرض کفایه دی ،دغه شان جهاد فرض کفایه دی ترڅوپورې چې دوخت بادشاه دجنګ اعلان ونکړي اودغه شان دقاریانو څخه لوستل اوقاري جوړېدل هم فرض کفایه دي دغه شان علم الوقف زده کول هم فرض کفایه دي یعني چې په یوه علاقه یوکس فرض ادا کړي نوفریضه به اداسي هغه ته فرض کفایه وایي ،ددین اسلام ضروري مسئلې ټولې په بهشتي زیور وغیره کتابونو کې ذکر دي هلته یې

وګورئ. **فائده** : په دې حدیث کې لفظ دمسلمة نسته او په صحیح احادیثو کې یې ثابت نه دی البته خامخا مراد دي په دې وجه به په لیکلو کې دمسلمة لفظ نه سي لیکلی په معنی اومفهوم کې به داخامخا راځي ځکه چې دهر مسلمان ښځې لپاره هم ددین علم (یعني ددین ضروریات) زده کول فرض عین دی ،بیا نن صبا په سکولونو او کالجونو باندې داحدیث لیکل جائز نه دی ولې چې هلته خو دفرض عین درجه کې هم ښودل نه کیږي . **لغوي اوصرفي تحقیق** : العلم مصدر دی دنصر،ضرب اوسمع دباب څخه دی ، دنصر اوضرب څخه ددې معنی نښه لګول دي اودسمع څخه ددې معنی ده حقیقي علم موندل اوپیژندل اویقین کول ،العلم په معنی د (بیرغ . دقوم سردار.دجامو ګل کاري. علامت او نخښه.لوړ غر،جمع یې اعلام ده.العلم په معنی د(پیژندل.دشئ دحقیقت ادراک کول. د دې جمع علوم راځي ددې څخه دی العِلمُ په معنی دعالم . فریضة په معنی د(فرض . زکوة . مقرر سوی حصه) جمع یې فرائض راځي دادضرب اوکرم څخه استعمال سوی دی په معنی دفرض کولو اومقرر کولو (فَرَاضَةً وفُرُوضًا وَفَرضًا) یې مصادر راځي . ددې څخه دی الفَرضُ په معنی دالله تعالی په بندګانو باندې مقرر سوی قانون جمع یې فروضٌ راځي ددې څخه دی الفُرضُ په معنی دپرېکولو اوالفِراض په معنی دجامو او الفَارضُ به معنی دچاق اوزوړ ، دفارض جمع فُرض راځي . دکل لفظ تحقیق په حدیث (۴۱) کې تیرسوی دی اودمسلم لفظ تحقیق په حدیث (۳۴) کې تیرسوی دی **ترکیب** : طلب العلم:مضاف اومضاف الیه . مضاف سره دمضاف الیه نه مبتداء (فریضة) په معنی دمفروضة.(مفروضة)اسم مفعول په دې کې ضمیر دهی دی هغه یې نائب فاعل ،(علی) جار (کل مسلم) مضاف اومضاف الیه ،مضاف سره دمضاف الیه نه مجرور دجار،جار سره دمجرور نه متعلق په اسم مفعول پورې ، اسم مفعول سره دخپل نائب فاعل اوسره دمتعلق نه خبر دمبتداء . مبتداء سره دخپل خبر نه جمله اسمیه خبریه سوه .

(۴۸) مَاقَلَّ وَكَفَى خَيْرٌ مِمَّا كَثُرَ وَأَلْهَى :(رواه ابونعیم)(تخریج مشکوة صفحة ۴۴۵ س ۷ عن ابی الدرداء رضی الله عنه)

ژباړه : کوم شی چې کم وي اوپوره سي غوره وي دهغه شي څخه کوم چې زیات وي اوغافله کړي .

توضیح : کوم شی یا کوم مال چې کم وي اوګزاره پرې وسي هغه بهتر وي دهغه شئ څخه کوم چې زیات وي اوالله تعالی څخه غافل کونکی وي ،حاصل داچې قناعت کول پکار دي ،یعني په لږ شئ باندې صبر کول پکار دي ځکه چې عام طور باندې داسي کیږي چې چاسره مال زیات وي نو هغه په آرام کې نه وي هروخت ورسره فکر وي اوځومره چې ورسره مال زیاتیږي هغومره یې فکر زیاتیږي .خلاف دصبر کوونکی څخه هغه ډیر په آرام وي دخپل وسه پورې دمال زیاتولو په ځای دخرچ کمولو کوشش پکار دی . **لغوي اوصرفي تحقیق** : قل دباب دضرب څخه دماضي واحد مذکر غائب صیغه ده ،(قِلًّا اوقُلًّا اوقِلَّةً) یې مصدر راځي په معنی دکمیدلو ، ددې څخه (القِلّ) په معنی د وړو کي دیوال او ددې څخه (القِلُّ والقُلُّ) په معنی دلږ او ددې څخه دی (القلیل) په معنی

د(کم ، مانده یعنی کمزوري)ددې جمع قلیلون راځي او [اَقِلَّاء ،اَقُلٌّ او قُلُلُون] هم راځي ، ددې څخه دی القُلَّةُ په معنی د(۱): دټولو څخه اوچته حصه .(۲): دخلګو یوجماعت . (۳): لویه چاتی (۴): وړه کوزه . ددې جمع قُلَلٌ اوقِلالٌ راځي ددې څخه دی القلة په معنی د کمی جمع یې قلل ده ،کفی دباب دضرب څخه دماضي مطلق واحد غائب صیغه ده ،کفایةٌ یې مصدر دی په معنی د کافي کېدلو. ددې لاندې دی: [اَلکَفیُ والکُفیُ والکِفیُ] په معنی دهغه څه چې ضرورت پرې پوره سي د ددې څخه دی مکافاة په معنی داحسان بدله کي احسان کول ،یا ددې څخه په زیات شئ سره بدله ورکول ، دکثر تحقیق په مقدمه کې تیرسوی دی ،الهي دباب افعال څخه دماضي مطلق واحد غائب صیغه ده په معنی دغافل کولو ،په مجردو کي دنصر اوسمع څخه استعمال سوی دی ،دنصر څخه ددې مصدر لهوا په معنی دلوبي کولو راځي اوسمع څخه مصدر لها راځي په معنی دمحبت کولو. **ترکیب**:(ما)موصوله(قل)فعل هوضمیر یې فاعل ،فعل سره دفاعل معطوف علیه ، (واو) عاطفه (کفی) فعل هوضمیر یې فاعل ،فعل سره دفاعل معطوف ، معطوف علیه سره دمعطوف نه صله ،موصول سره دصلې نه مبتداء (خیر) اسم تفضیل ضمیر دهو یې فاعل (من) جار(ما) موصوله (کثر) فعل ،ضمی دهو یې فاعل ، فعل سره دفاعل معطوف علیه ، (واو) عاطفه (الهی) فعل هو ضمیر یې فاعل فعل سره دفاعل معطوف ، معطوف علیه سره دمعطوف نه صله دموصول ، موصول سره دصلې مجرور دجار ، جار سره دمجرور نع متعلق په اسم تفضیل پوري ،اسم تفضیل سره دخپل فاعل اوسره دمتعلق نه خبر دمبتداء ،مبتداء سره دخبر نه جمله اسمیه خبریه سوه .

(۴۹) اَصْدَقُ الرُّؤْیَا بِالْاَسْحَارِ :(ترمذی)(تخریج مشکوة صفحه ۳۹۷ س ۱۳ عن ابی سعید رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه: دټولو څخه زیات ریښتونی خوب دپښلمې (دوخت) دی

توضیح: دشپې آخري دریمې حصې والاخوب یعنې کوم خوب چې دسهار دپیشلې په وخت سړی وویني هغه دټولو څخه زیات ریښتونی وي لیکن قطعي اوحجت بیاهم نه دی چې سړی دی داخیال وکړي چې داخوب مي دپیشمې په وخت لیدلی ؤ لهذا په دې باندې عمل کول ضروری دی نه ، کوم خوب چې دشریعت دیوې قاعدې خلاف وي که هغه یې دپیشلمې په وخت ولي نه وي لیدلی هغه مردود دی ،ددې حدیث مطلب دادی چې کوم خوبونه زیات صحیح وي په هغه کي داخبره ده چې هغه دټولو نه زیات ریښتونی دپیشلمې والاخوب دی خوب که دشرعي اصولو مطابق وي نو په هغه باندې عمل کول صرف مستحب دی ،فرض یاواجب نه دی ، دپیغمبر صلی الله علیه وسلم نه علاوه دبل چاخوب دلیل نه دی . **فائده**: دخوب درې قسمونه دي (۱): یوداچې دورځې خیالات وي ددې خوب څه تعبیر نه وي (۲) :شیطاني خیالات. (۳): ښه خوبونه کوچې دشریعت خلاف نه وي ، دخوب تعبیر ایستل یوجلا فن دی ،هرسړی دخوب تعبیر نسي ایستلی اونه هرسړي ته به خوبونه ښودل پکار دي.

لغوي اوصرفي تحقيق :الرؤيا : په معنی دخوب جمع يې (رؤءٌ ورأيًا او رَايًا) راځي ،دباب دفتح څخه ،الرجل په پرپوس باندي وهل . ددې څخه دی الرئة په معنی دپرپوس جمع يې رئات اورئون راځي . الاسحار په معنی دسهار څخه لږوړاندي وخت ،داجمع ده اوواحد يې سحر دی دادفتح باب نه استعمال سوی دی په معنی د(۱): پرپوس باندي وهل .(۲): دهوکه ورکول . (۳): جادو کول اوسمع نه هم استعمال سوی دی په معنی دسحر وختي راتللو، ددې څخه دی السحر په معنی (۱): هرهغه شئ چې دهغه حاصلولو کې دشيطاني نزديکت څخه کار واخيستل سي (۲):فساد . (۳) چل بازي . (۴): درواغ د ربنتيا ؤ په شکل کې ښودل . ددې جمع (اسحارٌ اوسُحُورٌ) ده او ددې څخه دی ساحر په معنی دعالم سره ،جمع يې سحَرَةٌ اوسَحَارًا اوساحرون ده او ددې څخه دی (السحار) په معنی دجادوګر . ددې څخه دی السحورة په معنی د پيشلمي خوراک . ددې څخه دی مسحورٌ په معنی دخراب سوي خوراک .

ترکيب :(اصدق الرؤيا) مضاف اومضاف اليه . مضاف سره دمضاف اليه نه مبتداء (بالاسحار) جار اومجرور ، جارسره دمجرور نه متعلق په ثابت پوري ، ثابت اسم فاعل هوضمير يې فاعل فعل سره د فاعل اوسره دمتعلق نه خبر دمبتداء . مبتداء سره دخبر نه جمله اسميه خبريه سوه .

(۵۰)طَلَبُ كَسْبِ الْحَلَالِ فَرِيْضَةٌ بَعْدَ الْفَرِيْضَةِ: بيهقي. تخريج مشکوة فحه ۲۴۳ س ۲۴ عن عبدالله رضی الله عنه مرفوعا

ژباړه : حلاله ګټه حاصلول فرض دی د(باقي) فرضو څخه وروسته. **توضيح**: حلاله ګټه حاصلول دلمانځه ،روژې، زکوة څخه وروسته يو فرض دی ،ليکن په هغه سړي باندي چې دهغه د ګټې لپاره بل څوک ذمه دار نه وي . که چيرې بل څوک يې ګټې اوده ته يې ورکوي نو ددې سړي لپاره جلا ګټه کول فرض نه دی کله چې بل څوک نه وي نوده لپاره حلال ګټه کول فرض ده ځکه چې داد تقوی اصل اوبنيا دی ،څوپوري چې دصحيح ګټې څخه ونه خوري ترهغه وخته پوري متقي نه سي جوړېدلی .

نکته :دحديث الفاظ دادی : طلب الكسب الحلال فريضة بعد الفريضة . دايې ونه فرمايل چې (طلب كسب الحلال فريضة على كل مسلم) لکه څنګه چې يې دعلم په باره کې فرمايلی دی چې هر مسلمان باندي زده کول فرض دي دلته د(على كل مسلم) څخه ويلو وجه صرف داده که بل څوک يې ګټې او ورکوي نوده لپاره جدا ګټل فرض نه دی اوکه داسي نه وي نو فرض ده لکه چې اوس تير سول .

لغوي اوصرفي تحقيق : دطلب تحقيق په حديث نمبر (۴۷) کې تير سوی دی کسب دامصدر دی دباب د ضرب څخه په معنی د ګټلو ؛ ددې څخه دی (اَلْكَسْبَةُ اَلْكَسْبَةُ) په معنی د ګټې ، ددې څخه دی ابوکاسب په معنی دزمري ،الحلال په معنی دجائز دادنصر دباب څخه هم استعمال سوی دی ،په دې صورت کې به ددې مصدر حَلًا راځي او ددې معنی به د پرانستلو وي او که چيرې دادباب د ضرب نه راسي ،نوبيا به يې مصادر حَلًا او حَلَلًا اوحُلُولًا راځي نو معنی به يې کوزېدل وي او که د سمع نه راسي نو ددې

مصدر به حَلَلاً راځي بيابه يې معنی وي په خپه يا ګيتي کي سستوالی بهرحال دامادهده د دريو بابونو څخه استعماليږي دفريضة تحقيق په حديث (۴۷) کي تيرسوی دی. **ترکيب**:(طلب کسب) مضاف اومضاف اليه. (الحلال)مضاف اليه ،مضاف سره دمضاف اليه نه بيامضاف اليه. (طلب) مضاف سره دمضاف اليه نه مبتداء (فريضة) موصوف بعد مضاف الفريضة مضاف اليه،مضاف سره دمضاف اليه نه مفعول فيه سو دثابتة، ثابتة اسم فاعل هی ضمير په کی دی هغه يې فاعل،اسم فاعل سره دخپل فاعل اوسره دمتعلق نه شبه جمله صفت دموصوف،موصوف سره دصفت نه خبر، مبتداء سره دخبر نه جمله اسميه خبريه سوه .

(۵۱) خَيْرُكُمْ مَنْ تَعَلَّمَ الْقُرْآنَ وَعَلَّمَه: بخاري)(تخريج مشکوة صفحه ۱۸۳ س ۲۱ عثمان رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه : په تاسو کي د ټولو څخه غوره سړی هغه دی څوک چې قرآن زده کړی اودابل ته وښايي.

توضيح : قرآن زده کول چې ددين په ضروريا تو باندې عمل وکړی سي فرض عين دی ،مثلا صحيح الفاظوسره لمونځ قرآن لوستل فرض دی البته باقي تجويد زده کول فرض کفايه دی اوقرآن زده کول اوبيايې نورو ته ښودل هم فرض کفايه دی ،يعني عالم جوړيدل فرض کفايه دي ،قرآن يادول اوحفظ کول فرض نه دی بلکه مستحب دی التهد کامل عالم جوړيدلو لپاره حفظ کول پکار دي اوحفظ چې وکړي دومره يې ياد ساتل ضروری دی ،څومره چې دحفظ کولو په وخت کي ياد ؤ چونکه دقرآن الفاظ اومعاني دواړه مقصود دی ،په دې وجه تلاوت سره په مطلب باندې پوهيدلو کوشش هم پکار دی .

لغوي اوصرفي تحقيق : تَعلم په معنی دعلم زده کولو اوعلّم په معنی دبل ته دښودلو ، تَعَلّ د تفعل دباب څخه دی اوعلم دباب تفعيل څخه باقي تحقيق يې په حديث نمبر (۴۷) کي تيرسوی دی ، القرآن دامصدر دی دباب دنصر اوفتح څخه اوقِراءَة يې هم مصدر راځي او ددې څخه دی قُرّاء په معنی دعابد جمع يې (قرئون اوقراری) راځي اوددې څخه دی قَرّاء په معنی ښه طريقې سره لوستونکی جمع يې قراءون راځي ، هم ددې څخه دی دی المقروؤ والمقرئ والمقروء په عنی دهغه شئ چې ولوستل سي.

ترکيب:(خيرکم) مضاف اومضاف اليه ،مضاف سره دمضاف اليه نه مبتداء (من) موصوله (تعلم) فعل ضمير دهو يې فاعل (القرآن) مفعول به ،فعل سره دفاعل اوسره دمفعول به نه جمله فعليه خبريه معطوف عليه. (واو) عاطفه(علم) فعل ضمير دهو په کي دی هغه يې فاعل (ه) مفعول به .فعل سره د فاعل اوسره دمفعول به نه جمله فعليه خبريه معطوف ،معطوف عليه سره دمعطوف نه صله دموصول ، موصول سره دصلې نه خبر ،مبتداء سره دخبر نه جمله اسميه خبريه سوه .

(۵۲) حُبُّ الدُّنيَا رَأسُ كُلّ خَطِيئَة (زرين) مشکوة ص (۴۴۴) س (۱۶) عن حذيفة مرفوع.

ژباړه : دنيا محبت دهري ګناه جړ دی. **توضيح** : ددنيا محبت دهري ګناه جړ دی يعني چې کومه ګناه هم سړي کوي هغه ددنيا دمحبت په وجه کوي چې دهغه په زړه کي دنيا ناسته ده يعني ددې محبت نه يې زړه

ډک دی ،ددنیا معنی داده چې کوم شئ دالله تعالی څخه غافل کړي اوهره ګناه دالله تعالی نه دغفلت څخه وروستو کیږي اوغافله کونکی دنیا ده ، معلومه سوه چې (په انسان باندې) هرقسمه ګناه کونکی دنیا ده . لهذا دهري ګناه جړ دنیا سوه ،دنیا محبت ډیرلویه ګناه ده ،څوپورې چې سړی زړه ددې څخه صفانه کړی ترهغه وخته پورې دهغه اصلاح نه کیږي . **لغوي اوصرفي تحقيق** :داحب تحقیق په حدیث نمبر(۶) کې اودالدنیا تحقیق په حدیث نمبر(۱) کې اود رأس اود کُل تحقیق په حدیث (۴۱) کې اودخطیئة تحقیق په حدیث نمبر(۳۷) کیتیرسوی دی . **ترکیب** : (حب) مضاف (الدنیا) مضاف الیه . مضاف سره دمضاف الیه نه مبتداء،رأس مضاف کل مضاف الیه ، دمضاف (خطیئة) مضاف الیه ، مضاف سره دمضاف الیه نه ،بیامضاف الیه سره دمضاف نه خبر دمبتداء ،مبتداء سره دخپل خبر نه جمله اسمیه خبریه سوه .

(۵۳) اَحَبُّ الْاَعْمَالِ اِلَی اللّٰهِ اَدْوَمُهَا وَاِنْ قَلَّ: بخاري ومسلم ،تخریج مشکوة صفحه ۱۱۰ س ۱۲ عن عائشة رضی الله عنها مرفوعا

ژباړه : (دټولو څخه)زیات خوښ اعمال دالله په نزد هغه دی کوم چې همېشه وي اګرچې کم وي .

توضیح : عملونه اګرچې لږ وي لیکن ښه یې کړی وي اوهمېشه یې کوي دالله تعالی ته ډیر زیات خوښ دی ،په نسبت ددې چې عملونه ډیر کوي خوکله کله یې کوي ،همېشوالی پرې نه کوي نودا زیاتوالی دعملونو الله تعالی نه خوښوی ،دمثال په طور یو سړی د ورځې سل(۱۰۰) رکعته لمونځ کوي بیایې پریږدي اوبل سړی روزانه دوه دوه رکعته نفل کوي اوپریږدي یې نه ، همېشه لپاره یې خپل معمول جوړ کی وي نودادویم سړی الله تعالی ته ډیرمحبوب دی ،په دې وجه عملونو کې زیاتوالی په مزه مزه کول پکار دي چې ورسره ورسره همېشوالی اودوام هم باقي پاتي سي . **فائده** : دلته ان وصلیه دی ددې معنی داوي چې ان وصلیه دخپل ذکر سوي جزاء ته هم شامل دی اودذکر سوي جزاء نقیض ته په طریق اولی شامل وي دلته همداسي دي چې کله الله جل جلاله ته لږ عمل همیشګي سره خوښوی نوزیات اعمال په همېشه والي سره به په طریق اولی ورته خوښ وي دعملونو زیاتوالی الله جل جلاله ته هغه وخت خوښ دی چې په هغه کې همېشوالی وي څنګه چې ان وصلیه داوښودل . **لغوي اوصرفي تحقيق** : داحبّ تحقیق به حدیث نمبر (۶) اوداعمال تحقیق په حدیث (۱) کې په بسم الله کې دلفظ دالله اودقل تحقیق په حدیث نمبر(۴۸) کې تیرسوی دی . ادومها دا داسم تفضیل صیغه ده نصر دباب څخه (دَوْمًا اودَوَاما اودُیمومة) یې مصدر راځي په معنی د(۱): ثابت پاتي کېدل . (۲):دیره موده پاتي کېدل .(۳): جاري وسیدل . ددې څخه دی (الدّیْمَة) په معنی دهغه باران چې بریښنا وګرزاری پکې نه وي اووریږي جمع یې (دِیَمٌ اودُیُومٌ) ده . ددې څخه دی (الدائم) اسم فاعل په معنی دالله جل جلاله سره او(ماء دائم) ولاړ اوبه . ددې څخه دی المدوَّم او لِمدوامُ په معنی دکاچوغې چې په هغه سره دکټوی جوش کینولی سي. **ترکیب**:(احب)اسم تفضیل مضاف (الاعمال) مضاف الیه (الی الله) جار اومجرور جار سره

دمجرور نه متعلق په اسم تفضيل پوري ، احب صيغه داسم تفضيل سره دخپل مضاف اليه اومتعلق نه مبتداء ، (ادومها) مضاف اومضاف اليه ، مضاف سره د مضاف اليه نه خبر ، مبتداء سره دخبر نه جمله اسميه خبريه سوه (واو) مبالغه (ان) وصليه شرطيه (قل) فعل هو ضمير په کي دی هغه يې فاعل ، فعل سره دفاعل شرط (جزاء يې محذوف ده) چې فهو احب ماديم عليه ده (فاء) جزائيه هو مبتداء (احب) مضاف (ما) موصوله ، ديم فعل مجهول (هو) ضمير پکښې دی هغه يې نائب فاعل (عليه) جار اومجرور ، جار سره دمجرور نه متعلق په ديم پوري ، ديم فعل سره دخپل نائب فاعل اومتعلق نه صله ، موصول سره دصلې نه مضاف اليه ، مضاف سره دمضاف اليه نه خبر دمبتداء ، مبتداء سره دخبر نه جزاء ، شرط سره دجزاء نه جمله شرطيه سوه .

(٥٣) اَفْضَلُ الصَّدَقَةِ اَنْ تُشْبِعَ كَبِدًا جَائِعًا : بيهقي ، تخريج مشكوة صفحه ١٧٢ س ٨ عن انس رضي الله عنه مرفوعا

ژباړه : (دتهولو څخه) افضله صدقه داده چې ته يې په نس مور کړی ديواوی ځيګر . **توضيح** : دصدقې خو ډير قسمونه دي ليکن د تهولو څخه غوره صدقه داده چې ديو وږي سړي خيټه ډکه کړل سي هسي خو دصدقې ډير حقدار سته خو د تهولو څخه زيات حقدار هغه دی چې وږی وي اوغواړي نه چې يو اوږی حيوان ته په خوراک ورکولو سره هم دصدقې ثواب ملاويږي ، چاسره چې مال نه وي چې په هغه سره هغه صدقه وکړي نو په بل حديث کي راځي چې په داسي صورت کي چا ته ښه خبره هم صدقه ده . **فائده** : صدقه او تبليغ دادوه کارونه داسي دي چې د دې دائره ډيره فراخه ده ، چا ته ښه خبره ښودل دا تبليغ هم دی اوصدقه هم ده اوپه بورې باندي څه ناڅه ښه خبره ليکل صدقه ده اوتبليغ هم دی ، افسوس دادی چې بعضي خلګ دا ګڼړي چې صدقه صرف مال سره کېدلی سي نو داغلطه ده ، دغه شان د تبليغ دائره هم محدوده نه ده لکه بعض خلګو چې ګڼړلی ده . **لغوي اوصرفي تحقيق** : افضل په معنی دفضل کي زيا تيدل جمع تصحيح يې (افضلون) اوجمع تکسير يې افاضل ده دادنصرب باب څخه هم مستعمل دی معنی ده باقي پاتي کېدل اوزياتي کېدل اوسمع اوکرم نه هم استعمال دی په معنی دفضيلت خاوند . د دې څخه دی (فضولی) په معنی د (١) : دې فائدې شيانو کي مشغوليدونکی (٢) : د دوو کسانو په معامله کي پخپله حصه اخيستل . د دې څخه دی فُضُول کوم شی چې په مال غنيمت کي د تقسيم کولو څخه وروسته باقي پاتي سي د دې څخه الفضيلة په معنی دصفت ، زياتوالی ، په فضل کي اوچته مرتبه جمع يې فضائل ده . (فضائل) ده ، تشبع دباب افعال څخه دمضارع واحد حاضر صيغه ده ، اشباع يې مصدر دی په معنی دخوراک سره مړول . د دې څخه دی (الشِّبْعُ او الشِّبَعُ) په معنی د دومره خوراک کولو چې موسي اود دې څخه دی (اَلشَّبَاعَةُ) دمړېدلو څخه وروسته پاتي سوی خوراک (کبد) په معنی دځيګر او اينې سره دی دادباب دنصر اوضرب څخه په معنی دسينه باندي دوهلو ده . دالفظ په دری طريقو ويل کيږي (کَبِدٌ کَبْدٌ کِبْدٌ) د دروواړو معنی يوه ده جمع يې (اَکْبَادٌ او کُبُودٌ) راځي دا د دې واړه لفظون مؤنث اومذکر دواړو طريقو سره استعماليږي . جائعا دا دصفت صيغه ده په معنی داوږی ، دنصر دباب څخه استعمال سوی دی ، جوعًا او مَجَاعَةً يې مصدر راځي په معنی داوږي کېدلو سره . **ترکيب** :

(افضل الصدقة) مضاف اومضاف اليه ، (ان) ناصبه مصدريه (تُشْبِعَ) فعل انت فاعل كبدًا موصوف ،جائعايې صفت موصوف سره دصف نه مفعول به ، فعل سره دفاعل اوسره مفعول به نه په تاويل دمصدر سره خبر دمبتداء ،مبتداء سره دخبر نه جمله اسميه خبريه سوه .

(٥٥) مَنْهُوْمَانِ لَايُشْبِعَانِ مَنْهُوْمٌ فِي الْعِلْمِ لَايُشْبِعُ مِنْهُ وَمَنْهُوْمٌ فِي الدُّنْيَا لَايُشْبِعُ مِنْهَا:

(بيهقي، تخريج مشكوة صفحه ٣٧ عن انس بن مالک رضي الله عنه مرفوعا)

ژباړه :دوه حريصان نه مړيږي يوپه علم کي حريص چي دده ددې څخه خيټه نه ډکيږي اويو ددنيا حريص چي دده ددنيا څخه خيټه نه ډکيږي **توضيح** : دوه لالچيان داسي دي چي د دوی کله هم خيټه نه ډکيږی (١) : يولالچي دعلم دی چی هغه داغواړي چي زه نور علم حاصل کړم علم خوسمندر دی ،دعالم خو ديوځاځکي په شان نسبت وي علم سره چي دچاځومره زيات لالچ وي هغومره به هغومره شوق سره زيات نه زيات علم حاصلوی ليکن خيټه به يې بياهم نه ډکيږي ځکه چي علم خودسمندر نوم دی البته ددې لالچ وي چي پيسې وګټم وغيره وغيره ،دده هم چيرې خيټه نښه نه ډکيږي ،څه يې ګټلی وي اونوره يې زړه غواړي ،غرض داچي دنيا پسې لګيدلی وي نودا لالچ ډيرېد لالچ دی ، جهنم ته بوتلونکی لالچ دی.

اللهم احفظنا في حفظک يارحمن الدنيا ويارحيم الاخرة

لغوي اوصرفي تحقيق : منهومان داصيغه داسم فاعل ده . ددې څخه مراد دوه حريصان دی ،ددې باقي تحقيق په حديث نمبر (٤٢) کي په لفظ دُنهمة کي تيرسوی دی ، ديشبعان تحقيق په تيرسوي حديث کي سوی دی ، په دې حديث کي نوی لفظ نسته چي دهغه لغوي اوصرفي تحقيق وکړی سي.

ترکيب : (منهومان) مبتداء (چونکه دانکره مخصوصه ده په دې وجه يې مبتداء ګرځول صحيح دی) (لايشبعان) فعل په دې کي الف ضمير يې فاعل ، فعل سره دفاعل خبر ، مبتداء سره دخبر نه جمله اسميه خبريه مفسر . (منهوم) صيغه داسم مفعول هو ضمير په کي هغه يې نائب فاعل .(فی العلم) جار اومجرور ،جار سره دمجرور نه متعلق په اسم مفعول پوري ، اسم مفعول سره دنائب فاعل نه اوسره دمتعلق مبتداء . (لايشبع) فعل هوضمير په کي هغه يې فاعل . (منه) جار اومجرور ، جار سره دمجرور نه متعلق په فعل پوري ،فعل سره دخپل فاعل اوسره متعلق نه خبر ،مبتداء سره دخپل خبر نه بيا خبر دمبتداء محذوف لپاره چي احدها دی ، مبتداء سره دخپل خبر نه معطوف عليه (دوړاندي جملې هم دغه شان وکړی) معطوف ،معطوف عليه سره دمعطوف نه تفسير ،مفسر سره د تفسير نه جمله تفسيريه سوه .

(٥٦) اَفْضَلُ الْجِهَادِ مَنْ قَالَ كَلِمَةَ حَقٍّ عِنْدَ سُلْطَانٍ جَائِرٍ:

(ترمذی، تخريج مشكوة صفحه ٣٢٢ س ١٣ عن ابی سعد رضي الله عنه مرفوعا)

ژباړه :غوره جهاد دادی چې څوک ووايي حق خبره ظالم بادشاه سره **توضيح** : چونکه دبادشاه مخي ته ورتلل اوحق خبره کول ډير مشکل وي اوزيات خلق دبادشاه په مخکي حق خبره نه کوي ،نن صبا خاصکر دبادشاه په وړاندي حق خبره کول ډير زيات مشکل دی ، ددې وجي څخه نبي کريم ﷺ دې حق خبري ويلو ته افضل الجهاد يعني غوره جهاد وفرمايه دافضل دلفظ څخه دانه معلوميږي چې همدا افضل جهاد دی بلکه ددې څخه دامعلوميږي چې داهم افضل جهاد دی .

لغوي اوصرفي تحقيق :دافضل تحقيق په حديث نمبر (۴۵) کي اود الجهاد تحقيق په حديث نمبر (۳۶) کي تيرسوی دی، قال دادنصر دباب څخه دماضي مطلق واحد غائب صيغه ده ،

قَوْلاً وَقَالاً وَقِيلاً وَقَوْلَةً وَمَقَالاً وَمَقَالَةً يې مصادر دی ،په معنی دخبري، کلام هم ددې څخه دی ،قول په معنی د لفظ ،خبري اوکلام جمع يې اقوال اوجمع الجمع يې اقاويل . ده هم ددې څخه دی القوّال په معنی غزلي ويونکی ،اوهم ددې څخه دی التّقوالة په معنی دخوږ کلام کولو والا . کلمة مفرددی په معنی دلفظ سره ددې جع کَلِمٌ راځي.عند اسم ظرف دی دامادہ دباب نصر اوضرب اوکرم څخه مستعمل ده ، په معنی د تجاوز کولو سره،(حدنه تيريدل) لري کيدل،مائل کيدل ، هم ددې څخه دی العند په معنی د زړه.معقول او ددې څخه دی اَلعَنَدُ) په معنی دطرف ، غاړي . سلطان په معنی د(حجت اودليل . قدرت . اقتدار. بادشاه . ددې ماده سَلِطَ ده په وزن دسمع مصدر يې سَلَاطَةً اوسُلُوطَةً راځي په معنی دژبي اوږدیدل .جائر دنصر دباب څخه داسم فاعل صيغه ده جوراً يې مصدر دی په معنی دظلم کولو ، ددې څخه دی الجوار په معنی دګاونډي . اوالجوار . په معنی دجورو اوبو ، او جار په معنی دګاونډي جمع يې جيران راځي .

ترکيب : (افضل الجهاد) مضاف اومضاف اليه ، مضاف سره دمضاف اليه نه مبتداء . (من) موصول (قال) فعل ضمير دهو په کي دی هغه يې فاعل (کلمة حق) مضاف اومضاف اليه ،مضاف سره دمضاف اليه نه مفعول به ، (عند) مضاف (سلطان جائر) موصوف اوصفت ، موصوف سره دصفت نه مضاف اليه ، مضاف سره دمضاف اليه نه مفعول فيه ، فعل سره دخپل فاعل اوسره دمقولې (مفعول به) نه اوسره دمفعول فيه جمله فعليه خبريه صله دموصول ،موصول سره دخپلي صلې نه خبر دمبتداء ، مبتداء سره خبر نه جمله اسميه خبريه سوه .

(۵۷) لَغَدْوَةٌ فِي سَبِيْلِ اللهِ اَوْ رَوْحَةٌ خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيْهَا:

بخاري ومسلم، تخريج مشکوة صفحه ۳۲۹ س ۱۶ عن انس رضي الله عنه مرفوعا)

ژباړه : يوسهار په جهاد کي تلل يا يوماښام ،بهتر دی ددينا څخه اودهغه څه څخه کوم چې په دې دنيا کي دي. **توضيح**: په جهاد کي دلږ شان وخت لګولو ثواب دومره دی چې دټولي دنيا څخه بهتر دی اوپه دنيا کي چې څه هم دی سره زر، سپين زر ،هيرې اوجواهرات وغيره وغيره ،دټولو څخه بهتر دی ،نوځومره وخت چې زيات ولګيږي نودهغه دثواب حساب نسي کيدی دلته خودصبا يا ماښام دوخت

بیان دی یعني د ورځي نیمه اوله حصه په غدوة کي شامله ده اود ورځي دویمه حصه په روحة کي شامله ده ، داحدیث دجهاد ډیرلوی فضیلت بیانوي دغه شان دجهاد نورهم فضائل سته دی مثلا په بل حدیث کي داهم راځي چي یوه ورځ اوپه په جهاد کي جوکیداري کول ددنیا اوڅه چي په دنیا کي دي ددې څخه بهتره ده ،هم په دې کتاب (زادالطالبین) کي دجهاد دفضیلت په باره کي په مختلفو ځایونو کي (حدیثونه راځي) ،یوحدیث به :من جهز غازیا .الخ راسي اوبل:من مات ولم یغز.الخ به راسي ،جهاد ددین په غټو شعبو کي یوه شعبه ده ، دجهاد څخه انکار کونکی کافر دی اودجهاد کېدلو په وخت کي که چیري دتللو طرف توجه ونکړي یا یې (دهغه په باره کي) سوچ ونه کړو نوداسي منافق دی ،جهاد فرض کفایه ده که چیري دوخت بادشاه اعلان وکړي نوبیافرض عین کیږي ،بهرحال دجهادشوق اوجذبه هم دهرمؤمن په زړه کي کېدل پکار دي . **لغوي اوصرفي تحقیق** : غدوة مصدر دی دنصر دباب څخه غُدُوٌ یې هم مصدر راځي په معنی د (۱):دسهار تلل . (۲):مطلقا تګ .غدا په معنی دسهار سره هم مستعمل دی ،اسم ته رفع اوخبر ته نصب ورکوي دادسمع دباب څخه هم مستعمل دی ،غذا مصدر دی په معنی دسهار دخوراک دغدوة جمع غدیٌ اوغدوٌ راځي . ددې څخه دی الغداء په معنی دسهارخوراک جمع یې اغدیة ده .اوغادی په معنی دزمري .سبیل ددې معنی ده لاره یافراخ سړک داپه مذکر اومؤنث دواړو کي استعمال دی . ددې جمع سبلٌ وسبلاً واسبلٌ واسبلة وسبولٌ راځي ددې څخه دی سبیل الله په معنی د(۱): جهاد (۲): دعلم طلب . (۳): حج .(۴): هرپودخبرحکم چي دهغه امرالله تعالی کړی وي ، دامادہ دنصر دباب څخه مستعمل ده .سبلا یې مصدر راځي په معنی دښکنځلو ،روحة په معنی دمابنام وخت کي تلل یا راتلل ،یاکار کول ،دادنصر دباب څخه مستعمل دی ، روحانی مصدر راځي . ددې څخه دی روح په معنی دروح اوددې څخه دی ریح په معنی دهوا . ددواړو جمع ارواح راځي . **ترکیب** :(ل)ابتدائیه غدوة موصوف.(فی) جار(سبیل الله)مضاف اومضاف الیه ،مضاف سره د مضاف الیه نه مجرور دجار جارسره دمجرور نه متعلق په ثابتة پوري ،ثابتة اسم فاعل هی ضمیر په کي دی هغه یې فاعل ،فعل سره دفاعل اوسره دمتعلق نه شبه جمله صفت دموصوف ،موصوف سره دصفت نه معطوف علیه،(او)حرف عاطفه (روحة)معطوف،معطوف علیه سره دمعطوف نه مبتداء،خبر اسم تفضیل (من)جار(الدنیا) معطوف علیه،(واو) عاطفه (ما) موصول(فی) جار(ها)مجرور ،جارسره دمجرور نه متعلق په ثبت پوري ، ثبت فعل سره دخپل فاعل نه چي ضمیر د هو دی اوسره دمتعلق نه صله دموصول ،موصول سره د صلې نه معطوف ، معطوف علیه سره دمعطوف نه مجرور دجار ، جارسره دمجرور نه متعلق په اسم تفضیل پوري ، اسم تفضیل سره دخپل فاعل نه (چي هوضمیر دی) اوسره دمتعلق نه خبر دمبتداء ،مبتداء سره دخبر نه جمله اسمیه خبریه سوه .

(۵۶) فَقِیْهٌ وَاحِدٌ اَشَدُّ عَلَی الشَّیْطَانِ مِنْ اَلْفِ عَابِدٍ : ترمذی، تخریج مشکوة صفحه ۳۴ س ۱۴ عن ابن عباس رضی الله عنه مرفوعا

ژباړه : یوفقیه زیات سخت دی په شیطان باندې د زرو عابدانو څخه . **توضیح** :دفقیه دوه مصداقه دي (۱): اول :مجتهد کوم چې په خپله د قرآن او حدیث څخه د مسائلو د تخریج استعداد او قابلیت لري (یاد ولرئ چې د مخکنیو څلور صدیو څخه وروسته څوک مجتهد نن پورې نه دی ،خو داده چې قیامت ته نږدی حضرت مهدی علیه السلام او حضرت عیسی علیه السلام په جتهد جوړسوی راي ،یو مجدد بل وي او هغه دهري صدی لپاره جلاجلا راځي (۲): بل لوی عالم یعني چې کامل مفتنی هم وي ،په هرصورت مطلب دادی چې یوفقیه یوطرف ته زرعابدان بل طرف ته ،دا زرعابدان شیطان ته دومره سخت نه دی لکه څومره چې یوفقیه ورته سخت وي ،یعني شیطان ته زرعابدان دهوکه کول آسان دی په نسبت دیو فقیه ،چې دده دهوکه کول ډیر مشکل دی ،دشیطان لپاره وجه یې داده چې فقیه دشیطان دهوکې ورکولو څخه خبردار وي ،ددې وجې څخه دهغه په پنجره کې نه ګیریږي په خلاف دعابدانو چې داغریبان یوائي په عبادت کې اخته وي دوی ته پته نه وي چې شیطان به په دې طریقه دهوکه کوي ،ددې دامطلب نه دی چې فقیه عبادت نه کوي بلکه فقیه هم بنه عبادت کوي لیکن یوفضیلت داهم لري دشیطان ددهوکې ورکولو طریقه هم پیژني . **لغوي او صرفي تحقیق** : فقیه په معنی د(۱):عالم .(۲) :ذهین (۳):دفقهي په علم پوهیدونکی (۴):ډیر پوهه لروکی . ددې جمع فقهاء راځي دادسمع او کرم دباب څخه مستعمل دی دواحد تحقیق په حدیث نمبر(۴۱)اوداشد تحقیق په حدیث(۱۶) کې تیرسوی دی . الشیطان په معنی د(۱): خراب روح (۲): هرسرکشه اونافرمان اګرکه په انسانانو کې وي یاپیریانو یاځناورو کې ،ددې جمع شیاطین راځي اودادنصر دباب څخه مستعمل دی ، شطنا یې مصدر دی په معنی د(۱): مخالفت کول .(۲): لري کول (۳):په رسۍ تړل .دالف تحقیق په معنی د(۱) : الله تعالی یوګنړل . (۲): عبادت کول .(۳): خدمت کول(۴):ذلیله کول اوکرم دباب څخه هم راغلی دی په معنی د پلار نیکه نه په غلامی کې راتلل . مصدر یې (عِبَادَةً وَعَبُودَةً وَعُبُودَةً وَعُبُودِيَّةً وَمَعبَدًا) وغیره راځي . ددې څخه دی عبدا په معنی دغلام یعني نوکر انسان جمع یې اَعبد وعَبِیدٌ وَاَعبَادٌ وعُبدَانٌ وعِبدَانٌ راځي اوجمع الجمع یې اعابد اومعابد راځي ددې څخه دی معبد په معنی دبیلچې جمع یې معابد راځي . **ترکیب** :(فقیه واحد) موصوف صفت ، موصوف سره دصفت نه مبتداء . (اشد)اسم تفضیل.په دې کې هوضمیر دی هغه یې فاعل .(علی الشیطان) جاراومجرور .جار سره دمجرور نه متعلق اول سوداشد ،(من) جار(الف) مضاف عابد یې مضاف الیه . مضاف سره دمضاف الیه نه مجرور دجار ،جار سره دمجرور نه متعلق ثانی سو په اشد پورې ،اشداسم تفضیل سره دخپل عامله اوسره د دواړو متعلقو خبر ، مبتداء سره دخپل خبر نه جمله اسمیه خبریه سوه .

(۵۹)طُوبٰی لِمَنْ وَجَدَ فِی صَحِیْفَتِهٖ اِسْتِغْفَارًا کَثِیْرًا :

ابن ماجه، تخریج مشکوة صفحه ۲۰۶ س ۵ عن عبد الله بن بسر رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه : خوشخبري ده هغه کس لپاره چاچې بیاموندلو په خپله اعمال نامه کې ډیر زیات استغفار

توضیح :یعني څوک چې استغفارزیات کوی بلکه استغفار خپل عادت جوړ کړي نودهغه خوتول ګناهونه معاف کیږي اوکه چې مړسي اوعمل نامه وویني نوهغه وخت به دومره خوشحاله سي ،چې دهغه څه حساب نسته ،اوس دا زموږ لپاره زیری دی چې موږ ته داوس څخه ښودلی سوی دی چې موږ استغفار زیات کړو هغه خوشحالي اوزیري حاصل کړو چې کوم به په زیات استغفار ملاویږي ،په یو روایت کي راځي چې نبي کریم ﷺ به روزانه سل ځل استغفار کولو ولي؟زموږ د تعلیم لپاره یې داسي کول چې موږ هم چې ځان ته امتیان وایو داسي عمل وکړو. **لغوي اوصرفي تحقیق** :طوبی په معنی د(۱):زیري (۲):پسخیدل(۳):نیک بختی(۴):خیر دادضرب دباب څخه استعمال دی. طِيبًا وَطَابًا وَطِيبَةً وَتَطيابًا یې مصادر راځي په معنی دښه کېدلو ددې څخه دی الطیب په معنی دخوشبوئي جمع یې اطیاب اوطوب ده . ددې څخه دی الطابة په معنی دشراب ددې څخه دی الطیب په معنی د پاکیزه،ښه اوحلال سره ددې څخه مؤنث طیبة دی . ددې جمع طیباب اوطوبی دی ، وجد دباب ضرب نه دماضي مطلق واحد غائب صیغه ده په معنی دموندلو . ددې څخه دی وجدان په معنی دخپل شوق سره یوشئ حاصلول .صحیفة په معنی د(۱): لیکلی شوی کاغذ(۲):ورق(پاڼه)دلته مراد اعمال نامه ده . ددې جمع صحائف اوصحف راځي . داپه مجردو کي نه استعمالیږي اوپه مزیدو کي دتفعیل اوافعال اوتفعل دباب څخه استعمالیږي . ددې څخه دی الصحفة په معنی د دومره لوی کاسې چې په هغه باندې پنځه کسان مړیږي ،جمع یې صحاف ده ددې څخه دی الصحافة په معنی داخبار لیکلو اوددې څخه اَلْمُصْحَفُ وَالْمَصْحَف وَالْمِصْحَف په معنی د(۱): کتاب (۲):مجلد کتاب(۳):قرآن مجید . ددې جمع مصاحف ده ،استغفار دادباب اِستفعال څخه مصدر دی په معنی دګناهونو بخښنه غوښتل ،په مجردو کي دسمع اوضرب دباب څخه استعمال سوی دی ،په معنی د پټولو ددې څخه الغفار الغفور په معنی دډیر بخښلو والا . ددې څخه دی (اَلْغِفْرُ) په معنی دغوابچی . اوددې څخه دی اَلْغَفْرُ په معنی دهغه چاچي دهغ ه په څټ کي واړه واړه ویښتان وي ،دکثیراً تحقیق په حدیث نمبر(۴۸) کي تیرسوی دی. **ترکیب** :طوبی مبتداء (ل) جار (من) موصول (وجد) فعل ، هوضمیر یې فاعل .(فی) جار (صحیفته) مضاف اومضاف الیه ، مضاف سره دمضاف الیه نه مجرور دجار ، جار سره دمجرور نه متعلق په وجد پوري .(استغفار کثیرا) موصوف صفت ،موصوف سره دصفت معفول به ،فعل سره دفاعله اوسره دمفعول به نه اوسره دمتعلق نه جمله فعلیه خبریه صله دموصول ،موصول سره دصلې نه مجرور دجار، جارسره دمجرور نه متعلق په ثابتة پوري ،(طوبی) چونکه مونث دی ددې وجي څخه متعلق به یې مونث راځي ،ثابتة اسم فاعل په دې کي ضمیر دهی دی هغه فاعل ،اسم فاعل سره دفاعل نه اوسره دمتعلق نه خبر دمبتداء ،مبتداء سره دخبر نه جمله اسمیه خبریه سوه .

(۶۰) رِضَى الرَّبِّ فِي رِضَى الْوَالِدِ وَسَخَطُ الرَّبِّ فِي سَخَطِ الْوَالِد:

تخریج مشکوة صفحه ۴۱۹ س ۳۵ عن عبدالله بن عمرو رضی الله عنه مرفوعا **ژباړه**: دالله تعالی رضامندي دپلار په رضامندي کي ده اودالله تعالی ناراضګي دپلار په ناراضګی کي ده.

توضیح : الله تعالی هغه وخت راضي کیږي کله چې دایمان سره نیک اعمال هم وي او حقوق العباد هم صحیح وي خاصکر دمور پلار او پلار سره چې په کوم کار کي مور او پلار خوشحالیږي په هغه کار کي الله تعالی هم خوشحالیږي ، قرآن کریم چې چیرته دشرک څخه دبیزار کېدو بنوونه کړی ده نو هلته یې داهم بنودلي دي چې دمور او پلار سره بنه سلوک کوی . (اف) ورته هم مه کوی یعني هره (جائزه) خبره یې منی . ددې څخه معلومه سوه چې مور او پلار په حقوق العباد کي په خاصو کي خاص دی او په دې حدیث او په نورو حدیثونو کي تصریح هم راغلی ده چې الله تعالی راضي کیږي هغه وخت کله چې پلار راضي .

پوښتنه : ایا دمور دخفګان په صورت کي الله تعالی راضي کیږي ؟ لکه څنګه چې دحدیث دظاهر څخه معلومیږي ، ځکه چې دموریې بالکل ذکر ونه کړو ؟ **اول جواب** : دمور ذکر طبعا راغلی دی . دویم جواب : دوالد په ماده کي والده هم راځي . دریم جواب : دمور ذکر دنورو روایاتو څخه معلومیږي .

لغوي او صرفي تحقیق : رضی مصدر دی دسمع دباب څخه اَوْرُضِیَ وَرَضُوَانًا وَرِضْوَانًا بې مصادر راځي په معنی دراضي کېدلو او خوشحالیدو . ددې څخه دی الرضاء په معنی درضامندی او ددې څخه دی الرضی په معنی د (۱) عاشق (۲) کمزوري . درب تحقیق په مقدمة کي تیرسوی دی او دوالد تحقیق په حدیث نمبر (۳۱) کي تیرسوی دی . سخط په معنی دناراضکی او غصې ددې هم معنی سُخْطٌ او سَخَطٌ دی دادباب دسمع څخه مستعمل دی . ددې څخه دی مسخوط په معنی دمکروه سره .

ترکیب : (رضی الرب) مضاف اومضاف الیه . مضاف سره دمضاف الیه نه مبتداء (فی) جار (رضی الوالد) مضاف اومضاف الیه ، مضاف سره دمضاف الیه نه مجرور دجار . جار سره دمجرور نه متعلق په ثابت پوري ، ثابت اسم فاعل ضمیر دهوپکي دی هغه یې فاعل ، اسم فاعل سره دخپل فاعل نه اوسره دمتعلق نه خبر دمبتداء ، مبتداء سره دخبر نه جمله اسمیه خبریه معطوف علیه ، (واو) عاطفه (سخط الرب) مضاف اومضاف الیه ، مضاف سره دمضاف الیه نه مجرور دجار ، جار سره دمجرور نه متعلق په ثابت پوري ، ثابت اسم فاعل په دې کي ضمیر دهو دیهغه یې فاعل . اسم فاعل سره دخپل فاعل نه اوسره دمتعلق نه خبر دمبتداء ، مبتداء سره دخبر نه جمله اسمیه خبریه معطوف ، معطوف علیه سره دخپل معطوف نه جمله معطوفه سوه .

(۶۱) حَقُّ کَبِیْرِ الْاِخْوَةِ عَلٰی صَغِیْرِهِمْ حَقُّ الْوَالِدِ عَلٰی وَلَدِهٖ (بیهقی)

(تخریج مشکوة صفحه ۴۲۱ س ۱۹ عن سعید بن العاص رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه : په ورونو کي دمشر (ورور) حق په کشرانو باندي هغه دی کوم حق چې دپلار دی په خپل اولاد باندي . **توضیح** : دمشر ورور حق په کشر باندي داسي لکه دپلار حق په خپل زوی باندي یعني مشر ورور ته پکار دی چې دکشر ورو داسي خیال وساتي لکه څنګه چې پلار دزوی خیال ساتي چې تربیت و غیره یې کوی او کشر ورو ته هم پکار دی چې خپل ځان څخه دمشر ورو داسي خیال وساتی لکه څنګه چې

دپلار خيال ساتلی سي چي ادب واحترام يې کولی سي . **پوښتنه** :آيادمشري خوري حق په کشري خوربانديي نسته دی که چيري وي نوييايې ولي ذکر نکړو؟ **جواب** : اصل سړی دی ځکه دهغوی ذکر کافی دی ،ښځي پکي تبعا راغلی ده . **لغوي اوصرفي تحقيق** : حق په معنی د(۱) : رښتينا .(۲) :انصاف . (۳) : دمال حصه .(۴) :يقين .(۵) : هوښيارتوب .(۶) : مرګ . جمع يې حقوق ده ، دادباب دنصر اوضرب اوسمع څخه استعمال دی په معنی دثابت کېدلو اوواجب کېدلو . ددې څخه دی الحقة په معنی د(۱) : وړوکي لوښي .(۲) :مصيبت .(۳) : ښځه جمع يې حق اوحقق اوحقاق ده . ددې څخه دی الحقة په معنی دواجب حق .الحقيق په معنی دلائق جمع يې احقاؤ ده اوالحقيقة په معنی دواجب الحمايت شئ ،کبير په معنی دلوی (مشر) جمع يې کبار اوکبراء ،دادسمع اونصر دباب څخه استعمال سوی دی . کَبُرَ اومَکبَرَ يې مصادر دي په معنی دلوی ګناه او ددې څخه دی الکبر اوالکبرة اوالکبيرة په معنی دبوډاوالي اوددې څخه دی الکبر په معنی دلوی لوتي ،داخوة تحقيق په حديث نمبر(۴۰) کې تيرسوی دی صغير په معنی د وړوکی دادباب دسمع کرم اونصر څخه دی ، صَغَرًا ،صِغَرًا صُغرَانًا ،صَغَارٌ وصَغَارَةٌ يې مصادر راځي په معنی د(۱) : وړوکي کېدلو سره (۲) :ذليلکه کېدل ددې څخه الصغر په معنی د(۱) : کمي (۲) : ظلم (۳) : ذلت اوسپکاوی ، کمزوری .

ترکيب :حق کبير) مضاف اومضاف اليه (لاخوة) مضاف اليه ،مضاف سره دمضاف اليه نه بيا مضاف اليه سو ، دوه ذوالحال ،(علی) جار (صغير) مضاف (هم) مضاف اليه .مضاف سره دمضاف اليه مجرور ،جارسره دمجرورنه متعلق په ثابت پوري ثابتا اسم فاعل سره دخپل فاعل نه چي (هو) ضميردی اوسره دمتعلق نه حال ،حال سره دذوالحال څخه مبتداء ،(حق) مضاف (الوالد) مضاف اليه ،مضاف سره دمضاف اليه نه ذوالحال .(ولد) مضاف (ه) مضاف اليه ،مضاف سره دمضاف اليه نه مجرور ،جارسره دمجرورنه متعلق په ثابتا پوري ،ثابتا اسم فاعل سره دخپل فاعل نه چي (هو) ضميردی اوسره دمتعلق نه حال ،حال سره دذوالحال نه خبر ، مبتداء سره دخبرنه جمله اسميه خبريه سوه .

(۶۳) كُلُّ بَنِيْ آدَمَ خَطَّاءٌ وَخَيْرُ الْخَطَّائِيْنَ التَّوَّابُوْنَ: ترمذی،تخريج مشکوة صفحه ۲۰۴/۲ عن انس رضی الله عنه مرفوعا

ژباړه :هرسړی غلطی کونکی دی اوغوره په غلطي کونکو کي هغه خلګ دی چي توبه کونکی دی .

توضيح : هرانسان غلطي کوي ليکن غلطي کونکو کي بهترخلګ هغه دی کوم چي دغلطئ څخه وروسته بنه طريقه باندي توبه وباسي . **دتوبې تعريف** : په تيره سوي ګناه پښيمانتيا اوسمدستي دګناه څخه ځان ساتل ، اوبيالپاره دګناهونو څخه بچ کېدلو لپاره کلکه اراده کول ، توبه ده بيا په توبه کي درو شيانو کي اصل شئ پښيمانتيا ده چي سړی ډير زيات شرمنده سي دګناه کولو څخه وروسته اوپريشانه شي اودمغفرت په فکر کي لګياسي اويقين ساتي چي معافي راته کيږي اوفی الحال ګناه نه

کوي اوبيا لپاره دګناه څخه دېچ کېدلو پخه اراده وکړي اوکوشش سره ځان ساتي نوتوبه سمدستي قبليږي دانه وي چې سړی داسوچ کوي چې الله تعالی ډير رحيم اوکريم دی اوګناه کوي ،ګناه سمدستي پرېښودل اوبياسوچ کول پکار دی چې هغه ډير رحيم اوکريم دی معافي به وکړي . ددې لپاره يې وفرمايل چې هرانسان غلطي کوي ليکن ددغه غلطی کونکو نه کوم چې دغلطي څخه وروسته هډو دتوبې فکر نه کوي ،دادحديث مطلب دی ،دامطلب نه دی چې هرسړی غلطي کوي نومورږيې هم کوو دچاګناه کول دبل لپاره دجائز کېدلو دليل نه ګرځي . ددې وجي څخه ډير ګناهونه کوم چې نن صبا دوجي نه کيږي چې فلانکی داسي کوي نومورږيې ولي نه کوو ؟دابالکل غلطه خبره ده ځکه چې دهرانسان عملونه دهغه سره داودهرچا قبر جلاجلا دی دې نه دهرانسان غلطي اوتوبه جلاجلا ده .

لغوي اوصرفي تحقيق : دکل تحقيق په حديث نمبر (۴۱) کې تيرسوی دی ،بنی په معنی دزامنو داجمع ددې مفرد بنی رائي په معنی دخورږوی ، داماده دضرب يضرب څخه مستعمل ده . بَنيًا وبِنَاءً وبُنْيَانًا وبِنَايَةً يې مصادر رائي په معنی د(۱) : جوړولو (۲) : تعميرکولو . ددې څخه دی ابن په معنی دزوی اوبنت په معنی دلور ،آدم دادآدم ﷺ نوم دی . ددې معنی ده غنم رنګي دادضرب اوسمع اوکرم څخه استعمال دی په معنی دغنم رنګه کېدلو سره ، ددې څخه دی اِدامٌ په معنی دترکاری (کتغ) سره تجمع ادم اواُدم ده ددې څخه دی اَدم په معنی دهرهغه شئ چې دهغه څخه ترکاري جوړه کړل سي اوادم په معنی دځرمني د دننه اوبهر حصه . **ترکيب** : (کل بنی) مضاف اومضاف اليه . مضاف (ادم) مضاف اليه ،مضاف سره دخپل مضاف اليه نه مضاف اليه ، دکل . کل سره دمضاف اليه نه مبتداء ، (خطاء) يې خبر مبتداء سره دخبر نه جمله اسميه خبريه معطوف عليه . (واو) عاطفه (خير الخطائين) مضاف اومضاف اليه ، مضاف سره دمضاف اليه نه مبتداء (التوابون) يې خبر ،مبتداء سره دخبر نه جمله اسميه خبريه معطوف ،معطوف عليه سره دمعطوف نه جمله معطوفه سوه .

(۳) كَمْ مِنْ صَائِمٍ لَيْسَ لَهُ مِنْ صِيَامِهِ إِلاَّ الظَّمَأُ وَكَمْ مِنْ قَائِمٍ لَيْسَ لَهُ مِنْ قِيَامِهِ إِلاَّ السَّهَرُ

(دارمی، تخريج مشکوة صفحه ۱۷۷ س ۹ عن ابی هريرة رضی الله عنه مرفوعا .

ژباړه : ډير روژه دار داسي دی چې نسته دهغوی لپاره دهغوي په روژو سره ليکن تنده اوډير درېدونکی داسي چې نسته هغوی لپاره دهغوی په ودرېدو سره ليکن ويښيدل **توضيح** : دحديث مطلب دادی چې ډيرروژه دار داسي دي کله چې هغوی روژې نيسي نو ترڅو پوري يې چې په اخلاص سره نه وي نيولی اودګناهونو څخه ځان ونه ساتي نوهغه وخته پوري د دوی روژه صرف اوصرف تږي پاتي کېدل دی يعني ثواب به هغه وخت ملاويږي کله چې اخلاص وي اوګناهونه ورسره نه وي ، درواغ ،تهمت لګول اوغيبت وغيره نه وي دغه شان دشپې په عبادت کې درېدونکی هم هغه وخته پوري څه فائده نسته ترڅو چې اخلاص نه وي اوچه اخلاص وي نودشپې ودرېدل به يې په عبادت کې شميرل کيږي اوکه داسي نه وي نوصرف اوصرف وښيدل دی په دې کې هيڅ ثواب نسته دګناه خطره ده کله چې

ریاوي یابله څه ګناه کوي فضول خبري اوغیبت وغیره کوي ،بهرحال هر کار اخلاص ، تواضح ، اوآرام سره کول پکار دي ځکه چې نبي کریم ﷺ هم موږ ته خبرا کوي چې ګوری ډیر خپلې روژې خرابوی اوډیر خلک تولهشپه ودریږي بیاهم ورته فائده نه وي تاسو داسي مه کوی . **لغوي او صرفي تحقیق :** دکم دوه قسمونه دی اول استفهامیه یعني انشائیه ددې ممیز منصوب دی لکه کم (ساعةً عندک) تاسرح څه وخت دی .دویم خبریه په معنی ډیروالي . ددې ممیز مجرور وي لکه کَم عَبدٍ مَلَکتُ . معنی یې داده چې ډیرو غلامانو مالک یم ،داماده دباب دنصر څخه مستعمل دی ،مضاعف دی په معنی دپتولو ،دصائم تحقیق په حدیث (۳۱) کي تیرسوی دی ، الظماء مصدر دی دباب دسمع څخه په معنی دتږي کیدلو . ظما اوظماء اوظماة اوظماءة یې هم مصادر دی ،قائم تحقیق په حدیث (۲۵) کي تیرسوی دی ، السهرة په معنی دشپې بیدار اوسیدلو ،دا دسمع دباب څخه مستعمل دی . ددې څخه دی السهار والسهرة په معنی ډیر بیدا اوسیدونکی. **ترکیب :** (کم) ممیز مضاف (من) زائده (صائم) مضاف الیه، مضاف سره دمضاف الیه نه مبتداء ، (لیس) فعل دافعال ناقصه ؤ څخه (له) جار اومجرور ، جار سره دمجرور نه متعلق اول سو ثابتا پوري (من) جار (صیامه) مضاف اومضاف الیه ، مضاف سره دمضاف الیه نه مجرور دجار ، جار سره دمجرور نه متعلق ثانی په ثابتا پوري. ثابتا اسم فاعل په دې کي ضمیر دهو دی هغه یې فاعل ،اسم فاعل سره دخپل فاعل نه اوسره ددواړو متعلقینونه دلیس خبر مقدم . (الا) حرف استثناء لغو (الظماء) اسم دلیس ،لیس سره دخپل اسم اوخبر نه جمله اسمیه خبریه معطوف علیه سوه ،(واو) عاطفه (کم) ممیز مضاف (من) زائده (قائم) تمیز ،مضاف ،مضاف سره دمضاف الیه نه مبتداء لیس فعل دافعال ناقصه ؤ څخه (ل) جار (ه) مجرور ، جار سره دمجرور نه متعلق په ثابت پوري ،(من) جار (قیامه) مضاف اومضاف الیه ،مضاف سره دمضاف الیه نه مجرور دجار ، جار سره دمرور نه متعلق ثاتبا پوري ،ثابتا اسم فاعل په دې کي ضمیرد هودی هغه یې فاعل ، اسم فاعل سره دخپل فاعل نه اوسره د دواړو متعلقینو څخه خبر مقدم (الا) حرف استثناء لغو . (السهر) دلیس اسم لیس سره دخپل اسم اوخبر نه جمله اسمیه خبریه معطوف معطوف علیه سره دخپل معطوف نه جمله معطوفه سوه .

(۶۴) مِنْ حُسْنِ اِسْلَامِ الْمَرْءِ تَرْکُه مَالَا یَعْنِیْهِ:

ترمذی احمد وغیرهما، تخریج مشکوة صفحه ۴۱۳ س ۹ عن علی بن حسین رضی الله عنه مرفوعا

ژباړه : دسړي داسلام دښه والي ځیني دادی چې دی پریږدي هغه شئ کوم چې بې فائدې وي .

توضیح : انسان ته هرهغه کار نه دی کول پکار کوم چې بې مقصده وي اګر که دهغی تعلق دویناسره یادعمل سره یاسوچ سره وي یا کتلو سره یعني کامل مسلمان هغه دی کوم چې دفضول خبرو څخه ساتي که چیري کوی یې نوهغه پریږدي، پاتي خولاد ګناه خبري کول څه فضول خبره دژبې څخه ونه کاږي دغه شان څه کار دګناه ونه کړي اودغه شان فضول سوچونه دشیخ چلي په شان نه کوي اودغه شان فضول

یوخوا بل خوا کتلو څخه پرهیز وکړي ،غرض داچي هرهغه شی کوم چي بې فائدې وي هغه پریږدی نوییا انسان کامل مسلمان جوړیدلی سي اومتقی اوالله تعالی ولي جوړیدی سي ترڅو چي یو ګناه هم کوي نوالله تعالی ولي ورته نشي ویلی اوپه یومنټ کي اګر که دسلو کالو څخه ګناهونه وي چي ړښتونی توبه وباسي نوهغه دالله تعالی ولي جوړیدی سي. **لغوي اوصرفي تحقيق** :ترک مصدر دی دنصر دباب څخه په معنی دپرېښودلو څخه دی اَلتَّرکَةُ والتِّرکَةُ والتَّرکَةُ په معنی دپرېښودلی سوی شی ،ددې څخه دمیت ترکه یعنیه دادباب ضرب څخه دمضارع واحد مذکر غائب صیغه ده ،عنایة یې مصدر دی په معنی دمشغول کېدو . ددې څخه دی معنی په معنی دمقصود ، دباقي الفاظو تحقیق تیرسوی دی.

ترکیب:(من) جار (حسن اسلام) مضاف اومضاف الیه دا یې مضاف (المرء) مضاف الیه ،مضاف سره دمضاف الیه نه مضاف الیه سو ،بیا مضاف (اسلام) مضاف الیه نه مجرور دجار ، جار سره دمجرور نه متعلق په ثابت پوري ، ثابت اسم فاعل په دې کي ضمیر دهو دی هغه یې فاعل ،اسم فاعل سره دفاعل نه اوسره دمتعلق نه خبرمقدم ،(ترک) مصدر (ه) فاعل مضاف الیه (ما) موصوله (لایعنی) فعل په دې کي هوضمیر یې فاعل (ه) ضمیر مفعول به ، فعل سره دفاعل اوسره دمفعول به نه مبتداء مؤخر ،مبتداء سره دخبرنه جمله اسمیه خبریه سوه .

(۶۵) اَلَا کُلُّکُمْ رَاعٍ وَکُلُّکُمْ مَسْئُوْلٌ عَنْ رَعِیَّتِهٖ:

(رواه الشیخان والحدیث طویل) (تخریج مشکوة صفحه ۳۲۰ س ۲۵ عن عبدالله بن عمر رضی الله عنهما مرفوعا)

ژباړه : خبردار! په تاسو کي هریو کس نګهبان دی اوپه تاسو کي به دهریو کس څخه پوښتنه کول کیږي دهغه درعایا (ماتحت په باره کي .**توضیح** :هرسړی حفاظت کونکی اونګهبان دی اوکوم ځایونو پوري چي دچا چانګراني وي هغه ځای پوري به ددې په باره کي پوښتنه وي ،دقیامت په ورځ چي داستاپه نګراني کي ؤ ،وښایه تادې څومره په دین باندي لګولی ؤاودین دي ورته ښودلی ؤ؟ ددې جملې څخه وروسته نبي کریم ﷺ مثالونه ورکړی دی اوددې جملې وضاحت اوتشریح یې فرمایلی ده چي امام دخلګو نګران یعني دیني حفاظت کونکی وي دده څخه به دده دماتحتو خلګو په باره کي سوال کول کیږي دقیامت په ورځ دغه شان سړی په خپل کور والو باندي نګران دی دهغه څخه به ددې نګراني په باره کي دقیامت په ورځ تپوس کول کیږي اودغه شان ښځه هم نګرانه ده دخپل خاوند دکور اودبچو چي دهغوی په باره کي به ددې څخه دقیامت په ورځ تپوس کول کیږي ،اودغه شان غلام هم نګران دی دخپل مالک دمال ددغه غلام څخه به ددغه مال په باره کي دقیامت په ورځ پوښتنه کول کیږي ،غرض داچي نبي کریم ﷺ بیا یوځل په اخر کي وفرمایل چي : اَلَا کُلُّکُمْ رَاعٍ وَکُلُّکُمْ مَسْئُوْلٌ عَنْ رَعِیَّتِهٖ. خبردار سی اې انسانانو! چي په تاسو کي هرانسان محافظ اونګران دی اودهریو نه به دهغه دماتحتو په باره کي

دقیامت په ورځ تپوس کول کیږي که چیري انسان دهیڅ شي مالک نه وي مثلا نه یې واده کړی دی چې دښځې نګران سي اونه امام دی چې دخلګو نګران وي وغیره وغیره ،غرض داکه دهیڅ شي مالک نه وي نو دخپل نفس خو مالک دی په دې معنی چې په خپل نفس ورته مکمل اختیار حاصل دی که غواړي نفس صحیح استعمال کړی اوجنتي دي جوړسي او که وغواړي نو نفس دي هلاک کړي اوجهنمي دي جوړسي العیاذ بالله

لغوي اوصرفي تحقیق: راع په معنی دنګران دادضرب څخه داسم فاعل صیغه ده ،رعیا اورعایة اومرعی یې مصادر راځي په معنی دڅاروو په څارګاه (ورشو) کې ځرول حفاظت کول ،ددې څخه دی الرعی په معنی دوښو جمع یې ارعاء ده ددې څخه دی الرعیة په معنی دڅریدونکی څاروی .دویم : دیوبادشاه ماتحت رعیت اوقوم جمع یې رعایا ده ، ددې څخه دی الراعی په معنی د(۱): ډیرمحبت کولو والا. (۲):حاکم.(۳): شپونکی.(۴) : دڅاروو حفاظت کونکی . ددې څلور جمعې راځي .رعاة رعیان اورعاء. **ترکیب** : (الا) حرف تنبیه (کلکم) مضاف اومضاف الیه ،مضاف سره دمضاف الیه نه مبتداء، (راع) یې خبر. مبتداء سره دخبرنه جمله اسمیه خبریه معطوف علیه (واو) عاطفه (کلکم) مضاف اومضاف الیه ، مضاف سره دمضاف الیه نه مبتداء (مسؤل) صیغه داسم مفعول (عن) جار (رعیته) مضاف اومضاف الیه ،مضاف سره دمضاف الیه نه مجرور دجار ،جار سره دمجرور نه متعلق په اسم مفعول پورې .اسم مفعول سره دخپل نائب فاعل نه (چې دهوضمیر دی) اوسره دمتعلق نه خبر دمبتداء ،مبتداء سره دخبرنه جمله اسمیه خبریه معطوف ،معطوف علیه سره دخپل معطوف نه جمله معطوفه سوه .

(۲۲) اَحَبُّ البِلادِ اِلَی اللهِ مَسَاجِدُھا وَاَبْغَضُ البِلادِ اِلَی اللهِ:

مسلم تخریج مشکوة صفحه ۶۸ س ۴ عن ابی هریرة رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه : دښارونو دټولو څخه زیات خوښ ځایونه دالله تعالی په نزد مسجدونه دی اودښارونو دټولو څخه زیات ناخوښه ځایونه ددې ښارونو بازارونه دی . **توضیح** : دټولو څخه زیات خوښ ځایونه دالله تعالی په نزد مسجدونه دی ،ځکه چې په مسجدونو کې انسان ګناه نه کوي بلکه نیکي کوي اوپه ښارونو کې په محلو کې دټولو څخه زیات ناخوښه ځایونه بازارونه دی ځکه چې په بازار کې قسم قسم ګناهونه کیږي دادځایونو په اعتبار سره دی چې مسجدونه دالله تعالی خوښ ځایونه دی اوبازارونه دالله تعالی ناخوښه ځایونه دی اودغه شان مسجدونه درحمت اوفرشتو ځایونه دی اوبازارونه دغصې اودشیطان ځایونه دی . **لغوي اوصرفي تحقیق** : البلاد جمع دبلد ده اوبلدان یې هم جمع راځي معنی یې داده چې کوم ځای آباد وي او که غیر آباد دادباب دنصر ،سمع اوکرم څخه استعمال سوی دی په عنی دیوځای کې اوسیدل ،کندذهن کېدل . ددې څخه دی بلید اومبلود په معنی دبې قوف دبې وقوف سره ، مساجد جمع دمسجد اودمَسجَد ده په معنی دسجدې دځای سره ،دعبادت ځای ،یاد ولری چې

سیبویه په مسجد اومَسجَد کي فرق ذکر کړی دی ،چي مسجد دهغه کورنوم دی چي هغه دفرضو اداکولو لپاره جوړسي اګرکه په هغه کي سجده وسي اوکه نه سي اومسجد په فتحي دجیم سره په معنی دسجدې دځای دی ،دادنصر دباب څخه استعمال سوی دی اوددې مصدر سجود راځي ،ډیري عاجزي سره تیتیدل په عبادت کي .تندی اوپوزه په زمکه ایښودل مسجد دقیاس نه خلاف دظرف صیغه ده ،ددې څخه دی السجادة والمسجدة په معنی دجای نماز مصلی ،ابغض داسم تفضیل صیغه ده دباب دنصر ،سمع اوکرم څخه ده ددې مصدر بغاضة راځي معنی یې (۱): دښمني کول.(۲): نفرت کول. ددې څخه دی البغض په معنی ددښمني اونفرت سره ،اسواق جمع دسوق ده په معنی دبازار ،دالفظ دسوق اکثر مؤنث استعمالیږي لیکن کله کله مذکر هم استعمالیږي ،دادباب دنصر اوسمع څخه مستعمل دی ،سَوقًا وسیاقًا وَسِیَاقَةً وَمَسَاقًا یې هم مصادر راځي معنی یې داده چي څاروی د وروستو نه شړل ،ددې څخه الساق په معنی دپنډی سره مونث استعمالیږي ،ددې جمع سوق وسیقان واسوق راځي.

نکته : لفظ دسوق جمع هم دی اومفرد هم ،دساق جمع په معنی دپنډی سره اوداسواق مفرد دی په معنی دډیرو بازارنو سره . **ترکیب** : (احب) اسم تفضیل مضاف (البلاد) مضاف الیه (الی) جار (لفظ الله) یې مجرور ،جار سره دمجرور نه متعلق په احب اسم تفضیل پوري ،احب سره دخپل مضاف الیه اوسره دمتعلق نه مبتداء ،(مساجدها) مضاف اومضاف الیه . مضاف سره دمضاف الیه نه خبر دمبتداء ،مبتداء سره دخبر نه جمله اسمیه خبریه معطوف علیه .(واو) حرف عاطفه (ابغض) اسم تفضیل مضاف (البلاد) یې مضاف الیه (الی) جار (لفظ الله جل جلاله) مجرور ،جار سره دمجرور نه متعلق سو په ابغض پوري ،ابغض سره دخپل مضاف الیه نه اوسره دمتعلق نه مبتداء ،(اسواقها) مضاف اومضاف الیه ،مضاف سره دمضاف الیه نه خبر دمبتداء ، مبتداء سره دخبل خبر نه جمله اسمیه خبریه معطوف. معطوف علیه سره دخپل معطوف نه جمله معطوفه سوه .

(٦٧) اَلْوَحْدَةُ خَيْرٌ مِّنْ جَلِيْسِ السُّوْءِ وَالْجَلِيْسُ الصَّالِحُ خَيْرٌ مِنَ الْوَحْدَةِ:

تخریج مشکوة صفحه ۴۱۴ س ۲۲ عن عمران بن خطان رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه : تنهایي ډیر غوره دی دبدملګري څخه اونیک ملګری زیات غوره دی د تنهایي څخه.

توضیح : ددې حدیث شان ورود دادی چي عمران رضی الله عنه راوي فرمایي چي زه ابوذر غفاري رضی الله عنه ته ولاړم د(هغه نوم جندب دی) نوما هغه په مسجد کي ولیدلو ،په مسجد کي یې تورکمیل اغوستی ؤ او تنها ناست ؤ ماورته وویل اې ابوذره ! څه خبره ده ؟ چي تنها ناست یې؟ نوابوذر غفاري رضی الله عنه وفرمایل : چي مادنبي کریم صلی الله علیه وسلم څخه دا اوریدلی دی چي تنهایي بهتره ده دبدملګري څخه اونیک ملګری بهتر وي د تنهایي څخه .،او وړاندي یې هم دوې جملې فرایلی دی چي دهغه بیان متصل په تفصیل سره را روان دی ،حدیث نمبر ۶۸ کي داد ابوذر غفاري رضی الله عنه کامل عشق ؤ ،هروخت به یې په حدیث باندي عمل کولو چي نیک مجلس ورته ملاؤ نه سو نو تنها په کنښینستلو ځکه چي یواځي والی بهتر وي د بد ملګري

څخه ځکه چې په بده ملګرتیا کې ښکنځۀ اوفساد اوغیبتونه اوقسما قسم ګناهونه کیږي او نیکه ملګرتیا د تنهایي څخه بهتره ده ځکه چې په یواځي والي کې کله انسان په غلطو خیالاتو کې مبتلا سي ،بیا په هغه باندې دعمل کوشش کوی اوپه نیک مجلس کې انسان الله تعالی ته متوجه وي او دنیکانو برکت وي . فائده : دنیک مجلس ډیري فائدې وي په قرآن مجید کې راځي :. ددې په تفسیر کې چې لمونځ دبدو کارونو سره سړی منع کوي بعضو مفسرینو لیکلی دی چې لمونځ د ګناهونو څخه سړی ځکه منع کوي چې لمونځ په اصل کې دجمعې سره دی اوپه جمع کې نیکان خلګ هم وي ، نودنیکانو خلګو د صحبت دوجې څخه لمونځ قبلیږي هم اود ګناهونو څخه سړی پرې هم منع کیږي .

صرفي اولغوي تحقیق : الوحدة په معنی دیواځي والي سره جمع یې وحدات ده ،یو کیدل اویواځي کېدل.ددې څخه دی وحدات ثمانیة په منطق کې چې د تناقض لپاره داتوشیانو یو کیدل شرط دی ، جلیس په معنی دهمنشین . ددې جمع جلسا اوجلاس راځي ددې څخه دی المجلس په معنی د(۱) : ناستي دځای . (۲) : ناستي والا . (۳) : کچهری . (۴) : عدالت . السوء مصدر دی دنصر دباب څخه دی سواء اوسواءًا اومساءً اسواءة یې هم مصدر راځي ،په معنی دبرابر کېدلو سره ، ددې څخه دی السیئة په معنی دبدی اوخطا کاری سره . ددې څخه سورة په معنی دبې حیایی سره ،الصالح داداسم فاعل صیغه ده دباب د کرم ،نصر اوفتح څخه په معنی دصحیح . ،نیک . خپلو ذمه واریانو لره پوره کونکی سره ،صلاحا اوصلوحا اوصلاحیة یې مصادر راځي په معنی دیوقوم یاډلې دیولفظ یادیو کلمې په معنی باندې اتفاق کول ،کوم چې داصل معنی څخه علاوه وي جمع یې اصطلاحات راځي ،داصطلاح اصطلاحی تعریفه په شامي کې دادی :اتفاق طائفة مخصوصة علی اخراج لفظ من معناه . ..الخ اوددې څخه علاوه پنځه تعریفونه په کتاب التعریفات صفحه ۱۲ کې ذکر دی . **ترکیب** (الوحدة) مبتداء (خیر) صیغه داسم تفضیل (من) جار (جلیس) مضاف (السوء) یې مضاف الیه،مضاف سره دمضاف الیه نه مجرور دجار،جار سره دمجرور نه متعلق په اسم تفضیل پوري ،اسم تفضیل دخپل متعلق نه خبر ،مبتداء سره دخبر نه جمله اسمیه خبر دمعطوف علیه ،(واو) عاطفه (الجلیس) موصوف (الصالح) یې صفت (موصوف) سره دصفت نه مبتداء ،(خیر) اسم تفضیل (من) جار) الوحدة مجرو ، جار سره دمجرور نه متعلق په اسم تفضیل پوري ،اسم تفضیل سره دخپل متعلق نه خبر ،مبتداء سره دخپل خبر نه جمله اسمیه خبره معطوف ،معطوف علیه سره دخپل معطوف نه جمله مطعوفه سوه .

(۶۸) وَاِمْلَاءُ الْخَيْرِ خَيْرٌ مِنَ السُّكُوتِ وَالسُّكُوْتُ خَيْرٌ مِنْ اِمْلَاءِ الشَّرِّ

بیقهي، تخریج مشکوة صفحه ۴۱۴ س ۲۵ عن عمران بن حطان مرفوعا)

ژباړه : او ښه خبره په بل لیکل غوره دی دخاموش اوسیدلو څخه اوخاموش اوسیدل غوره دی دبدي خبري په بل دلیکلو څخه . **توضیح** : دخاموشه اوسیدلو څخه دابهتر دی چې سړی څه دخیر خبره وکړي یایې بل ته ووایي اوهغه یې ولیکي ،په دې کې دوخت خرابول نه راځي ، اوهم ثواب ثواب دی ،خومره

الفاظ چې په بل ولیکی هغومره به ثواب وي او که بده خبره په چالیکل وي نو ددې څخه بهتره داده چې چپ پاتې سي ، ددې دواړو جملو واقعه هم هغه وخت وه چې کومه ددې څخه دوړاندي د وو جملو وه (یعني واقعه د حضرت ابوذر رضی الله عنه ځکه چې داځلور واړه جملې په یوه موقع کې فرمایلی سوی وی .

ثغوي او صرفي تحقیق : املاء دباب افعال څخه مصدر دی په معنی دلیکلو په بل چا املالا اواملاء یې مصدرونه راځي ، ددې مجرد دباب دسمع څخه اونصر څخه استعمال دی ، اوملا اوملالا اوملة یې مصادر دی ، معنی دادی (زړه تنګیدل . ددې اصل حروف (م،ل،ل) دی ،همزه په کې نسته دی ، السکوت مصدر دی دباب څخه دنصر څخه سکتا وسکاتا اوساکوته یې هم مصدر راځي ،ددې مادې یوه معنی چپ کطدل دی اوددې دویمه معنی مړ کېدل دي . ددې څخه دی سکته (دایوه مشهوره بیماري ده) اوسکته (دماشوم وغیره دچپ کولو نظم الله وویل) اوسکت (په معنی دکمو خبرو کولو والا ده) الشر دامصدر دی ،دنصر ضرب اوسمع څخه شرارة اوشرائي هم مصادر راځي . ددې څخه دی الشرة په معنی د (دبدی . تیزي اوچالاکی . غصه . کموالی دوزن ددې څخه دی الشر په معنی دمکروه . **ترکیب** : (واو) استنافیه (املاء الخیر) مضاف اومضاف الیه ،مضاف سره دمضاف الیه نه مبتداء ،(خیر) صیغه داسم تفضیل په دې کې ضمیر دهور دی هغه یې فاعل ، (من) جار (السکوت) مجرور ، جار سره دمجرور نه متعلق په اسم تفضیل پوري ، اسم تفضیل سره دخپله فاعله اومتعلقه خبر دمبتداء ، مبتداء سره دخبر نه جمله اسمیه خبریه معطوف علیه ،(واو) عاطفه (السکوت) مبتداء ، (خیر) اسم تفضیل هوضمیر یې فاعل ، (من) جار (املاء الشر) مضاف اومضاف الیه ، مضاف سره دمضاف الیه نه مجرور دجار ،جار سره دمجرور نه متعلق په اسم تفضیل پوري ،اسم تفضیل سره دخپله فاعله اومتعلقه خبر دمبتداء ، مبتداء سره دخبر نه جمله اسمیه خبریه معطوف ،معطوف علیه سره دخپل معطوف نه جمله معطوفه سوه .

(۶۹) تُحْفَةُ الْمُؤْمِنِ اَلْمَوْتُ (بیهقي: تخریج مشکوة صفحه ۱۴۰ س ۷ عن عبدالله بن عمرو رضی الله عنه مرفوعا

ژباړه :دمسلمان تحفه مرګ دی . **توضیح** :دمسلمان تحفه مرګ دی په داشان چې تحفه دهرهغه شي نوم دی کوم چې په طور دمهربانی څوک یې چاته ورکړي اومرګ هم مسلمان ته په طور دمهربانې ورکول کیږي ځکه چې مرګ دجنت دروازو څخه یو دروازه ده که چیرې مرګ رانه سي نوجنت ته رسیدل نسي کېدلی نو په دې وجه مؤمن ته دجنت د ورتنو تلو څخه وړاندي یوه تحفه ورکول کیږي لکه دویزې په شان کله چې مسلمان دجنت ویزه حاصله کړي نوبیاجنت ته تللی سي بیا که چیرې نیک مسلمان وي نو دهغه دمرګ مثال داسی لکه څنګه چې د اوړو څخه ویښته ویستل سي اود ګنهګار مثال داسي دی لکه چې کانټه تار په څه شي کې لویدلی وي او راکښلی یې سي ،په هرحال دمرګ په وخت کې انسان ضرور لږ خوزولی سي بیا که چیرې نیک وي نوهم مزی مزی دی او که چیرې خدای مه کړه ګناهونه یې زیات وي نودسختونیولو خطره ده . **په یوحدیث قدسي کې الله تعالی داسي فرمایي** : چې ما په خپلو

بند گانو مرګ لازم کړی دی او که داسي نه وي نوزه خپلو محبوبانو ته دومره قدري تکليف ورکول هم نه خوښوم ،زما رحمت زما دغصې څخه وړاندي سوی دی ، ددې وجي څخه دمرګ څخه ويره نه ده پکار ،هروخت استغفار کول پکار دي ،او کلمه طيبه ويل پکار دي . **لغوي او صرفي تحقيق** : تحفة په جزم دفاء سره او په فتحه سه په معنی د هديې او ډالۍ سره دويم : قيمتي شئ . دريم : هرهغه شئ چې په طريقه دمهربانۍ ورکړل سي .ددې جمع تحف راځي ،دالموت تحقيق په حديث نمبر (۲۵) کې تيرسوی دی. **ترکيب** : (تحفة المؤمن) مضاف اومضاف اليه، مضاف سره دمضاف اليه نه مبتداء (الموت) يې خبر سو ،مبتداء سره دخبر نه جمله اسميه خبريه سوه .

(۷۰) يَدُ اللهِ عَلَي الجَمَاعَة (ترمذی) (تخريج مشکوة صفحه ۳۰ س ۱۹ عن ابن عمر رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه :دالله تعالی لاس په جماعت باندي دی . **توضيح** :پوره حديث دادی چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي چې الله تعالی به زما امت په ګمراهي نه جمع کوي اودالله تعالی (يعني امداد) جماعت سره دی او څوک چې دجماعت څخه جدا وي هغه به جداوي په جهنم کي .انتهی .ددې حديث مطلب دادی چې دنبی کريم صلی الله عليه وسلم امت په ګمراهی باندي نسي جمع کېدلی ،دټولو مسائلو ثابتول په څلورو اصولو سره وي (۱) : قرآن مجيد .(۲): سنت .(۳): اجماع .(۴):قياس .داحديث هم يودليل دی داجماع په حجت باندي چې څنګه دقرآن اوسنت څخه مسائل ثابتيږي دغه شان اجماع هم حجت دی په دې سره هم مسائل ثابتيږي ، دالله تعالی امداد او غلبه دهغه جماعت سره وي چې ددين حفاظت کوي چې هغوی لره الله تعالی د ګمراهی اوغلطی کي ډيرپوتلونه ساتي ، کوم برکت چې په جماعت کی وي هغه په يواځي کس کي نه وي ، ددې وجي څخه ددې حديث په آخر کي دا الفاظ دي چې : مَنْ شَذَّ شُذَّ فِی النار . چې څوک دجماعت څخه جدا سو (اعتقاد وي يا قولا يا فعلا) هغه به په جهنم کي جداوي يعني خپل جنتيانو ملګرو څخه به جداسي ،اوپه جهنم کي به واچولی سي ،ددې وجي څخه دعا کي دجمعي صيغې زياتي استعماليږي ،داحديث دابنائي چې ټول مت په ګمراهی باندي نسي جمع کېدلی ليکن کوم چې دحق نه اعتراض کوي نودهغه به باطله فرقه جوړيږی . **لغوي او صرفي تحقيق** : ديد تحقيق په حديث نمبر ۱۵) کی تيرسوی دی الجماعة په معنی دسړو ډله . ددې جمع جماعات راځي ،دادفتح دباب څخه استعمال دی په معنی دجمع کولو اويوځای کولو . ددې څخه دی الجمعة په معنی دټولې هفتې اوجامع په معنی دجامع مسجد ،الکلام الجامع . هغه خبره چې هغه الفاظ کم وي ليکن مطلب يې زيات وي ،اليوم الجامع دجمعې ورځ ، قِدرٌ جَامِعٌ ديګ ابوجامع ددسترخوان کنيت دی ،دجامع جمع جوامع ده . **ترکيب** :(يدالله) مضاف اومضاف اليه . مضاف سره د مضاف اليه نه مبتداء .(علی) جار (الجماعة) مجرور، جار سره دمجرور نه متعلق په ثابتة پوري ،ثابتة اسم فاعل . دې کي ضمير دهی دی هغه يې فاعل ،اسم فاعل سره دفاعله اوسره دمتعلق نه شبه جمله خبر دمبتداء ، مبتداء سره دخبر نه جمله اسميه خبريه سوه .

(۷۱) كُلُّ كَلَامِ ابْنِ آدَمَ عَلَيْهِ لَا لَهُ اِلَّا بِمَعْرُوْفٍ اَوْ نَهْيٌ عَنْ مُنْكَرٍ اَوْ ذِكْرُ اللّٰه:

تخريج مشكوة صفحه ۱۹۸ س ۱۳ عن ام حبيبه رضي الله عنها

ژباړه: دانسان هره خبره په هغه باندي (وبال) دی دهغه لپاره نه دی ليکن دښه خبري حکم کول يا دبدی څخه منع کول يا دالله تعالی ذکر کول. **توضيح**: دانسان هره خبره دهغه لپاره نقصاني ده ،فائده مند نه ده ليکن دري قسمه خبري دي کومي چي فائده ورکونکی دی نقصانی نه دی (۱) : دښو خبرو حکم کول. (۲) : دبدو خبرو څخه منع کول. (۳) : دالله تعالی ذکر کول. ددې وجي څخه بغير دضرورت نه ددې درو قسمو خبرونه علاوه خبري کول ښه نه دی ،که چيري فضول خبری کيږی نودهغه به ګناه وي اوکه ښي خبري وي نودهغه به ثواب وي ،حديث شريف دمشکوة صفحه ۱۸۶ س ۱۲) کي راځي ، چي دالله تعالی دکلام فضيلت په ټولو کلامونو داسي دی لکه دالله تعالی فضيلت په ټول مخلوق باندي (انتهي) ددې وجی نه څومره چي زيات کښدلی سي نود قرآن کريم تلاوت کول پکار دی اوقرآن کريم لوستل دروواړو قسمو خبرونه شامل دی ،په قرآن کريم کي امربالمعروف هم دی اونهی عن المنکر هم دی اودالله تعالی ذکرهم دی ،داسلام کمال حاصلولو لپاره دهرفضول خبري نه بچ کښدل پکار دی.

دحضرت عبدالله بن مبارک رحمه الله اودبوی بوډی قصه

حضرت عبدالله بن مبارک فرمايي چي زه دبيت الله شريف دحج اود دروضة اقدس صلی الله عليه وسلم دزيارت لپاره ووتلم نوماته په لاره کي يوبني آدم ملاؤ سو چي ماهغه وپيژندلو نوهغه يوه بوډې وه چي دهغه په بدن د وړی لوپټه وه ماهغی ته وويل:

السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته ! هغه جواب راکړو: سَلَامٌ قَوْلًا مِنْ رَبٍّ رَحِيمٍ. ماووېل الله تعالی دی په تارحکم وکړي ته دلته څه کوئ ؟هغه جواب راکړو : مَنْ يُضْلِلِ اللّٰهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ. زه پوهه سوم چي لاره تړي نه خطاسوی ده نوماورته ووېل چي ته دکوم ځای اراده لري ؟هغی ووېل چي : سُبْحَانَ الَّذِي أَسْرَى بِعَبْدِهِ لَيْلًا مِنَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ إِلَى الْمَسْجِدِ الْأَقْصَى. زه پوهه سوم چي حج ېې کړی دی اومسجد اقصی ته تلل غواړي ماورته ووېل چي ته دلته دکوم وخت نه يې ؟هغی ووېل چي ثلاث ليال سو يا بياما ووېل چي تاسره دخوراک څه نسته ، ته څه شي خوري؟ هغی راته ووېل چي : هُوَ يُطْعِمُنِي وَيَسْقِينِ. بياما ورته ووېل چي ته اودس په څه کوی ؟ هغی ووېل : فَتَيَمَّمُوا صَعِيدًا طَيِّبًا. بيا ورته ما ووېل چي ماسره خوراک دی آياته به يې وخوری ؟هغی ووېل : ثُمَّ أَتِمُّوا الصِّيَامَ إِلَى اللَّيْلِ. بيا ماورته ووېل چي داخو دروژې مياشت نه ده هغی ووېل : وَمَنْ تَطَوَّعَ خَيْرًا فَإِنَّ اللّٰهَ شَاكِرٌ عَلِيمٌ. بيا ماورته ووېل چي په سفر کي زمونږ لپاره خوراک څښاک جائز کړی سوی دی . هغه ووېل : وَأَنْ تَصُومُوا خَيْرٌ لَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ.

بیاماورته وویل چې ته داسي خبري ولې نه کوی لکه څنګه چې یې زه کوم ،نو وی ویل چې : مَا يَلْفِظُ مِنْ قَوْلٍ إِلَّا لَدَيْهِ رَقِيبٌ عَتِيدٌ. یعني دخلې نه څه خبره نه وباسی مګر دهغی په خوا کي (محفوظ) ساتلو والا تیار (موجود اوسیږي) بیاما وویل چې ته په کومو خلګو کي یې ؟ هغی وویل : وَلَا تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ إِنَّ السَّمْعَ وَالْبَصَرَ وَالْفُؤَادَ كُلُّ أُولَئِكَ كَانَ عَنْهُ مَسْئُولًا. بیاما ورته چې زما څخه غلطي وسوه معافي راته وکړه نوهغی وویل : لَا تَثْرِيبَ عَلَيْكُمُ الْيَوْمَ يَغْفِرُ اللَّهُ لَكُمْ. چې نن په تا څه ملامتیانسته دی ،ماورته وویل آیاته خوشحاله یې چې زه تا په دې اوښه باندي سپره کړم اوته قافلې ته ورسیږی ، نوهغی وویل : وَمَا تَفْعَلُوا مِنْ خَيْرٍ يَعْلَمْهُ اللَّهُ. ماخپله اوښه کښینوله نوهغی وویل : قُلْ لِلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّوا مِنْ أَبْصَارِهِمْ. نوماخپل نظر ښکته کړو اوما وویل چې ته سپره سوه کله چې هغه دسور بدلو اراده وکړه نواوښي ټوپ ووهلو اودهغه کیږې وشلیدلی نوهغه وویل چې : وَمَا أَصَابَكُمْ مِنْ مُصِيبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتْ أَيْدِيكُمْ. ماهغی ته وویل چې صبر وکړه زه دا اوښه ترم ،هغی ووویل : فَفَهَّمْنَاهَا سُلَيْمَانَ. نوماوښه وترله ما ورته وویل چې سپره سه ، کله چې هغه سپره سوه نو وویل : سُبْحَانَ الَّذِي سَخَّرَ لَنَا هَذَا وَمَا كُنَّا لَهُ مُقْرِنِينَ. وَإِنَّا إِلَى رَبِّنَا لَمُنْقَلِبُونَ نوماداوښي واګې ونیولی چغی مي وهلی اوتیز روان سوم نوهغی وویل : وَاقْصِدْ فِي مَشْيِكَ وَاغْضُضْ مِنْ صَوْتِكَ. نوزه په مزه سوم اوشعرونه ویل می شروع کړل نوهغی وویل چې : فَاقْرَءُوا مَا تَيَسَّرَ مِنَ الْقُرْآنِ. ماورته وویل چې تاته ډیر خیر درکړی سوی دی نوهغی وویل : وَمَا يَذَّكَّرُ إِلَّا أُولُو الْأَلْبَابِ. پس دې سره چې لږ تلل زما شروع سول نوماهغی ته وویل چې ستاخاوند شته دی ؟هغی وویل : لَا تَسْأَلُوا عَنْ أَشْيَاءَ إِنْ تُبْدَ لَكُمْ تَسُؤْكُمْ. نوزه چپ سوم تردې پورې چې موږ قافلې ته ورسیدلو ما ورته وویل چې داستاقافله ده ستاپه دوی کي څوک دی ؟ هغی وویل : الْمَالُ وَالْبَنُونَ زِينَةُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا. نوزه پوهه سوم چې په دې قافله کي ددې اولاد سته ،ماورته وویل : چې په حج کي دهغوی څه حالت دی هغی وویل : وَعَلَامَاتٍ وَبِالنَّجْمِ هُمْ يَهْتَدُونَ. نوزه پوهه سوم چې په قافله کي دهغې لاره خودونکی هم دی ، نوماهغی په ملګرتیا کي دکورونو اوخیمو اراده وکړه اوماورته وویل چې دادی ستاسو خیمې او کورونه نوستاپه دې کي څوک دی ؟هغی وویل چې : وَاتَّخَذَ اللَّهُ إِبْرَاهِيمَ خَلِيلًا. وَكَلَّمَ اللَّهُ مُوسَى تَكْلِيمًا. يَا يَحْيَى خُذِ الْكِتَابَ بِقُوَّةٍ نوزه پوهه سوم چې ابراهیم علیه السلام ،موسی علیه السلام اویحیی علیه السلام ددې زامن دی ، نوما ورته وویل : چې اې ابراهیمه ! اې موسی ! اې یحیی ! نوهغوی مخامخ ؤ ګویا چې هغوی سپوږمی وی نومونږ کیناستو نوهغی ښځي وویل : فَابْعَثُوا أَحَدَكُمْ بِوَرِقِكُمْ هَذِهِ إِلَى

اَلْمَدِينَةِ فَلْيَنْظُرْ أَيُّهَا أَزْكَى طَعَامًا فَلْيَأْتِكُمْ بِرِزْقٍ مِنْهُ. چې (دعبدالله بن مبارک رحمه الله لپاره) خوراک راوړي نوما وويل چې اوس په ماباندې ستاسو خوراک حرام دی ترهغې پورې چې تاسوماته ددې زنانه دداسې خبرو واقعه نه وي بيان کړی، نوهغه ځوانانو وويل چې دا زموږ مورده. ددې څلويښت کاله سوي دی چې دې د قرآن ويلو څخه سوا هيڅ خبره نه ده کړی ددې ويرې نه چې غلطي به رانه وسي، اوخداى پاک به خفه سي، نوحضرت عبدالله بن مبارک رحمه الله وايي چې ما ورته وويل: ذَلِكَ فَضْلُ اللَّهِ يُؤْتِيهِ مَنْ يَشَاءُ وَاللَّهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيمِ. ددې بوډۍ نوم فضه ؤ. **لغوي اوصرفي تحقيق** : دکل تحقيق په حديث نمبر (۴۱) کې تيرسوی دی، کلام په په معنی دخبرو، داد باب ضرب څخه استعمال دی، کَلمًا او کَلَمًا يې مصدر دی، به معنی دزخمي کولو سره. ددې څخه دی کلمة په معنی دمفرد لفظ جمع يې کلم او کلمات ده، اوددې څخه دی کلمة لله (دحضرت عيسی عليه السلام لقب دی) او کليم الله دحضرت موسی عليه السلام لقب دی، اوددې څخه دی الکلم په معنی دزخم جمع يې کلوم او کلام راځي اوددې څخه دی کلام په عنی دسختي زمکي، ابن په معنی دزوی داد نصر اوضرب دباب څخه استعمال دی، ابناء يې مصدر دی په معنی دعيب لګولو. ددې څخه دی ابن په معنی داوچ خوراک. **دابن تحقيق** : ښه يادساتی. چې ابن کله دعملينو متناسلينو مينځ کې راسي. نودهغه همزه به غورزولی سي، يعني چې دنسبي رشتی دوه نومونه دی، مثلا پلار، زوی وي لکه زيد بن ثابت، په داسي موقعه دابن همزه وصلي غورځول کيږي اوکه علمين نسبي نه وي مثلا ابن آوی دګيدړ کنيت دی، دلته همزه باقي پاتي کيږي، دويم قانون دابن په باره کې دادی چې که چيرې دابن څخه نه وي کرښه شروع کيږي نوبيا لازما همزه ليکلی سی اګرچې دعلمين متناسلين په مينځ کې وي، دريم قانو دادی چې کوم ځای صرف کنيت ذکر کول وي نوهلته ضرور همزه ليکلی سي، اګرچې دسرنه کرښه نه شروع کيږي لکه ابن عمر رضی الله عنه چې دلته ضرور همزه ليکل کيږي، دآدم تحقيق په حديث ۶۲ کې تيرسوی دی، امر په معنی دحکم جمع يې اوامر په معنی د(۱) کار (۲) : واقعه، نوبيا ددې جمع امورده، داکه چيرې دباب دنصر څخه راسي، نوامرا اوامرة اوامارا مصادرر دی، په معنی دحکم ورکولو اوکه چيرې دباب دسمع اوکرم څخه مستعمل وي نوبيا مصادر دادی اَمرًا وِامرَةً وِامَارًا په معنی د(۱) : امير کېدل. (۲) : سردار کېدل (۳) : حاکم کېدل. هم ددې څخه دی امارة په معنی دعلامت، جمع امارات ده امر په کسره سره په معنی (۱) دعجيب، (۲) : دعقل اوشرع نه خلاف کار اوامير په معنی دحکم ورکولو والا، دقوم سردار، هغه سړی چې شريف الاصل وي، ګاونډی، هغه سړی چې دهغه نه مشوره اوغوښتلی سي، او المؤتمر په معنی دکانفرس معروف په معنی دمشهور، نيکی، رزق، ښيګړه، داکه چيرې دباب دضرب څخه مستعمل وي نوددې معنی پيژندل اودباب دنصر او کرم څخه ددې معنی امير کېدل دی، ليکن دسمع څخه ددې معنی ده خوشبوئي پرېښودل

،ضرب څخه ددې مصدر عرفة راځي ، اودنصر اوکرم څخه ددې مصدر عرافة راځي اودسمع نه عرفا مصدر راځي ، ددې څخه دی العرف په معنی دبوئي سره ، اکثر ددې استعمال په خوشبوئي کي کيږي اودالمعرفة معنی حقيقت بيامونډل اواعراف دجنت اوجهنم مينځ کي يوځای دی او العرف په معنی د(۱) :بخښش .(۲) : عطيه (۳) : اقرا . اوالمعرفة په معنی دايال (دآس دڅټ د وينښتو راتوکيدو ځای) جمع يې معارف راځي ،نهی په معنی دممانعت دادباب نصر اوضرب څخه مستعمل دی په معنی دمنع کيدو، هم ددې څخه دی انهاء په معنی دشئ آخر اوغايه . اوالنهاء په معنی د اوبو جوروالی اوالنهی په معنی شيشې . دالنهی معنی عقلونه ،جمع يې النهية اوالنهی اوالنهی په معنی د تالاب ،ددې جمع انه انهاء نهاء راځي ،منکر په معنی دهغه قول يافعل چې دالله تعالی دمرضي خلاف وي جمع يې منکرات اومناکرده ،دادسمع اوکرم دباب څخه مستعمل دی ،نکرا اونکرا اونکارة يې مصادر دی په معنی دڅه شئ نه ناخبره پاتي کيدل . ددې څخه دی النکر (۱) :ډير خراب کار . (۲) : چالاکي . (۳) : تيز فهمي . ددې څخه دی منکراونکيرا دقبر دوه فرښتې ،ذکر په معنی دشهرت . تعريف ،عزت ،لمونځ ،دعاء ،دادنصر دباب څخه مستعمل دی ذکرا اوتذکارايې مصدر دی په معنی دخداي ﷻ پاکي اولوي بيانول ،هم ددې څخه دی الذکر په معنی دسړي اوذکر په معنی دياداشت اوالذکری په معنی دياد ولو ،دژبې ذکر . يادزړه اوالمذکر په معنی دنر ،راايستل سوی توره ، دويری لاره .خطرناکه ورځ ،مذکر په معنی دنصيحت کونکی سره .

ترکيب :(کل کلام) مضاف اومضاف اليه ، مضاف ،(ابن) مضاف اليه ، مضاف (آدم) مضاف اليه مضاف ،مضاف سره دخپل دريو مضاف اليه نه مبتداء (علی) جار (ه) مجرور متعلق سو دواقع سره ، واقع اسم فاعل سره دخپل فاعل (هوضميردی) اوسره دمتعلق نه معطوف عليه (لا) عاطفه (ل) جاره (ه) مجرور ، دواړه متعلق سو په ثابت پوري ، معطوف ، معطوف عليه سره دخپل معطوف نه مستثنی منه .(الا) حرف استثناء (امر) مصدر (ب) جار (معروف) مجرور دواړه متعلق سو دمصدر سره ،مصدر دخپل متعلق سره معطوف عليه (او) عاطفه (نهی) مصدر (عن) جار (منکر) مجرور ،جار مجرور متعلق سو دنهی سره معطوف اول، (او) عاطفه (ذکرالله) مضاف اومضاف اليه ، مضاف سره دمضاف اليه نه معطوف ثانی ، معطوف عليه سره ددواړو معطوفينو مستثنی ،مستثنی منه سره دمستثنی څخه خبر ، مبتداء سره دخبر نه جمله اسميه خبريه سوه .

(۷۳) مَثَلُ الَّذِیْ یَذْکُرُ رَبَّهٗ وَالَّذِیْ لَا یَذْکُرُ مَثَلُ الْحَیِّ وَالْمَیِّتِ:

(بخاري ومسلم، تخريج مشکوة صفحه ۱۹۶ س ۲۱ عن ابی موسی رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه : مثال دهغه کس چې هغه رب يادي اودهغه کس چې هغه يې نه يادوي په شان دژوندي اومړه دی

توضيح :لکه څنګه چې ژوندی خپل ظاهر ژوند په رنړا ښائسته کوي اوپه هغه کي دخپلي خوښې تصرف کوي اوخپل باطن دعلم په رنړا ښائسته کوي دغه شان ذاکر هم خپل ظاهر دعبادت په رنړا ښائسته کوي اوخپل باطن دمعرفت په نور ښائسته کوي اوڅوک چې ذاکر نه دی هغه خپل ظاهر آزاد پريږدي

اوخپل باطن خرابوي ،ددې وجې نه ذکر کونکی دژوندی په شان سو ځکه چې ژوندی خپل ظاهر اوباطن په ژوند اوعلم سره ښائسته کوي دغه شان ذکر ته دالله تعالی دعبادت موقعه ملاویږي اودالله تعالی معرفت حاصلوي په خلاف دهغه سړي چې ذاکر نه وي هغه دمړي په شان دی ځکه چې مړی په خپل ظاهر اوباطن کې هیڅ نسي کولی ، ددې وجې څخه ذکر کونکی هم خپل ظاهر اوباطن نه سي ښائسته کولی ،په دې حدیث کې دااشاره هم موجوده ده چې دالله تعالی په ذکر همیش والی دادحقیقي ژوند سبب دی ،لهذا همیشه ذکر کونکی دژوندي په شان دی اونه ذکر کونکی دمړي په شان دی ،په بل حدیث کې دی :لایزال لسانک رطبا بذکرالله . اې مخاطبه! ستاژبه همیشه دالله تعالی په یاد لونده پکار ده . داد قیامته پورې مسلمانانو ته خطاب دی ، دذکر دوې درجې دي ،اول واجب ،دویم :مستحب. واجب ذکر دادی چې دټولو فرائضو اودواجباتو اوسنتو باندې وکړي اودټولو حرمو کارونو اومکروه تحریمي کارونو څخه ځان بچ کړي اوغیرواجب یعنی مستحب ذکر دادی چې په تلوراتلو ،ناسته ولاړه کې سبحان الله وغیره وایي. **ذکر** دالله تعالی په یاد کې مشغول کېدو ته وایي ،اول ته ذکر قلبي وایي اودویم ته ذکر لساني ، دذکر تعریف دادی الله تعالی یادول ،کوم سړی چې دفرض ،واجب اوسنتو پابند وي هغه ته به الله تعالی یاد وي اویادوی به یې ، دغه شان کوم سړی چې دحرام یامکروه تحریمي قول اوفعل نه بچ کیږي هغه ته به الله تعالی یاد وي نودحرامو د کولو نه به بچ کیږي ، کنی نوهغه کوم ځای بچ کېدلی سي .لهذا دذکر دواړې درجې صحیح دی الله تعالی دي موږ ددواړو درجو ذکر کونکی جوړ کړي . (امین)

لغوي اوصرفي تحقیق : مثل په معنی د :شک ،مثال ،صفت ، خبره ، قصه ، عبرت ، دلیل ،مشابهت .هم په دې معنی لفظ دمثل دی ، ددې دواړو جمع امثال ده ،دادباب دنصر ،ضرب اوکرم څخه مستعمل دی ، مُثُولاً ومَثُولاً ومَثلاً ومُثلَة .یې مصادر دی په معنی دیوشان کېدو سره ددې څخه المثال دی په معنی د :مقدار . نمونه ،قصاص ،بستره ،شی جمع امثلة اومثل راځي اوالتمثال په معنی دتصویر ،بت ،مشابهت :جمع یې تماثیل په معنی دحکم منلو سره حیی په معنی دژوندی ،دادباب سمع څخه مستعمل دی ،حیِیَ یَحیَ حَیاةً . ژوندي اوسیدل . ددې څخه دی الحیا په معنی د :شرم اوحیاء .دځه شي نه بندیدل اودملامتیادویري نه څه شی پرېښودل . باران ، تازګي . اوالحیوان دساه والا جمع یې حیوانات راځي اوالمحیا مخ . دحیا دوه قسمونه دي (۱) : نفساني .(۲) : ایمانی . حیانفساني هغه ده چې هغه الله تعالی په هرنفس کې پیدا کړی ده ،مثلا دخلګو مخکې جمع نه کوي ، دلته حیانفساني کونکی وي ،دویم قسم حیاایمانی ده اوهغه داده چې مسلمان دالله تعالی دویرې څخه دګناه د کارنه ممنع سي ،دحیاء معنی اوقسمونه د کتاب التعریفات په (۴۲ س۱۹) باندې لیکلی سوی دی ،المیت مرکت نه نژدی اوالمیت په وزن دبیت مړی ، والمیت معنی هم مړی کې مستعمل ده ،دادباب دنصر څخه مستعمل دی . موتا مصدر دی په معنی د(۱) : مړکېدو سره . (۲) : داورمړ کېدل یاوژل .

ترکیب: (مثل) مضاف (الذی) موصول (یذکر) فعل (هو) فاعل (ربه) مضاف اومضاف الیه، مضاف سره دمضاف الیه نه مفعول به، فعل سره دفاعل اومفعول به نه جمله فعلیه خبریه صله دموصول، موصول سره دصلې نه معطوف علیه، (واو) عاطفه (الذی) موصول (لایذکر) فعل هوفاعل، فعل سره دفاعل نه جمله خبریه صله دموصول سوه، موصول سره دصلې نه معطوف، معطوف سره دمعطوف علیه نه مضاف الیه سو دمثل، مثل مضاف سره دمضاف الیه نه مبتداء، (مثل الحی) مضاف اومضاف ایه، (واو) عاطفه (المیت) معطوف، معطوف سره دمعطوف علیه نه مضاف الیه، مضاف سره دمضاف الیه نه خبر دمبتداء، مبتداء سره دخبر نه جمله اسمیه خبریه سوه.

(۷۳) مَثَلُ الْعِلْمِ لَا يُنْتَفَعُ بِهِ كَمَثَلِ كَنْزٍ لَا يُنْفَقُ مِنْهُ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ

(احمد و دارمی، تخریج مشکوة صفحه ۳۸ س ۱۳ عن ابی هریرة رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه: دهغه علم مثال چې دهغه څخه فائده نسي اخیستلی دهغه خزانې په شان دی کومه چې دالله تعالی په لار کې نه خرڅیږي **توضیح**: لکه څنګه چې دانسان سره مال وي اوهغه دالله تعالی په لار کې نه خرچ کوي څنګه دسزا مستحق دی چې په اخرت کې دزکوة نه ورکونکی ته په غاړه کې مار په شکل کې دامال اچولی سي، همدغه شان چې سړی عالم وي لیکن دخپل علم نه فائده نه اخلي یعنې خپل ځان لپاره په علم باندې عمل کولو سره جنت نه حاصلوی، دې هم دهغه مالدار په شان دی چې خرڅ نه کوي یعنې دسزا مستحق دی، په قرآن اوحدیث کې دعالمانو درجه ډیره لویه شمار کړی سوی ده، لیکن دهغه علماؤ چې باعمل وي اوچې کوم بې عمل وي هغوی ته ډیر خراب مخلوق ویل سوی دی، کوم عالم چې عمل نه کوي دیومکروه تحریمي درجې کارهم چې کوي یابدعتي وي هغه عالم نه دی خردی جاهل دی، ځکه چې په قرآن کریم مثال بیان کړی دی: مَثَلُ الَّذِيْنَ حُمِّلُوا التَّوْرَاةَ ثُمَّ لَمْ يَحْمِلُوهَا كَمَثَلِ الْحِمَارِ يَحْمِلُ أَسْفَارًا. یعنې چې عالم وي اوبې عمله وي دهغه مثال داسې دی لکه په خرچې ډیر کتابونه بار کړل سي اوګرځي لیکن دعمل نه کولو په وجه بالکل جاهل وي په علم باندې عمل نه کول ډیرلوی جرم دی، الله تعالی دی مورږ عالمان باعمله جوړ کړي. (امین ثم امین) **لغوي اوصرفي تحقیق**: علم په معنی (۱): دیوشي حقیقت ته رسیدل. (۲): یقین اومعرفت جمع یې علوم ده. ددې تحقیق هم په العلمین کې تیرسوی دی، دباقي الفاظو تحقیق تفصیلا تیرسوی دی، ینتفع به دادباب افتعال نه دمضارع مجهول واحد غائب صیغه ده، مصدر یې انتفاع دی، په معنی دنفع اخیستلو سره، داپه مجردو کې دباب دفتح څخه مستعمل دی، نفعا یې مصدر دی په معنی دفائدې ورکولو. ددې څخه دی النفع والمنفعة په معنی دفائدې، دمنفعة جع منافع راځي اوالنفعة په معنی د (۱): یوځل فائده. (۲): یوقسم همسا چې زمکه باندې دفائدې لپاره وهل کیږي. جمع یې نفعات ده اوالنفعة دڅرمن مزی چې دتوشه دان په طرفونو

باندي لګيدلی وي ، کنز په معنی (په زمکه کي دښځ سوی مال . هغه شی چي په هغه کي مال محفوظ کړی سي لکه صندوق ،خزانه وغیره . هرذخیره کړی سوی ښه شئ ، جمع يې کنوز راځي ، دادضرب دباب څخه مستعمل دی ، کنزًا مصدر دی په معنی دمال جمع کولو سره ، ددې څخه کنیز هم دی په معنی دخرماؤ سره کومي چې ډیخنی موسم لپاره جمع کول کیږي . **ترکیب** : (مثل) مضاف (علم) موصوف (لاینتفع) فعل مجهول هوضمیر نائب فاعل (ب) جار (ه) مجرور ،جار سره دمجرور نه متعلق سو په فعل پوري ،فعل سره دنائب فاعل نه جمله فعلیه خبریه صفت دموصوف ، موصوف سره دصفت نه مضاف الیه ،(مثل) مضاف سره دمضاف الیه نه مبتداء (ک) جار (مثل) مضاف (کنز) موصوف (لاینفق) فعل مجهول . په دې کي هوضمیر دی نائب فاعل ، (من) جار (ه) مجرور ،جار سره دمجرور نه متعلق اول سو دفعل لپاره (فی) جار (سبیل) مضاف (لفظ الله) مضاف الیه ،مضاف سره دمضاف الیه نه مجرور ،جار سره دمجرور نه متعلق ثانی سو دفعل ، فعل سره دنائب فاعل اومتعلقینو نه صفت دموصوف ،موصوف دخپل صفت سره مضاف الیه سو دمثل مضاف لپاره .مثل مضاف سره دخپل مضاف الیه نه مجرور دجار،جار سره دخپل مجرور نه متعلق سو دثابت محذوف پوري ، ثابت صیغه داسم فاعل دخپل فاعل (هوضمیر) اومتعلق سره شبه جمله خبر دمبتداء ،مبتداء سره دخبر نه جمله اسمیه خبریه سوه .

(۷) أَفْضَلُ الذِّكْرِ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَأَفْضَلُ الدُّعَاءِ اَلْحَمْدُ لِلّٰه

(ترمذی) (تخریج مشکوة صفحه ۲۰۱ س : ۱۱ عن جابر رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه : دټولو څخه افضل الذکر لااله الاالله دی اود ټولو څخه افضله دعاء الحمدالله ده . **توضیح** : لااله الاالله ته دټولو څخه بهتر ذکر ویلو وجه داده چې د لااله ویلو سره دغیرالله خیال دزړه نه وزي او او الاالله ویلو سره دالله تعالی خیال په زړه کي پخیږي . ددې وجي نه هرداسي ذکر چې په کي دالله تعالی دمحبت اظهار وي اودغیرالله څخه توجه لري کیږي د ټولو څخه بهتر طریقه دذکر اوافضل ذکر ورته ویل سوی ، الحمدالله ته دبهتري دعا ویلو وجه داده چې ددعا تعریف دادی چې الله تعالی یادول اودهغه څخه غوښتل نو په الحمدالله کي دا دواړو شیان موندل کیږي ، ځکه چې به الحمد الله کي الله تعالی یادیږي اوالله تعالی دنعمتونو شکر هم په ادا کیږي ،الله تعالی په قرآن کریم کي دابیان کړی دی چې که چیرې تاسو شکر وباسی نوزه به تاسو ته زیات درکړم نوالحمدالله ویلو سره شکریه ادا کیږي اودنعمتونو زیاتوالی کیږي لکه چې غوښتلی سي لهذا هرداسي الفاظو سره دعا کول چې په هغه کي الله تعالی هم یاد کړی سي اوپه ښه طریقې سره سوال وکړی سي هغه ته بهتر طریقه ددعاویل کیږي . (مشکوة حاشیه (ث) په حواله دطیبی) **لغوي اوصرفي تحقیق** : افضل په معنی دډیروالي سره په زیاتوالي کي ،دافضل جمع تصحیح افضلون ده اوجمع تکسیر يې افاضل ، دادسمیه نصر دباب څخه مستعمل دی ،په معنی د (۱) : باقي پاتي کېدل.(۲) : زیاتیدل ،اودباب دکرم څخه هم مستعمل دی په معنی دفضیلت خاوند کېدل ، دبعضو

صرفیانو په نزد دا ځائله باب دی په وزن د فعیل یفعُلُ په دې وزن باندې د بعضو په نزد فقط فضل یفضل دی او د بعضو په نزد د دوه بابونه حضر یحضر او نعم ینعم هم دی ،ځکه چې په دې کې تداخل موندلی سي ،چې د دې باب ماضی د سمع څخه اخستی ده په قاموس کې د نصر او سمع دواړه اخستی ده او په المنجد کې یې د سمع ،نصر ، کرم د درو واړو نه اخیستی ده ،بهرحال مصدر فضل دی په معنی د (۱) : د زیاتوالی .(۲) : باقي .(۳) : احسان هم د دې څخه الفضول په معنی د حاجت نه زیادت مال او الفضلة په معنی د بقیه شراب جمع یې فضلا تو فضال راځي ، او الفضالة په معنی د شئ باقي پاتې حصه ، جمع یې فضلا تو فضال راځي ، او الفضالة په معنی د شئ باقي پاتې ، حصه جمع یې فضالات ده او الفاضل او الفضل په معنی د صاحب فضیلت او الفضولی په معنی د بې فائدې شي کې مشغولیدونکی . د دوو کسانو مینځ کې په خپل دخل کونکی ، اله په معنی د معبود خدایي جمع یې الهة راځي . دا د باب د فتح نه مستعمل دی ، الوهة او الاهة او الوهیة مصادر دی په معنی د بندګۍ کولو سره او د سمع څخه هم مستعمل دی ، اَلَهَا مصدر دی په معنی د حیران کېدلو سره ، هم د دې څخه دی الاهَۃ په معنی د (۱) : دلوی مار .(۲) : نوی سپوږمی .(۳) : لمر ، د باقي الفاظو تحقیق تیر سوی دی . **ترکیب** : (افضل الذکر) مضاف او مضاف الیه . مضاف سره د مضاف الیه نه مبتداء . (لا) نفی جنس (اله) موصوف (الا) په معنی د غیر مضاف (لفظ الله) مضاف الیه ، مضاف سره د مضاف الیه نه اسم د لا سو (احد) خبر محذوف ولا د خپل اسم او خبر سره جمله اسمیه خبریه سوه ، مبتداء سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه سوه .

(۷۵) اَوَّلُ مَنْ یُدْعٰی اِلَی الْجَنَّةِ یَوْمَ الْقِیَامَةِ الَّذِیْنَ یَحْمَدُوْنَ اللّٰهَ فِی السَّرَّآءِ وَالضَّرَّآءِ

(بیهقي) (تخریج مشکوة صفحه ۲۰۱ س : ۱۴ عن ابن عباس رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه : د ټولو څخه وړاندې د قیامت په ورځ چې اول جنت طرف ته رابلل کیږي هغه خلک به وي چې هغوی د الله تعالی تعریف کوی په خوشحالی او په تکلیف کې . **توضیح** : د قیامت په ورځ د ټولو څخه مخکې چې کوم خلک رابلل کیږي د جنت طرف ته هغه به هغه خلک وي چې په خوشحالي او غم ، نفع او نقصان په هرحال کې د الله تعالی حمد او تعریف کوي ، دا نه چې یواځې په خوشحالي کې الله یاد وي بلکه په خوشحالي کې هم د الله تعالی یاد او شکر ادا کوي او که تکلیف ورته ورسي نو هم د صبر په صورت کې الله تعالی یاد وی ، نو یا مور د من مصدار جوړیږو کنی نه جوړیږو ، په یو بل حدیث کې راغلی دی که چیرې بنده خبره ورته پیښه سي نو الحمد الله وایي او که څه نقصان وسي نو الحمد الله علی کل حال ووایي دغه شان په یو بل حدیث شریف کې دي چې اینګې څخه وروسته الحمد الله علی کل حال وویل سي نو په غابن کې به هیڅکله درد پیدا نسي . (حصن حصین) **پوښتنه** : د سراء مقابل حزن دی ځکه چې د سراء معنی خوشحالي ده نو د دې مقابل به غم وي کوم چې حزن لفظ دی او د ضراء مقابل نفع ده نو په حدیث

شریف کې یاخودسراء سره دحزن لفظ کېدل پکار دی یادضراء سره دنفع لفظ پکار دی چې مطابقت پیدا سي. **جواب** : که چیري دسراء سره لفظ دحزن وي یادضراء سره دنفع لفظ وي نوصرف یو تقسیم دبحث لاندې راځي ،نوبولفظ یې دحزن مقابل واخیستلو اویوبې دنفعي مقابل واخیستلو ، ددې لپاره چې څلورواړو طرفونو ته اشاره وسي او دواړه تقسیمه ځان ته واخیستل سي اوداطریقه زیاته فصیح طریقه ده . **لغوي اوصرفی تحقیق** : داول تحقیق په الباب الاول کې تیرسوی دی ،الجنة معنی داونو څخه ډک باغ جمع یې جنان اوجنات راځي دادنصر دباب څخه مستعمل دی ، جن اوجنون یې مصدرونه دی په معنی د(۱) : دپاګل کېدو سره .(۲) : پتول ، هم ددې څخه دی الجن اوالجنة په معنی د (۱) ښاپیرۍ (۲) :پیرۍ . (۳) : دیو . اوالجنة په معنی دپردې جمع جنن اوجنان ده اوالجنانه په معنی د ډال سره دی اوجنین په معنی د (۱) : قبر .(۲) : دفن کړل سوی . (۳) : ماشوم چې ترڅو په رحم کې وي (۴) : هرپټ شئ . جمع یې اجنة اواجنن راځي . **نکته** : کوم ځای کې چې جیم ،نون ماده وي هلته به د پټ والي معنی ضرر موندل کیږي لکه چې په ذکر سوو ځایونو کې په مثالونو کې دسوچ کولو څخه معلومیږي ،السراء په معنی دخوشحالی ،دادنصر او سمع دباب څخه مستعمل دی ،سرا اوسُرا او سرورا اومسرة وغیره مصادر دی ،په معنی د رازسره جمع یې اسرار راځي . جمع الجمع اسار پرده په معنی دمخ خوبیانی اوالسر په معنی دنوم . جمع یې اسرة اوسرور او السر په معنی دنوم جمع یې سرات او سرور اوالسرور په معنی دخوشحالی سره اوالسریر په معنی د تخت او السریة په معنی د کور وینزه ، جمع یې سرات او السریر په معنی دمور خوشحالونکی اود دوو وروڼو سره ښه سلوک کونکی ،الضراء په معنی دمال اوځان نقصان ،دادنصر دباب څخه دی ،ضرا اوضرا یې مصدر دی په معنی د تکلیف ورکولو سره اونقصان رسولو سره ، هم ددې څخه الضرة په معنی د(۱) : حاجت . (۲) :دسینو بیخ .(۳) : ډیر مال . ضرتان دجرندي دواړه پلونه اوالضروري په معنی دهغه شي چې انسان په هغه مجبور کړی سي اوالضریر (۱) : په معنی دړوند ،(۲) : مانده . (۳) : بیمار . (۴) : نقصاني . جمع یې اضراء اواضرار ده .

ترکیب : (اول) مضاف (من) موصوله (یدعی) فعل مجهول ،په دې کې (هو) ضمیر نائب فاعل ، دی (الی) جار (الجنة) مجرور ،جار سره دمجرور نه متعلق سو په فعل پورې ، (یوم القیامة) مضاف او مضاف الیه ، مضاف سره دمضاف الیه نه مفعول فیه سو دفعل ،فعل سره دنائب فاعل اومتعلق او مفعول فیه نه جمله فعلیه صله دموصول ، صله سره دموصول نه مضاف الیه سو داول مضاف لپاره ، مضاف سره دمضاف الیه نه مبتداء (الذین) موصول ،(یحمدون) فعل (واو) ضمیر فاعل (لفظ الله) مفعول به (فی) جار (السراء) معطوف علیه (واو) عاطفه (الضراء) معطوف ،معطوف علیه سره دمعطوف نه مجرور ،جار سره دمجرور نه متعلق سو دفعل پورې فعل سره دفاعل اومفعول به او دمتعلق نه جمله فعلیه خبریه صله دموصول سوه ،موصول سره دصلې نه خبر دمبتداء ، مبتداء سره دخبر نه جمله اسمیه خبریه سوه .

نَوْعٌ آخَرُ مِنْهَا (ای من الجملة الاسمية وهو ما دخل عليها لا)

لَا إِيْمَانَ لِمَنْ لَا أَمَانَةَ لَه (بيهقي) وَلَا دِيْنَ لِمَنْ لَا عَهْدَ لَهُ (بيهقي)

ژباړه :هيڅ ايمان نسته دی دهغه سړي لپاره دچالپاره چي څه امانت نه وي اوهيڅ دين نسته دی دهغه سړي لپاره دچالپاره چي څه وعده نسته .**توضيح** : کوم سړی چي امانت امانت نه ګڼي اوامانت نه محفوظ کوي اوپه امانت کي خيانت کوي هغه کامل مسلمان نه دی ،دلته امانت عام دی ،نفس دالله تعالی امانت دی دا ګناه نه بچ ساتل ضروری دی کنی ډير لوی خيانت به وي ،دغه شان که دچا څه شی يا خبره امانت وي نو امانتدار جوړ بدل ضروری دی اوپه اهل وعيال کي دامانت معنی داده چي ښځه اوبچی ياهر څوک چي دده امانت دی الله تعالی په طور دامانت ورکړی دی ،دهغوی ددين فکر هم ضروری دی کنی دخيانت ډيره لويه ګناه به وي اوپه مال کي دامانت معنی داده که چيري مال وي نوچي په ناجائزځای يا ناجائزه موقه کي خرچ نکړی سي کنی دابه په مال کي خيانت وي اوکه مال دبل چا وی اودامانت په طور يې دچاسره ايښې وي نوهغه لګول هم خينت دی ،بهرحال خائن دايمان د دائرې څخه نه وزي بلکه فاسق ګرځي اوکوم سړی چي دوعدې پابند نه وي يعني وعده وکړي بيا يې ماته کړي ياقسم ونه خوري اوبيا يې ماتوي نودد غه سړي هم يقيني طور سره هيڅ دين نسته يعني مسلمان ورته ويل کيږي ليکن صحيح مسلمان يا کامل مسلمان ورته نسي ويل کېدی صرف په نامه مسلمان دی . **لغوي اوصرفي تحقيق** : دايمان ،امانت اود دين ددې ټولو الفاظو تحقيق تيرسوی دی ،عهد په معنی د (۱):وفاء(۲): ضمان (۳):امان .(۴) دوستي .(۵) : وصيت . (۶) : وعده .(۷) : قسم . جمع يې عهود ده دادباب دسمع څخه دی ، عهدا مصدر دی په معنی دحفاظت کولو سره اوپوره کولو سره ، هم د دې څخه العهد اوالعدة په معنی دسپرلي اولنی باران جمع يې عهاد ده او المعهد په معنی د (۱) : هغه ځای کوم ځای چي دڅه شئ وعده کړی سوی وي.(۲) :دخلکو دواپسي ځای جمع يې معاهد راځي او المعهود په معنی دمعروف اومشهور. **ترکيب**:(لا) نفس جنس (ايمان) اسم دلا (ل) جار (من) موصوله (لا) نفی جنس (امانة) اسم دالا (ل) جار (ه) مجرور ، جار سره دمجرور نه متعلق په ثابتة پوري ،ثابتة اسم فاعل په دې کي (هی) ضمير دی هغه فاعل ، اسم فاعل سره دفاعل اومتعلق نه خبر دلاسو .لاسره دخپل خبر اواسم نه جمله اسميه خبريه صله دموصول ، موصول سره دصلې نه مجرور دجار ،جار سره دمجرور نه متعلق سو ثابت پوري ، ثابت اسم فاعل په دې کي (هو) ضمير هغه يې فاعل داسم فاعل ، اسم فاعل دخپل فاعل اومتعلق نه شبه جمله خبر لاء نفی جنس ، لا خپل اسم اوخبر سره جمله اسميه خبريه سوه ، دغه شان د دويمي جملې ترکيب دی هغه هم وکړئ.

(۷۶) لَا حَلِيْمٌ إِلَّا ذُوْ عَثْرَةٍ (احمد وترمذی) وَلَا حَكِيْمٌ إِلَّا ذُوْ تَجْرِبَةٍ (احمد وترمذی)

ژباړه : څوک بردبار نسته سوا دلغزش خوړونکی څخه اوڅوک عقلمند نسته سوا د تجربه کارنه.

توضيح : انسان صحيح بردبار او كامل حليم هغه وخت جوړيږي كله چې يوځاى كې وخوئيږي اوغلطي ترې نه وسي ،بيا هغه دخپلو مشرانو نه اوبزرګانو نه معافي وغواړي اوهغوى يې معاف كړي ،بيا په كامل طريقه سره دحلم په صفت ښائسته كېدى سي كنى نو نسي جوړېدى ،بيا كله چې دى په خپل مشر جوړسي يا بادشاه جوړسي نو دنورو خلګو غلطي به هم معاف كوى ځكه چې سوچ به كوى چې يووخت ماهم دغه شان معافي غوښتلى وه دغه وخت دحلم پته لګيږي اوپوره حليم جوړيږي دحلم تقريبا دوه شيان اصل دى . (١) : دصبر اوبرداشت موجوديدل . (٢) : دتكبر اوغصې نه موجودېدل . ددې حديث ددويمي جملې معنى داده چې دتجربې نه بغير دانسان څخه حكيم نسي جوړيدلى اګرچې هغه ډير كتابونه ووايي ترڅو چې تجربه نه وي كامله عاقل اوحكيم نسي جوړيدلى ،به هريوفن كې دپوره مهارت حاصلولو لپاره څه نه تجربه لازمي ده ، كه چيرې شروع كول كوي نو داسوچ مكهوه چې زما تجربه نسته اوداكار نه كوم ځكه چې تجربه په كولو سره حاصليږي په خپله نه حاصليږي خو كله چې تجربه وسي نو بيا مهارت به حاصل سي . **لغوي اوصرفي تحقيق** :دحليم معنى بردباد دادنصردباب څخه دى حُلمًا اوحلما يې مصادر دى په معنى دخوب ليدلو سره اود كرم دباب څخه هم راغلى دى ،مصدر يې حِلمًا راځي په معنى دعغوى كولو سره صبر كولو سره ، دسمع څخه هم مستعمليږي، هم ددې څخه الحلم دى (١) :صبر (٢) : قرار ېدل په مزه كېدل . (٣) :برداشت كول اوالحلم په معنى خوب سره ،حلم په كسره اوپه ضمه سره د دواړو جمع احلام راځي ،په كسره سره دويمه جمع حلوم راځي اوالحليم په معنى (١) : دخورب والي وازده . (٢) : دالله تعالى دښائسته نومونو څخه دى ،عشرة په معنى .(١) : دلغزش . (٢) : جهاد .(٣) : راپرېوتل . جمع يې عثرات داد باب دنصر څخه دى ، عثرا اوعثورا يې مصدرونه دي په معنى دخبزېدلو سره ، هم ددې څخه العثر دى په معنى دعقاب سره اوالعثر په معنى د درواغ ، العثور په معنى دډير غورزيدلو والا اوډير خوئيدونكى اوالعثير په معنى د(١) : دخاوري .(٢) : كرد . حكيم په معنى د (١) : هوښيار . (٢) : فلاسفر . جمع حكماء باقي تحقيق ددې په مقدمه كې تيرسوى دى ، تجربه په معنى د(١) : ازمائيلو سره ،امتحان اخيستلو سره .(٢) :تجربې كولو سره ،دادباب تفعيل نه مصدر دى تجربيا هم مصدر راځي ، ددې مجرددسمع دباب څخه دى ،جربا يې مصدر راځي ،په معنى د(خارښ) كېدو سره ، هم ددې څخه دى الجرب په معنى د(١) :عيب (٢) : دتورې زنګ اوالجرب په معنى دخالي كشتى سره اوالجرابة په معنى(١) :دتورې تيكى(٢) :دخرمن لوښې .(٣) :دكوهي خيتهه.(٤) : دخصيتنو(هګو) پوكنړى جمع يې اجربة اوجرب راځي اوالمجرب په معنى دامتحان اخيستلو سوى سره اوالجورب په معنى دجرابو سره . **تركيب**:(لا)دنفي جنس(حليم) اسم دلا حرف استثناء لغوي ،(ذوعشرة) مضاف اومضاف اليه ، مضاف سره دمضاف اليه نه خبر دلانفى جنس،لا سره دخپل اسم اوخبر نه جمله اسميه خبريه ،ددويمي جملې تركيب په خپله وكړى اوهمدغه شان دى .

(۷۸) لَا عَقْلَ كَالتَّدْبِيْرِ (بيهقي) وَلَا وَرَعَ كَالْكَفِّ (بيهقي) وَلَا حَسَبَ كَحُسْنِ الْخُلُقِ (بيهقي)

(تخريج مشكوة صفحه ۴۳۰ س : ۲۳ عن ابی ذر رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه : هيڅ عقل نسته د تدبير په شان اوهيڅ تقوی نسته دبند بدلو په شان اوهيڅ شرافت نسته دښو اخلاقو پشان . **توضيح** : حضرت ابوذر غفاری رضی الله عنه چې دهغه نوم جندب دی فرمايي چې رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم وفرمايل : چې د تدبير په شان څه عقل نسته يعني چې کوم کار په تدبير سره وکړل سي هغه دعقلمندی کاروي بغير د تدبير څخه کار کول څه کمال اوعقلمندي نه ده اوخلکو ته د تکليف نه رسولو په شان څه تقولی نسته ،يا ژبه دګناهونو څخه بندول ددې په شان څه تقوی نسته دواړي معنی صحيح دی ، يعني خلکو ته قولا يا عملا تکليف ورکولو څخه خپل ځان ساتل ددې په شان هم څه تقوی نسته اوپه دريمه جمله کي يې دا ارشاد وفرمايلو چې دښه اخلاقو په شان هم څه شرافت نسته يعني چې دانسان اخلاق ښه وي داد ټولو څخه لوی شرافت دی ، ددې څخه بل لوی شرافت نسته ،دښو اخلاقو نه مراد صبر ،شکر ،توکل ،زهد ،محبت وغيره وغيره دی . **لغوي اوصرفي تحقيق** : عقل په معنی د(۱) : روحاني رڼا چې دهغه په وجه دغير محسوسا تو ادراک کيږي . (۲) :زړه . (۳) : ديت ، جمع يې عقول راځي دا دنصر اوضرب اوسمع دباب څخه مستعمل دی ،عقلا اوعقولا يې مصدرونه دي په معنی د(۱) : د تدبر کولو سره (۲) : دپوهي والا کېدل . (۳) : قبض راوستونکی دوايي . ددې څخه العقلة دی په کوم شئ چې اوښ تړل کيږي جمع عقل راځي ،العقال (۱) : هغه رسی ته ويل کيږي چې په کوم چې داوښ زنګون تړل کيږي . (۲) : کومه رسی چې په سر تړل کيږي اوالعاقل هوښيار جمع يې عقلاء اوعقال ده اوالعاقل په معنی د(۱) : ښځي (۲) : دغرځني چيلی (۲):ديت ورکونکی . جمع عاقلة راځي اوالعقول (۱):هوښيار (۲) :قبض راوستونکی دوايي او المعقل په معنی(۱):دپناه ځای .(۲) : داوښانو د تړلو ځای .(۳) : اوچت غر جمع يې معاقل راځي . تدبير په معنی دسوچ کولو په څه کار کي اودهغه په نتيجه باندي غور کول هغه ته توجه ورکول اوانتظام کول ،دادباب تفعيل مصدر دی ددې مجرد دباب دنصر اوسمع څخه دی ،دَبراً ودَبراً ودُبوراً يې مصادر دی په معنی دمړ کېدلو سره ،په شاتلل ،بوډا کېدل . ددې څخه تدبر دی په معنی دڅه معاملې په نتائجو باندی غول کول .الدبر والدبر دهرشي وروستنی حصه جمع ادبار راځي ،الدابر په معنی د(۱) :تابع .(۲) :اصل . (۳) : دهرشي اخر .(۴) :تيرسوی .مدبر هغه مريی چې هغه ته خپل مالک ووايي چې زما دمرګ څخه وروسته آزاد يې ،ورع په معنی دپرهيزګاری يعني دشبهاتو نه هم ځان ساتل ،جمع يې اوراع راځي ، دادباب دفتح اوکرم نه مستعمل دی ،په معنی (۱) : دګناهونو څخه بچ کېدل . (۲) : کمزوری کېدل (۳) : بزدل کېدل . (۴) : سپکيدل . ددې څخه الرعة په معنی دحالت . د کف تحقيق په حديث نمبر (۴۰) تيرسوی دی . حسب په معنی د(۱) کافي کېدلو سره

(۲) : مقدار .(۳) : تعداد (۴) : ښه نست والا کېدل ،داچه دنصر نه راسي نومعنی يې ده شمارل اوچې دسمع نه راسي معنی يې ګمان اوخيال کول دی اوچې د کرم څخه راسي نومعنی يې ده شريف اصل والا کېدل . حسبا اوحسابا اوحسبانا اوحسبة وغيره يې مصادر دی ، هم ددې څخه دی الحاسب په معنی دحساب دان سره جمع يې حسبة راځي ،يوم الحساب دقيامت ورځ اوالحسبة په معنی د(۱) : داجر اوثواب (۲) : مړي کانړو سره يا کفن ورکول سره دفن کول جمع يې حسب راځي ،الحسبان په معنی (۱) :دحساب .(۲) : د درو کي غشي ،داجمع ده ددې واحد حسبانة راځي اومحتسب په معنی دانسپکټر ، دحسن اوخلق تحقيقات په حديث نمبر(۳۲) کي تيرسوی دي .**ترکيب**:(لا) دنفی جنس لپاره (عقل) اسم دلا (کتدبير) جار اومجرور ،جار سره دمجرور متعلق سو په ثابت پوري ،ثابت اسم فاعل په دې کي دهوضمير دی هغه فاعل سو ،اسم فاعل دخپل فاعل اومتعلق نه شبه جمله خبر دلا سو ،لا سره داسم اوخبر نه جمله اسميه خبريه سوه ، دباقي دوو جملو ترکيب په خپله جوړ کړی .

(۷۹)لَاطَاعَةَ لِمَخْلُوْقٍ فِيْ مَعْصِيَةِ الْخَالِقِ (رواه فی شرح السنة)

ژباړه : هيڅ اطاعت (لازمی) نه دی دمخلوق ،دخالق په نافرمانی کي . **توضيح** : کوم ځای چې دالله تعالی نافرمايي کيږي هلته دمخلوق فرمانبرداری کول ناجائز اوحرام ده لهذا که چيرې پير اومرشد يا استاذ اومور اوپلار دناجائز کار کولو حکم کوي مثلا دربيرې خريلو ورته وايي يا دسينما کتلو ورته وايي يا درشوت اوسود اخيستلو ورته وايي يا ديوبل ناجائز کار حکم ورته کوي نو دوی حکم منل حرام دی اونافرمانی يې واجب ده ځکه چې خالق اومالک راضي نه دی ليکن چې خالق کوم ځای راضي کيږي هلته دمخلوق تابعداري جائز ده بلکه بعضو موقعو کي واجب ده ،مثلا لمونځ يې کولو موريا پلار ورته آواز وکړ نو دځه مجبوری په وجه لمونځ ماتول اودهغوی خبره اورېدل واجب دی . **پوښتنه** : په ژباړه کي هيڅ دکوم لفظ ترجمه کړی سوی ده ؟ **جواب** : دلته لاطاعة نکره ده اوکله چې نکره تحت النفی واقع سي نودعموم فائده ورکوي نوهيڅ ددغه عموم ترجمه سوه لهذا هرقسم ناجائز خبره يا کار دمخلوق په حکم باندې کول ناجائز دی . **لغوي اوصرفي تحقيق** :طاعة په معنی دفرمانبرداري کېدلو سره ،دادباب افعال مصدر دی اطاعة هم راځي اومعنی د دواړو يوه ده . ددې مجرد دفتح اونصر څخه دی په معنی دتابعداری کولو سره . هم ددې څخه تطوع ده په معنی دتکلف سره اطاعت کول اواستطاعت په معنی دطاقت لرلو سره او لايق کېدو سره .المتطوع او المطوع په معنی دفرض اوواجب نه علاوه نور نيک اعمال دنفلو په طور اداکولو والا ،معصية په معنی دنافرمانی کولوسره ،دښمني کول ، دادباب ضرب څخه مصدر دی دعصيا هم مصدر راځي ،عصيان اومعصيت په معنی دګناه او لغزش ،دمعصيت جمع راځي ،هم ددې څخه عصا دی په معنی د همسايا څه ده ،هداني ورکولو والا شئ .

ترکیب :(لا) دنفی جنس لپاره . (طاعة) اسم دلا (لمخلوق) جار اومجرو ، جار اومجرور متعلق اول سو دثابتة لپاره . (فی) جار (معصیة الخالق) مضاف اومضاف الیه ، ،مضاف سره دمضاف الیه نه مجرور دجار ، جار سره دمجرور نه متعلق ثانی سو ،ثابتة اسم فاعل سره دخپل فاعل چی هی دی اومتعلق شبه جمله خبر سو دلا ، لا سره داسم اوخبر نه جمله اسمیه خبریه سوه .

لَا صَرُوْرَةَ فِي الْاِسْلَامِ . (ابوداود) (تخریج مشکوة صفحه ۲۲۲ س:۵ عن ابن عباس رضی اللہ عنہ مرفوعا)

ژباړه : په اسلام کي تعلق پرېښودل نسته . **توضیح** : په اسلام کي رهبانیت نسته یعني دمخلوق لیري اوسیدل اوخپل ژوند تیرول ،ځانته اوسیدل اوځانله عبادت کول دې ته رهبانیت ویل کیږي اوپه اسلام کي بالکل رهبانیت نسته ، ددې حدیث دوې معنا ګاني کېدی سي ،اول معنی داده چي په داسي طریقه دخلکو څخه جلاسي چي واده هم ونکړي داپه اسلام کي نسته په اسلام کي نکاح او واده کول سته دی ، دصرورة لومړی معنی همدغه ده (نکاح پرېښودل) داپه اسلام کي نسته ،دویمه معنی دصرورة حج نه کول دنیا سره داسي تعلق قطع کول چي حج نه وي داهم رهبانیت دی اوصرورة دی اوداپه اسلام کي نسته .

لغوي اوصرفي تحقیق :صرورة په معنی (۱) :چاچي حج نه وي کړی (۲) :ناواده سوی . دا د نصر او ضرب دباب څخه مصدر دی ، صرا اوصرارا اوصریرا هم مصادر دی په معنی د (۱) : تهیلی ترل .(۲) : ذره ذره کول .هم ددې څخه دی الصرة په معنی د تهیلی سره جمع یې صرر ده اوالصرة د زور آواز ، اوالصرة په معنی د (۱) : دشور زوړ چغي ،سوری (۲) :جماع . (۳) : ترش روئي .

ترکیب : (لا) نفی جنس (صرورة) اسم دلا ، (فی الاسلام) جار اومجرور ،جار اومجرور متعلق سو په ثابتة پوري ،ثابتة اسم فاعل ضمیر (هی) په کي دی هغه فاعل ،اسم فاعل سره دفاعل نه اوسره دمتعلق نه شبه جمله خبر دلا ، لا سره داسم اوخبر نه جمله اسمیه خبریه سوه .

(۸۱) لَا بَأْسَ بِالْغِنٰى لِمَنِ اتَّقَى اللّٰهَ عَزَّوَجَلَّ .

احمد ،تخریج مشکوة صفحه ۴۵۱ س:۱۹ عن رجل من اصحاب الرسول صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم مرفوعا)

ژباړه : هیڅ نسته مالداری باندي هغه چا لپاره څوک چي نه ویریږي دالله تعالی نه چي عزت والا اولوی شان والا دی . **توضیح اوشان ورود** :یوصحابي فرمایي چي یوځل موږ په مجلس کي ناست ؤ چي نبي کریم صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم تشریف راوړو هغوی په سرمبارک باندي داوبو اثرات ؤ یعني غسل یې کړی وه ،تشریف یې راوړو نو موږ وویل اې دالله رسوله! صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم موږ تاسو ډیر خوشحاله وینو څه خبره ده ؟ حضور صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم وفرمایل : هانوخلکو دامیری اومالداری په باره کي خبري شروع کړی ،په دې باندي حضور صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم وفرمایل چي په مالداری کي هیڅ حرج نسته کله چي تقوی اختیار کړی سي ، یعني انسان اګرچي د کروړونو مالک وي لیکن ګناه نه کوي اوفرائض ،واجبات اوسنتو پابندي پابندی کوي ،نوپه دې

مالداری، کي هيڅ باک نسته بلکه چي هغه مالدار صدقه، خيرات کوي نو په ثواب کي به نور زيا توالی وي: ذٰلِكَ فَضْلُ اللّٰهِ يُؤْتِيهِ مَنْ يَشَاءُ. وی فرمايل چي صحت او تندرستي دهغه سړي لپاره چي حقوق اختيار کړی، دمالداري نه هم بهتر ده اودنفس خوشحالي يعني خوش طبعي دا دخاص نعمتونو څخه دی يعني دداسي نعمتونو نه چي دهغه شکر واجب دی. (بيهقي) **لغوي اوصرفی تحقيق**: بأس (۱): په معنی دشجاعت. (۲): قوت. (۳): ويره، عذاب کله چي دا دباب د کرم څخه راسي نوعنی يې داده مضبوط اويها در کېدل او که چيري دسمع نه راسي نو معنی دادی ډير مفلس کېدل وحاجت مند کېدل، هم ددې څخه دی بئس دافعل ماضي جامد دی، دمذمت لپاره استعماليږي، داپه اصل کي بئس الرجل ده (څومره خراب سړی دی) او البؤس په معنی دسختی او محتاجی سره دی جمع ابئوس، باساء، بؤسی ده، دغنی تحقيق په حديث نمبر (۲۷) کي اوداتقی په حديث نمبر (۲۸) کي تيرسوی دی، عز په معنی د (عزتمندسه) دادباب دضرب څخه دماضي مطلق واحد غائب صيغه ده، عزا اوعزة اوعزازة يې مصادر دی، ددې څخه العز په معنی (۱): دعزت. (۲): سخت باران او العزيز په معنی د (۱): شريف (۲): نادر (۳): معزز (۴): دالله تعالی داسماء حسنی څخه دی، جمع يې اعزاء راځي اوعزاز جل په معنی دلوی شان والا سو، داهم دباب دضرب څخه دماضي مطلق واحد غائب صيغه ده، جلالا اوجلالة مصدر دی په معنی (۱): دلوی شان والا کېدل. (۲): حجم کي زيات لوی والی (۳): په عمر کي زيا توالی، دادنصر څخه هم راځي، بيا ددې مصدر جلوس راځي اومعنی يې داده چي خپل وطن پريښودل او پردې وطن ته تلل، ددې څخه الجل او الجل دی په معنی د (څانګو) جمع يې جلال اواجلال راځي، الجل په معنی ډډير او الجلة په معنی دلوي ټوکری سره جمع يې جلال اوجلل راځي. **ترکيب**: (لا) نفی جنس لپاره (بأس) اسم دلا (بالغنی) جار اومجرور، جار سره دمجرور نه متعلق اول سو د ثابت (ل) جار (من) موصوله (اتقی) فعل هوفاعل لفظ (الله) ذوالحال، (عز) فعل هوفاعل، فعل سره دفاعل نه جمله فعليه خبريه معطوف عليه، (واو) عاطفه (جل) فعل (هو) فاعل، فعل سره دفاعل نه جمله فعليه خبريه معطوف، معطوف سره دمعطوف عليه نه حال، ذوالحال سره دحال نه مفعول به، فعل سره دفاعل اومفعول به نه جمله فعليه خبريه صله دموصول، موصول سره دصلې نه مجرور، جار سره دمجرور نه متعلق ثانی د ثابت، ثابت اسم فاعل سره دفاعل (هو) ضمير دی اوددواړو متعلقينو سره شبه جمله خبر دلا يې نفی جنس، لانفی جنس سره داسم اوخبر نه جمله اسميه خبريه سوه.

اَلْجُمْلَةُ الْاِسْمِيَّةُ الَّتِي دَخَلَتْ عَلَيْهَا حَرْفُ اِنَّ

(۸۲) اِنَّ مِنَ الْبَيَانِ لَسِحْرٌ (بخاری) اِنَّ مِنَ الشِّعْرِ حِكْمَةٌ (بخاری)

(تخريج مشکوة صفحه ۴۰۹ س: ۸، ۹ عن ابن عمر رضی الله عنه مرفوعا وعن ابی بن کعب رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه: بې شکه بعضي بيان خامخا جادووي، بې شکه بعضي شعر هوښيارتيا وي.

توضیح : من د تبعیض لپاره دی یعني بعضي بیان دا سي وي چي په هغه کي ډیر زیات تاثیر وي.

شان ورود : حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه فرمایي چي یو ځل دوه کسان د مشرق نه راغلل او تقریر یې وکړو د هغوی تقریر په خلکو ډیر ښه ولګیدو نو په هغه باندي رسول الله صلي الله عليه وسلم وفرمایل : چي بعضي بیان د تاثیر والا وي یعني د تاثیر څخه ډک وي لکه چي هغه جادو وي ،دویمه جمله دبل راوي څخه سوی ده چي په بعضي اشعارو کي ډیر لوی د کار خبري وي ، ټول اشعار خراب نه وي بلکه بعضي اشعار هم ښه وي په هغه کي د علم او حکمت خبري ،یاد ولرئ چي د اشعارو اوږدلو اولوستلو لپاره ټول څلور شرطونه دي.

(۱) :سامع :دی اصلاح یافته وي یعني دشعر غلط مطلب دې نه جوړه وي .(۲) : مسمع : یعني ویونکی دي سړی وي که چیري ښځه یا نابالغه وي نو دهغه نه شعر اوږدل جائز نه دی . (۳) : مسموع : یعني مضمون دی خلاف شرع نه وي.(۴) : السماع : یعني باجه وغیره به نه وي. **لغوي او صرفي تحقیق** : بیان د باب د ضرب څخه مصدر دي په معنی د خبري کول ، کلام کول ، هم د دې څخه دی تبیان په معنی د (په خپله پوهیدل) .**په بیان اوتبیان کي فرق** : بیان ویل کیږي بل پوهه کول اوتبیان ویل کیږي په خپله پوهیدل ، (۲) :د دې عکس .(۳) :دځه ابهام تفصیل ته بیان ویل کیږي . اومطلق کلام ته تبیان ویل کیږي .(۴) : دمافی الضمیر اظهار ته بیان وایي اوسره د دلیل نه اظهار مافی ضمیر ته تبیان وایي ،د ادواړه لفظونه لازم اومتعدی دواړه استعمالیږي ، اوداد مزید نه صرف په څلورو بابونو کي مستعمل دی .(۱) : افعال .(۲) :تفعیل .(۳) استفعال (۴):تفعل .دبیان اوتبیان اصطلاحي تعریف دادی :الاصوات التی یعبربها الناس عن اغراضهم من القلب . یادولرئ چي همدا تعریف د لسان لغت ،قول اود نطق هم دی ، سحر =تحقیق په حدیث نمبر(۴۹) کي تیر سوی دی ،الشعر داد باب د نصر او کرم اومع څخه مصدر دی ، په فتحي سره هم مصدر دی اوشعور وغیره هم مصدر دی ،داکه د نصر او کرم څخه راسي نومعنی یې داده : (۱) : شعرویل .(۲) : محسوس کول او پیژندل او که د سمع نه راسي نومعنی یې داده د اوږدو اوزیات وینبتو والا کېدل . دشعر جمع اشعار ده . د دې څخه شاعر په معنی دشعر ویونکی سره اوشعیر په معنی داوږشو ،حکمت په معنی د دانائي اوپوهي سره. **ترکیب**:(ان) حرف مشبه بالفعل .(من البیان) جار مجرور . دواړه متعلق سو ثابت پوري . د دې خبر مقدم سو .(لسحرا) اسم مؤخر . ان سره د اسم مؤخر او خبر مقدم نه جمله اسمیه خبریه سوه ،دغه شان دویم ترکیب هم دی .

(۸۳)اِنَّ مِنَ الْعِلْمِ جَهْلاً (ابوداود) اِنَّ مِنَ الْقَوْلِ عَیَالاً.

ابوداود ، تخریج مشکوة صفحه ۴۱۰ س : ۲۰,۲۱ عن صخر تابعی رحمه الله مرفوعا ۹

ژباړه : بې شکه بعضی علم جهالت دی ،بې شکه بعضی خبري بوج اووبال دی . **توضیح** : په کوم علم چي عمل ونکړل سي هغه علم نه دی بلکه جهالت دی ،هغه سړی عالم نه دی بلکه جاهل دی ،د علم سره ګناه

کول د ټولو څخه لوی جهالت دی او د عمل کولو دوبري نه علم نه حاصلول دوچنده ګناه ده ،د قیامت په ورځ په دې ویلو سره نسي خلاصیدلی چې ما ته معلومات نه ؤ یعني زه نه پوهیدم یعنی جهالت عذر نه دی ،په علم باندې عمل کول ضروری دی ، په دویمه جمله کې یې ارشاد وفرمایلو چې هره خبره ښه نه وي بعضې خبري په خپل ځان باندې پیټې او ګناه ګرځي ،مثلا د غیبت په وجه خپلې نیکی دبل چا ګرځي او د نورو خلکو ګناهونه ده ګرځي ، نو ټوله ګناه دویونکی سوه ،ددې ګناه به هم هغه څوک وچتوی چا چې دغه شان خبري کړی وي یعني دشرع نه خلاف خبرو کولو کې ګناه وي او دهغه بوج او ګناه په ویونکی باندې پرېوزي . **لغوي او صرفي تحقیق** : العلم او جهل دواړه مصادر دی ،دباب دسمع څخه او ضدین دی ،القول په معنی دوینا سره ویل اجوف واوي دی مصدر دی ودباب دنصر څخه ،عیالا ، په معنی دبوج او ګناه سره ددې ټولو الفاظو تحقیق تیر سوی دی . **ترکیب** : (ان) حرف مشبه بالفعل (من العلم) جار او مجرور متعلق په ثابت پورې خبر مقدم ،جهلا اسم مؤخر ،ان داسم او خبر سره جمله اسمیه خبریه سوه ، دویم ترکیب همدغه شان دی

(۸۴) اِنَّ یَسِیْرَ الرِّیَاءِ شِرْکٌ .

ابن ماجه (تخریج مشکوة صفحه ۴۵۵ س: ۱۷ عن عمر بن خطاب رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه : بیشکه لږ شان ریا هم شرک دی. **توضیح** : حضرت عمر یوه ورځ د رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم مسجد طرف ووتلو نو د روضه اقدس صلی الله علیه وآله وسلم سره معاذ بن جبل رضی الله عنه ناست ؤ ژړل یې ،نو حضرت عمر رضی الله عنه پوښتنه وکړه چې کوم شئ تا ژړوی نو معاذ رضی الله عنه جواب ورکړو ماهغه شئ ژړوي چې ما د حضور صلی الله علیه وآله وسلم څخه اوریدلی دی هغه دادی چې نبي کریم صلی الله علیه وآله وسلم وفرمایل : چې بې شکه لږ غوندې ریا هم شرک دی . **پوښتنه** : ولې ریا کولو والا مشرک او کافر ګرځي . **جواب** : ریا کاري حکمی شرک دی ،ریا ته شرک ددې وجې څخه وویل سو چې د ریا معنی داده چې غیر الله ته خپل عبادت ښودل او کول ،اوس الله تعالی هم وینې دهغه څخه علاوه بل چا ته ښودل دا الله تعالی سره دشریکولو یو صورت دی او دې ته شرک حکمي او شرک اصغر وایي ،دا ډیره لویه ګناه لیکن انسان دایمان دائرې څخه نه وزي ،په حدیث کې دي رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم وفرمایل : چې آیا زه تاسو ته داسي شئ ونه ښایم چې په هغه سره تاسو د شرک اکبر (کفر) او شرک اصغر (ریا) څخه محفوظ سی ،هغه دا چې تاسو هرورځ دا دعاء دریې ځلي وایاست :

اللهم انی اعوذبک ان اُشرک بِکَ وَاَنَا اعلمُ وَاستغفرک لِمَا لَا اَعلَمُ .

لغوي او صرفي تحقیق : یسیر دامثال یایی دی او د کرم څخه مصدر دی په معنی د کمیدلو سره او د ضرب څخه هم راځي ،بیایې معنی داده :نرم کېدل . تابعدار کېدل هم ددې څخه المیسر په معنی د جواری سره یا په معنی دریا سره ، ددې تحیق په حدیث نمبر (۴۹) کې او د شرک په حدیث (۳۱) کې

تیرسوی دی . **ترکیب** : (ان) : حرف مشبه بالفعل .(یسیر الریا) مضاف اومضاف الیه ،مضاف سره دمضاف الیه نه اسم دان .(شرک) خبر دانّ ،ان سره داسم اوخبر نه جمله اسمیه خبریه سوه .

(۸۵) إِنَّ السَّعِيْدَ لَمَنْ جُنِّبَ الْفِتَنَ :تخریج مشکوة صفحه ۴۶۴ س: ۲۵ عن مقداد بن اسود (رضی اللہ عنہ مرفوعا)

ژباړه : بې شکه نیک بخته هغه دی چې دفتنو څخه خوندي پاته سي .**توضیح** : بدبختی اونیک بختی دا دوه صفتونه الله تعالی پیدا کړی دی ،نوسعادت په صفت هغه سړی مشرف کېدلی سي چې په فتنو کې دغورزېدلو نه بچ کړی سوی وي اودا خلاصون هم الله تعالی کوي ، نوسعید به هغه وي چې هغه الله تعالی په فتنو کې دغورزېدلو نه بچ کړی ،دفتنونه مراد هرقسم فتنه ده خواه دقادیانیت وي یافتنه دتحریف داسلام وي وغیره وغیره ،دهرقسم فتنې نه محفوظ وي اوپه خپل کوشش سره هم بچ کړي نوهغه سعید اونیک بخت دی ، ددې مقابل کې شقي هغه دی چې ګناه کار اوبدبخت وي .

لغوي اوصرفي تحقیق : السعید داصیغه دصفت ده اودسمع اوفتح دباب څخه مستعمل ده ،سعدا اوسعودا اوسعادة يې مصادر دی په معنی دنیک بخت کېدلو اوخوش نصیب کېدلو ، هم ددې څخه دی مسعود یعني دالله نیک بخت جوړل کړی سوی ، جنب دباب تفعیل نه دماضي صیغه ده ،په معنی دلري کړی سوي اوبچ کړی سوی ،په مجرد کې دادنصر اوسمع اوضرب نه مستعمل دی ، ددې څخه دی الجنب په معنی د(۱) : دنافرمان .(۲) : ناپاک .(۳): مسافر اجنبی . ددې څخه جناب دی په معنی دصحن ، ګټ . الفتن جمع دفتنة ده دفتنة معنی (۱) :ازمائش .(۲) : ګمراهي .(۳) : عذاب .(۴) : مال اولاد . (۵): درائي اختلاف (۶) : کفر . دادضرب دباب څخه دی ،فتنًا وفُتُونًا وفتنة يې مصادر دی .

ترکیب:(ان) حرف مشبه بالفعل (السعید) اسم دان (ل) ابتدائیه جار(من) موصول (جنب) فعل هوضمیر نائب فاعل (الفتن) مفعول به ،فعل دخپل نائب فاعل اومفعول به نه جمله فعلیه خبریه صله دموصول ،موصول سره دصلې نه خبر دان ،ان سره داسم اوخبر نه جمله اسمیه خبریه سوه .

(۸۶) إِنَّ الْمُسْتَشَارَ مُؤْتَمَنٌ ،

ترمذی .تخریج مشکوة صفحه ۴۳۰ س: ۱۳ عن ابی هریرة (رضی اللہ عنہ مرفوعا)

ژباړه : بې شکه دچا څخه چې مشوره اخیستل کیږي هغه امانت دار وي .

توضیح : مشوره داسي سړی نه اخیستل پکار دی چې هغه امانت دار وي اومشوره ورکونکی ته پکار دی چې صحیح مشوره ورکړي ،باقی په المجالس بالامانة کې تیر سوی دی ،چې دیو مجلس خبري بهرکول ډیرلوی خیانت دی اوناجائز دی ،البته د دې قسمه خبرو اجازت په احادیثو کې راغلی دی .(۱) : چې په دغه مجلس کې دناجائز قتل منصوبه جوړه ږي . (۲): یا دیوې بنځې سره دزنا کولو پروګرام جوړسي .(۳): یا دچانه په ناحق (ناجائز) طریقې سره دمال ضبط کولو منصوبه جوړه سي .

داقسم خبري بهر کول خیانت نه دی اوپه دې کي ګناه نسته بلکه ثواب دی.

شان ورود : حضور ﷺ ابوالهیثم رضی الله عنه څخه پوښتنه وکړه ایا ستاخاد سته دی ؟هغه وویل چي نسته نو نبي کریم ﷺ وفرمایل کله چي موږ ته قیدیان راسي نوبیا راسه نودوه قیدیان راوسټلی سو ،نبي کریم ﷺ وفرمایل : په دې دواړو کي ځان لپاره خوښ کړه نوابو الهیثم رضی الله عنه وویل چي حضور ﷺ تاسو یې زما لپاره خوښ کړی ،په دې موقعه باندي حضور ﷺ وفرمایل : اِنَّ الْمُسْتَشَارَ مُؤْتَمَنٌ. چي دچانه مشوره واخیستل سي هغه امین ګنړل کیږي ته داغلام واخله بیشکه زه وینم چي دې لمونځ کوي.

(۸۷) اِنَّ الْوَلَدَ مَبْخَلَةٌ مَجْبَنَةٌ : تخریج مشکوة صفحه ۴۰۳ س ۱ عن یعلی رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه : بې شکه زوی دبخل دبزدلي سبب وي

توضیح اوشان ورود : حضرت یعلی رضی الله عنه فرمایي چي حضرت حسن رضی الله عنه اوحضرت حسین رضی الله عنه دواړه د حضور ﷺ طرف ته په منډه ورغلل نوحضور ﷺ هغه دواړه ځان ته رانژدې کړل اووی فرمایل :بیشکه زوی دبخل اوبزدلی سبب ګرځي وداد کمال محبت نښه ده یعني دزوی سره دومره محبت کول کیږي چي سړی دهغه لپاره مال جمع کوي اود اولاد دوجي نه په جنګ جګړه وغیره کي زیاته حصه نه اخلي ، ددې وجي نه زوی دبخل اوبزدلی سبب ګرځیدلو کوم ځای چي شریعت دمال خرچ کولو حکم کوي هلته بخل حرام دی اوکوم ځای چي شریعت ویلی وي چي بزدلي مکوه هلته بزدلي حرامه ده ،مثلا زکوة واجب کېدو سره زکوة نه اداکوي نوداسي بخل حرام دی ،دغه شان دصفا مروه په مینځ کي دمنډې اوبهادرې په ځای بزدلي ښکاره کول حرام اوناجائزدی ، ددې وجي نه داولاد سره دومره محبت کول نه دی پکار چي سړی دناجائزې درجې بزدلي اوبخل اختیار کړی اودمال سره محبت نه دی پکار.

ژباړه یَا أَیُّهَا الَّذِینَ آمَنُوا لَا تُلْهِکُمْ أَمْوَالُکُمْ وَلَا أَوْلَادُکُمْ عَنْ ذِکْرِ اللّٰهِ : اې ایمان لرونکو ! خیال ساتی چیرته تاسو ستاسو مالونه او اولاد دالله تعالی دذکر څخه غافله نه کړي اویل ځای کي داسي فرمایي: أَنَّمَا أَمْوَالُکُمْ وَأَوْلَادُکُمْ فِتْنَةٌ. یعني ستاسو مال او اولاد ستاسو لپاره فتنه او ازموینښت دی. **لغوي اوصرفي تحقیق** : مبخلة په معنی دپه بخل باعث کونکی دادسمع اوکرم څخه دی . ددې څخه بخیل په معنی دشوم جمع یې بخلاء راځي ،مجبنة په معنی دبزدلی باندي باعث کونکی دادکرم څخه دی . ددې جین په معنی دبزدلی جمع جبناء راځي. **ترکیب** :(ان) حرف مشبه بالفعل .(الولد) یې اسم (مبخلة) یې خبراول.مجبنة یې خبرثانی ،ان سره داسم اود دواړو خبرینو جمله اسمیه خبریه سوه.

(۸۷) اِنَّ الصِّدْقَ طَمَانِینَةٌ وَاِنَّ الْکِذْبَ رِیبَةٌ.

احمد وترمذی، تخریج مشکوة صفحه ۲۴۲ س ۹ عن حسین بن علی رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه : بیشکه ربنتیا (سبب) داطمینان دی اوبې شکه درواغ نا قراري ده .

توضیح : ربنتیا ویل دسکون باعث دی دربنتیا ویلو څخه وروسته اطمینان وي اود درواغ ویلو وروسته بې قراري وي ، که چیري یو درواغ وویل سي نو دهغه برقراره ساتلو لپاره دډیرو نورو درواغو ویلو ضرورت وي .صدق او کذب لکه څنګه چې په اقوالو کې چلیږي دغه شان په افعالو کې هم چلیږي ،یعني په کوم کار کې چې شک وي نو هغه پرېښود ل پکار دی ،په دې کې به اطمینان وي اوپه کوم کار کې چې شک نه وي هغه کول پکار دی ،ددې لپاره چې زړه مطمئن وي او ربنتیا ویل په شریعت باندي عمل کول دی ،څوک چې په شریعت باندي عمل کوي هغه هیڅکله نه پریښانه کیږي ،په دې وجه دربنتیا ویلو والا هیڅ کله نه پریښانه کیږي ،دظالم بادشاه په مخکې ربنتیا ویل اودحق خبره کولو نه بهتر جهاد ویل سوی دی ، ددې وجې نه بغیر دشرعي ضرورت نه درواغ ویل حرام دی کوم ځای چې درواغ ویل جائز وي هلته هم دتوریه په شکل جائز دی ،دتوریه معنی داده چې متکلم بعیده معنی واخلي اومخاطب قریبه معنی واخلي لکه چې یوسړی دکور والونه دزید په باره کې تپوس وکړي چې په کور کې ستا یانسته ، نو دکور والو په یو لاس دائره جوړ کړی اوپه بل لاس هغه ته اشاره کول اودا ویل چې دلته نسته ،داتوریه ده ،دضرورت دوجې نه توریه جائز ده .امام غزالي رحمة الله علیه په تبلیغ دین کې ددې وضاحت کړی دی که ډیر شوق وي (نو هلته دی رجوع وکړی سي) **لغوي او صرفي تحقیق** : طمانیة دادباب افتعال څخه مصدر دی ،اطمینان یې هم مصدر راځي ، معنی یې داده چې آرام کول اوقراري نیول ،الطمن او المطمئن په معنی دساکن سره دراغلی دی ،دکذب معنی په حدیث نمبر (۳۰) کې وګورئ ، ریبة دامفرد دی په معنی د(۱) : شک .(۲): تهمت .(۳) :بې ارامي . ددې جمع ریب راځي دادضرب دباب څخه استعما سوی دی ،ریبا یې مصدر راځي په معنی د (څوک په شک کې یا په تهمت کې غورزول) **ترکیب** :(ان) حرف مشبه بالفعل (الصدق) یې اسم (طمانیة) یې خبر ان .ان دخپل اسم اوخبر سره جمله اسمیه خبریه ،دغه شان دویمي جملې ترکیب هم وکړئ .

إِنَّ اللهَ تَعَالٰى جَمِيْلٌ يُحِبُّ الْجَمَالَ.

مسلم، تخریج مشکوة صفحه ۴۳۳ س ۱۸ عن ابن مسعود رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه : بې شکه الله تعالي ښائسته دی ،ښائسته والی خوښوي .**توضیح اوشان ورود** : پوره حدیث داسي دی ،عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه فرمایي چې حضور صلی الله علیه وسلم وفرمایل : چې دچا په زړه کې د ذرې په اندازه تکبر وي هغه به جنت ته نه ځي ،نو یو صحابي پوښتنه وکړه چې یارسول الله ! صلی الله علیه وسلم که چیري یوسړی ښې جامې اوبهترینې پنړی په پښو کول خوښه وي نوداهم په تکبر کې داخلیږي نو په جواب کې یې وفرمایل : اِنَّ اللهَ تَعَالٰى جَمِيْلٌ يُحِبُّ الْجَمَالَ. چې الله تعالی په خپله بې اندازه ښکلی دی

اوهغه ښائست خوښوي متکبر خوهغه څوک وي چې دحق مقابله کوي اوخلک ذلیل وګڼي (حدیث ختم سو) ددې حدیث نه معلومه سوهن چې دخپل طاقت موافق ښه لباس اغوستل چې په دې کې واسکټ،شیرواني هم داخل دی اوښائسته پنړی استعمالول اوپه کور کې سنګ مرمر لګول اودخپل ځان لپاره کرسۍ ساتل اوائیر ګنډیشن ،موټر یاځه بل قسمه سورلۍ ساتل ،که چیرې خپل مال وي داټول جائز دی دابالکل فضول خرچي نه ده څومره چې کېدلی سي ،ښائستوالی خوښول پکار دی دخپل طاقت موافق ځکه چې الله تعالی ښائست خوښوي ،البته دچاپه مال سره یاقرض اخیستلو سره ښائست اختیارول یاپه خپل مال سره ښائست کول دتکبر لپاره داد ګناه صورتونه دی .

لغوي اوصرفي تحقیق : جمیل صیغه دصفت ده په معنی د (دښه ښکل اوښه اخلاقو والا) داکه چیرې دباب دنصر څخه راسي نومصدر یې جملا راځي په معنی دښائسته شکل اوښائسته اخلاقو سره ، ددې څخه جمال په معنی دحسن اوجمال په معنی د ډیر زیات ښائست اوجمل په معنی د (اوښ) جمع جمل جمال اواجمال راځي او الجملة په معنی د (۱) : مجموعه سره (۲) : هغه کلام چې دمسند اومسند الیه څخه مرکب وي جمع یې جمل راځي .**ترکیب**:(ان) حرف مشبه بالفعل لفظ (الله) ذوالحال (تعالی) فعل هوفاعل ،فعل سره دفاعل نه جمله فعلیه خبریه حال سو،ذوالحال سره دحال نه اسم دان ،(جمیل) اول خبر (یحب) فعل هوفاعل ، (الجمال) مفعول به ، فعل سره دخپل فاعل اومفعول به نه جمله فعلیه خبریه سوه خبر ثانی ،ان سره داسم اود دواړو خبرونو نه جمله اسمیه خبریه سوه .

(۹۰) إِنَّ لِكُلِّ شَيْءٍ شِرَّةً وَلِكُلِّ شِرَّةٍ فَتْرَةٌ،

ترمذی،تخریج مشکوة صفحه ۴۵۵ س ۵ عن ابی هریرة رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه : بې شکه دهرشي لپاره تیزي وي اودهر تیزي لپاره سستي وي .

توضیح : دحدیث مطلب دادی کله چې بنده په عبادت کې مبالغه کول شروع کړي یعني په شروع شروع کې ډیر زیات عبادت کوي اوبیا سست شی داسي نه ده پکار ،په دې دین کې نه افراط شته چې ډیر زیات والی وکړل سي اونه تفریط سته چې کوتاهي وکړل سي ،بلکه زموږ په دین کې میانه روي ده ،میانه روي اختیارکړل سي اواعتدال سره کارو کړل سي ،نفلي عباد تونه کم وکړی لیکن همېشه وکړی سي . دابهتر ده ددې څخه چې ډیرزیات عبادت وکړی سي لیکن همېشه یې نه کوي ،زیات تفصیل په حدیث نمبر(۵۳) کې وګوري .**لغوي اوصرفي تحقیق** : شئ دباب دفتح څخه مصدر دی معنی یې اراده کول، غوښتل . ددې جمع اشیاء راځي اوجمع الجمع یې اشیاوات ده ،شرة په معنی د(۱) : خرابي . (۲) تیزي . (۳) : سپکوالی . (۴) : کمزوري .(۵):حرص .نور تفصیل یې په حدیث نمبر(۵۸) کې وګورئ . فترة دامصدر دی دنصر اوضرب څخه په معنی د(۱) :سستی (۲) : کمزوری (۳): د دوو

پیغمبرانو په مینځ کي زمانه. (۴) : د دوو تبو (بخار) په مینځ کي زمانه (۵) : صلح. جمع یې فترات ده فتورا هم مصدر راځي معنی یې داده د تیزي نه وروسته ساکن کېدل. **ترکیب**: (ان) حرف مشبه بالفعل. (ل) جار (کل شئ) مضاف او مضاف الیه. مضاف سره د مضاف الیه نه مجرور د جار، جار سره د مجرور نه متعلق په ثابت پوري، ثابت اسم فاعل دخپل فاعل (هو) ضمیر او متعلق سره شبه جمله خبر مقدم لپاره دان، (شرة) اسم مؤخر، ان سره د اسم او خبر نه جمله اسمیه خبریه معطوف علیه (واو) عاطفه (ل) جار (کل شرة) مضاف او مضاف الیه، مضاف سره د مضاف الیه نه مجرور د جار، جار سره د مجرور نه متعلق په ثابت پوري، ثابت اسم فاعل سره د خپل فاعل نه چې هو ضمیر دی او متعلق نه شبه جمله خبر مقدم، فترة مبتداء مؤخر، خبر مقدم د خپلې مبتداء مؤخر سره جمله اسمیه خبریه معطوف، معطوف علیه سره د خپل معطوف نه جمله معطوفه سوه

(۹۱) إِنَّ الرِّزقَ لَيَطْلُبُ الْعَبْدَ كَمَا يَطْلُبُهُ أَجَلُهُ.

(بونعیم، تخریج مشکوة صفحه ۴۵۴ س ۷ عن ابی الدرداء رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه: بې شکه رزق بنده داسي تلاش کوي لکه څنګه چې بنده مرګ تلاش کوي.

توضیح: چرته چې دانسان رزق لیکل سوی وي هلته ورته ملاویږي، لکه څنګه چې مرګ کوم ځای او کوم وخت لیکل سوی وي هم په هغه مقرر وخت باندې راځي د غه شان رزق هم چې کوم ځای او کوم وخت لیکلی سوی وي په مقرر وخت ملاویږي، دزیات وضاحت لپاره یوه د رزق قصه او یوه د مرګ قصه درته ذکر کوو چې ډیرښه وضاحت راسي. **رزق په مقرره وخت باندې ملاویږي**: دفارسي په کتاب کي یو طالب العلم ولوستل چې (بزوري برسد) چې رزق په زبردستي سره رسیږي، ده امتحان کول وغوښتل او وې ویل چې زه به نن ډوډۍ نه خورم ګورم چې څنګه په زبردستي سره رسیږي، د غه طالب علم دکور نه بهر دیوځنګل په طرف روان سو تردې چې په یو قبرستان باندې تیر سو هلته په یو قبر باندې متایي پرته وه چې هغه یې ولیدله نو دهغه ځای نه په منډه سو هلته نژدې یو څوکسانو دې را ونیولو او ورته وې ویل چې مور ته ولیدلی چې په متایي کي دي راته زهر واچول منډه دي کړه، تیښته کوی زمور سره ولاړسه او متایي وخوره په زور او وهلو سره یې ورباندې متایي وخوړله، د غه شان هم الله تعالی رزق رسوی. **مرګ هم په مقرر وخت راځي**: دشام په ملک کي سلیمان علیه السلام ناست ؤ نور خلک هم ورسره ؤ چې عزرائیل علیه السلام راغی او سلیمان علیه السلام دهغه څخه پوښتنه وکړه چې تاسو په یو منټ کي په یوځای کي او په بل منټ کي زر میله لري دنورو انسانانو روحونه څنګه وباسی نوهغه جواب ورکړو چې دټولې دنیا روحونه ایستل ماته داسي دی کله دیو پلیټ نه دانارو دانې چې ځومره غواړم هغومره را واخلم په دې دوران کي عزرائیل علیه السلام یوسړي ته ډیر ډیر کتل چې دسلیمان علیه السلام سره ناست ؤ کله چې عزرائیل علیه السلام ولاړو نوهغه سړي را وراندي سو او سلیمان علیه السلام ته یې وویل چې داخوک ؤ چې ماته یې ډیر ډیر کتل نو حضرت سلیمان علیه السلام وفرمایل: چې دا عزرائیل علیه السلام ؤ، نوهغه سړی وویرېدو چې

چرته زما روح ونه باسي په دې وجه تاسو داسي وکړي چې دهوا په ذريعه ماهندوستان ته ورسوی ، نو هغه هندوستان ته ورسيدلو ، دويمه ورځ خبر راغی چې هغه وفات سوی دی ، نوسليمان عليه السلام دعزرائيل څخه تپوس وکړو چې داڅه خبره وه نوهغه ورته وويل چې کوم وخت زه تاته راغلی وم نوداسړی تاسره ناست ؤ ماده ته ددې وجې نه کتل چې ماته دده دروح قبض کولو حکم په هندوستان کې سوی ؤ نوماده ته په غور سره کتل چې داهم هغه سړی دی يابل څوک دی معلوميږي خوهم هغه ليکن دی خوبه آرام سره دشام په ملک کې ناست دی ، دې به په يوه ورځ کې هلته هندوستان ته څنګه ورسيږي ، بهرحال دعزرائيل عليه السلام کتل په مقرر وخت دروح وتلو لپاره سبب جوړ سو . إِنَّ أَجَلَ اللّٰهِ إِذَا جَاءَ لَا يُؤَخَّرُ. کله چې مرګ راسي نوهغه نه وروسته کيږي. **لغوي او صرفي تحقيق** : الرزق مفرد دی په معنی دروزي سره جمع يې ارزاق ، دادنصر دباب څخه دی رزق يې مصدر راځي په معنی دروزی رسولو سره ، اجل مفرد دی ، ددې جمع اجال راځي معنی يې داده (۱) : مرګ (۲) : وخت . (۳) : موده (۴) : آو (۵) : بيشک . دادباب دنصر اوسمع څخه استعمال دی ، ددې څخه اجل په سکون دجيم سره دامصدر دی دنصر څخه ددې معنی سبب ده دسمع نه اکثر څټ کې د درد په معنی استعماليږي ، اجل ويل کيږي دڅټ درد ته (په کسره دهمزې سره اوسکون دجيم سره) . **ترکيب** : (ان) حرف مشبه بالفعل (الرزق) اسم دان (ل) تاکيديه (يطلب) فعل هوفاعل (العبد) مفعول به (ک) جار (ما) مصدريه (يطلب) فعل ، (ه) مفعول به (اجله) مضاف اومضاف اليه ، مضاف سره دمضاف اليه نه فاعل سو ديطلب ثانی لپاره ، فعل سره دفاعل اومفعول به نه جمله فعليه خبريه په تاويل دمصدر سره مجرور دجار ، جار سره دمجرور نه متعلق په يطلب اول پوري ، فعل سره دفاعل اومتعلق نه جمله فعليه خبريه خبر دان سو ، ان سره داسم اوخبر نه جمله اسميه خبريه سوه .

(۹۲) إِنَّ الشَّيْطَانَ يَجْرِيْ مِنَ الْإِنْسَانِ مَجْرَى الدَّمِ

(بخاري ومسلم ، تخريج مشکوة صفحه ۱۸ س ۲۱ عن انس رضي الله عنه مرفوعا)

ژباړه : بې شکه شيطان ګرځي په انسان کې دوينې دګرځيدو په ځای کې

توضيح : ددې حديث دړې معنی دي ځکه چې دمجرا په صيغه کې دړې احتماله دي ، اول احتمال دادی چې شيطان په انسان کې دغه شان چليږي لکه چې وينه په خپلو رګونو کې چليږي . يعني شيطان وسوسې اچوي اوپه ګمراه کولو کې کوشش کوي لکه څنګه چې دوينې دچليدو پته نه لګيږي دغه شان دشيطان د وسوسو پته نه لګيږي ، په دې صورت کې مجری صيغه د مصدر ده دويمه معنی داده چې مجرا ظرف زمان دی يعني شيطان تړله زندګي کې وسوسی اچوی ترڅو چې ورته مرګ راځي ، دريمه معنی داده چې صيغه دمجرای ظرف مکان دی اوپه حقيقت باندې دی يعنې شيطان په حقيقت کې دانسان دننه د وينې په رګونو کې ګرځي ځکه چې هغه لطيف دی ، الله تعالی هغه ته داطاقت ورکړی دی

زموږ دامتحان لپاره ،موږ لره پکار دي چې موږ دشیطان وسوسو طرف ته توجه ونکړو ،وسوسه راتلل ګناه نه ده راوستل یې ګناه ده . **لغوي او صرفي تحقيق** : شیطان دباب دنصر څخه مصدر دی په معنی دسرکښي کولو سره ،یجري دباب دضرب څخه دمضارع واحد مذکر صیغه ده ،انسان مفرد دی ، ددې جمع اناس راځي دنسیان نه څخه اخیستل سوی دی ، په معنی دهیرولو سره ، مجرای دباب دضرب څخه مصدر میمی دی ،یادظرف صیغه ده ،الدم ددې اصل دمی یا دمودی دسمع څخه په معنی د وینې سره په دې کې یولغت دمة دی په معنی دی حقیر. میږی .سپګه . پیشو . ددې څخه دمة په معنی د ګوډی. طریقه جمع دمم راځي . ددې څخه الدیمومة به معنی د دوام اوهمیش والي سره. **ترکیب**:(ان) حرف مشبه بالفعل (الشیطان) اسم دان . (یجری) فعل ضمیر په کې پروت دی هغه فاعل ، (من) جار (الانسان) مجرور ،جار اومجرور متعلق سو په فعل پورې ، (مجرم الدم) مضاف اومضاف الیه ، مضاف سره دمضاف الیه نه مفعول فیه دفعل ،فعل سره دخپل فاعل اومفعول فیه اومتعلق نه جمله فعلیه خبر دان ، ان سره داسم اوخبر نه جمله اسمیه خبریه سوه .

(۳۴) إِنَّ لِكُلِّ أُمَّةٍ فِتْنَةً وَفِتْنَةُ أُمَّتِيَ الْمَالُ.

ترمذی، تخریج مشکوة صفحه ۴۴۲ س ۲۵ عن کعب بن عیاض رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه : بې شکه دهرامت لپاره یو ازمیښت دی اوزما دامت ازمویښت مال دی . **توضیح** :هرامت لپاره به څه نه څه امتحان ؤ ددې اخري امت امتحان مال دی یعني مال که چیرې کم وي نو په هغه باندې ګذاره کوي او که نه کوي او که مال زیات وي نو په ناجائزځای کې دخرچ کولو نه ځان بچ کوي یانه بچ کوي ،دامال امتحان دی چاچې دا په صحیح طریقه خرچ کړو هغه په امتحان کې کامیاب سو ،چاچې په غلط ځای کې خرچ کړو مثلا په سینما ،تیلي ویژن یافضول تصویرونو جوړولو یاپه زنا کې وغیره وغیره ،مال دغفلت باعث هم جوړیدلی سي لکه په قرآن کریم کې ددې دمهلک کیدو ذکر راغلی دی: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تُلْهِكُمْ أَمْوَالُكُمْ وَلَا أَوْلَادُكُمْ عَنْ ذِكْرِ اللَّهِ. **ژباړه**: اې ایمان لرونکو ! خیال ساتی چیرته تاسو ستاسو مالونه او اولاد دالله تعالی دذکر څخه غافله نه کړي اودمال دفتنې ذکر هم په قرآن کریم ذکر سوی دی: أَنَّمَا أَمْوَالُكُمْ وَأَوْلَادُكُمْ فِتْنَةٌ. یعني ستاسو مال او اولاد ستاسو لپاره فتنه او ازمویښت دی . چې دمال په وجه سره چیرته په ګناه کې پرې نه وزي ، اودغه شان داولاد طریقه په وجه چې چیرته بخیلان جوړنسي ،دواړه امتحان دی ،هوښیار سړی مال په صحیح طریقه ګټي اوخرچ کوي یې.

لغوي او صرفي تحقيق : امة په معنی د(۱) :جماعت .(۲) : وقت .(۳) :قدوقامت (۴) : طریقه . دادباب دضرب څخه دی .امت امتا قیاس کول اوانداز ه لګول . ددې امی په معنی دهغه کس چې لوستل نسي کولی ، اوامیة په معنی دمور کېدلو سره) دفتنې معنی په حدیث نمبر (۸۵) کې اودمال په حدیث (۳۵) کې تیرسوی دی. **ترکیب**:(ان) حرف مشبه بالفعل (ل) جار (کل امة) مضاف اومضاف

الیه ، مضاف سره دمضاف الیه نه خبر مقدم دان (فتنة) اسم مؤخر ، ان سره داسم اوخبر نه جمله اسمیه خبریه معطوف علیه (واو) عاطفه (فتنة امتی) مضاف اومضاف الیه ، مضاف سره دمضاف الیه نه مبتداء . المال یې خبر ، مبتداء سره دخبر نه جمله اسمیه خبریه معطوف ، معطوف علیه سره دمعطوف نه جمله معطوفه سوه

(۹۴) إِنَّ أَسْرَعَ الدُّعَاءِ إِجَابَةً دَعْوَةُ غَائِبٍ لِغَائِبٍ

(ترمذی، تخریج: مشکوة صفحه ۱۹۵ س ۲۰ عن عبدالله بن عمرو رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه : بې شکه دعا دزر قبلیدو په لحاظ سر دغائب دغائب لپاره ده . **توضیح**: دټولو څخه ژر قبلیدونکی دعاء هغه وي چې یوسړی غائب لپاره وکړل سي ، داد ټولو څخه ژر قبلیږي خصوصا دفرض لمانځه وروسته ځکه چې په حدیث کي راځي چې دفرضو وروسته اود تهجد کولو په وخت دعا قبلیږي ، اودجمعې په ورځ خاص طور یوساعت داسی دی چې په هغه کي دعاضرور قبلیږي ، لیکن دهغه علم په ښکاره ډول چاته نسته ، چې هغه کوم ساعت دی دجمعې دساعت په باره کي احادیث مختلف راغی دی ، ددې وجي نه دعلماؤ په دې کي دځلویښتونه زیات اقوال دی ، په هغه کي دوه قوله زیات راجح دي یوداچې کله امام دخطبې لپاره ممبر باندي کښیني ددغه وخت څخه ترلمانځه ختمیدو پورې اودویم ساعت دمازدیګر څخه وروسته دلمر پرېوتلو څخه وړاندي اخري یوه ګنټه ، په هرحال که چیرې څوک ددعالپاره درخواست وکړی نودهغه لپاره وروسته هم دعا پکار ده کله چې هغه موجود نه وي ، ددې لپاره ي ددعا مقصد حاصل سي ، یعني دعا قبوله سي او کله چې قبوله سي نو هغه به هم دده لپاره دعاء کوي ، ددې کتاب ، ویونکو ته هم زما (مصنف) لپاره دمغفرت ددعا درخواست دی ، دغائب دعا دغائب لپاره ځکه قبلیږي چې هغه دزړه نه دعا غواړي اوریا هم په کي نه وي . **لغوي او صرفي تحقیق** : اسرع داسم تفضیل دی ، دباب دسمع اوکرم څخه مصدر سرعة راځي په معنی دتلوار کولو سره ، ددې څخه سرعان په حرکات ثلاثه سره په معنی دتلوار کولو سره ، دا اسم فعل هم دی اودفعل تعجب لپاره هم استعمالیږي .

نکته : په عجلت اوسرعت کي فرق دادی چې یوشئ دوخت څخه مخکي کول داعجلت دی اوپه خپل وخت کي کول لیکن په تلواره کول داسرعت دی ، عجلت مذموم دی ځکه چې په حدیث شریف راغلی دی : العجلة من الشیطن. ددې معنی تیره سوی ده . اوسرعت محمود دی ځکه چې قرآن کریم ئې راغلی دی : وَسَارِعُوا إِلَى مَغْفِرَةٍ مِنْ رَبِّكُمْ. تلوار وکړی دخپل خدای ومغفرت طرف ته ، دافرق مولانا محمد ادریس کاندهلوی رحمة الله علیه دمقامات په حاشیه کي صفحه (۲۹) حاشیه (۱۴) کي لیکلی دی ، الدعاء دادنصر دباب څخه مصدر دی ددې جمع ادعیة راځي ، ددې څخه دعوة په معنی دآواز سره راغلی ، اجابة دادباب افعال څخه مصدر دی په معنی دجواب ورکولو اوقبلولو سره ، مجرد یې دباب دنصر څخه دی په معنی دګریوان جوړولو سره ، غائب دضرب دباب څخه اسم فاعل دی ، ددې جمع غیاب اوغیب راځي ،

ددې څخه غیب په معنی د(۱) : پټ شئ (۲) :راز.(۳) : شک ،جمع یې غیوب راځي اوددې څخه الغیبة دی یعني دچا شا پسې بدي بیانول ، داتیرسوی دی .**ترکیب** : (ان) حرف مشبه بالفعل (اسرع الدعاء) مضاف اومضاف الیه ،مضاف سره دمضاف الیه نه ممیز ، (اجابة) یې تمیز ، ممیز سره دخپل تمیز نه اسم دانّ ،(دعوة غائب) مضاف اومضاف الیه ، مضاف سره دمضاف الیه موصوف ، (لغائب) جار اومجرور ، جار سره دمجرور نه متعلق سو په ثابتة پوري ، ثابتة اسم فاعل دخپل فاعل (هی ضمیر) اومتعلق نه شبه جمله صفت سو ، موصوف سره دصفت نه خبر دان ،انّ داسم اوخبر نه جمله اسمیه خبریه سوه

(۹۵) إِنَّ الرَّجُلَ لَيُحْرَمُ الرِّزْقَ بِالذَّنْبِ يُصِيبُهُ.

ابن ماجه، تخریج مشکوة صفحه ۴۱۹ س ۲۱ عن ثوبان رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه : بې شکه خامخا محروم کول کیږي دخپل رزق نه دخپل ګناه په وجه کومه چې هغه کوي .

توضیح : پوره حدیث دادی چې حضور صلی الله علیه وآله وسلم وفرمایل : چې ددعا څخه ماسوا تقدیر بل هیڅ یوشئ نسي رد کولی . اودنیکی څخه سوا په عمر کي زیات والی بل هیڅ شئ نسي کولی ، اوبې شکه انسان دخپلي ګناه په وجه درزق څخه محروم ګرځول کیږي ددې حدیث مطلب دادی چې تقدیر لپاره وروستونکی شئ یواځي دعاء ده اوعمر زیاتونکی شئ هم یو دی اوهغه داچې په نیکی سره عمر کي زیات والی راځي ، اوګناه سره په عمر کي کمی راځي ، کله چې ګناه کوي نو درزق نه به محرومیږي اوچې درزق نه محروم سي نومرګ به راځي ،(ددې وجې نه داخبره یادساتل پکار دی چې دګناه په وجه دانسان حافظه کمزوری کیږي اودګناه په سبب سره په رزق کي هم کمي راځي اودګناه په وجه مرګ ژر راځي ، ددې وجې نه هوښیار هغه دی چې ګناه پریږدي اوحلال ګټې څخه رزق حاصل کړي .

لغوي او صرفي تحقیق : یحرم دضرب اوسمع دباب څخه دواحد مذکر غائب مضارع مجهول صیغه ده په معنی دمحروم کولو اودکرم څخه هم راځي په معنی دحرام کېدلو سره ،یصیب دادباب افعال څخه دواحد مذکر غائب صیغه ده ،اصابة یې مصدر دی په معنی ددرست کولو سره ، ددې مجرد نصر اوضرب څخه مستعمل دی په معنی دصحیح کېدلو سره . ددې الصواب په معنی د درست (دحق لائق) .

ترکیب : (ان) حرف مشبه بالفعل .(الرجل) یې اسم (ل) تاکیده (یحرم) فعل هو نائب فاعل .(الرزق) مفعول به (ب) جار (الذنب) ذوالحال .(یصیب) فعل هو فاعل (ه) مفعول به ، فعل سره دفاعل اومفعول به نه جمله فعلیه خبریه حال . ذوالحال سره دحال نه مجرور دجار ، جار سره دمجرور نه متعلق سو په فعل پوري ، فعل سره دخپل نائب فاعل اومفعول به اومتعلق سره جمله فعلیه خبریه خبر دان ،ان سره داسم اوخبر نه جمله اسمیه خبریه سوه .

(۹۶) إِنَّ نَفْسًا لَنْ تَمُوْتَ حَتّٰى تَسْتَكْمِلَ رِزْقَهَا.

رواه فی شرح السنة ،تخریج مشکوة صفه ۴۵۲ س ۲۳ عن ابن مسعود رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه : بې شکه هیڅ یوساه لرونکی بالکل نه مړ کیږي تردې چې هغه خپل رزق مکمل نه کړي .

توضیح اوشان ورود : دمکمل حدیث خلاصه داده چې حضور ﷺ وفرمایل : چې جنت ته نژدې کونکی اودوزخ نه لرې کونکی شئ صرف زما حکم دی ، دکوم شئ دکولو چې زه حکم وکړم نوهغه به کول وي اودکوم شئ څخه چې زه منع وکړم هغه څخه به منع کېدل وي ،بیایی وفرمایل : چې هر روح لرونکی ترهغه وخته پوري نه مري ترڅو چې هغه خپل رزق نه وي پوره کړی یعني کله چې رزق پوره سي نومرګ به راځي ،بیایې ددې څخه مخکې وفرمایل : اجملوا فی الطلب .یعني په اعتدال سره ګټه وکړی .انتهی ، کوم ځای چې رزق لیکل سوی وي هم هلته به ملاویږي ، زیاته تشریح ددې حدیث (۹۱) تیره سوی ده .

لغوي اوصرفي تحقیق : نفس روح ته ویل کیږي اونفس ساه ته ویل کیږي ، تموت واحد مؤنث غائب صیغه ده ، دباب دنصر څخه ، تستکمل دباب استفعال څخه صیغه دواحب مونث غائب ده ،ددې حدیث دټولو الفاظو تحیق تیرسوی دی . **ترکیب**:(ان) حرف مشبه بالفعل . (نفسا) اسم دان (لن تموت) فعل هی فاعل (حتی) جار (تستکمل) فعل هی فاعل ، (رزقها) مضاف اومضاف الیه ، مضاف سره دمضاف الیه نه مفعول به ،فعل سره دفاعل اومفعول به نه په واسطه د ان ،مجرور دجار ، جار سره دمجرور نه متعلق سو په فعل پوري ،فعل سره دفاعل اومتعلق نه جمله فعلیه خبریه خبر دان سو ، ان سره داسم اوخبر نه جمله اسمیه خبریه سوه .

(۹۷) إِنَّ الصَّدَقَةَ لَتُطْفِئُ غَضَبَ الرَّبِّ وَتَدْفَعُ مِيتَةَ السُّوءِ ،

ترمذی ، تخریج مشکوة صفه ۱۶۸ س ۲۴ عن انس رضی اللہ عنہ مرفوعا)

ژباړه : بې صدقه مړه کوي دالله تعالی غصه ، اولري کوي بدمرګ لره **توضیح** : صدقه کول وسره دالله تعالی ناراضګي ختمیږي اوغصه پخیږي اوالله تعالی خوشحالیږي ددې نتیجه داوي چې انسان دخراب مرګ څخه بچ کیږي اوخاتمه یې په ایمان ګرځي ، اوهم داد ټولو څخه لوی نعمت دی اود ټولو څخه لوی مقصد دی دکامیابي لپاره . که چیرې مال وي نو د روپو نه صدقه کیږي که چیرې پیسې نه وي نودبل څه شئ نه اګر چې یوه چوهاره وي صدقه کول پکار دي ځکه چې به نورو صحیح مرفوع احادیثو کې دصدقې حکم دی تردې حده پورې ذکر دی ، که چیرې نور هیڅ هم نه وي نوچاته ښه خبره کول هم صدقه ده ، یعني دځه نه صدقه کولو حکم دی ، اګر چې داحکم دوجوب په درجه کې نه دی لیکن بیاهم داحکم استحبابي ضرور دی اودچاسره چې دخپل مرګ فکر وي اودخاتمه بالخیر طلب کونکی وي هغه به ضرور په دې کار خیر کې حصه اخلي ، دصدقې بهترین حقداران دیني طالبان دی اوغریبان نژدې قریبان اوغریب ګاونډیان دي . **لغوي اوصرفي تحقیق** : تطفئ دادباب افعال څخه دواحد مؤنث صیغه ده په معنی داور مړ کولو سره په مجرد کې دسمع دباب څخه راځي ، غضب مصدر دی په معنی دغصه کولو سره تدفع دادفتح څخه دواحد مؤنث غائب صیغه ده ، په معنی دلري کولو سره ،میتة په اصل کې موتة ؤ چې دامصدر دنوع لپاره دی لکه جلسة ، دمیتة معنی (۱) :لیونتوب (۲) : میرګی .

السوء دامصدر دی دنصر دباب څخه په معنی دناکاره کېدلو سره . **ترکیب** : (ان) حرف مشبه بالفعل (الصدقة) دان اسم ، (ل) تاکیدیه (تطفئ) فعل (هی) فاعل (غضب الرب) مضاف اومضاف الیه ، مضاف سره دمضاف الیه نه مفعول به ، فع سره دفاعل اومفعول به جمله فعلیه خبریه ، معطوف علیه ، (واو) عاطفه (تدفع) فعل (هی) فاعل ، (میتة السوء) مضاف اومضاف الیه ، مضاف سره دمضاف الیه نه مفعول به سو ، فعل سره دفاعل اومفعول به نه جمله فعلیه خبریه مطعوف ، معطوف علیه سره دمعطوف نه خبر دان ، ان سره داسم اوخبر نه جمله اسمیه خبریه سوه .

(۹۸) اِنَّکَ لَسْتَ بِخَیْرٍ مِنْ اَحْمَرَ وَلَا اَسْوَدَ اِلَّا اَنْ تَفْضُلَهٗ بِتَقْوٰی ،

رواه احمد ، تخریج مشکوة صفه ۴۴۳ س ۹ عن ابی ذر رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه : بې شکه ته دیو سور رنګ والا یا تور رنګ والا نه زیات غوره نه یې مګر داچې ته خپل ځان د تقوی سره دفضیلت والا جوړ کړی . **توضیح** : ددې حدیث مطلب دادی چې دچا سور والی یا تور والی اود چا سپین والی یا دچا رنګ زیات ښائسته کېدل څه کمال نه دی ، په دې کې څه قسمه خیر نسته که چیرې خیر اونیکي ده نو صرف په تقوی اونیک عمل کولو کې ده یعني دسنتو په تابعداري کې ده ، علامه طیبي رحمة الله علیه ددې حدیث شریف معنی داکړی ده چې مراد داحمر څخه عجم اواسود څخه عرب دی یعني عجمي کېدل یا عربي کېدل څه کمال اوبهتري نه ده بهتري یواځې به تقوی کې ده .

لغوي اوصرفي تحقیق : داحمر معنی سور رنګ والا ، ددې جمع احامر راځي دادباب دنصر اوسمع څخه صفت مشبه ده داد وزن فعل اووصفیت دوجې نه غیر منصرف دی ، ددې څخه حمرت په معنی دسور رنګ اوالحمار په معنی دخر ، دحمار جمع حمیر اواحمرة راځي اوسود دادباب سمع څخه دی ، صفت مشبه ده په معنی دتور رنګ والا . ددې جمع سود راځي ، تفصیل دباب دنصر څخه دواحد مذکر حاضر صیغه ده ، تقوی دباب افتعال څخه مصدر دی په معنی دپرهیزګاری سره ، ددې څخه تقی په معنی دپرهیزګار جمع یې اتقیاء راځي دمجرنه اوددې څخه وقایة مصدر په معنی دحفاظت کول سره راغلی دی .

ترکیب : (ان) حرف مشبه بالفعل (ک) اسم سو (لست) فعل ناقص (انت) ده اسم سو ، (ب) جار (خیر) اسم تفضیل (من) جار (احمر) معطوف علیه (واو) عاطفه (لا) زائده للتاکید (اسود) معطوف ، معطوف سره دمعطوف علیه نه مجرور ، جار سره دمجرور نه متعلق په اسم تفضیل پورې ، اسم تفضیل سره دفاعل (هو ضمیر) اومتعلق نه شبه جمله مجرور دجار ، جار سره دمجرور نه متعلق په ثابتا پورې ، ثابتا اسم فاعل سره دفاعل (هو) اومتعلق نه شبه جمله خبر . لست فعل ناقص سره داسم اوخبر نه جمله فعلیه خبریه مستثنی منه (الا) حرف استثناء (ان تفضل) فعل انت پکښې ضمیر هغه فاعل (ه) مفعول به (ب) جار (تقوی) مجرور ، جار سره دمجرور نه متعلق سو په فعل پورې ، فعل دخپل فاعل اومفعول به اومتعلق سره جمله فعلیه خبریه مستثنی . مستثنی منه دخپلې مستثنی سره خبر دان ، ان داسم اوخبر سره جمله اسمیه خبریه سوه .

(۹۹) إِنَّ اللهَ لَا يَنْظُرُ إِلَى صُوَرِكُمْ وَأَمْوَالِكُمْ وَلَكِنْ يَنْظُرُ إِلَى قُلُوبِكُمْ وَأَعْمَالِكُمْ.

(مسلم، تخریج مشکوة صفحه ۴۵۴ س ۱۰ عن ابی هریرة رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه : بې شکه الله تعالی ستاسو شکلونو اوستاسو مالونو ته نه ګوري لیکن هغه ګوري ستاسو زړونو اوعملونو طرف ته. **توضیح** : الله تعالی زمونږ شکلونو ته نه ګوري چې غنم رنګ دی یا توراویاسور دی یاخړ رنګ دی اونه هغه زمونږ مالونو ته ګوري چې څومره مال یې دی ،مالدار دی غریب دی بلکه هغه ګوري اخلاص او تواضع اونورو عملونو ته چې هغه اعمال وزنی هم دی اوکه نه دی ، که چیري وزنی وي نوییا دڅومره وزن والا دی چې څومره هم اخلاص وي اوتواضح وي هغه شان به وزن هم زیات وي ، ددغه وزن علم به د قیامت په ورځ معلومیږي ،بعضي اعمال کم دی لیکن دوزن په اعتبار زیات دی لکه کلمه شریفه او درود شریف اوتسبیحات وغیره لوستلو سره عمل نامه ډیره وزني ګرځي. **پوښتنه** : الله تعالی خوهرشئ ته ګوري نوییایې داڅنګه وفرمایل چې شکلونه اومالونو ته نه ګوري؟ **جواب** : الله تعالی هرشئ په هرڅای کې وینې لیکن ځینې ته دشفقت اودمهربانۍ په نظر ګوري اوځنې ته نه مال اوشکلونو ته درحمت اومهربانۍ په نه نظر نه ګوري ، ددې لپاره چې دخلکو په زړونو کې ددې عزت پیدا نسي ،اصل د کتلو شئ دادی چې دا وکتلی سي چې سړی دیقین په کومه درجه کې کار کوي اوڅومره درجه صدق دی اود کومې درجې اخلاص دی اود کومې درجې باقي عملونه دی . لغوي اوصرفي تحقیق : ینظر دادباب دنصر څخه دواحد مذکر غائب صیغه ده په معنی د (۱) : کتلو (۲) : په غور سره کتل ، ددې څخه نظاره په معنی د (۱) : دوربین (۲) : چشمې .اودنظیر په معنی د متساوی ،جمع نظراء راځي صور جمع ده صورة په معنی د (۱) : شکل . (۲) : تصویر (۳) : خیالي تصویر . دصورة دویمه جمع صور هم راځي ،قلوب جمع ده ددې مفرد قلب دی په معنی د (۱) : زړه . (۲) : عقل (۳) : قلب . دنصر اودسمع څخه مصدر دی په معنی دمخ یاحالت بدلیدل. **ترکیب** : (ان) حرف مشبه بالفعل (لنظ الله) دده اسم (لاینظر) فعل هو فاعل، (الی) جار (صورکم) مضاف اومضاف الیه ، مضاف سره دمضاف الیه نه معطوف علیه . (واو) عاطفه (اموالکم) مضاف اومضاف الیه، مضاف سره دمضاف الیه نه معطوف ،معطوف علیه سره دمعطوف نه مجرور دجار ، جار سره دمجرور نه متعلق سو په فعل پوري ،فعل سره دفاعل اومتعلق نه جمله فعلیه خبریه خبر دان سو ،ان سره داسم اوخبرنه جمله اسمیه خبریه معطوف علیه . (واو) زائده (لکن) استدراکیه . (ینظر) فعل هوفاعل ، (الی) جار (قلوبکم) مضاف اومضاف الیه ، مضاف سره دمضاف الیه نه معطوف علیه ، (واو) عاطفه (اعمالکم) مضاف اومضاف الیه ، مضاف سره دمضاف الیه نه معطوف ، معطوف علیه سره دمعطوف نه مجرور دجار ،جار سره دمجرور نه متعلق سو په فعل پوري ،فعل سره دفاعل اومتعلق نه جمله فعلیه خبریه معطوف ،مطعوف علیه سره دمعطوف نه جمله معطوفه سوه .

(١٠٠) إِنَّ مِنَ الْمَعْرُوْفِ أَنْ تَلْقَى أَخَاكَ بِوَجْهٍ طَلْقٍ.

احمد وترمذی، تخریج مشکوة صفحه ۱۶۸ س ۳۵ عن جابر رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه : بې شکه دنیکۍ څخه ده چې ته ملاقي سی دخپل ورور سره په روڼ تندي سره. **توضیح** : پوره حدیث داسی دی چې حضور صلی الله علیه وسلم وفرمایل : چې هره نیکی صدقه ده په دې کې هیڅ شک نسته چې داهم نیکي ده چې دمسلمان ورور سره په روڼ تندي ملاؤسی اوبیایې وفرمایل چې داهم نیکی ده چې تاسو واړوی دخپلي بوقي نه د ورور په لوښي کې یعني مثلا څوک اوبه را اوباسي نوخپل ډک لوښی دهغه په لوښي کې واړه وي داهم لویه نیکی ده دمسلمان ورور سره په خوشحالی سره ملاویدل دنیکۍ کار دی ځکه چې دهغه زړه به خوشحاله سي اودیو مؤمن زړه خوشحالول عبادت دی لهذا په روڼ تندي سره ملاویدل عبادت اونیک کار دی اوصدقه ده ، دمشکوة په صفحه (۱۲۸) س: ۴ باندي دمسلم په حواله باندي صحیح اومرفوع حدیث داهم لیکلی دی چې هره تسبیح صدقه ده اوخپلي ښځي سره ملاویدل هم صدقه ده اوهر تحمید صدقه اوهر تهلیل صدقه اوهر امر بالمعروف یا نهی عن المنکر صدقه ده ، غرض هره نیکی صدقه ده ،صدقه اوتبلیغ دا دواړه داسي شیان دی چې ددې دائره ډیره فراخه ده .

لغوي اوصرفي تحقیق : المعروف دادضرب دباب څخه اسم مفعول دی په معنی د(۱) : خیر (۲) : مشهور(۳) : رزق .(۴) : احسان ،تلقی دادباب دسمع څخه دواحد مذکر غائب صیغه ده ،لقاء مصدر دی په عنی دملاقات کولو سره ،وجه مفرد دی ،ددې جمع اوجُه او وُجُوهٌ راځي په معنی (۱) : دمخ (۲) : مرتبه (۳) : متوجه کېدل (۴) : نوع ،قسم دادباب دکرم څخه مستعمل دی ،وجاهة مصدر راځي په معنی دغوره کېدلو . طلق مصدر دی دباب کرم څخه په معنی دښائسته بیان کونکی که چیري دادسمع اودنصر څخه راسي نوددې معنی (جدا کېدل) اولري کېدل کیږي ،ددې څخه طلاق هم دی .

ترکیب : (ان) حرف مشبه بالفعل (من) جار (المعروف) مجرور ،جار سره دمجرور نه متعلق سو په ثابت پوري ، ثابت اسم فاعل په دې کې هو ضمیر دی هغه فاعل ، اسم فاعل سره دفاعل اومتعلق نه شبه جمله خبرمقدم سو (ان)مصدریه (تلقی) فعل انت فاعل ، (اخاک) مضاف اومضاف الیه ،مضاف سره دمضاف الیه نه مفعول به ، (ب) جار (وجه) موصوف (طلق) صفت، موصوف سره دصفت نه مجرور دجار ، جار سره دمجرور نه متعلق سو په فعل پوري ، فعل سره دخپل فاعل اومفعول به اومتعلق نه جمله فعلیه خبریه په تاویل دمصدر سره اسم دان ، ان سره داسم اوخبر نه جمله اسمیه خبریه سوه .

(۱۰۱) إِنَّ أَوْلَى النَّاسِ بِاللهِ مَنْ بَدَأَ بِالسَّلَامِ.

(ترمذی) تخریج مشکوة صفحه ۳۹۸ س ۲۶ عن ابی امامه رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه : بې شکه په خلکو کې د ټولو څخه غوره د الله تعالی په نزد هغه دی څوک چې اول په سلام سره شروع کوي. **توضیح** : په دې کې هیڅ شک نسته چې د الله رحمت ته نژدی هغه خلک دی چې د ملاقات په وخت په سلام کې مخکې والی کوي، حضرت عمر رضی الله عنه فرمایي کله چې تاسو د چا سره ملاقي کیږی نود درو خبرو خیال ساتی، اول داچې تاسو هغه ته اول سلام کوی، دویم داچې کله تاسو هغه ته آواز کوی نو په ښه نوم یې رابلی. دریم داچې تاسو هغه ته په مجلس کې ځای ورکړی. په مخکنې حدیث شریف کې تیرسوی دی بیابه هم په احادیثو کې راسې د سلام په باره کې، په سلام کې مخکې والی کول د تکبر څخه مولو لپاره بهترین علاج دی او که بل مخکې والی وکړو نو بیا دومره په زور سره جواب ورکول چې هغه یې واوري واجب دی، او په دې جواب ورکولو کې هم څه ناڅه تکبر لري کیږي او انسان متواضع جوړیږي او همداد ژوند مقصد دی. **لغوي او صرفي تحقیق** : اولی دا اسم تفضیل دی دباب دضرب څخه په معنی دلائق زیات حقدار، جمع یې اوالی راځي د دې څخه ولي په معنی د (دوست. زوم. دڅه کار انتظام کونکی. الناس دا د انسان جمع ده، بدء دا د باب د فتح څخه ماضي ده، بدء مصدر دی په معنی د شروع کولو سره مخکې والی کول، د دې څخه مبداء په معنی د اصل او سبب جمع یې مبادی راځي او مبتداء په معنی د (۱): اول مخکې (۲) : هغه اسم مسند الیه چې د عوامل لفظیه څخه خالي وي، السلام د باب تفعیل څخه مصدر دی په معنی د (۱) ملاقات په وخت کې دعاء (۲) : د فرمانبرداری لپاره ښکته کېدل، د دې مجرود دباب د سمع څخه دی **ترکیب** : (ان) حرف مشبه بالفعل. (اولی) اسم تفضیل مضاف (الناس) مضاف الیه، (ب) جار (لفظ الله) مجرور، جار سره د مجرور نه متعلق سو په اسم تفضیل پورې، اسم تفضیل سره د خپل مضاف الیه او متعلق نه شبه جمله اسم دان، (من) موصوله (بدء) فعل هو فاعل، (ب) جار (السلام) مجرور، جار سره د مجرور نه متعلق سو په فعل پورې، فعل سره د فاعل او متعلق نه جمله فعلیه خبریه صله د موصول، موصول سره د صلې نه خبر دان، ان سره د اسم او خبر نه جمله اسمیه خبریه سوه.

(۱۰۲) إِنَّ الرِّبَوا وَإِنْ كَانَ كَثُرَ فَإِنَّ عَاقِبَتَهُ تَصِيْرُ إِلَى قَلٍّ.

(رواه ابن ماجه) مشکوة ص (۲۴۶) س (۴) عن ابن مسعود رضی الله عنه مرفوعا.

ژباړه : بې شکه سود اګرچې زیات وي پس د دې انجام کمولی طرف ته کیږي. **توضیح** : سود هغه بلا معاوضه ته ویل کیږي کوم چې په عقد کې شرط کړل سي د سود په ذریعه سره مال لیدلو کې زیات ښکاري، لیکن په حقیقت کې بې برکته وي، کله غلا کیږي کله ورکیږي او کله خوړلی څکلی سي، غرض داچې د دې اخري نتیجه داوي چې هغه مال زر کم سي دلته د ربا څخه مراد هر حرام مال دی ځکه چې د هر حرام مال انجام داوي چې په هغه کې برکت نه وي د دې په مقابله کې حلال مال کې الله تعالی برکت اچوی او د هغه حفاظت کوي، خاصکر کله چې سړی، زکوة، سرسایه وغیره ورکوي نو بیا څه خطره نه وي

که چیري نه یې ورکوي نومال دمار په شکل کي په غاړه کي به ورته اچول کیږي په سود باندي لږ نظر اچولو لپاره اودهغه بدوالی وړاندي په بیان دذکر بعض المغئبات والاحدیث (۴) کي وګورئ . **لغوي او صرفي تحقیق** : الربوا دنصر دباب څخه مصدر دی په معنی دمال دزیاتیدلو سود هم ددې څخه دی ،ربوة په معنی دلس لاکهو دی ،عاقبة دادنصر اوضرب څخه اسم فاعل دی په معنی د (۱) : ښه بدله (۲) : نسل (۳) : دهرشئ اخر ،جمع یې عواقب راځي تَصیر دادباب دضرب څخه دمضارع واحد مؤنث غائب صیغه ده په معنی دکموالی سره (عاقبت) قل داهم دضرب دباب څخه دمصدر صیغه ده په معنی دکېدلو . **ترکیب** : (ان) حرف مشبه بالفعل (الربوا) ددې اسم دی (قلیل) محذوف ددې خبر دی ،ان سره دخپل اسم اوخبر نه جمله اسمیه خبریه سوه (واو) مبالغه (ان) وصلیه شرطیه (کثر) فعل هو فاعل ،فعل سره دفاعل نه جمله فعلیه خبریه شرط ددې جزاء فهو قلیل محذوف دی ، (فا) جزائیه (هو) مبتداء قلیل یې خبر ، مبتداء سره دخبر نه جمله اسمیه خبریه جزاء دشرط ،شرط سره دجزاء نه جمله شرطیه سوه (فاء) تعلیلیه (ان) حرف دحروفو مشبه بالفعل نه (عاقبته) مضاف اومضاف الیه ،مضاف سره دمضاف الیه نه اسم (تصیر) فعل هی یې فاعل (الی) جار (قل) مجرور ،جار سره دمجرور نه متعلق په فعل پورې ،فعل سره دخپل فاعل اوسره دمتعلق نه جمله فعلیه خبریه خبر دان ،ان سره دخپل اسم اوخبر نه جمله اسمیه خبریه معلله سوه .

(۱۰۳) اِنَّ الْغَضَبَ لَیُفْسِدُ الْاِیْمَانَ کَمَا یُفْسِدُ الصَّبِرُ الْعَسَلَ .

بیهقی ، تخریج مشکوة صفحه ۴۳۴ س ۱۵ عن بهزبن حکیم عن ابیه عن جده مرفوعا)

ژباړه : بې شکه غصه خامخا فاسدوي ایمان لره داسي لکه څنګه چې مصبر شهد فاسدوي .

توضیح : غصه دسړي ایمان داشان خرابوی لکه څنګه چې خوږو شهدو کي مصبر واچول سي اودشهدو خوند پرې خرابیږي دغه شان ایمان خراب اوکمزوری کیږي ،دغصې په سبب تکبروي دناجائزې درجې غصه بغیر دتکبر نه چیري نه راځي ،ددې وجې نه دغصې په حالت کي دپوهي نه کار اخیستل پکار دی ، ددې لپاره چې ایمان خراب نسي ، په غصه باندي عمل نه کونکو لره یعني معافي کونکو لره الله تعالی ډیر خوښوی ،دغصې دزیاتوالی په وخت کي اعوذبالله ویل پکار دی یا اودس کول پکار دی ، یادهغه ځای څخه پاسیدل پکار دی ،په دې کارونو سره غصه سړیږي ،غرض داچه په هر یو صورت سره وي دغصې په مقتضی (دبدله اخیستلو کارباندي) فورا عمل نه دی کول پکار ،(که چیري ایمان مضبوط جوړول څوک غواړي) نو غصه په سفر اواقامت دواړو وختونو کي کول پکار نه دی ،بلکه هر وخت دهرچا سره نرمي خبري کول پکار دی . **لغوي او صرفي تحقیق** : الغضب دباب دسمع څخه مصدر دی په معنی دغض ساتلو سره دی ،غضب ناک کېدل ، یفسد دباب افعال څخه دواحد مذکر غائب صیغه ده په معنی دخرابول ،صبر په کسری دب سره په معنی دایلوا (دیو درختي چیرې چې ډیر تریخ وي) جمع یې صبور ده ،دادباب نصر اوضرب څخه استعمال دی په معنی دبهادرئ سره برداشت کول ،صبر کول ، العسل

دادنصر اوضرب څخه مصدر دی په معنی دشهدو ایستلو سره ،دامذکر اومؤنث دواړه قسمه استعمالیږي .ددې جمع اعسال راځي ، ددې څخه عاسل په معنی دشهدو ویستونکی جمع یې عُسّل راځي.

ترکیب: (ان) حرف مشبه بالفعل . (الغضب) اسم دان (ل) تاکیدیه (یفسد) فعل هو فاعل (الایمان) مفعول به (ک) جار (ما) مصدریه ،(یفسد) فعل (الصبر) فاعل (العسل) مفعول به ، فعل سره دفاعل اومفعول به اومتعلق نه جمله فعلیه خبریه دان ان سره داسم اوخبر نه جمله اسمیه خبریه سوه .

(۱۰۳) اِنَّ الصِّدْقَ بِرٌّ وَاِنَّ الْبِرَّ یَهْدِیْ اِلَی الْجَنَّةِ.

مسلم، تخریج مشکوة صفحه ۴۱۲ س ۴ عن ابن مسعود رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه : بې شکه رښتیا نیکی ده اوبې شکه نیکي لارښائي جنت طرف ته . **توضیح** : رښتیا ډیره لویه نیکي ده اوهره نیکي دجنت لارښائي ، ددې وجي نه رښتیا دجنت لارښائي ، اومخکي هم تیرسوی دی چي رښتیا ویل داطمینان باعث دی اودرواغ دبې ارامی اوبې قراری باعث دی اوحرام دی .

لغوي اوصرفي تحقیق : بِرّ مفرد په معنی دنیکی، جمع یې ابرار راځي، یهدی دباب دضرب څخه د مضارع واحد مذکر غائب صیغه ده په معنی دلارښوونی سره جنت مفرد دی په معنی دباغ جمع یې جنات راځي . **ترکیب**: (ان) حرف مشبه بالفعل . (الصدق) یې اسم (بر) خبر ،ان سره داسم اوخبر نه جمله اسمیه خبریه معطوف علیه ،(واو) عاطفه (ان) حرف مشبه بالفعل ،(البر) یې اسم (یهدی) فعل هو فاعل ،(الی) جار (الجنة) مجرور ، جار سره دمجرور نه متعلق سو په فعل پوري ،فعل سره دفاعل اومتعلق نه جمله فعلیه خبریه خبردان ،ان سره داسم اوخبر نه جمله اسمیه خبریه سوه .

(۱۰۴) وَاِنَّ الْکَذِبَ فُجُوْرٌ وَاِنَّ الْفُجُوْرَ یَهْدِیْ اِلَی النَّارِ.

مسلم، تخریج مشکوة صفحه ۴۱۲ س ۴ عن ابن مسعود رضی الله عنه مرفوعا

ژباړه : درواغ ګناه ده اوبې شکه ګناه څوک رسوی وجهنم ته . **توضیح** : درواغ ګناه کبیره ده او هر ګناه کبیره دجهنم لارښائي ددې وجي نه نتیجه داسوه چي درواغ دجهنم لاره ښائي ، په یوبل حدیث کي داسي دی چي رښتیا سړی ته نجات ورکوي او درواغ انسان هلاکوی ، په یوبل حدیث کي داحکم دی چي رښتیا لازم ونیسی اود درواغو نه ډیر ځان ساتی ، دوراغ صرف اخروي نقصان نه دی بلکه د درواغو سره دنیوي نقصان هم سته مثلا درواغ ویلو سره په کاروبار کي برکت ختمیږي ، اوبعضي وخت داسي کیږي چي درواغ هم ووایي ددې لپاره چي هغه شئ خرڅ سي لیکن هغه شئ خرڅ نه سي داخو دنیوی نقصان سو لیکن دضرورت په وخت توریه جائزده چي ددې صورت درواغ وي اصل درواغ په خوش طبعي اومسخرو کي هم جائز نه دی اوحرام دی ، ددرواغجنو ځای جهنم دی . **لغوي اوصرفي تحقیق** : کذب دضرب دباب څخه مصدر دی په معنی د درواغو سره ،فجور دباب دنصر څخه مصدر دی په معنی د(۱): ګناه

کولو سره (۲) : درواغ ویلو سره (۳) : زنا کول (۴): کفر کول .النار مفرد دی ددې جمع انوار اونیران راځي دادنصر دباب څخه دی ،نور اونیار یې مصدر دی په معنی د روښانه کېدو سره ، ددې څخه النور په معنی دروښانه کېدل سره جمع یې انوار اونیران راځي اومناره د ورشنانیي ځای ،دصدق او کذب دواړو جملې تحیق په یوحدیث کې راغلی دی . **ترکیب** : (واو) عاطفه (ان) حرف مشبه بالفعل ، (الکذب) ددې اسم .(فجور) خبر دان ، ان سره داسم اوخبرنه جمله اسمیه خبریه معطوف علیه ،(واو) عاطفه (ان) حرف مشبه بالفعل (الفجور) یې اسم (یهدی) فعل (هو) فاعل (الی) جار (النار) مجرور ،جار سره دمجرور نه متعلق سو په فعل پورې ،فعل سره دفاعل اومتعلق نه جمله فعلیه خبریه خبر دان ،ان سره داسم اوخبرنه جمله اسمیه خبریه مطعوف ، معطوف علیه سره دمعطوف نه جمله معطوفه سوه

(۱۰۶) إِنَّ اللَّهَ حَرَّمَ عَلَيْكُمْ عُقُوقَ الْأُمَّهَاتِ وَوَأْدَ الْبَنَاتِ وَمَنَعَ وَهَاتِ وَكَرِهَ لَكُمْ قِيلَ وَقَالَ وَكَثْرَةَ السُّؤَالِ وَإِضَاعَةَ الْمَالِ. تخریج مشکوة صفحه ۹۴۱۹ س۳ عن المغیرة رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه : بې شکه الله تعالی حرام کړل په تاسو باندې دمندو نافرمانې اود لونړو ژوندې ښخول اوبخل غوښتل اوناخوښه یې کړل ستاسو لپاره فضول خبرې اوزیات سوال کول اود مال ضائع کول.

توضیح : په دې حدیث شریف کې داوو شیانو ذکر دی ،په دې کې مخکنې څلور حرام دی اوباقي درې مکروه دي . (۱): الله تعالی دمور نافرمانې حرامه کړی ده ځکه چې مور ډیر تکلیفونه برداشت کړی اوګاللی دي ،(۲) : لونړې ژوندې ښخول یې هم حرام کړی دی دجاهلیت په زمانه کې چې به کله لور پیدا سوه نوهغه به یې ژوندی ښخولی ،نن صبا هم دلور په پیدا کېدو باندې دافسوس اظهار کیږي دابالکل غلطه ده لکه څنګه چې هلک دالله تعالی نعمت دی دغه شان لور هم دالله تعالی نعمت دی ، دلونړو پیدا کېدل ددې وجې نه بد ګڼل کیږي چې ددې واده وغیره به څنګه کوم ډیره خرچه به کیږي دابد ګڼل ښه خبره نه ده چاچې پیدا کړی ده هم هغه به یې دخوراک اوڅښاک بندوبست کوي اوهغه به یې دواده انتظام کوي . پریشان کېدل نه دي پکار ،بهر حال لونړې ژوندې ښخول په هرخیال چې وي ناجائز اوحرام دی (۳) : منع دامصدر هم لوستل کیږي اوماضي هم . ددې څخه مراد بخل دی اوکنجوسي داناکاره اخلاق دی ،شرعي لحاظ سره چې کوم ځای خرچ کول ضروری دی هلته خرچ نه کول ناجائز درجه کې کنجوسي ده . (۴) : هات د(ت) په کسری سره ددې معنی ده راکړه یعني غوښتل که چیرې دیوې ورځې اوشپې دخوراک اوڅښاک سامان وي نوبیاسوال کول حرام دی ، دلته همدغه مراد دی ، (۵): فضول خبرې کول بغیر دضرورت نه اوږدې خبرې چیرې مکروه تنزیهي دي کله چې خبرې جائز درجه کې وي (۶) : ډیر زیات سوال کول چې دهغه په وجه سوال کول پیشه وګرځي دامکروه تحریمي دی بلکه حرام دی .(۷) : مال ضائع کول مکروه تحریمي دی خواه سګریټ څګولو سره وي یافضول خرچي سره یاڅه بل شکل کې وي

مال ضائع کول ناجائز اومکروه تحریمي دی. **لغوي اوصرفي تحقیق** : حرم دباب تفعیل څخه دماضي ده په معنی دحرام ګرځولو سره ، مجرد یې سمع اوکرم څخه رائي ، په معنی دحرام کېدلو سره ،امهات دام جمع ده په معنی د(۱) : مور (۲) : دڅه شئ اصل .امات هم دام جمع رائي ، دبعضو په نزد امات صرف په څارو کي مستعمل دی اوامهات په انسانانو کي ؤ اد دادباب دضرب څخه مصدر دی په معنی دژوندي ښخولو سره په قران کریم کي راغلی دی : وَإِذَا الْمَوْءُودَةُ سُئِلَتْ. کله چې تپوس وکړل سي دژوندي ښخي سوي انجلی څخه) منع دامصدر اوماضي دواړو لوستل جائز دی ،دادفتح څخ دی مراد ترې نه بخل دی ،هات اسم فعل دی په معنی د (راوړه) مراد غوښتل دی ، کره دباب دسمع څخه ماضي ده په معنی دناخوښه سره .قیل ماضي مجول ده دنصر څخه اوقال ماضي معروف ده ،دنصر څخه ، کثرة دباب دکرم څخه مصدر دی ،سوال دباب فتح څخه مصدر دی په معنی دتپوس کولو ، که چیري مسئله مصدر راسي نومعنی یې غوښتل دي ،اضاعة دباب افعال څخه مصدر دی په معنی دضائع کولو سره ،اوپه مجرد کي دضرب څخه مستعمل دی. **ترکیب** : (ان) حرف مشبه بالفعل ،(لفظ الله) اسم دان (حرم) فعل هو فاعل ،(علیکم) جار اومجرور ، جار سره دمجرور نه متعلق سو په فعل پوري ، (عقوق الامهات) مضاف اومضاف الیه ، مضاف سره دمضاف الیه نه معطوف اول ، (واو) عاطفه (منع) مصدر مضاف ددې مضاف الیه محذوف دی ماعلیکم اعطائه . (ما) موصوله (علیکم) جار اومجرور ، جار سره دمجرور نه متعلق سو په واجب پوري ، واجب اسم فاعل سره دفاعل اومتعلق نه شبه جمله خبر مقدم . (اعطاء) مصدر مضاف (ه) مضاف الیه ، مضاف سره دمضاف الیه نه مبتداء مؤخر ،مبتداء سره دخبرنه جمله اسمیه خبریه صله دموصول ، موصول سره دصلې نه مضاف الیه دمنع لپاره ، مضاف سره دمضاف الیه نه معطوف ثانی ،(واو) عاطفه (هات) مضاف الیه دقول محذوف لپاره ،مضاف سره دمضاف الیه نه معطوف ثالث ،معطوف علیه سره دمعطوفات ثلاثه نه مفعول به سوه دحرم ، حرم فعل سره دخپل فاعل اومفعول به اومتعلق نه جمله فعلیه خبریه سوه ، معطوف علیه (واو) عاطفه (کره) فعل هو فاعل لکم جار اومجرور متعلق سو په فعل پوري ، قیل په تاویل دلفظ سره مضاف الیه سو دقول محذوف ، مضاف سره دمضاف الیه نه معطوف اول ، (واو) عاطفه (اضاعة) مضاف (المال) مضاف الیه ،،مضاف سره دمضاف الیه نه معطوف ثالث ، معطوف علیه سره دخپل معطوفات ثلاثه څخه مفعول به سو دحرم . حرم فعل سره دفاعل اومفعول به نه جمله فعلیه خبریه معطوف سو ، معطوف علیه سره دخپل معطوف نه خبر دان ، ان دخپل اسم اوخبر سره جمله اسمیه خبریه سوه .

إن أحب الأعمال إلى الله تعالى الحب في الله والبغض في الله.

تخریج مشکوة صفحه ۴۲۷ س ۵ عن ابی ذر رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه : بې شکه ډیر خوښ په عملونو کې دالله تعالی په نزد ، دالله تعالی لپاره محبت کول اود الله تعالی لپاره دچاسره بغض کول دی . **توضیح** : حضرت ابوذر غفاری ﷺ فرمایي چې حضور ﷺ یوځل موږ ته تشریف راوړو او وی فرمایل چې تاسو خبریاست چې الله تعالی ته کوم عملونه ډیر خوښ دي ،نویو صحابي ﷺ وفرمایل : لمونځ اوزکوة دټولو څخه غوره اعمال دی ، اویل صحابي ﷺ وویل جهاد بهترینه عمل دی ،په دې باندي حضور ﷺ داحدیث بیان کړو چې دالله تعالی لپاره دچاسره محبت کول اودالله تعالی لپاره دچاسره بعض ساتل دابهتر اعمال دی ،دحب فی الله مطلب دادی چې دالله تعالی دوجې نه دچا سره محبت کول که چیرې په مخلوق کې دچا سره محبت وي نوهغه هم دالله تعالی لپاره پکار دی ځکه چې محبت دځه بنه شئ سره یابنه انسان سره کیږي ،دغلط انسان سره محبت کول جائز نه دی ، ددې وجې نه چې کله دښو خلکو سره محبت وي نودالله تعالی لپاره وي ، یعني دالله تعالی محبت دښو خلکو سره وي نوزموږ محبت هم دهغوی سره دالله تعالی لپاره دی ،دبغض فی الله مطلب دادی چې کله دیو غلط انسان سره بغض ساتل وي نوهغه هم دالله تعالی لپاره ساتل پکار دی ځکه چې غلط انسان دالله تعالی خوښ نه وي نوموږ دهغه سره څنګه دوستي جوړولی سو ، دحب فی الله اوبغض فی الله درجه دځان ختمولو څخه وروسته حاصلیږي، دې ته چې احب الاعمال ویلی سوی دی هسې نه دی ویلی سوی ،دکمال ولایت څخه وروسته دادرجه ملاویږي اوهرسړی دادرجه حاصلولی سي. **لغوي اوصرفي تحقیق** : دټولو الفاظو تحقیق تیرسوی دی. **ترکیب**: (ان) حرف مشبه بالفعل .(احب) اسم تفضیل مضاف (الاعمال) مضاف الیه ،(الی) جار (لفظ الله) ذوالحال (تعالی) فعل هوفاعل ، فعل سره دفاعل نه جمله فعلیه خبریه حال ، ،ذوالحال سره دحال نه مجرور دجار ، جار سره دمجرور نه متعلق په اسم تفضیل پوري ،اسم تفضیل سره دمضاف الیه اوسره دمتعلق نه شبه جمله اسم دان ، (الحب) ذوالحال (فی الله) جاراومجرور متعلق په ثابت پوري حال ، ذوالحال سره دحال نه معطوف علیه ، (واو) عاطفه (البغض) ذوالحال (فی الله) جاراومجرور متعلق په ثابتا پوري حال ، ذوالحال سره دحال معطوف ،معطوف علیه سره دمعطوف خبردان ،ان سره داسم اوخبر نه جمله اسمیه خبریه سوه .

(۱۰۸) اَلَا اِنَّ الدُّنْیَا مَلْعُوْنَةٌ وَمَلْعُوْنٌ مَافِیْهَا اِلَّا ذِکْرُ اللّٰهِ وَمَاوَالَاهُ وَعَالِمٌ اَوْ مُتَعَلِّمٌ

(ترمذی، تخریج : مشکوة ۴۴۱ س ۸ عن ابی هریرة ﷺ مرفوعا)

ژباړه : خبردار! بې شکه په دنیا باندي دالله تعالی لعنت سوی دی ،لعنت سوی دی په هرهغه شئ باندي کوم چې په دې کې دی خودالله تعالی ذکر اوهغه کوم چې دالله تعالی ذکر ته نژدی دی اوعالم اوزده کونکی. **توضیح** : دنیا اود دنیا ټول شیان دلعنت والا دی ،په ټوله دنیا کې صرف څلور شیان داسې دی چې دلعنت څخه خالي دی اود رحمت څخه ډک دی په هغه کې یو دالله تعالی ذکر دی دالعنتی نه دی ،ذکر

څه ته وايي ددې تفضيل وراندې تيرسوی دی ،دويم :هغه کارونه چې دهغه سره دالله تعالی محبت لري يا هغه کارونه چې دذکر الله دمناسبت په وجه سره دلعنت څخه دی . دريم: څوک چې دعلم دين اوضروريات دين څخه خبردار دی اوعمل کونکی هم دی هغه هم ددې لعنت څخه خارج دی (دعمل کولو قيد نورو احاديثو ته په کتلو سره لګول سوی دی) **څلورم** : څوک چې علم دين په صحيح نيت سره زدکړه کوي هغه هم په دې لعنت کي داخل نه دی ،تلاوت دقرآن کريم اولمونځ وغيره په ذکر الله کي داخل سو ،اودعالم لاندې احاديث داخليږي ځکه چې اصلي علم علم حديث دی ځکه چې دحديث نه بغير دقرآن کريم معنی په پوهه کي نه راځي ،اواستاذان حضرات په عالم کي داخل سو ،مجاهدين اوتبليغي حضرات په ذاکرينو کي داخل سو ، اوشاګردان اولوستلو والا په متعلم کي داخل سو اوصحيح کاروبار کونکی اګر که تجارت کونکی وي يادفتري کارکونکی وي يامزدوران وي ليکن لمونځ کونکی وي داپه ذکر الله کي داخل سو ځکه چې دالله تعالی دټولو نه لوی ذکر دادی چې دګناه څخ بچ سي اودفرضو پابندي وکړل سي اوڅوک چې غلط کاروبار کونکی دی هغه ټول په معلون کي داخل دی . **لغوي اوصرفي تحقيق** : معلونة اومعلون دا دواړه دفتح دباب څخه داسم مفعول صيغې دي ،لعنائي مصدر راځي په معنی د(۱): لعنت کولو سره (۲) : ښکنځل کولو سره . (۳) : شرمولو سره ، ددې څخه لعين په معنی دشيطان سره ،والا دادباب مفاعله ماضي ده ، ،موالاة يې مصدر دی په معنی د دوستي کولو سره ،محبت کولو سره ،عالم دباب دسمع څخه اسم فاعل دی په معنی دخبردار . اومتعلم دباب تفعل نه اسم فاعل دی په معنی دزده کونکی سره . **ترکيب**: (الا) حرف تثنيه (ان) حرف مشبه بالفعل . (الدنيا) اسم دان ، (ملعونة) خبر اول (معلون) اسم مفعول (ما) موصوله (فيها) جار اومجرور ، جار سره دمجرور نه متعلق سو په ثبت پوري ، صله دموصول سوه ، موصول سره دصلې نه نائب فاعل سو دمعلون لپاره ، ملعون سره دخپل نائب فاعل نه شبه جمله مفسر (الا) حرف استثناء لغو (ذکر الله) مضاف اومضاف اليه ، مضاف سره دمضاف اليه نه معطوف عليه ، (واو) عاطفه (ما) موصوله . (والا) فعل هو فاعل ، (ه) مفعول به ، فعل سره دفاعل اومفعول به نه جمله فعليه خبريه صله دموصول ، موصول سره دصلې نه معطوف اول (واو) عاطفه (عالم) معطوف ثانی (وا) عاطفه (متعلم) مطعوف ثالث ،معطوف عليه سره دمعطوفات ثلثه څخه مستثنی مفرغ نائب فاعل ، سو ودلا يحمد محذوف لپاره ، لايحمد فعل دخپل نائب فاعل سره جمله فعليه خبريه تفسير دمفسر ،مفسر سره دتفسير نه خبر ثانی دان ، ان سره داسم اودواړو خبرونو څخه جمله اسميه خبريه سوه .

---

(۱۰۹) إِنَّ مِمَّا يَلْحَقُ الْمُؤْمِنَ مِنْ عَمَلِهِ وَحَسَنَاتِهِ بَعْدَ مَوْتِهِ ، عِلْماً عَلَّمَهُ وَنَشَرَهُ ، وَوَلَدًا صَالِحًا تَرَكَهُ ، وَ مُصْحَفًا وَرَّثَهُ أَوْ مَسْجِدًا بَنَاهُ أَوْ بَيْتًا لابْنِ السَّبِيلِ بَنَاهُ أَوْ نَهْرًا أَجْرَاهُ أَوْ صَدَقَةً أَخْرَجَهَا مِنْ مَالِهِ فِي صِحَّتِهِ وَحَيَاتِهِ يَلْحَقُهُ مِنْ بَعْدِ مَوْتِهِ (تخريج مشكوة صفحه ۳۶ س ۱۷ عن ابی هريرة رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه : بې شکه دهغه شیانو څخه کوم چې ملاویږي مؤمن ته دده دعمل اودده دنیکونه دده دمرګ څخه وروسته ، پس داسي علم دی کوم چې ده بل ته وښودلو اوخوریې کړو اوداسي نیک زوی چې ده پرېښودلو ،یاداسي صحیفه چې هغه ده میراث جوړ کړو یامسجد چې ده جوړ کړو یا داسي کور چې هغه ده مسافرو لپاره جوړ کړو یانهر چې هغه ده جاري کړو یاداسي صدقه چې ده ویستلو دخپل مال نه په خپل صحت اوژوند کی (داشیان) بهدده ته ورکول کیږي دمرګ څخه وروسته . **توضیح** : مومن بنده ته دمرګ څخه وروسته په کار راتارنکی شئ دده نیکی اودده عملونه دي په دې حدیث کي داوو شیانو ذکر دی کوم چې دمرګ څخه وروسته پکار راځي . (۱) : کوم چې ده زده کړل اونوروته یې وښودل اوهغه یې خواره کړل په دې خورولو کي بل ته ښودل هم داخل دی . (۲) : دویم شی نیک اولاد دی چې دپلار دمرګ څخه وروسته نیکی کوي نو ثواب یې پلار ته هم ملاویږي ، (۳) : شئ کتاب وغیره چې څوک یې دهغه وارث جوړ کړی وي اودده دمرګ څخه وروسته چې څوک هم دغه لولی نو کتاب ورکونکی ته به ثواب ورکول کیږي . (۴) : څلورم شئ چې دمرګ څخه وروسته انسان ته دغه ورکول کیږي هغه مسجد دی چې دهغه ثواب جوړونکی ته ملاویږي ، دمرګ څخه وروسته چې په خپل ژوند کي یې د ثواب په نیت جوړ کړی وي اوهلته مسافر دګرمی یادیخنې څخه ځان بچ کوي . (۵) : پنځم شئ مسافرخانه ده چې چا دمسافرو لپاره جوړه کړی وي اوهلته مسافر دګرمی یادیخنې څخه ځان په ژغوري . (۶) : نهر یا واله ده چې ده روانه کړی وي یعني په یو کلي کي یا کور کي داوبو کمی وي هلته ده داوبو لاره پرانستله داهم دده دمرګ څخه وروسته په کار راتلونکی شئ دی . (۷) : هغه صدقه چې به خپل صحت کي یې دخپل مال نه ورکړی وي داتول شیان دکونکی لپاره صدقه جاریه ده ،دمرګ سره به هم ده ته ثواب ملاویدل شروع سي اوقیامته پوري به ددې ذکر سوو نیکیو ثواب ملاویږي ، که خلګ ترې وروسته فائده اخلي .

لغوي اوصرفي تحقیق : یلحق دباب دسمع څخه دواحد مذکر غائب صیغه ده ،نشر دنصر دباب څخه ماضي ده په معنی دخورولو سره مصحف هر مقدس کتاب ته ویل کیږي ،ورث دباب تفعیل نه ماضي ده ،بناء ماضي ده دباب دضرب نه بیتا مفرد دی دد جمع بیوت راځي ،نهرا دامفرد دی ، ددې جمع انهار راځي .

نکته : ارود والا نهر ته په عربي ککي قناة وایي اوعربی والا نهر ته په اردو کي دریا وایي اوسمندر ته بحر وایي اوجهیل ته په عربی کي بحیرة اجرا دادباب افعال نه ماضي ده په معنی دجاري کولو سره اخرج هم دابا افعال نه ماضي ده .

ترکیب : (ان) حرف مشبه بالفعل (من) جار (ما) موصول (یلحق) فعل هو فاعل (المؤمن) مفعول به (من) جار (عمله) مضاف اومضاف الیه ، مضاف سره دمضاف الیه نه معطوف علیه .(واو) عاطفه (حسناته) مضاف اومضاف الیه ، مضاف اوسره دمضاف الیه معطوف . معطوف علیه سره دمعطوف نه مجرور دجار ،جار سره دمجرور نه متعلق سو په فعل پوري ،(بعد الموت) مضاف اومضاف الیه دا مضاف (ه) مضاف الیه مضاف سره دمضاف الیه نه مضاف بیا مضاف سره دمضاف الیه

نه مفعول فیه سو دفعل لپاره ، فعل دخپل فاعل (هو) اومفعول به (المؤمن) اومتعلق ۰من حمله وحسناته) اومفعول فیه (بعد موته) نه جمله فعلیه خبریه صله دموصول ، موصول سره دصلې نه مجرور دجار ، جار سره دمجرور نه متعلق سو ثابت پوري ، ثابت صیغه داسم فاعل په ده کې (هو) ضمیر دی هغه یې فاعل ، اسم فاعل سره دفاعل اومتعلق نه شبه جمله خبر مقدم دان ، علما موصوف علم فعل هو فاعل ه مفعول به ، فعل سره دفاعل اومفعول به نه جمله فعلیه خبریه معطوف علیه ، (واو) عاطفه (نشر) فعل (هو) ضمیر فاعل (ه) مفعول به ، فعل سره دفاعل اومفعول به نه جمله فعلیه خبریه معطوف ، معطوف علیه سره دمعطوف نه صفت ، موصول سره دصفت نه معطوف علیه ، واو) عاطفه (ولدا) موصوف (صالحا) صفت اول (ترک) فعل هو فاعل (ه) مفعول به ، فعل سره دفاعل اومفعول به نه جمله فعلیه خبریه صفت ثانی ، موصوف سره دصفتیو نه معطوف اول (او) عاطفه (مصحفا) موصوف (ورثه) فعل هو فاعل (ه) مفعول به ، فعل فال اومفعول به جمله فعلیه خبریه صفت سو ، موصوف سره دصفت نه معطوف ثانی ، (واو) عاطفه (مسجدا) موصوف (بنا) فعل هو فاعل (ه) مفعول به ، فعل سره دفاعل اومفعول به نه جمله فعلیه خبریه صفت سو ، موصوف سره دصفت نه معطوف ثالث ، (او) عاطفه (بیتا) موصول (ل) جار (ابن السبیل) مضاف اومضاف الیه ، مضاف سره دمضاف الیه نه مجرور دجار ، جار سره دمجرور نه متعلق مقدم سو دبنالپاره ، بنا فعل هو فاعل (ه) مفعول به ، فعل سره دفاعل اومفعول به اومتعلق مقدم نه صفت دموصوف ، موصوف سره دصفت نه معطوف رابع (او) عاطفه (نهرا) موصوف (اجرا) فعل هو فاعل (ه) مفعول به ، فعل سره دفاعل اومفعول به نه جمله فعلیه خبریه صفت دموفعل موصوف ، موصوف سره دصفت نه معطوف خامس ، (او) عاطفه (صدقة) موصوف (اخرج) هو فاعل (ها) مفعول به (من) جار (ماله) مضاف اومضاف الیه ، مضاف سره دمضاف الیه نه مجرور دجار ، جار سره دمجرور نه متعلق اول سو په فعل پوري (فی) جار (صحته) مضاف اومضاف الیه ، مضاف سره دمضاف الیه نه معطوف علیه (واو) عاطفه (حیوة) مضاف (ه) مضاف الیه ، مضاف سره دمضاف الیه معطوف ، معطوف علیه سره دمعطوف نه مجرور دجار ، جار سره دمجرور نه متعلق ثانی سو دفعل ، فعل سره دفاعل مفعول اومتعلقینو نه جمله فعلیه خبریه صفت ، موصوف سره دصفت نه معطوف سادس ، معطوف علیه سره دشپږو معطوفاتو نه اسم مؤخر دان ، ان سره داسم مؤخر اوخبر مقدم نه جمله اسمیه خبریه سوه ، (تلحق) فعل هی فاعل (ه) مفعول به (من) جار (بعد) مضاف (موت) مضاف الیه مضاف (ه) مضاف الیه ، مضاف سره دمضاف الیه نه مضاف الیه سو ، بیا مضاف سره دمضاف الیه نه مجرور دجار ، جار سره دمجرور نه متعلق سو په فعل پوري ، فعل سره دفاعل اومفعول به اومتعلق نه جمله فعلیه خبریه مستانفه سوه .

(۱۱۰) إِنَّ اللَّهَ لَيُؤَيِّدُ هَذَا الدِّينَ بِالرَّجُلِ الْفَاجِرِ ، تخریج مشکوة صفحه ۵۳۴ س ۱۹ عن ابی هریرة رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه : بې شکه الله تعالی مضبوطوي دادین (کله کله) په فاجر سړي باندي . **توضیح اوشان ورود:** مکمل حدیث داسي چې راوی حضرت ابوهریرة رضی الله عنه دی فرمایي چې موږ د حضور صلی الله علیه وآله وسلم سره یوځای ؤ په غزوه حنین کې نو حضور صلی الله علیه وآله وسلم وفرمایل : دیوداسي سړي متعلق چې د حضور صلی الله علیه وآله وسلم سره ؤ اوداسلام دعوی یې هم کوله چې دې زخمی دی ، کله چې جنګ شروع سو نو دغه (منافق) سړی زبردست جنګ وکړو اوډیر سخت زخمی سو ، یعني د مسلمانانو امداد یې وکړو چې د دغه نوم (قزمان) ؤ نو یویل سړي حضور صلی الله علیه وآله وسلم ته وویل چې حضور صلی الله علیه وآله وسلم تاسو وښایی چې داسړی چې منافق دی اوجهنمی دی ، ده څنګه دالله تعالی په لاره کې جنګ وکړو اوډیر زخمي هم سو په دې کې خلګ شک ته نژدی سو نو دغه منافق سړي دخپل تیر دان څخه غشی راویستلو اوپه هغه یې خپل ځان ووژلو ، نوځو تنه صحابه حضور صلی الله علیه وآله وسلم ته په منډه ورغلل او ورته وی ویل : چې الله تعالی ستاسو خبره ریښتیا کړه هغه خوخپل ځان ووژلو په دې باندي حضور صلی الله علیه وآله وسلم وفرمایل : چې الله اکبر اشهدانی عبدالله ورسوله ، اې بلاله! ودریږه اوډا اعلان وکړه چې د مؤمن نه سوا به جنت ته هیڅوک داخل نه سي ، بیشکه که چیري الله تعالی وغواړی نو ددې دین تائید او دفاجر نه مراد منافق دی ، د رجل فاجر نه مراد (قزمان) نومي منافق دی . **لغوي اوصرفي تحقیق** : یؤید دادباب تفعیل څخه مضارع ده په معنی د تاکید کولو اومضبوط کولو سره ، رجل مفرد دی ددې جمع رجال راځي اوفاجر مفرد دی ددې جمع فجرة اوفجار راځي ، دین هم مفرد دی ، ددې جمع ادیان راځي ، ددین مکمل تحقیق تیرسوی دی. **ترکیب** : (ان) حرف مشبه بالفعل . (لفظ الله) یې اسم سو (ل) تاکیدیه (یؤید) فعل هوفاعل ، (هذا) اسم اشاره (الذین) مشار الیه ، اسم اشاره سره دمشاالیه نه مفعول به (ب) جار (الرجل) موصوف (الفاجر) صفت ، موصوف سره دصفت نه مجرور دجار ، جار سره د مجرور نه متعلق سو په فعل پوري ، فعل سره د فاعل اومفعول به او متعلق نه جمله فعلیه خبریه دان ، ان سره د اسم او خبر نه جمله اسمیه خبریه سوه .

(۱۱۱) إِنَّ من أَشْرَاطِ السَّاعَةِ أَنْ يَتَبَاهَى النَّاسَ فِي الْمَسَاجِدِ ، تخریج مشکوة صفحه ۶۹ س ۱۷ عن انس رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه : بې شکه د قیامت د نښانو څخه ځینی نښه داده چې خلګ به فخر کوي د مسجدونو په باره کې .

توضیح : د قیامت د ډیرو نشانیانو څخه یوه داهم ده چې خلګ به په خپل مینځ کې دیویل سره د مسجدونو په باره کې په یویل فخر شروع کړي ، یوبه وایي چې زموږ مسجد ډیر ښائسته دی اوبل به وایي چې زموږ مسجد ډیر ښائسته دی ، د قیامت د اعلامه واقع کېدل شروع سوی ده ، نوري هم ډیري نخښي د دیارلسمي او څوارلسمي صدی نه شروع سوی دي چې د قیامت د نژدې کېدو نښي دي ، فخر کول هیڅ یوصورت کې جائز نه دی ، اګرچې دا فخر په مسجدونو باندي وي ، د فخر معنی داده چې په ژبې سره تکبر وکړي اود تکبر معنی داده چې په باطن کې تکبر وي یعني په زړه کې خپل ځان لوی وګڼي اونور خلګ سپک ګڼي ، اومختال هغه ته وایي چې په ظاهري شکل کې تکبر کوي اود عجب معنی داده چې صرف د خپلو صفتونو خیال ورسره وي ، داځلور واړه شیان (فخر ، تکبر ، مختال ، عجب) په تکبر

اوکبر کي داخل دی څلور پاړه یوشان ناجائز اوحرام دي په قرآن کریم کي دی إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ كُلَّ مُخْتَالٍ فَخُورٍ .او: إِنَّهُ لَا يُحِبُّ الْمُسْتَكْبِرِينَ. تکبر دزړه هغه ګنده ناروغي ده دکومي په وجه چي شیطان همیشه همیشه لپاره ذلیل وګرځول سو ،بهر حال دحدیث نه داهم معلومه سوه چي مسجدونه به دزباني تعریف لپاره پاتي سي، یعني په دې کي به نیک کارونه نه کیږي یاهسي به په نامه مسجدونه پاتې سي.

لغوي اوصرفي تحقیق : اشراط دادشرط جمع ده په معنی د(۱) : علامه ، نښه . (۲): بیکاره او حقیر،مال، دویم لفظ شرط دی په سکون دراء سره په معنی دشرط لګولو سره ، داد نصر اوضرب نه مصدر دی ، ساعة په معنی د(۱) : ګنټه (۲) : قیامت .(۳) : وخت . ددې جمع ساعات راځي ، یتباهی دباب تفاعل څخه مضارع ده په معنی دیویل باندي فخر کول. **نکته** : په باب تفاعل کي اشتراک من الجانبین وي اوپه باب مفاعله کي هم اشتراک من الجانبین وي لیکن فرق دادی چي مفاعله کي د دواړو طرفونو څخه اشتراک مساوي وي اوپه باب تفاعل کي دیوغلبه وي په بل باندي ، الناس دانسان جمع ده اومساجد دمسجد (په کسره دجیم سره) جمع ده ، ددې تحقیق په حدیث (۶۶) کي تیرسوی دی ،هلته یې وګورئ .**ترکیب** : (ان) حرف مشبه بالفعل . (من) جار (اشراط الساعة) مضاف اومضاف الیه ، مضاف سره دمضاف الیه نه مجرور دجار ،جار سره دمجرور نه متعلق په ثابت پوري خبر مقدم دان ، (ان) مصدریه (یتباهی) فعل (الناس) فاعل (فی المساجد) جار اومجرور ، جار سره دمجرور نه متعلق سو په فعل پوري ، فعل سره دفاعل اومتعلق نه جمله فعلیه خبریه په تاویل دمصدر سره اسم مؤخر دان لپاره . ان سره دخپل خبر مقدم اواسم مؤخر نه جمله اسمیه خبریه سوه .

إِنَّمَا شِفَاءُ الْعِيِّ السُّوَالُ ،رواه ابوداود ،تخریج مشکوة صفحه ۵۵ س ۱ عن جابر رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه : بې شکه دجهالت شفاء پوښتنه کول دي . **توضیح** : اوشان ورود : حضرت جابر رضی الله عنه فرمایي چي مور ځوکسان ملګري په ووتلو نودیو ملګري په سرباندي کانړی را پرپوتلو اودهغه سر زخمي سو کله چي هغه شپې ویده سو نوسهار هغه ته دغسل حاجت پیښ سو نودغه زخمي صحابي دخپلو ملګرونه **پوښتنه** : وکړه چي آیا زما لپاره دتیمم وهلو اجازت نسته او که نه ؟ نوبعضو صحابه کرامو وویل چي نسته ، غسل به کوی هغه غسل وکړو نو مړسو ، راوي وایي کله چي مور حضور صلی الله علیه وسلم ته راورسیدلو نوهغوی ته مور ټوله قصه واوروله په دې باندي حضور صلی الله علیه وسلم وفرمایل چي هغه تاسو وژلی دی الله تعالی دي تاسو قتل کړي کله چي تاسو ته دمسئلې علم نه ؤ نوتاسو پوښتنه ولي نه کوله ،بیشکه دجهالت شفاء په تپوس کولو کي ده ، دهغه لپاره تیمم کافي ؤ یابه هغه په سرباندي پټې ترلی وای ټول بدن به یې وینځلی وای اودپټې په ځای باندي به یې مسح کړی وای . (حدیث ختم سو)

فائده : ددې حدیث څخه معلومه سوه چې کله د مسئلې پوره علم نه وي نو مخکې هیڅ کله بنودل پکار دي ، په تپوس کولو کې هیڅ ذلت نسته په تپوس سره جهالت لرې کیږي او په علم کې زیا توالی راځي .

لغوي او صرفي تحقیق : شفاء دا مصدر دی دباب د ضرب څخه ددې جمع اشفیة راځي جمع الجمع یې شاف راځي ، العی د سمع څخه مصدر دی په معنی د څه کار کې عاجز کېدل ، سوال د فتح څخه مصدر دی په معنی د تپوس کولو سره او که چیرې مسئله مصدر راځي نو معنی یې کیږي غوښتل . **ترکیب** : (ان) حرف مشبه بالفعل (ما) کافه عن العمل (شفاء العی) مضاف او مضاف الیه ، مضاف سره د مضاف الیه نه مبتداء (السوال) یې خبر ، مبتداء سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه سوه .

(۱۱۳) إِنَّمَا الْأَعْمَالُ بِالْخَوَاتِيمِ ، (بخاري ومسلم) تخریج مشکوة صفه ۲۰ س ۷ عن سهل بن سعد رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه : په دیکې شک نسته چه د عملونو مدار د خاتمې په اعتبار سره دی . **توضیح او شان ورود** : راوي فرمایي چې حضور ﷺ وفرمایل : (ډیر ځل) سړی عمل کوي د دوزخیانو او هغه د جنتیانو څخه وي او (ډیر) ځل عمل کوي د جنتیانو او هغه د دوزخیانو څخه وي ، بشک د اعمالو دارومدار د خاتمې په اعتبار سره دی (انتهي) دانسان کامیابي هغه وخت وي کله چې د هغه خاتمه ښه وي ډیر نیک متقي پرهیزګار صوفی او کامل ولي دانه سي ویلی چې زما خاتمه به ضرور ښه وي ، څوک چې په صحیح معنی ولي کامل وي هغه دانه سي ویلی او یوغټ کافر دانسي ویلی چې زما خاتمه به خرابه وي الله تعالی چې د چا څه غواړي اخلی هغه چې وغواړي د خسړې نه دستي کار واخلي ، اوچې د ذري نه وغواړي نو په هغه کې دلوی ګټ طاقت واچوي اوچه وغواړي نو ګونګ د صفاییان والاجوړ کړي . مطلب دادی چې په ژوند کې انسان هر څنګه چې وُدې ته کتل دی چې هلته به څنګه وي ، په دنیا کې تکبر کولو نه هیڅ فائده نسته هر کله دا پته نسته چې الله تعالی سره هم زما څه مرتبه سته او که نسته .

جگہ جی لگانے کی دنیا نہیں ہے :: یہ عبرت کی جگہ ہے تماشا نہیں ہے

دزړه لګولو ځای دنیا نه ده ، د عبرت ځای دی تماشه نه ده .

فائده : ددې حدیث نه معلومه سوه چې ګناه بالکل پرېښودل پکار ده ، او سمدستي نیک عمل شروع کول پکار دی ، ځکه چې د خاتمې هیڅ پته نسته . دویم : د عجب او تکبر نه فورا خپل ځان صفا کول پکار دی ځکه چې دلته خپل ځان لوی ښکاره کونکی به هلته پښیماني ښکاره کوي . دریم : چاته په یقین سره دانسي ویل کېدی چې داجنتي دی او که دوزخي ، ځکه چې د خاتمې هیڅ پته نه لګیږي . **لغوي او صرفي تحقیق** : اعمال د عمل جمع ده . خواتیم د خاتمې جمع ده د اد ضرب څخه په معنی د (۱) : مکمل کول (۲) : مهر لګول . **ترکیب** : (ان) حرف مشبه بالفعل (ما) کافه عن العمل (الاعمال) مبتداء (بالخواتیم) جار او مجرور ، جار سره د مجرور نه متعلق په معتبرة پورې ، معتبرة اسم مفعول هی ضمیر په کې نائب فاعل ، اسم مفعول سره د خپل نائب فاعل او متعلق نه شبه جمله خبر د مبتداء ، مبتداء سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه سوه .

(۱۱۴) إِنَّمَا الْقَبْرُ رَوْضَةٌ مِنْ رِيَاضِ الْجَنَّةِ أَوْ حُفْرَةٌ مِنْ حُفَرِ النَّارِ.

ترمذی، تخریج مشکوة صفحه ۴۵۸ س ۲ عن ابی سعید رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه: یقینا قبر یو باغ دی د جنت د باغونو څخه یا یوه کنده ده د جهنم د کندو څخه.

توضیح او شان ورود: دا یو اوږد حدیث دی خلاصه یې داده چې یو ځل حضور صلی الله علیه وآله وسلم د لمانځه لپاره تشریف راوړو نو حضور صلی الله علیه وآله وسلم وفرمایل: که چیرې تاسو ته مرګ یاد وی نو تاسو به نه خندل، مرګ ډیر یاد وی ځکه چې قبر هره ورځ وایي چې زه د لري والي کورم، زه د تنهایی کورم، زه د خاورو کورم، زه د چینجو کورم، کله چې نیک سړی ښخ کړی سي نو قبر ورته وایي مرحبا (ستا راتلل دي مبارک وي) ته په زمکه باندي ګرځیدونکو کي ما ته خوښ وی نن ستا معامله ما ته سپارلی سوی ده زر ده چې ته به زما معامله ووینی، بیایې وفرمایل چې کوم ځای پوري دده نظر رسیږي هغه پوري دده قبر فراخ کړی او د جنت دروازې ورته خلاص کړی سي او که چې کافر یا ګناهګار ښخ کړی سي نو قبر ورته وایي لا مرحبا یعني ستا راتلل نامبارک دی ته په زمکه ګرځیدونکو کي ما ته ناخوښه وی نن به تا ته پته ولګي نود څلورو واړو طرفونو نه وربانديي زمکه را یوځای سي، اودده هډوکي پښتی یوبل کی ننوزي او اویا زهریله اژدها ګاني وربانديي پرې پښودل سي، هره یو اژدها دومره زهریله وي که چیرې هغه په زمکه باندي یو پوه هم وکړي نودنیا به ختمه سي او په زمکه باندي به هیڅ شئ زرغون نسي. د اعذاب به کافر یا ګنهکار انسان ته تر قیامته پوري ورکول کیږي، بیا حضور صلی الله علیه وآله وسلم دا ارشاد وفرمایلو چې قبر یا د جنت د باغونو څخه یو باغ دی یا د دوزخ د کندو څخه یوه کنده ده (انتهی) اودا اول منزل دی که چیرې دا ښه وي نو یا قي منزلونه (پراونه) به هم ښه وي، خدای مه کړه که چیرې دا خراب سو نو په نورو منزلونو کي به هم ناکام وي. **لغوي او صرفي تحقیق**: قبر دا د نصر اوضرب څخه مصدر دی مقبرا هم مصدر راځي په معنی د ښخولو سره، د قبر جمع قبور راځي، روضة مفرد دی په معنی د باغ د دې جمع ریاض اوروضات راځي، داد نصر څخه دی په معنی د (۱) تللو (۲): ښودلو حفرة مفرد دی په معنی د کندي سره حفریې جمع ده. **ترکیب**: (ان) حرف مشبه بالفعل (ما) کافه عن العمل (القبر) مبتداء. (روضة) موصوف (من) جار (ریاض الجنة) مضاف اومضاف الیه، مضاف سره د مضاف الیه نه مجرور د جار، جار سره د مجرور نه متعلق سو ثابتة پوري، ثابتة اسم فاعل هی ضمیر په کي دی هغه یې فاعل، اسم فاعل سره د فاعل او متعلق نه شبه جمله صفت، موصوف سره د صفت نه معطوف علیه (واو) عاطفه (حفرة) موصوف (من) جار (حفر النار) مضاف اومضاف الیه، مضاف سره د مضاف الیه نه مجرور د جار، جار سره د مجرور نه متعلق سو په ثابتة پوري، ثابتة اسم فاعل هی ضمیر پکي دی هغه یې فاعل، اسم فاعل سره د خپل

فاعل اومتعلق نه شبه جمله صفت دموصوف ، موصوف سره دصفت نه معطوف ، معطوف علیه سره دمعطوف نه جمله معطوفه خبر دمبتداء سو ،مبتداء سره دخبر نه جمله اسمیه خبریه سوه .

اَلْجُمْلَةُ الْفِعْلِيَّةُ كَادَ الْفَقْرُ اَنْ يَّكُوْنَ كُفْرًا ،بیهقی، تخریج مشکوة صفحه ۴۲۹ س ۱۷ عن انس رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه : نژدی ده غریبی چې شی کفر. **توضیح** : تش لاس اوغریبی کله سړي کفر ته رسوی ، وجه داده چې کله انسان په الله تعالی اعتراض وکړي چې زه یې ولي تس لاس غریب پیدا کړی یم وغیره وغیره (نعوذ بالله من ذلک) نوداکفر دی ،یا په تقدیر باندي اعتراض کولو سره هم انسان کافر کیږي یاخدای دی نکړي چې سړی مرتد سي (دکفر کلمه ووایي) چې په اسلام کي خوغریبی ده راسه کافر سه (نعوذ بالله من ذلک) ددې وجې نه په هرحالت کي دالله تعالی شکر ادا کول پکار دی . دغریبی نه ویریدل نه دي پکار ،په یوبل حدیث کي حضور ﷺ وفرمایلو چې غریب خلګ به پنځه سوه کاله مخکي جنت ته ځي ، اودعابه یې هم کوله چې اې الله ماته دمسکینې ژوند راکړه اوماد مسکینې په حالت کي وفات کړه اوماد مسکینانو سره یوځای راپورته کړه . **لغوي اوصرفي تحقیق** : فقر دادضرب اوکرم څخه مصدر دی په معنی دغریب کېدلو سره ، مفلس کېدلو سره ، چې دنصر نه راسي نومعنی کې کښېنستل ده اوکه دسمع نه راسي نودامعنی کیږي دملا په هډوکي کي دناروغې په وجه درد کېدل ددې جمع فقور راځي . ددې څخه دی فقیر په معنی دمفلس جمع یې فقراء راځي ، کفر دادنصر نه مصدر دی په معنی دپټولو سره ، هم ددې څخه دی کافر په معنی د(۱) :پټونکی سره، (۲): توره شپه . (۳): تیاره . (۴): دکجوري دغونچې پرده . (۵): سمندر (۶): لویه کنده (۷): دریاب . (۸):ناشکره . (۹): هواره زمکه . (۱۰): زمیندار . دکافر جمع کفار راځي ،داعام طور دمؤمن مقابل راځي اوکفرة هم دی داجمع عام طور باندي دناشکرې په معنی کي استعمالیږي . **ترکیب** :(کاد) فعل دافعال ناقصه ؤ څخه ،(الفقر) اسم دکاد ، (ان) ناصبه مصدریه (یکون) فعل ناقص هو ضمیر یې اسم سو (کفرا) یې خبر ، یکون سره داسم اوخبر نه په تاویل دمصدر سره خبر دکاد سو ، کاد سره دخپل اسم اوخبر نه جمله فعلیه خبریه سوه . **فائده** : په افعال ناقصه ؤ کي جمله اسمیه هم جوړیدی سي اوفعلیه هم ،دلته فعلیه زیات مناسب ځکه ده چې بیان دجملې فعلې څخه شروع کیږي

(۱۱۶) يُبْعَثُ كُلُّ عَبْدٍ عَلَى مَامَاتَ عَلَيْهِ (مسلم، تخریج مشکوة صفحه ۴۵۷ س ۲ عن جابر رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه : راپورته کول کیږي هریوبنده په هغه حالت باندي په کوم حالت چې هغه مړ سوی وي

توضیح : کوم سړی چې په کوم حالت کي مري هم په هغه حالت باندي به راپورته کیږي که چیري په باندي مړوي نو په دین باندي به راپورته کول کیږي اوعزت به یې کول کیږي اوکه په دنیا باندي مړ سوی وي نو هغه به په دنیا راپورته کول کیږي اوذلیل به وي ځکه چې دنیا دده مقصود وه اوهغه یې بیا وموندله ، اوکه په ایمان باندي مړوي نو په ایمان باندي به راپورته کول کیږي اوخدای دي نکړي که چیري په

کفر باندي مړوي نو په کفر به راپورته کيږي ،(الامان والحفيظ) دغه شان که چيري به نيکي باندي مړوي نو په هغه باندي به راپورته کول کيږي ، مقصد دادی چي د دنيا په ژوند کي يې چي څه کړی وي هغه به ده ته ملاويږي ، اوچي کوم نقصانات يې جمع کړی وي هغه به هم ده ته ورکول کيږي ، او حساب به صفا سي ، دارومدار په مرګ دی به کوم حالت باندي چي مري هم هغه شان به پاڅي ، الله تعالی دي زمونږ خاتمه په کامل ايمان وکړي . امين ثم امين) **لغوي او صرفي تحقيق** : يبعث دا د فتح څخه د مضارع مجهول صيغه ده په معنی د (۱) : يوازي ليږلو سره (۲) : پاڅول (۳) : دوباره ژوندي کول . هم د دې څخه باعث دی په معنی د سبب جمع يې بواعث راځي . **ترکيب** : (يبعث) فعل (کل عبد) مضاف او مضاف اليه ، مضاف سره د مضاف اليه نه نائب فاعل (علی) جار (ما) موصوله (مات) فعل هو فاعل ، (عليه) جار او مجرور ، جار سره د مجرور نه متعلق سو په فعل پوري ، فعل سره د فاعل او متعلق نه جمله فعليه خبريه صله د موصول ، موصول سره د صلې نه مجرور د جار ، جار سره د مجرور نه متعلق په فعل پوري ، فعل سره د فاعل او متعلق نه جمله فعليه خبريه سوه

(۱۱۷) كَفَى بِالْمَرْءِ كَذِبًا أَنْ يُحَدِّثَ بِكُلِّ مَا سَمِعَ.

(مسلم) تخريج مشکوة صفحه ۲۸ س ۲۷ عن ابی هريرة رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه : کافی ده سړي د دروغجن کېدو لپاره چي خبره وکړي د هر هغه شئ کوم چي هغه واوريدل .

توضيح : دانسان د دواعجن کېدو لپاره دومره هم کافي ده چي هره اوريدلی سوی خبره نورو ته بيانوی ، ترڅو چي دخبري تصديق نه وی سوی نوبل چا ته دهغه بيانول نه دی پکار . کوم سړی چي بغير د تصديق نه خبره نورو ته بيانوي هغه به دروا عجن او کذاب وی ، دهغه دهري خبري نه به اعتماد پورته سي ، يا د سائل پکار دی چي دروغ په هيڅ صورت کي هم جائز نه دی اګرچي په مسخره وکي وي ، دروغ په مسخره وکی ويل هم جائز نه دی ، په دې حديث کي کوي خبري داخل دی ؟ د مسئلو او احاديثو علوم دينيه ؤ نه چي کومه خبره نه هغه د غير د څه تحقيق نه نورو ته بنودل جائز دی او که چيري عامه خبره وي يا اخباری خبره وي نو که چيري دهغه نه څه نقصان نه وي بيا جائز دی کنی نو جائز نه دی . د دې وجې نه په هر هغه خبره کی احتياط کول پکار دی ، ديو دروغ ويلو لپاره يقينا سل دروغ ويل کيږي ، په بل حديث کي داسي دی : وايا کم والکذب . يعني د دروغ ويلو څخه بالکل بچ کړی ، په يوبل حديث کي دی چي ديو دروغ ويلو نه د رحمت فرشته يو ميل لري تښتي . **لغوي او صرفي تحقيق** : د ټولو الفاظو تحقيق تير سوی دی . **ترکيب** : (کفی) فعل (ب) زائده جاره (المرء) ممیز (کذبا) تمیز ، ممیز سره د تمیز نه مجرور د جار ، جار سره د مجرور نه متعلق په فعل پوري . (ان) ناصبه مصدريه (يحدث) فعل هو فاعل (ب) جار (کل) مضاف (ما) موصوله (سمع) فعل هو فاعل ، فعل سره د فاعل نه جمله فعليه خبريه صله ، موصول سره د صلې نه مضاف اليه سو ، مضاف سره د مضاف اليه نه مجرور د جار ، جار سره د مجرور نه متعلق سو په فعل پوري ، فعل سره او متعلق نه جمله فعليه خبريه په تاويل د مصدر سره فاعل د کفی ، کفی فعل سره د خپل فاعل او متعلق نه جمله فعليه خبريه سوه .

(۱۱۸) يُغْفَرُ لِلشَّهِيْدِ كُلَّ ذَنْبٍ اِلَّا الدَّيْنُ ،مسلم، تخريج مشكوة صفحه ۲۵۲ س ۱۳ عن عبدالله بن عمرو رضي الله عنه مرفوعا)

ژباړه : بخښنه کول کيږي شهيد لپاره دهريوې ګناه سوا د قرض نه . **توضيح** : دشهيد هره ګناه چې دحقوق الله سره متعلق وي معاف کولی سي ليکن قرض نسي معاف کېدلی ، يعني حقوق العبادنسي معاف کېدلی . په دې کي قرض خاص طور سره نسي معاف کېدلی ،په دې حديث کي دشهيد دفضيلت ذکر کولو سره سره دا ښودل هم مقصود دی چې قرض بغير دضرورت نه اخيستل نه دی پکار ،په بل حديث مرفوع کي داسی دی :ان اعظم الذنوب عند الله ان يلقاه بها عبد بعد الكبائر اللتى نهى الله عنه ان يموت رجل وعليه دين ولا يدع له قضاء. چې سړی مړ سي او په ذمه يې قرض وي او مال يې د قرض ادا کولو لپاره نه وی پرېښودی نو داد ټولو نه لويه ګناه ده . ددې مطلب دا نه دی چې بالکل قرض اخيستل نه دی پکار ،بلکه ددې مطلب دادی چې په ادا کولو کي دي کوتاهي نه کوي او دخلګو حق دي نه خوري په يو حديث قدسي کي دي چې الله تعالی فرمايي چې څوک قرض اخلي او نيت يې د ادا کولو وي او هغه مړ سي نو الله تعالی به د قيامت په ورځ دهغه قرض ادا کړي او دچا چې دا ادا کولو نيت نه وي نو هغه به الله تعالی فرمايي چې آيا تا دا ګنړله چې زه به دخپل بنده حق نه اخلم ،پس دهغه نيکی به قرضداري (قرض غوښتونکی) ته ورکړی سي . کنی دهغه ګناه به ده ته ورکړي (طبراني ،حاکم) په يو بل حديث کي داسي راغلی دی چې کوم سړی د تکبر ،خيانت او قرض نه بري وي او مړ سي هغه به نيغ جنت ته ځي دا دواړه حديثونه په مشکوة شريف (۲۵۳) کي موجود دی . **لغوي او صرفي تحقيق** :يغفر دادضرب نه مضارع مجهول ده په معنی د پټولو سره ،شهيد په معنی (۱) :حاضر. (۲) :په ګواهي کي امانت دار (۳) : دچا دعلم نه چې هيڅ شي پټ نه وي ،(۴) : دالله تعالی په لار کي وژلی سوی ،داکه چيري دسمع دباب څخه هم راسي ، نو معنی يې حاضر بدل دی اوکه چيري داد کرم نه راسي نو معنی يې داده ګواهي ورکول دسمع نه هم د ګواهی په معنی کي استعماليږي . **ترکيب** :(يغفر) فعل (ل) جار (الشهيد) مجرور ،جار سره دمجرور نه متعلق سو په فعل پوري ، (کل ذنب) مضاف اومضاف اليه ، مضاف سره دمضاف اليه نه مستثنی منه (الا) حرف استثناء (الدين) مستثنی ،مستثنی منه سره دمستثنی نه نائب فاعل فعل سره دفاعل او متعلق نه جمله فعليه خبريه سوه .

(۱۱۹) لُعِنَ عَبْدُ الدِّيْنَارِ وَلُعِنَ عَبْدُ الدِّرْهَمِ ،ترمذی، تخريج مشكوة صفحه ۴۴۱ س ۱۵ عن ابی هريرة رضي الله عنه مرفوعا)

ژباړه : لعنت ويل سوی دی ددينا په غلام اود لعنت کړی سوی دی ددرهم په غلام. **توضيح** : کوم سړی چې ددرهم اودينار داسي غلامي کوي چې خپل دين برباد کړي نو هغه ملعون (لعنتی دی) اودمال حقيقي محبت چې دچا په زړه کي دی هغه هم معلون دی ،که چيري الله تعالی پيسې ورکوي نو دی راضي وي او کله چې نه ورکوي نو ناراضه وي ،معلومه سوه چې دده په زړه کي دمال عقلي محبت موجود دی ،مال اګرچې دهر قسم نه وي ،ددينار اودرهم په شکل کي وي يا دسامان په شکل کي وي ، مطلب

دادی چې کله دمال محبت وي نو په ده باندې لعنت دی ،مال په جائزه طریقه ګټل شه بدشئ نه دی ،مقصد دادی چې دمال سره محبت نه دی پکار اګر چې د ورځې یولکه روپۍ ګټي. **لغوي او صرفي تحقيق** : الدینار په معنی د (سروزرو یوه پخوانی سکه چې دسروزرو څلور نیمي ماشې یو ګرام وزني سکه وي) دادباب تفعیل نه مصدر هم دی په معنی ددینارو جوړولو سره ، ددې جمع دنانیر راځي،الدرهم دسپینو زرو سکه چې وزن یې درې نیمي ماشې (یو ګرام) جوړیږي (په یو کلو کې زر ګرامه وي ، ګرام اوماشه تقریبا یو برابر دی ،په یو چټاکی کې شپیته ماشې وي دزیات تفضیل لپاره دمفتي محمد رحمۃ اللہ علیہ رساله اوزان شرعیه وګورئ . **ترکیب** : (لعن) فعل (عبدالدنیار) مضاف اومضاف الیه ،مضاف سره دمضاف الیه نه نائب فاعل ،فعل سره دخپل نائب فاعل نه جمله فعلیه خبریه معطوف علیه ، (واو) عاطفه (لعن) فعل (عبد) مضاف (الدرهم) مضاف الیه ، مضاف سره دمضاف الیه نه نائب فاعل ،فعل سره دخپل نائب فاعل جمله فعلیه مطعوف سو ، معطوف علیه دخپل معطوف سره جمله معطوفه سوه .

(۱۲۰) حُجِبَتِ النَّارُ بِالشَّهَوَاتِ وَحُجِبَتِ الْجَنَّةُ بِالْمَكَارِهِ.

(رواه البخاری ومسلم، تخریج مشکوة صفحه ۴۳۹ س ۱۹ عن ابی هریرة رضی اللہ عنہ مرفوعا

ژباړه : جهنم پټ کړی سوی دی په خواهشاتو سره اوجنت پټ کړی سویدی په تکلیفونو سره .

توضیح : جهنم ته سړی هغه وخت ځي کله چې په ناجائزو خواهشاتو عمل کونکی وي اوجنت ته هغه وخت ځي کله چې څه لږ شان تکلیفونه تیر کړي ،یعنی همیشه بندګي اوډیر ذکر کوي ،په دې کې پوره دین راځي ،په دې کې اول اول مشقت محسوس کیږي بیامزه راتلل شروع سي ،چې لږ شان مشقت برداشت کړي ددې په بدله کې به جنت ته داخلیږي ،جنت په مشقتونو سره پرده کړی سوی دی ، کله چې مشقتونه برداشت کړی سي نو دجنت لاربه خلاص کړی سي ، ددې مطلب دانه دی چې چاته الله تعالی په دنیا کې ارام ورکړی دی موږ ه هغه ته ووایو چې ته به جنت ته هغه وخت ځي چې خښتي وګټی اوچتی کړی ګنی نونشي تللی داغلطه ده، ځکه چې :دشهوتونو څخه مراد شهوات محرمه دی لکه شراب څښل ، زنا کول ،غیبت کول وغیره ، کله چې انسان دګناهونو څخه بچ سي نوجهنم به په پرده کې وي کنی نو دهغه ټولې پردې به موږ لپاره لرې کړی سي (الامان والحفیظ) . **لغوي او صرفي تحقيق** : حجبت دادنصر دماضي مجهول واحد مونث صیغه ده ،حجابا یې مصدر راځي په معنی د پټولو ،پرده کولو دنته راتلو نه منع کولو ،جمع یې حجب راځي ، شهوات داجمع شهوة مصدر دی ،دنصر اوسمع څخه په معنی د (۱) : د خوښولو سره (۲) : ډیر خوښول ،مکار جمع مکرهة ده ،مکرهة مصدر دی دسمع څخه په معنی دناخوښی سره ، ددې الکره په معنی د (۱) : مشقت . (۲) : انکار **ترکیب** : (حجبت) فعل (النار) نائب فاعل (باالشهوات) جار اومجرور ، جار سره دمجرور نه متعلق سو په فعل پورې ، فعل سره دنائب فاعل

اومتعلق نه جمله فعليه خبريه معطوف عليه ، (واو) عاطفه(حجبت فعل (الجنة) نائب فاعل ، (ب) جار(المكاره) مجرور ، جار سره دمجرور نه متعلق سو په فعل پوري ، فعل سره دنائب فاعل اومتعلق نه جمله فعليه خبريه معطوف ،معطوف سره دمعطوف عليه نه جمله معطوفه .

(۱۲۱) يَهْرَمُ ابْنُ آدَمَ وَتَشِبُّ مِنْهُ اثْنَتَانِ الْحِرْصُ عَلَى الْمَالِ وَالْحِرْصُ عَلَى الْعُمُرِ.

تخريج مشكوة صفحه ۴۴۹ س ۲۱ عن انس رضي الله عنه مرفوعا

ژباړه : بوډا کيږي بني ادم اوځوانيږي په ده کي دوه شيان ،په مال باندي لالچ اوپه عمر باندي لالچ.

توضيح : انسان بوډا کيږي اوپه ده کي دوه حرصه زياتيږي . (۱): يو داچي دمال لالچ کونکی جوړيږي هرڅومره مال چي راسي خودې وايي داکم دی (۲): دويم داچي دعمر لالچي سي ،چي په عمر کي اضافه وسي ،ياد ولرئ چي په مال کي اضافه نه کيږي مګر په زکوة سره يعني مال په زکوة سره پاکولو نه وروسته او په عمر کي زيات والی نه کيږي مګر د ګناه پرېښودلو څخه وروسته کله چي انسان بوډا کيږي نودخپل عمر دزياتيدلو تصور کوي اودمال حريص جوړيږي چي په ناسته ناسته خورم څښم اوښکلي جوړوم ، حال دادی چي دده پښې دقبر کي زوړندي دي ،دمال محبت داسي شئ دی چي انسان تباه کوي ،لکه چي په يوحديث کي تيرسوی دی چي دپيسو عبادت کونکی خولعنتي وي.

لغوي اوصرفي تحقيق : يهرم دادسمع څخه مضارع ده هرمًا اومهروما اومهرمً يې مصادر دی په معنی دډيربوډا کيدو سره اوکمزوري کيدلو سره ،يشب دادضرب نه مضارع ده ،شبابا اوشبويا يې مصادر دی په معنی د(۱): ځوانيدلو (۲): دبلوغ څخه تردير شو کلونو پوري زمانه ،شباب دشاب جمع ده په معنی دځوان ،حرص دنصر اوسمع څخه مصدر دی په معنی دلالچ کولو اوډير خوښولو ،عمر په معنی دژوند سره ،عمر مصدر دی دضرب اونصر په معنی دډير عمر پيدا موندل،ددې څخه عمر اوعمرو دواړه اسمونه دی.

تركيب : (يهرم) فعل (ابن ادم) مضاف اومضاف اليه ،مضاف سره دمضاف اليه نه فاعل ، فعل سره دفاعل نه جمله فعليه خبريه معطوف عليه ،(واو) عاطفه (يشب) فعل (من) جار(ه) مجرور،جار سره دمجرور نه متعلق سو ،په فعل پوري،(اثنان) مبدل منه (الحرص) ذوالحال،(على) جار (المال) مجرور ، جار سره دمجرور نه متعلق په ثابت پوري ،ثابت اسم فاعل ،په دې کي هو ضمير ددې فاعل ، اسم فاعل سره دخپل فاعل اومتعلق نه شبه جمله حال سو ،ذوالحال سره دحال نه معطوف عليه ، (واو) عاطفه (الحرص) ذوالحال (على) جار (العمر) مجرور ،جار سره دمجرور نه ثابتا سره متعلق حال سو ، ذوالحال سره دحال نه معطوف ،معطوف عليه سره دمعطوف نه په جمله معطوفه بدل سو ، مبدل منه سره دبدل نه فاعل ديشب لپاره ، فعل سره دفاعل اومتعلق نه جمله فعليه خبريه معطوف ، معطوف عليه سره دمعطوف نه جمله معطوفه سوه .

(۱۲۲) نِعْمَ الرَّجُلُ الفَقِيهُ فِي الدِّينِ إِن احْتِيجَ إِلَيهِ نَفَعَ وإِن اسْتُغْنِيَ عَنهُ أَغْنَى نَفْسَهُ

رواه زربن، تخريج مشكوة صفحه ۳۶ س ۱۰ عن علی رضی الله عنه مرفوعا

ژباړه : ښه سړی په دین کې پوهه لرونکی دی که چیرې دهغه طرف ته څوک حاجتمند مندې ښکاره کړی نو نفع ورسوي او که دهغه نه څوک بې نیازي ښکاره کړی نو هغه خپل ځان بې نیازه ساتي.

توضیح : ښه عالم هغه دی کله چې خلګ هغه ته څه حاجت راوړي نو هغه پوره کوي یعني که څه دین خبره وي نو هغه ورته وښایي، یا د دین کار وي نو هغه وکړي او که خلګ ورته متوجه نه وي لا پرواهي اوبې نیازي ښکاره کړی، نو هغه عالم ته هم پکار دي چې خپل ځان دهغوی څخه مستغني کړي دهغوی محتاج نه جوړیږي که چیرې تیوشني کوي نو هغه دي پریږدي. **فائده** : د دې حدیث نه معلومه سوه چې چیرې د دین یا د عالمانو بې عزتي کیږي هلته تیوشنی ښودل جائز نه دی ځکه چې په: أَنُلْزِمُكُمُوهَا وَأَنْتُمْ لَهَا كَارِهُونَ. کې هم داخل دی. **ژباړه** : ایا موږ هدایت تاسو سره ومنبلولو او تاسو دانه خوښوی.

لغوي او صرفي تحقیق : نعم په معنی دبهتر چې داد کرم څخه راسي، نو همدغه معنی ده. او که چیرې دفتح او نصر څخه راسي نو په معنی دخوشحالی کې استعمالیږي، احتیج دباب افتعال نه صیغه دماضي مجهول ده، استغنی داباب استفعال څخه ماضي مجهول ده. **ترکیب** : (نعم) فعل، (مدح الرجل مبدل منه (الفقیه) صفت مشبه (فی) جار (الدین) مجرور، جار سره دمجرور نه متعلق په صفت مشبه پوري، صفت مشبه سره دخپل فاعل (هوضمیر) او متعلق نه شبه جمله بدل سو، مبدل منه سره دبدل نه فاعل دفعل، فعل سره دفاعل جمله فعلیه انشائیه سوه، (ان) حرف شرط (احتیج) فعل هو نائب فاعل، (الیه) جار او مجرور، جار سره دمجرور نه متعلق په فعل پوري، فعل سره دنائب فاعل او متعلق نه جمله فعلیه خبریه شرط سوه، نفع فعل هو فاعل، فعل سره دفاعل نه جمله فعلیه خبریه جزاء، شرط سره دجزاء نه معطوف علیه، (واو) عاطفه (ان) شرطیه (استغنی) فعل هو نائب فاعل، (عنه) جار او مجرور، جار سره دمجرور نه متعلق سو په فعل پوري، فعل سره دنائب فاعل او متعلق نه جمله فعلیه خبریه شرط سو (اغنی) فعل هو فاعل، (نفسه) مضاف او مضاف الیه، مضاف سره دمضاف الیه نه مفعول به، فعل سره دفاعل او مفعول به نه جمله فعلیه خبریه جزاء، شرط سره دجزاء نه معطوف، معطوف علیه سره دمعطوف نه جمله معطوفه.

(۱۲۳) يَتْبَعُ الْمَيِّتَ ثَلَاثَةٌ فَيَرْجِعُ اثْنَانِ وَيَبْقَى مَعَهُ وَاحِدٌ يَتْبَعُهُ أَهْلُهُ وَمَالُهُ وَعَمَلُهُ فَيَرْجِعُ أَهْلُهُ وَمَالُهُ وَيَبْقَى عَمَلُهُ، بخاري او مسلم، تخريج مشكوة صفحه ۴۴۰ س: ۱۲ عن انس رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه : دمړي پسې درې شیان ځي، او دوه شیان بیرته واپس ځني راځي او یو ورسره باقي پاته کیږي، یو دهغه پیسې، دهغه دکور خلګ او دهغه عمل ورسره ځي، بیرته واپس ځنی راګرځي دهغه دکور

خلک اودهغه مال اوباقي ورسره پاته کيږي دهغه عمل . **توضيح** : کله چي انسان مړسي نودهغه سره دري شيان ځي . (۱) : دمړي دکور خلک اود هغه قريبان اوهغه څوک چي دې پيژني ټول ورسره دقبر پوري ځي . (۲) : دهغه مال هم ورسره ځي ،دمال څخه مراد دلته غلامان ،نوکران ،څاروي ،سورلی وغيره . (۳) : دهغه عمل هم ورسره ځي ، ليکن په دغه دري شيانو کي دوه اولنی بيرته واپس ځني راځي اويووورسره پاتيږي چي هغه دده عمل دی کوم چي ده په دنيا کي په اخلاص سره کړی دی ، اعمال ښه وي يابدوي ،په هرحال کي ده سره ځي ،دهغه مطابق جزا اوسزاء ورکول کيږي . **پوښتنه** : په حديث کي راځي چي مال ورسره نه ځي اوکه ځي نو تر قبر پوري ورسره ځي ، بياواپس راځي ، نوزکوة ورکول خومال دی اوپه زکوة ورکولو سره ثواب ملاويږي ،نومال ورسره ولاړ واوثواب ورته ورکړل سو؟ **جواب** : زکوة ورکول ياصدقه کول دايوعمل دی چي په مال پوري متعلق دی اوهرقسم عمل هرڅه سره چي متعلق دی ضرور ځي ،ددې وجي نه کوم عمل چي دمال سره متعلق دی هغه به هم ضرور ځي . **لغوي اوصرفي تحقيق** : يتبع دادسمع اوفتح څخه مضارع ده په معنی د (۱) : وروستو تللو سره (۲) : يوڅای تلل په نقش قدم تلل . ددې څخه تابعي دی (هغه څوک چي هغه صحابي ليدلی وي اوداسلام په حالت کي وفات سوی وي) يرجع دادضرب څخه مضارع ده ،يبقی دادسمع څخه مضارع ده ،اهل دادنصر اودضرب څخه مصدر دی په معنی دواده کولو سره اوچي دسمع څخه راسي نوييايي معنی ده دچاسره زړه لګول ، اهل مفرد دی ددې جمع اهال اواهلات وغيره راځي ، په معنی د (۱) : خاندان (۲) : رشته دار . هم ددې څخه اهلا وسهلا دی ،اصل عبارت دادی :صادفت اهلا لاغرباء ووطئت سفلا لا وغراء . يعني تادحپل کور خلک پيدا کړل نه پردي اوته نرمي زمکي ته راغلی نه سختي زمکي ته . **ترکيب** : (يتبع) فعل (الميت) مفعول به (ثلاثة) فاعل ،فعل سره دفاعل اومفعول به نه جمله فعليه خبريه سوه معطوف عليه ،(ف) عاطفه (يرجع) فعل (اثنان) فاعل ،فعل سره دفاعل نه جمله فعليه خبريه معطوف اول ، (واو) عاطفه (يبقی) فعل (معه) مضاف اومضاف اليه . مضاف سره دمضاف اليه نه مفعول فيه (واحد) فاعل ،فعل سره دفاعل اومفعول فيه نه جمله فعليه خبريه معطوف ثانی سو معطوف عليه سره دمعطوفينو څخه مبين ، (يتبع) (ه) مفعول به ،(اهله) مضاف اومضاف اليه ،مضاف سره دمضاف اليه نه مطعوف عليه ،(واو) عاطفه (ماله) مضاف اومضاف اليه ،مضاف سره دمضاف اليه معطوف اول (واو) عاطفه (عمله) مضاف اومضاف اليه ، مضاف سره مضاف اليه نه معطوف ثانی ، معطوف عليه سره ددواړو معطوينو نه فاعل ، فعل سره دفاعل اومفعول به نه جمله فعليه خبريه معطوف عليه ،سوه ،(واو) عاطفه (ماله) مضاف او مضاف اليه ،مضاف سره دمضاف اليه نه معطوف ،معطوف عليه سره دمعطوف نه فاعل ،فعل سره دفاعل نه جمله فعليه خبريه معطوف عليه .(واو) عاطفه (يبقی) فعل (عمله) مضاف اومضاف اليه . مضاف سره دمضاف اليه نه فاعل فعل سره دفاعل نه جمله فعليه خبريه معطوف . معطوف عليه سره دمعطوف نه بيا معطوف ،معطوف عليه سره دمعطوف نه بيان سو داول جملې ،مبين سره دبيان نه جمله فعليه خبريه بيانيه سوه .

خلک اودهغه مال اوباقي ورسره پاته کيږي دهغه عمل . **توضيح** : کله چي انسان مړسي نودهغه سره دړې شيان ځي . (۱) : دمړي دکور خلک اود هغه قريبان اوهغه څوک چي دې پيژني ټول ورسره دقبر پوري ځي . (۲) : دهغه مال هم ورسره ځي ،دمال څخه مراد دلته غلامان ،نوکران ،څاروي ،سورلی وغيره . (۳) : دهغه عمل هم ورسره ځي ، ليکن په دغه دړې شيانو کي دوه اولنی بيرته واپس ځني راځي اويوورسره پاتيږي چي هغه دده عمل دی کوم چي ده په دنيا کي په اخلاص سره کړی دی ، اعمال ښه وي يابدوي ،په هرحال کي ده سره ځي ،دهغه مطابق جزا اوسزاء ورکول کيږي . **پوښتنه** : په حديث کي راځي چي مال ورسره نه ځي اوکه ځي نو تر قبر پوري ورسره ځي ، بياواپس راځي . نوزکوة ورکول خومال دی اوپه زکوة ورکولو سره ثواب ملاويږي ،نومال ورسره ولاړو اوثواب ورته ورکړل سو؟ **جواب** : زکوة ورکول ياصدقه کول دايوعمل دی چي په مال پوري متعلق دی اوهرقسم عمل هرڅه سره چي متعلق دی ضرور ځي ، ددې وجي نه کوم عمل چي دمال سره متعلق دی هغه به هم ضرور ځي . **لغوي اوصرفي تحقيق** : يتبع دادسمع اوفتح څخه مضارع ده په معنی د (۱) : وروستو تللو سره (۲) : يوځای تلل په نقش قدم تلل . ددې څخه تابعي دی (هغه څوک چي هغه صحابي ليدلی وي اوداسلام په حالت کي وفات سوی وي) يرجع دادضرب څخه مضارع ده ،يبقی دادسمع څخه مضارع ده ،اهل دادنصر اودضرب څخه مصدر دی په معنی دواده کولو سره اوچي دسمع څخه راسي نوبيايې معنی ده دچاسره زړه لګول ، اهل مفرد دی ددې جمع اهال اواهلات وغيره راځي ، په معنی د (۱) : خاندان (۲) : رشته دار . هم ددې څخه اهلا وسهلا دی ،اصل عبارت دادی :صادفت اهلا لاغرباء ووطئت سفلا لا وغراء . يعني تادحيل کور خلک پيدا کړل نه پردي اوته نرمي زمکي تهراغلی نه سختي زمکي ته . **ترکيب** : (يتبع) فعل (الميت) مفعول به (ثلاثة) فاعل ،فعل سره دفاعل اومفعول به نه جمله فعليه خبريه سوه معطوف عليه ،(ف) عاطفه (يرجع) فعل (اثنان) فاعل ،فعل سره دفاعل نه جمله فعليه خبريه معطوف اول ، (واو) عاطفه (يبقی) فعل (معه) مضاف اومضاف اليه . مضاف سره دمضاف اليه نه مفعول فيه (واحد) فاعل ،فعل سره دفاعل اومفعول فيه نه جمله فعليه خبريه معطوف ثانی سو معطوف عليه سره دمعطوف ينو څخه مبين ، (يتبع) (ه) مفعول به ،(اهله) مضاف اومضاف اليه ،مضاف سره دمضاف اليه نه مطعوف عليه ،(واو) عاطفه (ماله) مضاف اومضاف اليه ،مضاف سره دمضاف اليه معطوف اول (واو) عاطفه (عمله) مضاف اومضاف اليه ، مضاف سره مضاف اليه نه معطوف ثانی ، معطوف عليه سره ددواړو معطوينو نه فاعل ، فعل سره دفاعل اومفعول به نه جمله فعليه خبريه معطوف عليه ،سوه ،(واو) عاطفه (ماله) مضاف او مضاف اليه ،مضاف سره دمضاف اليه نه معطوف ،معطوف عليه سره دمعطوف نه فاعل ،فعل سره دفاعل نه جمله فعليه خبريه معطوف عليه .(واو) عاطفه (يبقی) فعل (عمله) مضاف اومضاف اليه . مضاف سره دمضاف اليه نه فاعل فعل سره دفاعل نه جمله فعليه خبريه معطوف . معطوف عليه سره دمعطوف نه بيا معطوف ،معطوف عليه سره دمعطوف نه بيان سو داول جملې ،مبين سره دبيان نه جمله فعليه خبريه بيانيه سوه .

كَبُرَتْ خِيَانَةً أَنْ تُحَدِّثَ أَخَاكَ حَدِيثًا هُوَ لَكَ بِهِ مُصَدِّقٌ وَأَنْتَ لَهُ بِهِ كَاذِبٌ

(تخریج مشکوة صفحه ۴۱۳ س: ۱۵ عن سفیان بن اسد احضرمی رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه: لوی خیانت دادی چې ته خپل ورونه یوداسې خبره وکړی په داسې حال کې چې هغه تا په دغه خبره کې ریښتونی بولي اوته په هغه خبره کې درواغجن یې. **توضیح**: یومسلمان ورور ته داسې خبره بیانول چې هغه داخبره ریښتیا ګڼي، حالانکه هغه درواغوي نوداد درواغو ډګناه سره سره ډیر لوی خیانت هم دی، ځکه چې چاته صحیح بیان کول دهغه حق دی اوهغه ته درواغ ویل خیانت هم دی اوحق ضائع کول هم دی اوګناه کبیره هم ده. **لغوي اوصرفي تحقیق**: خیانة دادنصر څخه مصدر دی په معنی دامانت کې خیانت کول، ددې څخه خان هم دی په معنی د دوکان سره جمع خانات راځي. **ترکیب**: (کبرت) فعل هی ممیز (خیانة) تمیز، ممیز سره د تمیز نه مفسر، (ان) ناصبه مصدریه، (تحدث) فعل انت فاعل (اخاک) مضاف اومضاف الیه، مضاف سره د مضاف الیه نه ذوالحال، (هو) مبتداء (لک) او (به) دواړه جار اومجرور مقدم په (مصدق) اسم فاعل پورې متعلق سو، (مصدق) اسم فاعل دخپل فاعل (هوضمیر) اومتعلق نه خبر، مبتداء سره دخبر نه جمله اسمیه خبریه معطوف علیه، (واو) عاطفه (انت) مبتداء (به) جار اومجرور متعلق سو په کاذب پورې خبر، مبتداء سره دخبر نه جمله اسمیه خبریه معطوف، معطوف علیه سره دخپل معطوف نه حال، ذوالحال سره د حال نه مفعول اول، (حدیثا) مفعول ثانی، فعل سره فاعل اودواړو مفعولینو نه جمله فعلیه خبریه تفسیر، مفسر سره د تفسیر نه فاعل د کبرت، فعل سره د فاعل نه جمله فعلیه خبریه سوه.

(۱۲۵) بِئْسَ الْعَبْدُ الْمُحْتَكِرُ، إِنْ أَرْخَصَ اللَّهُ الْأَسْعَارَ حَزِنَ، وَإِنْ أَغْلَاهَا اللَّهُ فَرِحَ

(بیهقی، تخریج مشکوة صفحه ۲۵۱ س: ۷ عن معاذ رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه: بد دی ذخیره کونکی بنده، که ارزانه کړي الله تعالی نرخ نوغمجن سي اوکه نرخ ګران کړي نو خوشحاله سي. **توضیح**: داحتکار معنی ده څه شئ ذخیره کول، په دې حدیث کې اقوات یعني د خوراک شیان د قحط په زمانه کې ذخیره کولو نه منع کړې سوی ده، که چیرې الله تعالی نرخ ارزان کړي نوخفه سي چې اوس به زما کار بند سي، اوخراب به سي، اوکه چیرې نرخ زیات سي نو ډیر خوشحاله سي چې اوس به ذخیره سوی دخوارک شیان نه خرڅیږي، په بل حدیث کې د (خاطئ) لفظ هم ذکر سوی دی، لهذا معلومه سوه چې د قحط په وخت کې ذخیره کول دخوراک په شیانو کې ناجائز دی اوحرام دی اوکه د قحط زمانه نه وي یادخوراک شیان نه وي نوبیا ذخیره کولو څخه وروسته په خرڅولو کې هیڅ ګناه نسته. **لغوي اوصرفي تحقیق**: محتکر دادباب افتعال څخه اسم فاعل دی، احتکار مصدر دی په معنی د څه شئ د ګران خرڅولو لپاره ساتل، ددې مجرد دضرب اوسمع څخه راځي، په معنی د ظلم کولو سره او کمي کولو سره، اسعار داجمع ده دسعر په معنی د نرخ سره، د فتح اوسمع څخه راغلی دی، په معنی د اور تیزیدل، اغلاء دادباب افعال نه ماضي ده په معنی د ګران اخیستل، مجرد یې د نصر څخه راغلی دی په معنی د (زیاتولو او اوچتولو سره) فرح دادسمع څخه ماضي

ده په معنی دخوشحالیدو سره **ترکیب** : (بئس) فعل ذم (العبد) فاعل (المحتکر) مخصوص بالذم فعل دخپل فاعل اومخصوص بالذم سره جمله فعلیه انشائیه سوه . (ان) حرف شرط (ارخص) فعل (لفظ الله) فاعل (الاسعار) مفعول به . فعل سره دفاعل اومفعول به نه جمله فعلیه خبریه شرط. (حزن) فعل هوفاعل. فعل سره دفاعل نه جمله فعلیه خبریه جزاء ،شرط سره دجزاء نه جمله شرطیه معطوف علیه (واو) عاطفه (ان) شرطیه (اغلا) فعل هو فاعل فعل سره دفاعل نه جمله فعلیه خبریه جزاء سوه ، شرط سره دجزاء نه جمله شرطیه جزائیه معطوف ، معطوف علیه سره دمعطوف نه جمله معطوفه سوه

نُوعٌ آخَرُ مِنَ الْجُمْلَةِ الفِعْلِيَّة (وهو ما فی اوله لا النافیه)

لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ قَتَّاتٌ. تخریج مشکوة صفحه ۴۱۱ س: ۲۶ عن حذیفه رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه : چغلخور به جنت ته نه داخلیږي . **توضیح** : چغلي کونکی به جنت نه داخلیږي یعني څوک چې دچاخبره دجنګولو لپاره کله دلته بیانوي اوکله هلته . دغه ډول سړي ته چغلخور ویل کیږي ، دې دخپلي سزا موندلو وروسته جنت ته تللی سي ، په اول ځل نسي داخلیدی خو که چیرې الله تعالی یې معاف کړي نوبیانیږ جنت ته داخلیدی سي ، کنی دعذاب سخته خطره ده ، دچغلخور به په جهنم کي اپریش کول کیږي نوبیابه جنت ته دتللو قابل سي . ددې وجي نه ویلی سي چې اوله خبره تله بیایې وایه ،په جهنم کي به هغه خلګ زیات وي دچاچې دژبې دګناه زیاته وی غیبت وي که درواغ وي که چغلخوري وي اوکه بهتان وي وغیره وغیره ، داګناهونه خوهم دژبې دی اوپه دې کي هره یوه ګناه کبیره ده اوجهنم ته دبوتلو سبب دی (الامان والحفیظ) **لغوي اوصرفي تحقیق** : قتات دمبالغې صیغه ده ، ددې معنی چغلخور ده داد نصر څخه مستعمل دی،قطا یې مصدر ی په معنی د درواغو ویلو سر ،نمیمة هم چغلخوري ته ویل کیږي. **ترکیب** : (لایدخل) فعل (الجنة) مفعول فیه (قتات) فاعل ، فعل سره دفاعل اومفعول فیه نه جمله فعلیه خبریه سوه .

(۱۲۷) لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ قَاطِعٌ (بخاري ومسلم)

(تخرج مشکوة صفحه ۴۱۹ س: ۱۹ عن جبیر بن مطعم رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه : (تعلق) پرېکونکی به جنت ته نه داخلیږي. **توضیح** : څوک چې رشته داري پرېکونکی دی هغه نیغ جنت ته نه سي داخلیدی ، درشته داري پرېکولو سبب تکبر اوغصه وي ،په حدیث کي نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی : چې څوک تاسره تعلقات پرېکوي نوته ورسره صله رحمي کوه اوچې څوک تاسره بد کوي نو ته ورسره ښه کوه ، اودې حدیث زیات تفصیل په حدیث نمبر (۱۳۵) کي راځي . **لغوي اوصرفي تحقیق** : قاطع دادفتح څخه داسم فاعل صیغه ده ، په معنی دپرېکونکی ،قطعا یې مصدر دی په معنی دماتولو سره اوپرېکولو سره جدا کولو ، ددې څخه سیف قاطع راغلی دی په معنی دپرېکونکي توري . **ترکیب**:(لایدخل فعل (الجنة) مفعول فیه (قاطع) فاعل ، فعل سره دفاعل اومفعول فیه نه جمله فعلیه خبریه سوه .

ده په معنی دخوشحالیدو سره **ترکیب** : (بئس) فعل ذم (العبد) فاعل (المحتکر) مخصوص بالذم فعل دخپل فاعل اومخصوص بالذم سره جمله فعلیه انشائیه سوه ، (ان) حرف شرط (ارخص) فعل (لفظ الله) فاعل ،(الاسعار) مفعول به ، فعل سره دفاعل اومفعول به نه جمله فعلیه خبریه شرط. (حزن) فعل هو فاعل . فعل سره دفاعل نه جمله فعلیه خبریه جزاء ،شرط سره دجزاء نه جمله شرطیه معطوف علیه (واو) عاطفه (ان) شرطیه (اغلا) فعل هو فاعل فعل سره دفاعل نه جمله فعلیه خبریه جزاء سوه ، شرط سره دجزاء نه جمله شرطیه جزائیه معطوف ، معطوف علیه سره دمعطوف نه جمله معطوفه سوه

نُوعٌ آخَرُ مِنَ الْجُمْلَةِ الفِعْلِيَّة (وهو مافی اوله لا النافیه)

لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ قَتَّاتٌ. تخریج مشکوة صفحه ۴۱۱ س: ۲۶ عن حذیفه رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه : چغلخور به جنت ته نه داخلیږي . **توضیح** : چغلي کونکی به جنت نه داخلیږي یعني څوک چې دچاخبره دجنګولو لپاره کله دلته بیانوي اوکله هلته . دغه ډول سړي ته چغلخور ویل کیږي ، دې دخپلي سزا موندلوورو سته جنت ته تللی سي ، په اول ځل نسي داخلیدی خو که چیري الله تعالی یې معاف کړي نوبیانیږ جنت ته داخلیدی سي ، کنی دعذاب سخته خطره ده . دچغلخور به په جهنم کي اپریش کول کیږي نوبیابه جنت ته دتللو قابل سي . ددې وجي نه ویلی سي چې اوله خبره تله بیایې وایه . په جهنم کي به هغه خلګ زیات وي دچاچې دژبې دګناه زیاته وی غیبت وي که درواغ وي که چغلخوري وي اوکه بهتان وي وغیره وغیره . داګناهونه خوهم دژبې دی اوپه دې کي هره یوه ګناه کبیره ده اوجهنم ته دبوتلو سبب دی (الامان والحفیظ) **لغوي اوصرفي تحقیق** : قتات دمبالغې صیغه ده ، ددې معنی چغلخور ده داد نصر څخه مستعمل دی، قطا یې مصدر ی په معنی د درواغو ویلو سر ،نمیمة هم چغلخوري ته ویل کیږي. **ترکیب** : (لایدخل) فعل (الجنة) مفعول فیه (قتات) فاعل ، فعل سره دفاعل او مفعول فیه نه جمله فعلیه خبریه سوه .

(۱۲۷) لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ قَاطِعٌ (بخاري ومسلم)

(تخرج مشکوة صفحه ۴۱۹ س: ۱۹ عن جبیر بن مطعم رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه : (تعلق) پرېکونکی به جنت ته نه داخلیږي. **توضیح** : څوک چې رشته داري پرېکونکی دی هغه نیغ جنت ته نه سي داخلیدی ، درشته داري پرېکولو سبب تکبر اوغصه وي ،په حدیث کي نبي کریم صلی الله علیه وآله وسلم فرمایلی دی : چې څوک تاسره تعلقات پرېکوي نو ته ورسره صله رحمي کوه اوچې څوک تاسره بد کوي نو ته ورسره ښه کوه ، اودې حدیث زیات تفصیل په حدیث نمبر (۱۳۵) کي راځي . **لغوي اوصرفي تحقیق** : قاطع دادفتح څخه داسم فاعل صیغه ده ، په معنی دپرېکونکی ،قطعا یې مصدر دی په معنی دماتولو سره اوپرېکولو سره جدا کولو ، ددې څخه سیف قاطع راغلی دی په معنی دپرېکونکي توري . **ترکیب**:(لایدخل فعل (الجنة) مفعول فیه (قاطع) فاعل ، فعل سره دفاعل او مفعول فیه نه جمله فعلیه خبریه سوه .

(۱۲۸) لَا يُلْدَغُ الْمُؤْمِنُ مِنْ جُحْرٍ وَاحِدٍ مَرَّتَيْنِ.

(بخاري ومسلم، تخريج مشكوة صفحه ۴۲۹ س: ۲۰ عن ابی هريرة رضي الله عنه مرفوعا)

ژباړه : نسي چيچلی کېدی مؤمن ديوې سوړي نه دوه ځله. **توضيح** : مسلمان ديو ځل څخه زيات نسي چيچل کېدی که يو ځل ورته تکليف رسيدلی وي دڅه کار په وجه نو بيا دي دوباره داسړی هغه کار نه کوي ، که چيري کامل مسلمان وي او که چيري کامل مسلمان نه وي نو بيا يو ځل خبرداري ورکولو سره دوباره هم هغه کار کوي : اذا فاتک الحياء فافعل ماشئت. چي کله در څخه شرم او حياء ولاړه سي نو چي څه دي خوښه وي هغه کوه. **شان ورود** : دجنګ بدر په موقع ابو غره يو کافر شاعر ؤ هغه حضور صلی الله عليه وآله وسلم قيد کړو ، بيا يې په هغه باندي احسان وکړو اودا وعده يې ورڅخه واخيسته چي ته به زما خلاف خلګ نه راپاره وی اوزما بد به هم نه بيانوي آزاد يې کړلو ، ليکن هغه وعده ماته کړه ، دحضور صلی الله عليه وآله وسلم خلاف يې خلګ راپارول ، اودحضور صلی الله عليه وآله وسلم بد يې هم بيانول ، هغه حضور صلی الله عليه وآله وسلم بيا ونيوو ، اوس هغه بيا احسان غوښتلو چي دوباره دجيل نه خلاص سم ، حضور صلی الله عليه وآله وسلم وفرمايل : مومن ديوې غاري څخه دوه ځله نسي چيچلی کېدی. **لغوي او صرفي تحقيق** : يلدغ دفتح څخه مضارع مجهول ده په معنی دچيچلو سره ، جحر دامفرد دی په معنی دسوړي سره ، ددې جمع احجار راځي اودفتح څخه په معنی دسوړه کي ننوتل.

ترکيب : (لا يلدغ) فعل (المومن) نائب فاعل ، (من) جار (جحر) موصوف (واحد) يې صفت ، موصوف سره دصفت نه مميز (مرتين) يې تميز ، مميز سره دتميز نه مجرور ، جار سره دمجرور نه متعلق په فعل پوري ، فعل سره دخپل نائب فاعل نه جمله فعليه خبريه سوه.

(۱۲۹) لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ مَنْ لَا يَأْمَنُ جَارُهُ بَوَائِقَهُ (مسلم، تخريج مشكوة صفحه ۴۲۲ س: ۲۴ عن انس رضي الله عنه مرفوعا)

ژباړه : نه به داخليږي جنت ته هغه سړی چي محفوظ نه وي دهغه ګاونډي دده دشر نه. **توضيح** : هغه سړی هم نيغ جنت ته بغير دسزا څخه نه سي تللی چاچي به خپل ګاونډيان تنګول ، دهغه ګاونډيان به هروخت دهغه دشر نه ويرېدل ، اودهغوی سکون ختم ؤ اودې به په شرارتونو کي لګيا ؤ نو ترڅو چي دی دهغوی نه معافي ونه غواړي ترهغه جنت ته نسي تللی ، داسي موقعه کي الله تعالی هم خوشحاله نه وي يعني دالله تعالی معافي دحقوق العباد معاف کولو څخه وروسته کيږي ، که څه هم دشهادت درجه حاصله کړي. ليکن حقوق العباد بياهم نه معاف کيږي ، دچاصرف دري پيسې چي نن صبا ورڅخه دري نيمي روپۍ جوړيږي وهل ياخوړل ددې په بدله کي به اوه سوه قبول سوي لمونځونه ورکول کيږي ، بهرحال خصلاه داده چي حقوق العباد بغير دمعافي څخه نه معاف کيږي اودګاونډيانو ډير حقوق دی دهغه خيال ساتل پکار دي اوګاونډيان خوشحاله ساتل پکار دي ، تردې چي په يو حديث شريف کي وړاندي راځي هغه سړی چي خپله خيټه مړه کړي اودهغه ګاونډيان اوږي وي نو هغه مؤمن نه دی.

دګاونډي قسمونه : دګاونډي درې قسمونه دي .(۱): کافر . دده يواځي دهمسايه کېدو حق دی . (۲): مسلمان دده دوه حقونه دي يو دهمسايه توب حق اودويم داسلام حق . (۳) : قريب مسلمان همسايه . دده درې حقوق دي دګاونډي کېدوحق ،داسلام حق ،اودقرابت حق. **لغوي اوصرفي تحقيق** : جار مصدر دی دنصر څخه په معنی دهمسايه سره .جوړا هم مصدر راځي ،په معنی دلري کېدلو سره ،دبوائق جمع ده ،دبائقة په معنی دمصيبت سره ،شر،بدي . دادنصر څخه دي په معنی دجګړې کولو اوشر کولوسره .**ترکيب**:(لايدخل)فعل (الجنة) مفعول فيه (من) موصول (لايامن فعل (جاره) مضاف اومضاف اليه ،مضاف سره دمضاف اليه نه نه فاعل (بوائقه) مضاف اومضاف اليه ، مضاف سره دمضاف اليه نه مفعول به ،فعل سره دفاعل اومفعول به نه جمله فعليه خبريه صله سوه ، موصول سره دصلې نه فاعل دلايدخل لپاره ، فعل سره دفاعل اومفعول فيه نه جمله فعليه خبريه سوه .

(۱۲۹) لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ جَسَدٌ غُذِّيَ بِالْحَرَامِ

(بيهقي) تخريج مشكوة صفحه ۲۴۳ س: ۹ عن ابوبكر رضي الله عنه مرفوعا)

ژباړه :داخل به نسي جنت ته هغه جسم چې هغه ته خوراک ورکړی سوی وي په حرامو سره .

توضيح : هغه بدن به جنت ته داخل نه سي چې حرام خوړلو خوړلو سره يې غذا حاصله کړی وي ، دهغه پرورش په حرام خوراک سره سوی وي يا يې قصدا بغير دځه مجبوري څخه حرام غذا خوړلی وي ،غرض داکه چيرې دهغه خيټې ته حرام خوراک رسيدلی وي نو هغه جنت ته دتللو قابل نه دی ليکن په جهنم کې دهغه داپريشن کولو څخه وروسته بيا هغه جنت دتللو قابل کېدی سي ، که الله تعالی معاف نکړو ، که چيرې معاف يې کړو نو بيابه دهغه مزې وليکن دامعلومه نه ده چې چا نه معافي کيږي په غير دسزا ورکولو نه چې کله ددې معافي په باره کې چا ته علم نسته چې کيږي به هم او که نه ،يا به چاچا ته کيږي نو هر بنده دسزا مستحق دی څوک چې ګناه کبيره کوي حرام خوراک خوړل مثلا دسود په پيسو باندې خوراک کول يا يې رشوت واخيستلو او وی خوړلو يا يې بل څه ناجائزه ګټه وکړه دهغه نه يې خوراک وکړو دا په ګناه کبيره کې داخل ده ددې معافي دتوبې څخه وروسته دالله تعالی په رحمت باندې موقوف ده ، که چيرې په ربښتيا سره توبه وباسي نو الله تعالی معافي کوي په ربښتيني توبه دالله وعده ده ،دحرامو شبهې نه هم بچ کېدل ضروری دی که چيرې مجبوري وي چې دحرامو خوړلو نه بغير ژوندي نه سي پاتې کېدلی نو په دومره اندازه خوړل چې ژوندی پاتې سي جائز دی .زيات خوراک بيا هم حرام دی

لغوي اوصرفي تحقيق : جسد دامفرد دی په معنی د(۱) : انساني بدن .(۲) : وچه وينه جمع اجسادراځي ، غذی دادباب تفعيل نه ماضي مجهول ده ، تغذيه يې مصدر دی په معنی چاته خوراک ورکول . اوتربيت کول ،په مجردو کې دنصر څخه راغلی دی .**ترکيب** : (لايدخل) فعل ، (الجنة) مفعول فيه (جسد) موصوف (غذی) فعل هونائب فاعل ، (ب) جار (الحرام) مجرور ، جار سره دمجرور نه متعلق سو په فعل پورې ،فعل سره دخپل فاعل اومتعلق نه صفت ،موصوف سره دصفت نه فاعل ، فعل سره دفاعل اومفعول فيه نه جمله فعليه خبريه سوه .

(۱۳۱) لَا يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتَّى يَكُونَ هَوَاهُ تَبَعًا لِمَا جِئْتُ بِهِ.

تخریج مشکوة صفحه صفحه ۳۰ س ۶ عن عبد الله بن عمرو رضی الله عنه مرفوعا

ژباړه: مومن نسي کېدی په تاسو کي هیڅوک ترهغه چي تابع سي دهغه دخواهش دهغه شئ کوم چي ماراوړی دی. **توضیح**: ترڅوپوري چي ټول خواهشات دشریعت تابع نه سي ترهغه پوري انسان کامل مسلمان نه سي جوړیدی، په یوبل حدیث کي داسي راغلی دی چي یوځل حضور ﷺ یو خط راکښله اووی فرمایل چي داخط دالله تعالی ده بیایې ښي طرف اوچپ طرف ته خطونه کش کړل او وی فرمایل دادشیطان لاري دي، بیایې دا آیت تلاوت کړو: وَأَنَّ هَٰذَا صِرَاطِي مُسْتَقِيمًا. چي دازما نیغه لاره، داړول په دې حدیث کي یې وفرمایل: چي په تاسو کي هیڅ یو انسان مؤمن نسي جوړېدلی چي ترڅوچي هغه خپل ټول خواهشات زما د راوړي دین تابع نه کړي، په نورو الفاظو کي ویلی سوی دی ترڅو دستو تابعداری ونکړي ترهغه وخته په انسان کي کامل ایمان نسي پیدا کیدی اونه صراط مستقیم انسان ته حاصلیږي. **لغوي اوصرفي تحقیق**: هوی دادسمع څخه مصدر دی په معنی دخواهش، ددې څخه الهواء په معنی دفضاء جمع یې اهویة راځي. **ترکیب**: (لایؤمن) فعل (احدکم) مضاف اومضاف الیه فاعل، (حتی) جار (یکون) فعل ناقص (هواه) مضاف اومضاف الیه اسم (تبعا) صیغه دصفت (ل) جار (ما) موصوله (جئت) فعل فاعل، (به) جار اومجرور متعلق په فعل پوري، فعل سره دفاعل اومتعلق نه صله دموصول، موصول سره دصلې نه مجرور، جار سره دمجرور نه متعلق په صفت مشبه پوري، صفت مشبه دخپل فاعل (هو) اومتعلق نه خبر دیکون، یکون سره داسم اوخبر نه جمله فعلیه خبریه په تاویل دمصدر سره مجرور، حتی جار سره دخپل مجرور نه متعلق په فعل پوري، فعل سره دفاعل اومتعلق نه جمله فعلیه خبریه سوه.

(۱۳۲) لَا يَحِلُّ لِمُسْلِمٍ أَنْ يُرَوِّعَ مُسْلِمًا (ابوداؤد، تخریج مشکوة صفحه ۳۰۸ س: ۱۰ عن ابن ابی لیلی رحمه الله مرفوعا

ژباړه: نه دی حلال دیو مسلمان لپاره دبل مسلمان ویرول. **توضیح اوشان ورود**: ابن ابی لیلی تابعی رحمه الله علیه دافرمایي چي مونږ ته صحابه کرامو بیان وکړو چي هغوی یوځل دحضور ﷺ سره دشپې په سفر کي ؤ، یوصحابي ویده سو بل صحابي رسی دهغه دبدن په یوې حصې پوري وترله نو هغه خوفجن سو په دې باندي حضور ﷺ ارشاد وفرمایلو: لَا يَحِلُّ لِمُسْلِمٍ. الخ چي دیو مسلمان لپاره داجائز اوحلال نه دی چي هغه بل مسلمان اویره وي، ددې حدیث مطلب دا سو چي هرمسلمان لپاره بل مسلمان ورور ویرول حرام دي بیا ویرول عام دي که په خبرو سره وي اوکه په عمل سره وي، په خبرو سره مثلا دهمکې ورکول وغیره یا په آواز سره ویرول، اوپه عمل سره ویرول مثلا توپک دهغه ته نیول وغیره یا دموتر لاندي کولو والاعمل وغیره، داټول صورتونه غرض داچي هرهغه صورت ناجائز دی چي په هغه سره دبل مسلمان ورور زړه ډارن سي. **فائده**: هرمسلمان لپاره دیوبل مسلمان ورور په هرشکل سره که

په خبرو سره وي او که په عمل سره وي اګرچې په مسخرو سره وي ویرول ناجائز او حرام دی البته د کافر په ویرولو کې څه باک نسته ، بلکه بعضې وختونو کې کافر ویرول اوهغه ته دهمکې ورکول ضروري هم وي لکه د جنګ په موقعه باندې او مسلمان ویرول هغه وخت جائز کیږي کله چې دهغه مسلمان د ځان خطره وي . **لغوي او صرفي تحقيق** : یروع د باب تفعیل څخه د مضارع لومړی صیغه ده په معنی د ویرولو سره ، په مجرد و کې د فتح نه راځي راع یروع په معنی دواپس کېدلو ، یو دی روَع په فتحې د راء سره په معنی دویرې سره بل یوروع دی په ضمې د راء سره په معنی په زړه کې دویرې ځای . **ترکیب** : (لایحل) فعل (لمسلم) جار اومجرور ، جار سره د مجرور نه معلق په فعل پورې ، (ان) ناصبه مصدریه (یروع) فعل هو ضمیر فاعل (مسلما) مفعول ، فعل سره د فاعل او مفعول نه جمله فعلیه خبریه فاعل ، فعل سره د فاعل او متعلق نه جمله فعلیه خبریه سوه .

(۱۳۳) لَا تَدْخُلُ الْمَلٰئِكَةُ بَيْتًا فِيْهِ كَلْبٌ وَلَا تَصَاوِيْرُ (بخاری او مسلم ، تخریج مشکوة صفحه ۳۸۵ س ۷ عن ابی طلحه رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه : نه داخلیږي فرشتې وهغه کور ته په کوم کې چې سپې وي یا تصویرونه وي . **توضیح** : په دې حدیث کې څو بحثونه دی . اول بحث په دې خبره کې دی چې کوم قسم فرشتې هغه کور ته نه داخلیږي چې به هغه کې سپې وي یا تصویرونه وي او ولې نه داخلیږي ؟ دویم بحث په دې خبره کې دی چې کوم سپې په کې داخل نه دی او دسپې مذمت ، دریم بحث : په دې کې دی چې د تصویر حرام والی مقید او که مطلق اود تصویر په حرمت باندې د احادیشو باران . څلورم بحث په دې خبره کې دی چې سپې یې مفرد ذکر کړو او تصاویر جمع . پنځم بحث په دې خبره کې دی چې د تصاویر سره یې لا ذکر کړله اودسپې سره یې ذکر نکړله اودا لاکومه لا ده ؟ اوپه اخر کې یو فائده ده . **لومړی بحث** : په کوم کور کې چې سپې یا تصویرونه وي هغه کورته د رحمت فرشتې نه راځي ، د دې مطلب دادی چې الله تعالی هغه انسان سره د خصوصي رحمت معامله نه کوي چې هغه په داسې کور یا کمره کې وي چې په هغه کې سپې وي یا دساه لرونکي شئ تصویرونه وي او په دې دوران کې ثواب کې کمی راځي لکه چې عالمانو ویلي دي ، په دې حدیث کې مراد د ملائکو څخه ملائکې د رحمت دی فام فرشتې نه دی ، همدغه وجه ده چې حفاظت کونکی فرشتې او د مړک فرشتې راځي لیکن دهغوی تصویر او سپی خوښ نه وي او ډیر زیات یې ناخوښه وي لیکن د الله تعالی د حکم په وجه هغوی هلته ضرور وي د رحمت فرشتې نه تلل او د خدای پاک خصوصي رحمت نه متوجه کېدل ډیره لویه سزا ده عقلمند چې د احادیث ووایي یا واوري نو د تصویر او سپي نه به نفرت کوي . **پوښتنه** : کوم ځای چې سپی وي هلته د رحمت فرشتې ولې نه راځي ؟ **لومړی جواب** : دادی چې سپې ډیر زیات پلیت شیان خوري او پخپله هم پلیت دی او د حرام ځناور څخه دی د دې وجې نه چې کوم ځای کې دې وي هلته د رحمت فرشتې نه راځي . دویم جواب دادی چې د سپې نه

بدبویې ځي او فرشتې بدبویه ځای ته نه ځي دبعضوسپو په نوم شیطان وي ، دریم جواب دادی چې ملائکي دشیطان ضد دی ددې وجې نه کوم ځای چې سپې وي هلته درحمت فرشتې نه ځي (مرقاة شرح مشکوة جلد ۸ صفحه ۳۲۶ س۸) **پوښتنه** : کوم ځای چې دسا ه لرونکي تصویر وي هلته درحمت فرشتې ولي نه راځي ؟ لومړی جواب : تصویر اخیستل یا پخپله جوړول یا په بل چاباندې جوړول یا بغیر دشرعي ضرورت نه ساتل یادځه ساه لرونکي تصویر کتل ناجائز اوحرام دی ځکه چې په تصویر جوړولو کې دانسان دطاقت دحده پوري دخدای دخالقیت یو قسم مقابله ده ځکه چې دبخاري شریف دروایت مطابق دحدیث دا الفاظ هم دی : أَشَدُّ النَّاسِ عَذَابًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ الَّذِينَ يُضَاهُونَ بِخَلْقِ اللهِ. یعني دټولو څخه زیات سخت عذاب به دقیامت په ورځ دهغه خلکو وي څوک چې الله تعالی سره مشابهت اختیاروي یعني پته دا دعوی کوي چې دالله تعالی پشان مخلوق موږهم جوړولی سو (العیاذبالله) هرکله چې داډیره دبې حیایې اوګنده قسم ګناه ده نوښکاره ده چې درحمت فرشتې داسې ځای کې چیرې پاته کیدی سي. (حاشیه نمبر(۴) للمشکوة صفحه ۳۸۵ بحواله طیبی ، کلید بهشت صفحه ۴۴۱ س۵) **دویم جواب** : بعضي کم عقل خلک ځینې تصویران خدای ګڼري اودهغه عبادت کوي ددې وجې نه په مکمل طور باندې هرقسم تصویر (چې ساه لرونکي وي) څخه منع کول سوی ده اوټول مکلفین (عاقلان بالغان منع کړل سوي دی) نوپاک مخلوق چې درحمت فرشتې دی هغوی خوبه دټولو څخه وړاندې نفرت کوي اومنع کیږي به . (مرقات شرح مشکوة صفحه ۳۲۶ س۷) **دویم بحث** : ابی هریرة رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم من اتخذ کلبا الا کلب ماشیة اوصید اوزرع انتقص من اجره کل یوم قیراط. رواه البخاری ومسلم **ژباړه** : رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم وفرمایل : چاچې سپې وساتلو سوا دهغه سپې څخه چې دځارو دحفاظت لپاره وي یادښکار سپې وي یادفصل دحفاظت لپاره نو کمیږي به ددغه سړي (چاچې سپې ساتلی وی) ددې درې قسمه سپو څخه علاوه داجرنه هرورځ یو قیراط ،قیراط یو وزن دی چې دهغه اندازه ددانق نیمه (یعني ددرهم دولسمه حصه) لګولی سوی ده لیکن صحیح مقدار الله تعالی ته معلوم دی ،بهرحال په ثواب کې کمي راځي ، ددې کمي تعلق که چیرې دراتلونکي وخت داعمالو سره وي نوحقیقي کمي کیدلی سي اوکیږي اوکه چیرې تیرسوي اعمالو سره دکمي تعلق واخیستل سي نوبیا صرف دګناه زیات والی مقصود دی ځکه چې دتیرسوو اعمالو برباد یدل داهل سنت والجماعت په نږد باندې نه کیږي سوا ددې څخه چې مرتد سي (العیاذبالله) البته په احسان کولو سره اوضرر رسولو سره نیکي ختمیږي ،بهرحال دځارو دحفاظت لپاره یادښکار لپاره یا دفصل دحفاظت لپاره سپې ساتل جائز دی ،څوکیداري لپاره ساتل هم په دې کې داخل اوجائز دی ، ددې څخه علاوه سپې ساتل ناجائز دی . **پوښتنه** : سپې ساتل ګناه ده لیکن هره ورځ په ثواب کې کمي ولي راځي ؟ **لومړی جواب** : څومره وخت پوري چې سپې ورسره وي دومره وخت به هرقسم عبادت درحمت دفرشتو دنه موجود والي په وجه ناقص وي پوره ثواب به ورته نه ملاویږي ،بلکه په ثواب کې به کمي راځي . دویم جواب : کوم

خلک چې سپې ساتي (دهغه درې قسمه سپو څخه علاوه د کوم ذکر چې اوس تیرسو) دهغوی دعبادت ثواب دسزا په طور کمیږي ،سپې مذمت باندي نورهم ډیر احادیث دلالت کوی مثلا یوځل جبریل علیه السلام سره دوعدې حضور ﷺ ته رانغلو کله چې دسپې بچی ویستل سو نوبیا حضور ﷺ ته راغلو حضور ﷺ ترې نه تپوس وکړو چې ته دوعدې مطابق دشپې ولې رانغلی هغوی ورته وفرمایل موږ هغه کورته نه داخلیږو چې په هغه کې سپی وي یا تصویر. (داتول بحث مرقات جلد ۸ صفحه ۱۲۴ څخه راانیستل سوی دی

دریم بحث : دتصویرحرمت مطلق دی هرقسم روح والا اوهرقسم تصویر چې په هغه کې مخ جوړ سوی وي دهغه رابنکل په کیمره پخپله ایستل یا په بل چاباندي په کیمره سره ایستل پخپله جوړول یا په چاباندي جوړول خپل ځان سره ساتل یابل چاسره ساتل ،پخپله کتل یابل چاته ښودل داتول بغیردشرعي ضرورت نه ناجائز اوحرام دی البته شناختي کارډ یاپاسپورټ یاویزې یا لائسنس لپاره تصویر جوړولو کې هیڅ ګناه نسته ځکه چې دا په شرعي ضرورت کی داخل دی لیکن بیاهم دې ته کتل یابې بل چاته ښودل بغیر دمجبوري څخه جائز نه دی ،دشناختي کارډ یاپاسپورټ وغیره لپاره تصویر ایستلو کې موږ ته ځکه اجازت دی چې ددې ذمه داري په حکومت باندي ده.

دتصویرپه حرمت باندي نقلي دلائل : (۱): داچې درحمت فرشتې نه راځي لکه چې تیرسو بلکه علماء کرام فرمایي چې دلعنت اوغضب فرشتې به راځي چې په هغه سره به دنیکی توفیق اخیستل کیږي ، زړه یې سختیږي اوشیطانان به راجمع کیږي که چیرې په دې حالت کې دده خاتمه کبدونکی وي نودخرابی اوناکاره خاتمی ډیره ویره کبدی سي. (۲): دادی چې په حدیث شریف کی راغلی دی چې حضرت عائشې (رض) یوه نمرقه (وړه تکیه) واخیستله چې په هغی تصویرونه ؤ نونبي کریم ﷺ چې کله ولیدل نوپه دورازه کې ودریده ؤ دننه یې تشریف رانه وړو ،حضرت عائشې (رض) فرمایي چې زه پوهه سوم چې دوی دانه خوښوي ماوویل چې چې اې دالله رسوله ! ﷺ زه توبه اوباسم ماڅن ګناه کړی ده نوحضور ﷺ وفرمایل چې ددې ددې تکیه څه حالت دی ،ماورته وویل چې داماستاسو لپاره اخیستی ده چې تاسو وربانديي کښینی اوتکیه وربانديي ولګوی نووی فرمایل چې تصویرونو والا ته به عذاب ورکول کیږي دقیامت په ورځ اوورته وبه ویل سي چې ژوندي کړئ هغه تصویرونه کوم چې تاسو پیدا کړی (جوړ کړی) دی او وی فرمایل : چې په کوم کور کې تصویر وي هلته فرشتې د (رحمت) نه داخلیږي (رواه البخاری ومسلم مشکوة صفحه ۳۸۵) (۲): حضرت عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه فرمایي چې رسول الله وفرمایل چې دټولو څخه دزیات سخت عذاب په لحا سره به دالله جل جلاله په نزد تصویرجوړنکی وي (رواه البخاري ومسلم مشکوة صفحه ۳۸۵) (۴) : حضرت عبدالله ابن عباس رضی الله عنه فرمایي چې مادحضور ﷺ څخه اورېدلی دي چې هرتصویر جوړونکی انسان په اور کې وي

،دساه لرونکي هر تصویر جوړولو بدله کي به په جهنم کي عذاب ورکول کیږي ،عبدالله ابن عباس رضي الله عنه مخکي خپل بیان فرمایي .اې مخاطبه ! که چیري ته څه تصویر جوړه وي نودڅه وني یا غیرذی روح تصویر جوړ کړه . (رواه البخاري ومسلم مشکوة صفحه ۳۸۵ س ۲۶ ص ۲۷ صفحه ۳۸۶ س ۱) (۵) : عبدالله بن عباس رضي الله عنه فرمایي چي رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم وفرمایل : چي د ټولو څخه سخت عذاب به د قیامت په ورځ هغه خلکو ته وي چي هغه پیغمبر قتل کړی وي اودویم هغه چي هغه سړی پیغمبر په جهاد کي قتل کړی وي دریم هغه سړی چي خپل مور یا پلار یې قتل کړي څلورم تصویر جوړونکی پنځه هغه عالم چي دخپل علم نه فائده نه وي اوچته کړی په دې حدیث شریف کي صفاذکر سوی دی چي پنځه قسمه خلک داسي دی چي د ټولو نه زیات سخت عذاب ورکول کیږي په هغوی کي تصویر جوړونکی هم داخل دی ،بیا دزیات اوسخت عذاب دامطلب نه دی چي همېشه به په عذاب کي وي بلکه داده که چیري ددې حرکتونو کونکی مسلمان وي نوپه ګنهګارانو مسلمانانو کي د ټولو څخه زیات عذاب په جهنم کي هغه ته وي اوکه چیري کافروي نوبیاخو ښکاره ده چي همېشه عذاب به هم وي اوسخت به هم وي (۶) : حضور صلی الله علیه وآله وسلم چي به په کور کي تصویر ولیدلو نوهمېشه به یې شلولو (رواه البخاري ومسلم مشکوة صفحه ۳۸۵ س ۱۳) (۷) دوی ته دنبي کریم صلی الله علیه وآله وسلم دطرفه حکم ؤچي چیري تصویر وویني نوختموه یې .

د تصویر په حرمت باندي عقلي دلائل : عقلا هم تصویرونه ایستل حرام دي ،تصویرونه پخپله کتل اوبل ته ښودل هم ناجائز دی لومړی عقلي دلیل : داچي دبت پرستي ابتداء د تصویرونو څخه شروع سوی ده فرق دومره دی چي بت د کانړو څخه تراشلی سوی وي او تصویر د قلم تراشلی وي ،لهذا تصویر جوړول بت پرستي ته نژدی دی نوځکه عقلا هم تصویر جوړول ناجائز دی. **دویم عقلي دلیل** :دالله تعالی دنومونون څخه یونوم المصور هم دی په صفت باندي ډیر نازدی هغه دخپل مصوری کارنامی ځای په ځای پیش کړي دي اودهغه لویه کارنامه دانسان شکل اوصورت ګرځول سوی دی نوچي څوک دالله تعالی ددې کارنامې نقل جوړول غواړي الله تعالی هغه نه معاف کوي لهذا تصویر جوړول عقلا هم جائز نه دی .(۳) : تصویر جوړولو کي دانساني طاقت تر حده پوري دخدای پاک دخالقیت یو قسم مقابله هم په نظر راځي ،ددې وجي نه تصویر جوړول عقل ناجائز ګرځوي دا دې واړه دلیلونه د کلید بهشت صفحه ۴۴۱ څخه رااخیستل سوی دی چي مولانا محمد طفیل قیوم رحمه الله تصنیف کړی دی .

څلورم بحث :دادی چي کلب یې مفرد ذکر کړو او تصاویر جمع ،ددې لومړی وجه داده چي دسپي څخه اکثر نفرت کیږي بیاهم که که چیري څوک سپي ساتي نوعام طور باندي صرف یو ساتي ،ددې وجي نه کلب مفرد استعمالیږي دویمه وجه داده چي سپي ډیر پلیت ډیرذلیل ډیر خسیس اوډیر حریص حیوانانو څخه دی ،دده د ډیر حرص نه یوه خبره داهم ده چي خپله پوزه په زمکه باندي وړي اوزمه بویه وي ګنده او مرداره غوښه د تازه غوښي څخه زیاته خوښه وي اودده په بدخوئي کي داعجیبه خبره ده چي سپي

کله دشلیدلو جامو اوزړو جامو والا وویني نوغاپي اوحمله پرې کوي لکه چې هغه سپک ګڼي او که چې درعب اوددبدبې والا وویني نولکې خوزوی اودهغه تابعدار ګرځي ،بهرحال ددې ذلیل ځناور نه زیات نفرت پیدا کول مقصود ؤ چې کوم ځای دایوهم وي دهغه ځای څخه درحمت فرشتي تښتي ، که چیري دجمع صیغه کلاب ذکر سوی وی نو کېدی سوه چې څوک داخیال وکړي چې که چیري ډیرسپي وي نوییا درحمت فرشتې نه راځي او که چیري یو وي نوییا راتلی سي ،ددې خیال لیري کولو لپاره یې مفرد صیغه راوړه .(دادسپي په باره کې مضمون د کلید بهشت صفحه ۴۷ څخه راخیستل سوی دی .

پوښتنه بیا تصاویر دجمع صیغه ولي راوړل سوی ده ؟ که چیري یوځای کې یو یادوه تصویرونه وي نوییا درحمت فرشتې راځي او کنه ؟ **لومړی جواب** : کوم ځای چې یو تصویر وي دهغه ځای څخه هم درحمت فرشتې لري ځکې دلیل یې دادی چې دبخاري اومسلم په روایت کې دنبي کریم ﷺ ارشاد مفرد لفظ سره دی :ان البیت الذی فیه الصورة لاتدخله الملائکة. پاتې سوه داخبره ي دلته یې جمع ولي استعمال کړه . ددې داوجه هم کېدی سي چې دتصویرونو هرځای ډیروالی وي په خلاف دسپو چې په یو کور کې دسپو ډیروالی نه وي په دې وجه یې کلب مفرد اوتصاویر یې دجمع صیغه استعمال کړله ؟ **دویم جواب** : دتصاویرجمع راوړلو وجه داده چې تصاویر دتصویرجمع ده (لغات فیروزي صفحه ۹۵ اومرقات جلد۸ صفحه ۳۲۵) اوداحادیثوپه ذخیره کې دتصویر لفظ نه ویل کیږي ځکه چې دتصویرپه تلفظ کې لږ شان ثقل دی اوهغه داسي چې صاد باندې جزم هم دی اودصاد تلفظ صحیح کولو لپاره دمخرج نه صحیح اداکول ضروري وي ، ددې وجې نه دتصویر لفظ غیرافصح دی په خلاف دتصاویر نه چې په ده کې هیڅ ثقل نسته . **نکته** :تصاویر دتصویر جمع اوصور جمع دصورة ده په احادیثو کې که چیري دمفرد لفظ راځي نولفظ دصورة استعمالیږي اوکه چیري جمع استعمالیږي نودتصاویر لفظ راوړل کیږي . **پنځم بحث** : **پوښتنه** : دکلب سره یې لفظ دلا ولي ذکر نکړو چې دتصاویر سره یې ذکر کړو . **جواب** : ځکه چې کلب په سیاق دنفی کې واقع دی ددې وجې نه دلا ذکر کولو ته ضرورت نسته لکه چې په قرآن کریم کې :. دی دلته هم لابی نه دی ذکر سوی ځکه چې وروسته نفي ده صرف په بکم باندې (لا) دی دغه شان دلته په حدیث کې دکلب سره لانسته دی . **پوښتنه** : بیاخو تصاویر هم په سیاق دنفي کې واقع دی هلته ولي لامذکور دی ؟ **جواب** : تصاویر سره دلا ذکر صرف دتاکید لپاره دی چې داشبه لري سي چې کوم ځای سپې اوتصویر دواړه وي هلته درحمت فرشتې نه راځي اوچې کوم ځای یو وي هلته راځي ، نوچې لاذکر سو داشبه لري سوه چې کوم ځای صرف سپی وي هلته هم درحمت فرشتې نه راځي ، اوچې صرف تصویر وي هلته هم درحمت فرشتي نه راځي . **فائده** : دتصویر اوسپي په مذمت کې چې څومره احادیث راځي هغه اکثر دبخاري اومسلم شریف مرفوع اوډیر قوي احادیث دی ،ددې وجه نه دتصویر حرام والی هم ډیر قوي اومضبوط دی یعني بغیر دضرورت

شرعیه نه تصویر جوړول یا کتل وغیره ټول حرام دی اودسپي ساتلو حرمت هم ډیر سخت دی ، د دې قسمه سپو څخه علاوه دباقي ټولو سپو ساتل دعذاب باعث دی اوکه دمړک په وخت کي هم هغه وي نودناکاره مړک خطره ده ، دسپو په باره کي داخبره یادساتل پکار ده هغه سي چي دهغه ذکر په حدیث کي سوی دی یعني دښکار لپاره وي یادفصل دحفاظت یا دځارو دحفاظت لپاره وي دهغه مطلب دادی چي داساتل صرف حرام نه دی دکراهت تنزیهي څخه خالي هم نه دي . **دکلام خلاصه** : دا راووتله چي هرقسم تصویر جوړول یا کتل حرام دی ، که هغه تصویر متحرک وي یانه وي ، په ټیلي ویژن وي یا په اخبار ، وی سی اربانديوي یا په ګنده رسالو باندي خواه ټیلي فون کولو کي لیدل کیږي دحاجیانو وي یادمور اوپلار ، یا دپیر یاد استاذ وغیره ، غرض دادی چي بغیر دسخت ضرورت نه داټول صورتونه حرام دی . ددې زیات تفصیل اودمختلف مفتیانو فتاوی که چیري څوک کتل غواړی نودافضال احمد صاحب یو ترتیب سوی کتاب دی چي دهغه نوی دی (تهي وي اور ریډیو کاشرعي احکام) دهغه مطالعه ډیره مفیده ده ، باقي پاتي داخبره چي سپی ساتل څنګه دی هغه سپی چي دهغه اجازت داحادیثو څخه ملاویږي په هغه کي دوه قوله دی (۱) : یودادی چی دې قسمه سپي ساتل چي دهغه اجازت داحادیثونه معلومیږي بغیر دکراهت نه جائز دی هم دغه مذهب دټولو ائمه ؤ دی (۲) : دامام نووی رحمه الله په نزد باندي دهر قسم سپی ساتل منع دی دعموم په وجه (۳) : دبعضو په نزد دغه دې قسمه سپي ساتل هم مکروه دي . (کذا فی الطبی والمرقات جلد ۸ صفحه ۳۲۵ هذا هو المرام والله اعلم بحقیقة الکلام) **لغوي اوصرفي تحقیق** : ملائکة داجمعي صیغه ده ددې مفرد دملک دی په معنی د (فرشتې) بیتا مصدر دی دضرب څخه په معنی دشپې تیرولو ځای . کلب مفرد دی ددې جمع کلاب راځي په فتحې اوکسرې دکاف سره په معنی دسپې جمع الجمع یې اکالب اوکلابات راځي . تصاویر دادجمع صیغه ده ددې مفرد تصویر زیات صحیح دی (لغات فیروزي صفحه ۹۵ هکذا فی المرقات جلد ۸ صفحه ۳۲۵) دتصویر لغوي معنی شکل جوړول دي (المنجد کتاب التعریفات ص ۵۹ والمرقات جلد ۸ صفحه ۳۲۵) .

ترکیب : (لاتدخل) فعل (الملائکة) فاعل (بیتا) موصوف (فیه) جار اومجرور ، جارسره دمجرور نه متعلق سو په ثبت فعل محذوف پوري ، (کلب) معطوف علیه ، (واو) عاطفه (لا) زائده للتاکید (تصاویر) معطوف ، معطوف علیه سره دمعطوف نه فاعل دثبت ، ثبت فعل سره دخپل فاعل اومتعلق نه جمله فعلیه خبریه صفت ، موصوف سره دصفت نه معفول فیه ، فعل سره دفاعل اومفعول فیه نه جمله فعلیه خبریه سوه .

(۳۴) لَا يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتَّى أَكُونَ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِنْ وَالِدِهِ وَوَلَدِهِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ.

(بخاري اومسلم ، تخریج مشکوة صفحه ۱۲ س : ۷-۸ عن انس رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه : مومن نه دی په تاسو کي یوهم تردې پورې چي زه زیات خوښ نه سم هغه ته دهغه دمور اوپلار اواولاد اود ټولو خلګو څخه . **توضیح** : دمحبت دوه قسمونه دی . (۱) : طبعي محبت (۲) : عقلي محبت

. په حدیث شریف کي عقلي محبت مراد دی ،طبعي محبت هغه دی چي د طبیعت په وجه محبت پیدا سي ،اوطبعا دځه شئ طرف ته میلان وسي داغیر اختیاري دی اوعقلي محبت دادی چې عقلي طور سره سوچ اوخیال سره درجه په درجه د ټولو سره پکار دی یعني د ټولو څخ مخکي اود ټولو څخه زیات محبت عقلا دخالق سره پکار دی ،باپه مخلوق کي په هغه ذات باندي چي دهغه درجه د ټولو څخه لویه وي ، دادی واضحه وي چي په تمام مخلوق کي د ټولو څخه زیات اولوړ مقام د محمد ﷺ دی ، لهذا په دویم نمبر کي د حضور ﷺ پکار دی ، ددې حدیث شریف مطلب هم دادی چي حقیقي مؤمن هغه دی چي چا طبعاهم خپل میلان دالله تعالی اورسول الله ﷺ طرف وګرځولو په بل حدیث کي (دبخاري اومسلم په روایت کي دانس رضی اللہ عنہ څخه) راغلی دی چي په کوم سړي کي دادرې شیان وي هغه به دایمان حلاوت (خوند) محسوس کړي (یعني په نیکو کي به ورته مزه راسي اودالله تعالی درضاحاصلولو شوق یې زیاتیږي) .اول : هغه سړی چي هغه ته الله تعالی اورسول الله ﷺ زیات محبوب وي ،ددې دواړو نه علاوه (یعني دهرشئ نه علاوه) دویم : هغه سړی چي هغه دچا سره محبت صرف زما په وجه کوي .دریم : د کفر نه خلاصیدلو څخه وروسته کفر ته واپس کېدل ،ورته داسي ناخوښ وي لکه چې اور تلل نه خوښي ، (انتهی) نوداسړی دایمان خوږوالی محسوس کوي . **لغوي اوصرفي تحقیق** : تقریبا د ټولو الفاظو تحقیقات تیرسوی دي .ترکیب : (لایومن) فعل (حدکم) مضاف اومضاف الیه فاعل ، (حتی) جار (اکون) فعل ناقص (انا) ضمیر اسم داکون (احب) اسم تفضیل په دې کي ضمیر دی (هو) هغه فاعل ،(الیه) جار جارسره دمجرور نه متعلق اول سو داحب (من) جار (والده) مضاف اومضاف الیه ،مطعوف علیه ،(واو) عاطفه (ولده) مضاف اومضاف الیه معطوف اول .(واو) عاطفه (الناس) مؤکد (اجمعین) تاکید ،مؤکد سره د تاکید نه معطوف ثانی ، معطوف علیه سره دمعطوفینو نه مجرور ،جارسره دمجرور نه متعلق ثانی داحب ، احب صیغه داسم تفضیل سره دخپل فاعل اودواړو متعلقینو نه خبر داکون ، اکون سره داخپل اسم اوخبر نه جمله فعلیه خبریه په تاویل دمصدر سره مجرور دجار ، جارسره دمجرور نه متعلق په لایؤمن پوري ،فعل سره د فاعل اومتعلق نه جمله فعلیه خبریه سوه .

(۳۵) لَا یَحِلُّ لِمُسْلِمٍ اَنْ یَّهْجُرَ اَخَاهُ فَوْقَ ثَلٰثٍ فَمَنْ هَجَرَ فَوْقَ ثَلٰثٍ فَمَاتَ دَخَلَ النَّارَ.

(رواه احمد وابوداؤد ،تخریج مشکوة صفحه ۴۲۸ س: ۱۲ عن ابی هریرة رضی اللہ عنہ مرفوعا)

ژباړه : دهیڅ یو مسلمان لپاره داحلال نه دی چي هغه پریږدي خپل (یعني تعلق ورسره پریږدي) ورور د درو ورځو څخه زیات پس چاچي پرېښود لو د درو ورځو څخه زیات اومړ سو نو داخل به سي جهنم ته .

توضیح :ددې حدیث مقصد خودادی چي یو مسلمان ورور سره که څه تعلق وي نو هغه ختمول نه دی پکار ، که بالفرض په څه وجه تعلق ختم سي نوسلام کي مخکي والی سره تعلق بحال کول پکار دی که چیري د درو ورځو پوري یې هم خفګان لري نه کړو نوییاید ساتل پکار دي که چیري دنارضګۍ

. په حدیث شریف کي عقلي محبت مراد دی ،طبعي محبت هغه دی چي د طبیعت په وجه محبت پیدا سي ،اوطبعا دڅه شئ طرف ته میلان وسي داغیر اختیاري دی اوعقلي محبت دادی چی عقلي طور سره سوچ اوخیال سره درجه په درجه د ټولو سره پکار دی یعني د ټولو څخ مخکي اود ټولو څخه زیات محبت عقلا دخالق سره پکار دی ،باپه مخلوق کي په هغه ذات باندي چي دهغه درجه د ټولو څخه لویه وي ، دادی واضحه وي چي په تمام مخلوق کي د ټولو څخه زیات اولوړ مقام دمحمد ﷺ دی ، لهذا په دویم نمبر کي دحضور ﷺ پکار دی ، ددې حدیث شریف مطلب هم دادی چي حقیقي مؤمن هغه دی چي چا طبعاهم خپل میلان دالله تعالی اورسول الله ﷺ طرف وګرځولو په بل حدیث کي (دبخاري اومسلم په روایت کي دانس رضی اللہ عنہ څخه) راغلی دی چي په کوم سړي کي دادرې شیان وي هغه به دایمان حلاوت (خوند) محسوس کړي (یعني په نیکو کي به ورته مزه راسي اودالله تعالی درضاحاصلولو شوق یې زیاتیږي) .اول : هغه سړی چي هغه ته الله تعالی اورسول الله ﷺ زیات محبوب وي ،ددې دواړو نه علاوه (یعني دهرشئ نه علاوه) دویم : هغه سړی چي هغه دچا سره محبت صرف زما په وجه کوي .دریم : د کفر نه خلاصیدلو څخه وروسته کفر ته واپس کیدل ،ورته داسي ناخوښ وي لکه چي اور تلل نه خوښي ، (انتهی) نوداسړی دایمان خوږوالی محسوس کوي . **لغوي اوصرفي تحقیق** : تقریبا د ټولو الفاظو تحقیقات تیرسوی دي .ترکیب : (لایومن) فعل (حدکم) مضاف اومضاف الیه فاعل ، (حتی) جار (اکون) فعل ناقص (انا) ضمیر اسم داکون (احب) اسم تفضیل په دې کي ضمیر دی (هو) هغه فاعل ،(الیه) جار جار سره دمجرور نه متعلق اول سو داحب (من) جار (والده) مضاف اومضاف الیه ،مطعوف علیه .(واو) عاطفه (ولده) مضاف اومضاف الیه معطوف اول .(واو) عاطفه (الناس) مؤکد (اجمعین) تاکید .مؤکد سره د تاکید نه معطوف ثانی ، معطوف علیه سره دمعطوفینو نه مجرور ،جار سره دمجرور نه متعلق ثانی داحب ، احب صیغه داسم تفضیل سره دخپل فاعل اودواړو متعلقینو نه خبر داکون ، اکون سره داخپل اسم اوخبر نه جمله فعلیه خبریه په تاویل دمصدر سره مجرور دجار . جارسره دمجرور نه متعلق په لایؤمن پوري ،فعل سره دفاعل اومتعلق نه جمله فعلیه خبریه سوه .

(۳۵) لَا یَحِلُّ لِمُسْلِمٍ اَنْ یَّهْجُرَ اَخَاهُ فَوْقَ ثَلٰثٍ فَمَنْ هَجَرَ فَوْقَ ثَلٰثٍ فَمَاتَ دَخَلَ النَّارَ.

(رواه احمد وابوداؤد ،تخریج مشکوة صفحه ۴۲۸ س: ۱۲ عن ابی هریرة رضی اللہ عنہ مرفوعا)

ژباړه : دهیڅ یومسلمان لپاره داحلال نه دی چي هغه پریږدي خپل (یعني تعلق ورسره پریږدي) ورور د درو ورځو څخه زیات پس چاچي پریښود لو د درو ورځو څخه زیات اومړ سو نو داخل به سي جهنم ته.

توضیح :ددې حدیث مقصد خودادی چي یومسلمان ورور سره که څه تعلق وي نو هغه ختمول نه دی پکار ،که بالفرض په څه وجه تعلق ختم سي نوسلام کي مخکي والی سره تعلق بحال کول پکار دی که چیري د درو ورځو پوري یې هم خفګان لري نه کړو نوییایاد ساتل پکار دي که چیري دناراضګۍ

(خفګان) په حالت کې مړسو نوجهنم ته به ځي ،درې ورځې خو ډيرې دي داصرف زمونږ داسانۍ لپاره نرمي کړې سوې ده کنې نو درې ګهنټې هم کافي دي . (۲): دابوداود شريف په مرفوع روايت کې راغلی دی دابی خراش الاسلمی نه روايت دی (دده نوم خدرد اسلمی دی) که چيرې يو کال پورې يې خپل (مسلمان) ورور پرښودلو نودادهغه دوينې بهيولو په شان دی ،يعنې يو کال پورې که تعلقات صحيح نه سول نو ديو قتل ګناه به وي.(۳):اومسلم شريف کې په روايت دابوهريرة رضی الله عنه راغلی دی چې د دوشنبې او جمعرات په ورځ دجنت دروازې پرانستلی سي دهرمسلمان بنده بخښنه کيږي ليکن دهغه انسان چې بل ورور سره يې دښمني وي دهغه په باره کې داويل کيږي چې دوی ته دصلح کولو پورې مهلت ورکړی (انتهی) مطلب دادی چې دا دوه جهګړه کونکی نشي بخښلی باقي بخښل کيږي . (۴):ځلورم حديث دچا سره د تعلق ختمولو په وعيد (عذاب) کې دی چې په ابوداؤد کې راغلی دی ،د ابی هريرة رضی الله عنه مرفوعا روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل هيڅ يو مؤمن لپاره حلال نه دی چې د يومؤمن سره د درې ورځو نه زيات خبرې پريږدي :فان مرت به ثلث. يعنې که درې ورځې تيرې سوی نوهغه سره دی ملاؤ سي اوسلام دي ورباندې واچوي که چيرې هغه جواب ورکړو نودواړه به اجر کی شريک وي يعنې دخبرونه کولو ګناه ورباندې نه وي اوکه چيرې يې جواب دسلام ورنه کړو نو ګنهګار به هغه وي ،سلام اچونکی ګنهګار نه دی (انتهی)(۵) : دقطع تعلق په وعيد باندې پنځم حديث په (ابوداؤد) اوترمذي کيکې صحيح اومرفوع حديث دی) ابی الدرداء رضی الله عنه فرمايي حضور صلی الله عليه وسلم وفرمايل چې آياتاسو ته د روژې ،لمونځ ،صدقې څخه غوره درجه ونه ښايم ،صحابهؤ عرض وکړو ضرور وښايه ، وی فرمايل چې :اصلاح ذات البين وفساد ذات البين هی الحالقه) داصلاح ذات يو معنی ملاعلی قاری رحمه الله په مرقات کې داکړی ده چې د دوو کسانو مينځ کې جنګ نه کول اوخبرې نه پرښودل دی اوفساد ذات البين يومعنی ملاعلی داکړی ده چې يوبل قتل کول داحالقه ده يعنې هلاکونکی ده بهرحال دروژې لمونځ اوصدقې نه زيات ثواب هغه وخت ملاويږي ،کله چې يومسلمان ورور سره قطع تعلق نه وي (حاشيه مشکوة ۷,۸ په حواله دمرقات اولمعات) (۶) : په يو مرفوع حديث کې دحضرت ابن عباس رضی الله عنه څخه روايت دی چې د درو کسانو لمونځ لمونځ دهغوی دسره نه يوه لويښت هم بره نه خيژي . اول : هغه امام چې قوم هغه نه خوښوي . دويم : هغه ښځه چې شپه تيره کړي په داسي حال کی چې دهغه نه خاوند خفه وي . دريم : هغه دوه ورونه چې په خپل مينځ کې په جنګ وي ،دامام څخه مراد هغه څوک دی چې غلط کار کوي يعنې اودس صحيح نه کوي يا بله څه ګناه کوي . (رواه ابن ماجه)

لومړی فائده : داټول احاديث چې په خبرونه کولو دعذاب بيان کوي داټول صحيح اومرفوع دی اودغه مصنف دمشکوة صفحه ۴۲۸ نه اخيستی دی ،تراوسه پورې داحاديثو په بيان کې بحث ؤ . **دويمه فائده** : پاتې سوه خبره دمسئلې اوفتوی نوداخبره پيژندل پکار دی چې دڅه وجې نه په خبرونه کولو

(تعلق ختمولو) باندې وعید دی؟ که چیرې دا دین په وجه خفګان وي یعنې بل مسلمان بدعتي وي یا په بل څه ګناه کې مبتلا دی نو داسې سړی سره خبرې نه کول شرعا جائز دی او بغیر دعذر نه ده سره خبرې نه دي پکار. ځکه چې دبد مجلس او صحبت اثر ډیر زر کیږي بیابه دې هم ګناه شروع کړي. داخبره یادساتل پکار دي چې د کومې درجې ګناه وي نو دغه ګناه ته کتونکی (چې قصدا ورته ګوري) هم دومره ګناه کار دی. **پوښتنه**: احادیث خو مطلق دی نو دبد اونیک تقسیم څنګه وکړو؟ **جواب**: مؤمن هغه دی چې ساده اوشریف انسان وي، ددنیا دامورو څخه غافل وي لکه چې په حدیث کې دی دابوداؤد او ترمذی په روایت سره: المؤمن غر کریم. ددې لاندې دمشکوة حاشې په حواله دمرقات لیکلی دی چې ددنیا دامورو څخه غافله وي (مشکوة صفحه ۴۳۲ حاشیه ۴) لهذا که چیرې ددیندار انسان سره تعلق وي نو بیا دځه دنیاوي مقصد دوجې نه دهغه سره تعلق پرېکونکی لپاره داتول وعیدونه دي دفاسق اوفاجر سره تعلق په هرغرض چې وي مناسب نه دی ګڼې نوددې په فسق اوفجور کې به هم شکونه شروع سي. ځکه چې په حدیث شریف کې راځي: من تشبه بقوم فهو منهم. اولکه څنګه چې حضور ﷺ د کعب بن مالک رضی اللہ عنہ اودهغه دملګرو سره چې کله هغوی دغزوه تبوک وروسته پاتې سو پنځوس ورځو پورې خبرې نه وی کړی. (حاشیه زادالطالبین صفحه ۲۱) **ترکیب**: (لایحل) فعل (ل) جار (مسلم) مجرور، جار سره دمجرور نه متعلق په فعل پورې، (ان) ناصبه مصدریه (یهجر) فعل هو فاعل، (اخاه) مضاف اومضاف الیه مفعول به (فوق ثلث) مضاف اومضاف الیه، مضاف سره دمضاف الیه نه مفعول فیه، فعل سره دفاعل او مفعول به اومفعول فیه نه جمله فعلیه خبریه په تاویل دمصدر فاعل سو د لایحل. فعل سره دفاعل اومعلق نه جمله فعلیه خبریه سوه، (ف) تفریعیه (من) شرطیه (هجر) فعل هو فاعل فوق ثلث مضاف اومضاف الیه مفعول فیه، فعل سره دفاعل او مفعول فیه جمله فعلیه خبریه معطوف علیه، (ف) عاطفه (مات) فعل هو فاعل، فعل سره دفاعل نه جمله فعلیه خبریه معطوف سو، مطعوف علیه سره دمطعوف نه شرط، (دخل) فعل هو فاعل، (النار) مفعول فیه، فعل سره دفاعل اومفعول فیه نه جمله فعلیه خبریه جزاء، شرط سره دجزاء نه جمله فعلیه شرطیه سوه.

(۱۳۶) اَلَا لَا یَحِلُّ مَالُ امْرِءٍ اِلَّا بِطِیْبِ نَفْسٍ مِنْهُ رَبیهقی.

تخرج مشکوة صفحه ۲۵۵ س ۱۸ عن ابی حرة الرقاشي عن عمه مرفوعا رواه البهقي)

ژباړه: خبردار! نه دی حلال دیو کس مال خو دهغه دطرفه دزړه په خوشحالی سره.

توضیح: دیوسړي مال استعمال ترهغه وخته پورې جائز نه دی چې ترڅو پورې دمال مالک یې دزړه په خوشحالي سره ونه کړي، دبخاري شریف په حدیث کې راځي: چې حضور ﷺ وفرمایل: چې کوم سړی ناحقه دزمکي څه واخیستله نو دقیامت په ورځ به دامې زمکي پورې ښخول کیږي (مشکوة صفحه ۲۵۶ س ۱۳ عن سالم ابیه مرفوعا) په روایت کې راځي (ددرو پیسو په بدله کې چې نن صبا په حساب ورسره پاؤکم درې روپۍ جوړیږي) به دهغه اووه سوه قبول سوي لمونځونه ورکول کیږي هغه سړي ته

(تعلق ختمولو) باندي وعيد دی؟ که چيري ددين په وجه خفګان وي يعني بل مسلمان بدعتي وي يا په بل څه ګناه کي مبتلا دی نو داسي سړی سره خبري نه کول شرعا جائز دی او بغير د عذر نه ده سره خبري نه دي پکار. ځکه چې د بد مجلس او صحبت اثر ډير زر کيږي بيا به دې هم ګناه شروع کړي، داخبره يادساتل پکار دي چې د کومي درجې ګناه وي نو دغه ګناه ته کتونکی (چې قصدا ورته ګوري) هم دومره ګناه کار دی. **پوښتنه** : احاديث خو مطلق دی نو دبد اونيک تقسيم څنګه وکړو؟ **جواب** : مؤمن هغه دی چې ساده اوشريف انسان وي، ددنيا دامورو څخه غافل وي لکه چې په حديث کي دی دابوداؤد اوترمذی په روايت سره: المؤمن غر کريم. ددې لاندي د مشکوة حاشې په حواله د مرقات ليکلی دی چې ددنيا دامورو څخه غافله وي (مشکوة صفحه ۴۳۲ حاشيه ۴) لهذا که چيري ددين دار انسان سره تعلق وي نو بيا د څه دنيا وي مقصد دوجي نه دهغه سره تعلق پرېکونکی لپاره دا ټول وعيدونه دي د فاسق اوفاجر سره تعلق په هرغرض چې وي مناسب نه دی ګڼي نوده په فسق اوفجور کي به هم شکونه شروع سي. ځکه چې په حديث شريف کي راځي: من تشبه بقوم فهو منهم. اولکه څنګه چې حضور ﷺ د کعب بن مالک رضی اللہ عنہ اودهغه د ملګرو سره چې کله هغوی د غزوه تبوک وروسته پاتې سو پنځوس ورځو پورې خبري نه وی کړی. (حاشيه زادالطالبين صفحه ۲۱) **ترکيب** : (لايحل) فعل (ل) جار (مسلم) مجرور، جار سره د مجرور نه متعلق په فعل پورې، (ان) ناصبه مصدريه (يهجر) فعل هو فاعل، (اخاه) مضاف اومضاف اليه مفعول به (فوق ثلث) مضاف اومضاف اليه، مضاف سره د مضاف اليه نه مفعول فيه، فعل سره د فاعل او مفعول به او مفعول فيه نه جمله فعليه خبريه په تاويل د مصدر فاعل سود لايحل. فعل سره د فاعل او معلق نه جمله فعليه خبريه سوه، (ف) تفريعيه (من) شرطيه (هجر) فعل هو فاعل فوق ثلث مضاف اومضاف اليه مفعول فيه، فعل سره د فاعل او مفعول فيه جمله فعليه خبريه معطوف عليه، (ف) عاطفه (مات) فعل هو فاعل، فعل سره د فاعل نه جمله فعليه خبريه معطوف سو، مطعوف عليه سره د مطعوف نه شرط، (دخل) فعل هو فاعل، (النار) مفعول فيه، فعل سره د فاعل او مفعول فيه نه جمله فعليه خبريه جزاء، شرط سره د جزاء نه جمله فعليه شرطيه سوه.

(۳۶) اَلَّا لَا يَحِلُّ مَالُ امْرِءٍ اِلَّا بِطِيْبِ نَفْسٍ مِنْهُ (بيهقی).

(تخرج مشکوة صفحه ۲۵۵ س ۱۸ عن ابی حرة الرقاشي عن عمه مرفوعا رواه البهقي)

ژباړه : خبردار! نه دی حلال د يو کس مال خو دهغه د طرفه د زړه په خوشحالی سره.

توضيح : د يو سړي مال استعمال ترهغه وخته پورې جائز نه دی چې ترڅو پورې د مال مالک يې د زړه په خوشحالي سره ونر کړي، د بخاري شريف په حديث کي راځي: چې حضور ﷺ وفرمايل: چې کوم سړی ناحقه د زمکي څه واخيستله نو د قيامت په ورځ به د هغې زمکي پورې ښخول کيږي (مشکوة صفحه ۲۵۶ س ۱۳ عن سالم ابيه مرفوعا) په روايت کي راځي (د درو پيسو په بدله کي چې نن صبا په حساب ورسره پاؤکم درې روپۍ جوړيږي) به دهغه اووه سوه قبول سوي لمونځونه ورکول کيږي هغه سړي ته

دچاچي پاؤکم درې روپۍ. اخیستل سوی دی، دا روایت دحضرت تهانوی رحمه الله په مواعظو کي (احکام المال) کي موجود دی. **مسئله** : چنده جمع کولو سره دعوتونه کول صرف په هغه صورت کي جائز دی کله چي چنده ورکونکی سړی دزړه په خوشحالی سره ورکوي ځکه چي ددې حدیث نه مخکي دا الفاظ هم دی :الا لا تظلموا. یعني ظلم مه کوئ بعضي خلک ویري نه ورکوي که چیري موږ چنده ورنکړو نودا زموږ رسوائي ده په داسي حالت کي عام طور دزړه خوشحالي نه وی ددې وجي نه جائز نه دی.

ترکیب : (الا) حرف تنبیه (لایحل) فعل (مال) مضاف (امرئ) مضاف اله، مضاف سره دمضاف الیه نه استثناء لغو، (ب) جار (طیب) مصدر مضاف (نفس) مضاف الیه، (منه) جار او مجرور سره متعلق په فعل پوري پورې، فعل سره دفاعل او متعلق نه جمله فعلیه خبریه سوه.

(۱۳۷) لَا تُنْزَعُ الرَّحْمَةُ اِلَّا مِنْ شَقِیٍّ. (احمد و ترمذی) ژباړه : رحمت نه اخیستل کیږي مګر دبدبخت څخه.

توضیح : ددې حدیث مطلب دادی چی هر کار او هره خبره په نرمی، اوشفقت سره او محبت سره کول پکار دي، دالله تعالی درحمت همیشه لپاره طالب جوړېدل پکار دی. دابوداؤد او ترمذي په حدیث کي راغلی دی چي رحم کونکو باندي رحمن رحم کوي نو رحم کوئ (اې خلګو!) په زمکه کي، رحم به کوي په تاسو هغه ذات کوم چي آسمان کي دی یعني الله تعالی. (مشکوة صفحه ۴۲۳ س۵) بهرحال دالله تعالی رحمت ډیر فراخ دی لیکن چي څوک بدبخت وي سخت زړه وي په چاباندي رحم نه کوي نو الله تعالی دداسي سړي نه رحمت راؤباسي ددې وجي نه دالله تعالی درحمت طالبانو لره دا ضروري ده چي همیشه په کشرانو باندي رحم کوي اودمشرانو عزت کوي کنی نودالله تعالی دنیولو څخه وویریږی : اِنَّ بَطْشَ رَبِّکَ لَشَدِیدٌ. بیشکه ستا درب نیول ډیر سخت دی. **لغوي صرفي تحقیق** : تنزع داد فتح څخه دمضارع مجهول واحد مؤنث غائب صیغه ده، ددې څخه نزع په معنی د (مرګ ته نژدې حالت) اونازع مسافر راغلی دی، دامادہ که چیري دفتح څخه مستعمل سي، نوددې معنی ده په لاس سره وهل، ټونګی وهل غیبت کول، عیب لګول. شقی دا صیغه دصفت مشبه ده په معنی دبدبخت کېدلو سره، اشقیاء یې جمع ده. ددې څخه دی الشقا والشقاء، په معنی دسختی، بدبختی. المشقی (ګومنځ) **ترکیب** : (لاتنزع) فعل (الرحمة) نائب فاعل (الا) حرف استثناء لغو (من) جار (شقی) مجرور، جار سره دمجرور نه متعلق په فعل پوري، فعل سره دنائب فاعل او متعلق نه جمله فعلیه خبریه سوه.

(۱۳۸) لَا تَصْحَبُ الْمَلٰئِکَةُ رُفْقَةً فِیْهَا کَلْبٌ وَّلَا جَرَسٌ (رواه مسلم تخریج مشکوة صفحه ۳۳۸ س ۱۷ عن ابی هریرة رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه : نه ملګري کیږي فرشتې دهغه جماعت سره چي په هغه کي سپي وي او (نه په هغه کي کوم کي چي) تلی وي. **توضیح** : دامخکي تیرسوی دی چی کوم ځای سپي وي هلته درحمت فرشتې نه وي اودا (خبره) ده چي په سفر کي څوکسان ملګري روان وي اوسپي ورسره وي بیاهم دوی سره فرشتې

ملګرتیا نه کوي ، اوکوم جماعت سره چې ټلی (ګونګرو) وي نوهم فرشتې دوی سره نه پاته کیږي ځکه چې دمسلم په حدیث کې تیرسوی دی چې جرس دشیطان شپیلی ده اوفرشتې دشیطان ضد دی ،په دې معنی چې شیطان نافرمان اونافرمان دی اوفرشتې مطیع اومطیع دی ، ددې وجې نه چې شیطان چیرته وي هلته درحمت فرشتې نه وي اوچې کوم ځای درحمت فرشتې وي هلته شیطان نه وي .

فائده : دجرس تعریف دادی چې (هغه ګونګرو چې دځارو په غاړه کې زوړندولی سي) ددې څخه یو عیجبه شان آواز پیدا کیږي چې په هغه کې کراهت (ناخوښي) وي چې کوم ځای ګونګرو وي هلته درحمت فرشتې نه راځي ، ددې وجه علامه نووی داییانوي چې دګونګرو آواز دناقوس سره مشابه وي ،ناقوس هم یوقسم ګنګړو دی اوداعمل دنصاراؤ دی، دجرس استعمال مکروه تنزیهي دی ،دامام ابوحنیفه رحمه الله اوامام مالک رحمه الله په نزد دبعض علماؤ په نزد دځارو جرس بغیر دځه مقصد نه ږغول منع دی، که چیرې په دې کې څه فائده وي نوبیا جائز دی ،دبعضو متقدمینو په نزد کراهت په لوی ګونګرو کې دی نه په وړوکي کښې . (ماخوذ من مرقات نه جلد ۷ صفحه ۳۲۷) **دمروج ټلو استعمال جائز دی**: کومې چې کور په کور لګیدلی وي (دخبرداري لپاره) ددې وجه داده چې په دې کې ضرورت دی (۲): دادجرس په معنی کې نه راځي .(۳): کراهت تنزیهي دی اوکراهت تنزیهي اوجائز جمع کیدلی سي. **دګنګرو والاپازیب اچول جائز نه دی** . ددې دمنع والي اوله وجه داده چې په شرح السنة کې یوروایت دی چې یوه جینۍ حضرت عائشې رضی الله عنها ته راغله اودهغې په پښو کې جلاجل ؤ نوحضرت عائشې رضی الله عنها ورته وفرمایل : چې وزه زما دخوانه اې فرشتولره جداکونکی . دویمه وجه : دحضرت زبیر رضی الله عنه په پښو کې ګونګروګان ؤ هغه حضرت عمر رضی الله عنه پرېکړل اووی فرمایل : چې مادحضور صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلی چې هغه فرمایل:چې هرګونګروسره شیطان وي. **دریمه وجه**:داده چې دامسلسل همېشه)غږیږي ددې وجې نه شیطان خوشحالیږي اوورسره وي ددې وجې نه ددې څخه سخته منع راغلی ده . **لغوي اوصرفي تحقیق** : رفقة دامثلثة الراء دی لکه څنګه چې په قاموس کې دی اودامام نووی رحمه الله علیه په نزد داپه ضمې دراءسره دی اوپه فتحې دراءسره په معنی دجماعت ،جرس په فتح دجیم سره اود راءسره ، دغه شان په مغرب کې راغلی دی په معنی دګونګرو . (مرقات جلد ۷ صفحه ۳۲۷)

ترکیب:(لاتصحب) فعل (الملائکة) فاعل ، (رفقة) موصوف (فیها) جار اومجرور ، متعلق سو په فعل محذوف ثبت پورې ، کلب ،معطوف علیه (واو) عاطفه (لا) زائده للتاکید (جرس) معطوف ، معطوف علیه سره دمعطوف نه فاعل دثبت ،فعل سره دفاعل اومتعلق نه جمله فعلیه خبریه صفت دموصوف ، موصوف سره دصفت نه مفعول به ،فعل سره دفاعل اومفعول به نه جمله فعلیه خبریه سوه .

صِيَغُ الْاَمرِ وَالنَّهی

(۱۳۹) **بَلِّغُوا عَنِّي وَلَوْ آيَةً**، تخریج مشکوة صفحه ۳۲ س ۱۵ عن عبدالله بن عمرو رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه : ورسوی زما څخه که څه هم یو آیت وي. **توضیح** : یعني کوم څه چې تاسو اوربدلی دي او حه چې تاسو حاصل کړی دي زما څخه بالواسطه یا بغیر واسطه اقوال وي یا افعال یا تقریرات ، هغه مخکې وړاندي ورسوئ ،څومره پوري چې ستاسو طاقت وي اګرچې یو آیت وي یعني اګرچې په لږ مقدار کې وي. **پوښتنه** : ولوایة یې ولي وفرمایل : ولوحدیثا یې ولي ونه فرمایلو ، آیا دحدیث تبلیغ ضروری نه دی ؟ **لومړی جواب** : هر کله چې دآیت د تبلیغ حکم دی سره ددې چې د قرآن کریم د حفاظت ذمه داري الله تعالی باندي ده نو ییا دحدیث تبلیغ خو په اول درجه کې ضروری دی . **دویم جواب** : چونکه علامه مظهري رحمة الله علیه دآیت څخه مراد هرمفید کلام اخیستی دی ، ددې وجې څخه په دې لفظ آیت کې د قرآن کریم آیت هم راغی او احادیث هم راغلل ځکه چې داټول مفید کلامونه دي. **دریم جواب** :دادی چې لفظ ایت دعامو مسلمانانو دطبیعت په لحاظ سره ذکر سوی دی ځکه چې دعامو مسلمانانو طبیعتونه د قرآن کریم طرف ته زیات میلان کونکی وي. (هذا کله من المرقات جلد ۱ ص ۲۶۴)

په لمعات التنقیح فی مشکوة المصابیح کې داخبره هم ده چې په بلغوا کې دې خبري ته اشاره ده چې د ثقه اوعادل راویانو متصل السند حدیث وړاندي ورسوی او هم هغه الفاظ چې څنګه مو اوربدلی وي بغیر دڅه بدلولو یې وړاندي ورسوی داشاره د تبلیغ د تعریف څخه راوزي ځکه چې د تبلیغ معنی ده : انتهاء الشیء الی غایته . یعني شئ پوره رسول. (لمعات جلد ۱ صفحه ۲۵۲)

دتبلیغ شرعي حیثیت :د تبلیغ دوه قسمه دي اول فرض عین دویم فرض کفایه ، فرض عین هغه دی چې په هر مسلمان سړي اوښځي باندي دلمانځه پشان فرض دی ،برابره خبره ده چې ددې تعلق د تبلیغ کار و کونک دیوجماعت سره وي یانه وي . ددې حکم حضور صلی الله علیه وسلم صفاصفا بیان کړی دی : من رأی منکم منکرا فلیغیره بیده فان لم یستطع فبلسانه فان لم یستطع فبقلبه وذالک اضعف الایمان . (رواه مسلم) داحدیث دزاد الطالبین صفحه ۳۴ په شروع کې هم را روان دی ، تفصیل یې هلته وګوري دلته یې یواځې ژباړه بیانوم ، چې کوم سړی په تاسو کې څه بدي یعنی ګناه ووینې نوده لره پکار ده چې سمدستي هغه ګناه په لاس ختم کړي که چیري یې طاقت نه وي نو په ژبې سره دی منع کړي ،پس که چیري ددې طاقت یې هم نه وي نو په زړه کې دي دغه بدعمل وګڼي یعني په زړه کې دغه بدعمل بد وګڼي . اوداډایمان د ټولو څخه کمزوری درجه ده ، داقسم تبلیغ فرض عین دی ، د تبلیغ فرض کفایه مطلب دادی که چیري یوځای داسي وي چې هلته دهغه ځای خلګو ته علم نه وي نو په داسي موقع باندي دافرض دی چې هغوی ته څه خلګ ولیږي اوداسلام دعوت ورکړي ، که چیرته چاهم دعوت ورنکړو نو ټول په ګنهګار دی ،داخبره دیاد وړه چې داوخت په ټوله دنیا کې داسي هیڅ یوځای نسته چې هلته داسلام دعوت نه وي ،رسیدلی لهذا داوخت د تبلیغ لپاره تلل یا چله لګول څه وخت لګول مستحب دی ،فرض عین تبلیغ هغه دی چې دڅه ګناه په لیدلو سره کولی سي ، دامضمون اخیستی سوی دی دمفتی

رشید احمد لدهیانوي درسالې نه چې دهغی نوم تبلیغ کې شرعي حیثیت اورحدود دی د تفصیل طلب کونکي لپاره هغې رسالې ته رجوع پکاره ده. **لغوي او صرفي تحقیق** : دآیت معنی ده ظاهري ښنبه، ددې جمع آیات راځي. **عجیبه نکته** : بَلِّغُوا عَنِّي وَلَوْ آيَةً وَحَدِّثُوا عَنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ وَلَا حَرَجَ، وَمَنْ كَذَبَ عَلَيَّ مُتَعَمِّدًا فَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ. دامکمل حدیث دی اوداحدیث شریف دبخاري دی چې مرفوع اوصحیح اومتواتر دی اودنکتې خبره داده چې په ټولو احادیثو کې داهغه حدیث چې ددې ټول روایان ثقه دی او ددې حدیث په راویانو کې هغه ټول صحابه کرام هم دی چې هغوی ته حضور ﷺ په یو مجلس کې دجنت زیری ورکړی وُ چې هغوی ته عشره مبشره ویل کیږي اوبل کوم حدیث کې چې عشره مبشره جمع سوی وي هغه روایت نه ملاویږي. (مرقات جلد ۱ صفحه ۲۶۶)

وَحَدِّثُوا عَنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ .ددې مطلب دادی چې دهغوی نه دنصیحت خبره اوواقعات (قصې اخیستلی سي او مخکې یې بیانولی سي په دې کې هیڅ نقصان نسته لیکن دهغوی دکتابونو احکام وغیره نقل کول منع دی ځکه چې مخکنې ټول دینونه اوشریعتونه منسوخ کړزولی سوی دی ،دحضور ﷺ په لیږلو سره (لمعات جلد ۱ ص ۲۳۵)

ترکیب :(صیغ) مضاف (المر) معطوف علیه (واو) عاطفه (النهی) معطوف (معطوف سره دمطعوف علیه نه مضاف ، مضاف سره دمضاف الیه نه خبر دمبتداء محذوف چې هذه ، مبتداء سره دخبرنه جمله اسمیه خبریه سوه. (بلغوا) فعل فاعل (عن) جار (نون) وقایة (ی) مجرور ،جاسره دمجرور نه متعلق په فعل پورې ، فعل سره دفاعل اومتعلق نه جمله فعلیه انشائیه سوه ، (واو) مبالغه (لو) شرطیه وصلیه (آیة) خبر فعل محذوف کانت فعل ناقص ضمیر پکښې دی هغه یې اسم ، کانت سره داسم اوخبرنه شرط ، ددې جزاء دماقبل قرینې په وجه محذوف ده ، هغه داده : ولو کانت آیة فبلغوا عنّی .

(۱۴۰) اَنْزِلُوا النَّاسَ مَنَازِلَهُمْ (ابوداؤد. تخریج مشکوة صفحه ۴۲۴ س ۱۹ عن عائشه رضی الله عنها مرفوعا)

ژباړه : ښکته کړی خلک دهغوی مرتبې ته.

توضیح : یعنې سړی په خپله مرتبه وساتئ اوخبرې ورسره کوی اودهرسړي عزت کوی دهغه دشرافت مطابق شریف اورذیل مه برابروئ ،دغه شان خادم اومخدوم مه برابروئ ، دچاسپکوالی مه کوی چې هغه ته تکلیف ورسیږي . **ترکیب** : انزلوا فعل انتم فاعل الناس مفعول به منازلهم مضاف اومضاف الیه .مفعول فیه ، فعل سره دخپل فاعل اومفعول به اومفعول فیه سره جمله فعلیه انشائیه .

(۱۴۱) اُشْفَعُوا فَلْتُؤْجَرُوا ، مسلم. تخریج مشکوة صفحه ۴۲۲ س ۹ عن ابی موسی رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه : سفارش کوئ پس تاسو ته به اجر درکول سي.

توضیح او شان نزول : کله چې به حضور ﷺ ته څوک سوال کونکی راغی یا عرض لرونکی به راغی نو دا به یې فرمایل : اشفعوا فلتؤجروا. یعنې سفارش کوی ثواب به درکول کیږي ، ددې حدیث پاک وضاحت دادی چې که چیرې سوال کونکی راسي (چاسره چې دیوې ورځې اویوې شپې دخوراک اوځښاک سامان نه وي) نو هغه لره څه ورکوی او که چیرې څوک دکار کولو لپاره دسفارش طلب کونکی وي نو دهغه هم په جائز طریقې سره سفارش کوی ،مثلا زید ویزه اخلي خو دهغه واقفیت نسته درد کولو امکان دی ، ددې وجې نه زید ،عمرو ته ورغی او ورته یې وویل چې ستاواقفیت سته نو ته زما لپاره دویزې سفارش وکړه نو عمرو ته پکار دی چې سفارش وکړي ځکه چې ددې ډیر ثواب دی که چیرې دجائز کار سفارش وي نوجائز اوباعث داجر دی ، ځکه چې ورور سره امداد کي شامل دی او که چیرې دنیکی په کار کي وي مثلا عمرې یاحج وغیره نو بیا افضل دی ځکه چې په دې کي دنیکی کونکی هومره ثواب سفارش کونکي ته ملاویږي،دګناه په کار کي سفارش کول حرام دی ځکه چې داسفارش کونکی سبب جوړسوی دی دګناه کولو ، ددې وجې نه جائز نه دی بلکه حرام دی دی . **لغوي اوصرفي تحقیق** : اشفعوا دسمع څخه جمع حاضر صیغه ده په معنی دسفارش وکړئ او فلتوجروا دادضرب څخه امر مجهول دجمع صیغه ده په معنی داجر اوثواب. **ترکیب** : اشفعوا فعل معروف ضمیر بارز فاعل ،فعل سره دفاعل نه امر . ف جوابیه لتوجروا فعل مجهول ضمیر بارز نائب فاعل ،فعل سره دفاعل جواب امر ،امر سره دجواب امر نه جمله فعلیه انشائیه .

(۱۴۲) قُلْ آمَنْتُ بِاللّٰهِ فَاسْتَقِمْ (رواه مسلم، تخریج مشکوة صفحه ۱۲ س ۲۶ سفیان بن عبدالله الثقفی رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه : ته ووایه چې ما ایمان راوړی دی په الله تعالی باندې بیا په دې باندې قائم اوسیږه .

توضیح اوشان ورود : حضرت سفیان وایي ماعرض وکړو چې اې دالله تعالی رسوله ! ﷺ ماته داسلام متعلق داسي خبره وښایه چې بیاماته ستاسو څخه وروسته یاستونه سوا دهیچا نه پوښتنه کولو ضرورت نه وي نوهغوی ﷺ وفرمایل : چې ته ووایه ما په الله تعالی ایمان راوړلو اوبیا په دې باندې ثابت قدم پاتي سه ، یعنې چې کوم دایمان لوازمات دی (اعمال صالحه اوګناهونه پرېښودل) هغه مضبوط ونیسه یعنې دشریعت پوره پوره پابندي کوه دا ارشاد ماخوذ دی ددې آیت کریمه څخه :

رَبُّنَا اللّٰهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوا. بیا داستقامت معنی څه ده ،په دې باره کي صوفیاء کرام وایي چې استقامت دزرو کراماتو څخه بهتر دی،دغه شان استقامت پوره دین ته شامل دی ،هرډول نیکی کولو ته اوپه هغه باندې ثابت قدم پاتي کېدلو ته اوهرګناه څخه بچ کېدلو ته اوپه هغه ثابت قدم پاتي کېدلو ته استقامت وېل کیږي ، داڅه معمولي شئ نه دی ، ددې فاستقم وجې نه دحضور ﷺ ارشاد مبارک دی چې زه سورة هود بوډا کړم ځکه چې په دې کي فاستقم نازل سوی دی ،امام غزالي رحمة الله علیه فرمایلي دي چې

ددین په لاره استقامت دومره مشکل دی لکه چې پل صراط باندې تلل مشکل دی ،ځکه چې استقامت دپوره دین دحق اداکولو نوم دی اوپه دې کې څه ناڅه غلطي هرسړي سره ضرور کیږي ، ددې وجه نه دحضور ﷺ ارشاد دی چې په تاسو کې هریو خطاکار دی اوپه خطا کارانو کې بهترین هغه خلک دی چې توبه ویستونکی دي . **نکته** :سورۃ فاتحه په لمانځه کې اوهر رکعت کې ولې ضروري ده ؟وجه داده چې استقامت علی الدین اواستقامت علی الحق ډیر زیات ګران کار دی . اوډیر ضروري هم دی . ددې وجې نه په هرلمانځه کې یې لوستل واجب دي .به صراط مستقیم داستقامت دعا پنځه واړه وختونو کې غوښتل کیږي . (هذا کله من المرقات صفحه ۸۴ جلد ۱)

ترکیب : قل فعل انت فاعل امنت فعل فاعل ، ب جار لفظ الله مجرور ، جارسره دمجرور نه متعلق په فعل پوري ، فعل سره دفاعل اومتعلق نه مقوله (مفعول) قل فعل امر سره دخپل فاعل اومقوله (مفعول) نه جمله فعلیه انشائیه مطعوف علیه ،ثم عاطفه استقم فعل انت فاعل .فعل سره دفاعل نه جمله انشائیه معطوف . معطوف علیه سره دمعطوف نه جمله فعلیه انشائیه معطوفه سوه .

(۱۴۳) دَعْ مَا يُرِيبُكَ إِلَى مَا لَا يُرِيبُكَ (احمد وترمذی ،تخریج مشکوۃ صفحه ۲۴۲ س ۸ عن حسن بن علی رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه : پریږده هغه شئ کوم چې تا په شک کې اچوي هغه شئ طرف ته کوم چې تا په شک نه اچوي .

توضیح : حضرت حسن بن علي رضی الله عنه فرمایي چې ماد حضور ﷺ نه داخبره یاده کړی ده چې هغه شئ پریږده په کوم کې چې شک دی اوهغه واخله چې کوم کې دي شک نسته دی ،ځکه چې رښتیا ویل د اطمینان باعث دی اودرواغ دبې قراری (بې ارامی) باعث دی . (انتهی)

په دې حدیث کې په اولی اوبهتر باندې دعمل کولو ارشاد دی ځکه چې شکي شیانو باندې اګر چې ددې قانون لاندې چې : الیقین لا یزول بالشک) عمل کول جائز دی لیکن خلاف اولی ضرور دی ،ددې اسان مثال دادی چې دچاشک پیدا سو چې زما اودس سته دی یعني کړی خومي دی خو چې مات کړی مي دی اوکه نه ، که چیري په دې کې واقعي شک وي یعني دواړه طرفونه یې برابروي نو فتوی داده چې ددې اودس سته دی ځکه چې دفقهاؤ اصول دی چې یقین په شک سره نه زائل کیږي لیکن بیاهم نوی اودس کول په هرصورت کې بهتر دی اودې پر اجر باعث دی . **ترکیب** : (دع) فعل انت فاعل (ما) موصوله (یریب) فعل هو فاعل (ک) مفعول به ،فعل سره دفاعل اومفعول به جمله فعلیه خبریه صله سوه .موصول سره دصلې نه مجرور دجار سو ،جار سره دمجرور نه متعلق سو په فعل پوري ،فعل سره دفاعل اومفعول به متعلق نه جمله فعلیه انشائیه سوه .

اِتَّقِ اللّٰهَ حَيْثُ مَا كُنْتَ وَأَتْبِعِ السَّيِّئَةَ الْحَسَنَةَ تَمْحُهَا وَخَالِقِ النَّاسَ بِخُلُقٍ حَسَنٍ

(تخریج مشکوۃ صفحه ۴۳۲ س ۱ عن ابی ذر رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه : ته ویریږه دالله تعالی نه چې هرڅای یې او وروسته کوه دبدی څخه نیکي چې داهغه ختم کړي ،اوخلګو سره اخلاق ساته ښه اخلاق. توضیح اوشان ورود : حضرت ابوذر غفاري رضی الله عنه فرمایي چې یو ځل ماته حضور ﷺ دري خبري وفرمایلی (۱) : چې ته چیري هم یې دالله تعالی څخه ویریږه ،یعني هغه هرڅای تاوینې صرف نیکي کوه چیري ستا څخه ګناه ونه سي . (۲) : دګناه څخه وروسته څه نکیي کوه چې ګناه ختم کړي اودخلګو سره ښه تعلق ساته. (۳) : دهغی سره په ښو اخلاقو ملاویږه (انتهی)

داخطاب صرف صحابه کرامو لپاره نه ؤ بکله هر مکلف ته خطاب دی په بل مرفوع حدیث کي داخلاقو په باره کي یې وفرمایل : چې د ټولو څخه زیات کامل ایمان والا په مؤمنانو کي هغه خلګ دی چې داخلاقو په لحاظ سره ښه وي ،ظاهري اوباطني اخلاق ټول ښه کول پکار دي ، ظاهري اخلاق مثلا مشر سره هغه دمرتبې مطابق ملاویدل ود کشرانو سره دهغوی دمرتبې موافق ملاویدل اوچې څوک راسي هغه ته ځای ورکول که چیري ځای نه وي ،لږشان دخپل ځای څخه خوزیدل چې دراتلونکی اکرام وسي وغیره وغیره ..اوباطني اخلاق دوه قسمه دي . اول : رزیله مثلا ،حسد ،تکبر ،بغض حب جار ،حسب مال ،حب دنیا وغیره اودا دزړه نه ایستل ضروري دی اوداد شیخ په مشوره باندي کیږي او دویم ښه اخلاق ،مثلا صبر وشکر ، محبت، امید ،توبه وغیره دا په زړه کي پیدا کول ضروری دی ،داهم دشیخ په مشوره په صحیح معنی کي په زړه کي پیدا کیږي . ترکیبونه :اتق الله حیث ما کنت. اتق فعل انت فاعل ،لفظ الله مفعول به حیث مضاف ما موصوله کنت فعل فاعل ،فعل سره دفاعل نه جمله فعلیه خبریه صله دموصول ، موصول سره دصلې نه مضاف الیه دمضاف سو ،مضاف سره دمضاف الیه نه مفعول فیه فعل سره دفاعل اومفعول به اومفعول فیه نه جمله فعلیه انشائیه سوه .وأتبع السیئة الحسنة. واو استنافیه اتبع فعل انت فاعل لسیئة مفعول اول ، الحسنة موصوف (الف لام عهد ذهنی دنکره په حکم کي وي) تمح فعل هی ضمیر فاعل ها مفعول به ،فعل سره دفاعل اومفعول به نه جمله فعلیه خبریه صفت دموصوف ، موصوف سره دصفت نه مفعول ثانی ،فعل سره دفاعل اود دواړو مفعولینو نه جمله فعلیه انشائیه سوه . وخالق الناس بخلق حسن. واو استنافیه خالق فعل امر انت فاعل الناس مفعول به ب جار خلق فعل پوري ،فعل سره دفاعل اومتعلق نه جمله فعلیه انشائیه سوه . **پوښتنه** : الحسنة موصوف معرفه ده نو تمحها نکره صفت څنګه جوړیدلی سي؟ **جواب** : الحسنة معرفه په الف لام عهد ذهني سره ده اوداپه حکم دنکره کي وي.

(۱۴۵) لَا تُصَاحِبْ اِلَّا مُؤْمِنًا وَلَا یَاْکُلْ طَعَامَکَ اِلَّا تَقِیٌّ (ترمذی وابوداؤدودارمی)

(تخریج مشکوة صفحه ۴۲۶ س ۲۶ عن ابی سعید رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه : ته ملګری مه جوړه وه خو یو مسلمان اونه دي خوري ستا خوراک مګر پرهیزګار سړی . **توضیح** : که څوک ملګری یا دوست جوړول غواړي نو یواځي کامل به جوړول پکار دی ځکه چې په دې سره ددین

ترقي کيږي اوغفلت لري کيږي . اوکه دکافر يامنافق سره دوستي جوړه کړی نو ددين نقصان دی که ددوستي اثبات دی نوصرف دکامل مؤمن سره دی ، چي هغه دالله تعالی دوست (ولی الله) دی اوکه ددوستی نفی ده نود کافرانو اومنافقانو اودغلط قسم خلګو نه ده اګرچي هغه دمسلمانانو څخه وي اوپه دويمه جمله کي يې وفرمايل : که چيري ستاخوراک خوري نوصرف نيک سړی دی وخوري ، ددې حديث شريف دوې معناګاني دی (۱) : دخوراک څخه مراد ددعوت خوراک دی چي اې مخاطبه! ستاددعوت والاخوراک دصرف نيک سړی وخوري يعني نيکو خلګو ته دي دعوت ورکړی که چيري دعوت ورکوي هغه خواه غريب وي يامالدار . (۲) : معنی داده چي دنيک انسان نه علاوه دچاسره هم محبت مه جوړه اودچاسره هم دوستي مه کوه ځکه چي دبدوخلګو نه بداثر کيږي . داصلاح په ځای فساد خوريږي . (هذا کله من المرقات من حاشية المشکوة ص ۴۲۶) **ترکيب** : لاتصاحب فعل انت فاعل ،الا حرف استثناء لغو ،مؤمنا مفعول به ، فعل سره دفاعل اومفعول به نه جمله فعليه انشائيه معطوف عليه سوه ، واو عاطفه لايا کل طعامک مضاف مضاف اليه مفعول به ، الا حرف استثناء لغو تقی فاعل فعل سره دفاعل اومفعول به نه جمله فعليه انشائيه معطوف ،معطوف عليه سره دمعطوف نه جمله فعليه انشائيه معطوفه سوه .

(۱۳۶) أَدِّ الْأَمَانَةَ إِلَى مَنِ ائْتَمَنَكَ وَلَا تَخُنْ مَنْ خَانَكَ (ترمذی)

(تخريج مشکوة صفحه ۲۵۴ س ۱۵ عن ابی هريرة رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه : امانت ادا کړه هغه کس ته چاچي ته امانتدار جوړ کړي اوخيانت مه کوه دهغه کس سره چاچي تاسره خيانت وکړو . توضيح : يوسړی بل چا ته څه شئ ياڅه پيسې په طور دامانت سره ورکړو اوهغه يې امين وګرځولو نواوس په هغه باندي لازم ده چي هم هغه شئ سنبهال وساتي اوکله چي دده نه امانت اپنبسودونکی خپل امانت وغواړي نوفوراً هم هغه شئ هغه ته واپس کړی ، که چيري دقرض په طور يې څه شئ اپنبسودلی وي نووقتي طور سره يې پخپله استعمالول جائز دی اوکله چي يې مالک وغواړي نودهغی پشان شې ورکړی ،په دې حديث پاک کي تنبيه (خبرداري) ده ددې خبري چي بنه اخلاق ساتل پکار دی چاچي امانتدار ګرځولی دی دهغه امانت حفاظت سره واپس کول پکار دی ، داسوچ کول نه دی پکار ،چي تاخوماسره خيانت کړی ؤنوزه به هم تاسره خيانت کوم . داسي کول بدکار دی ، څوک چي تاسره بد وکړي ته دهغه سره بنه کوه ،بدل اخيستل بدکار دی .دزادالطالبين حديث (۳۰) کی تيرسوی دی چي خيانت کول دمنافق نښه ده .فائده : که چيري زيد دخالد په مال کي خيانت وکړو بيادزيد مال ته دخالد لاس ورسيدو که چيري دخيانت کړی سوی مال هم جنس وي نودامام ابوحنيفه رحمه الله په نزد دخالد خيانت کول هيڅ ګناه نه ده بلکه غلا کولی يې هم سي ،ځکه چي خپل حق وصولول دی اوکه چيري خلاف جنس مال ته دخالد لاس ورسيدلو چي زيد دروپو خيانت کړی ؤاودخالد لاس ته دزيد کپړه وغيره راغله نوپه دې مسئله کي دامام شافعي رضی الله عنه په قول باندي داحنافو فتوی ده چي هغه خلاف جنس مال هم خالد خپل ځان سره ساتلی سي . (قاله مفتی عبدالقادر صاحب) **ترکيب** : اد فعل انت فاعل الامانة مفعول به الی جار من موصوله ائتمن فعل هو فاعل ، رحمه الله مفعول به ،فعل سره دخپل فاعل اومفعول به نه جمله فعليه خبريه صله سوه ، موصول

سره دصلې نه مجرور، جار سره دمجرور نه متعلق سو دفعل، فعل سره دخپل فاعل اوخپل مفعول به اومتعلق نه جمله فعليه انشائيه معطوف عليه. (واو) عاطفه لاتخن فعل انت فاعل من موصوله خان فعل هو فاعل ک مفعول به. فعل سره دفاعل اومفعول به نه جمله فعليه خبريه صله دموصول، موصول سره دصلې نه مفعول به، فعل سره دفاعل اومفعول به نه جمله فعليه انشائيه معطوف، معطوف عليه سره دمعطوف نه جمله فعليه انشائيه مطعوفه سوه.

(۱۴۷) لِيَؤُذِّنْ لَكُمْ خِيَارُكُمْ وَلْيَؤُمَّكُمْ قُرَّاؤُكُمْ (ابوداؤد)

(تخريج مشكوة صفحه ۶۸ س ۹ عن ابن عباس رضي الله عنه مرفوعا)

ژباړه: پکار ده چې آذان ورکړی ستاسو لپاره په تاسو کې غوره، اوپکار ده چې ستاسو امامت وکړی ستاسو قاري

توضيح: څوک چې په تاسو کې بهتر وي هغه دي اذان کوي يعني نيک اوپرهيزګار وي هغه دي آذان وکړي اوامامت دي هغه وکړي چې په قراءت ښه پوهيږي يعني ښه لوستونکی وي، دحضرت ابوسعيد رضي الله عنه مرفوع حديث دی چې کله تاسو درې کسان يې نوبو کس دی تاسو ته امامت وکړی اوهغه دامامت کوي چې په قراءت پوهيږي يعني ښه قاري وي (رواه مسلم) دادامام شافعي رحمه الله دليل دی څکه چې دهغوی په نزد چې څوک په تجويد ښه پوهيږي، هغه دامامت زيات حقدار دی. زمونږ په نزد چې څوک زيات عالم وي هغه دي امام سي. زمونږ دليل په ترمذی کې دعائشې (رض) مرفوع روايت دی چې په کوم قوم کې ابوبکر رضي الله عنه وي هغوی ته دابوبکر رضي الله عنه نه علاوه بل څوک امامت نه کوي څکه چې ابوبکر د ټولو نه لوی عام ؤ ددې وجې نه دهغه خاص خيال وساتلی سو اود ټولو څخه لوی قاري ابی ابن کعب رضي الله عنه په دويم نمبر کې وګرځول سو. معلومه سوه چې عالم لپاره امامت ورکول زيات بهتر دی په نسبت دقاري. امام شافعي رحمه الله عليه د دليل جواب دادی چې قاري په معنی دعالم کې استعماليږي. دغه شان قرائت اوتجويد ته په لمانځه کې ديورکن ضرورت دی اوعلم ته په ټولو ارکانو کې رکوع، سجده، قعده وغيره) ددې وجې نه اعلم احق بالامامت دی. **ترکيب**: ليؤذن فعل لکم جار اومجرور متعلق په فعل پورې، خيارکم مضاف اومضاف اليه فاعل دفعل. فعل سره دفاعل اومتعلق نه جمله فعليه انشائيه معطوف عليه سوه (واو) عاطفه ليؤم فعل کم مفعول به قرائکم مضاف اومضاف اليه فاعل. فعل سره دخپل فاعل اومفعول به نه، جمله فعليه انشائيه معطوف، معطوف عليه سره دخپل معطوف نه جمله فعليه انشائيه مطعوفه سوه.

(۱۴۸) لَا تَأْذَنُوا لِمَنْ لَمْ يَبْدَأْ بِالسَّلَامِ بيهقي، تخريج مشكوة صفحه ۴۰۱ س ۱۷ عن جابر رضي الله عنه مرفوعا)

ژباړه: اجازت مه ورکوی تاسو هغه کس ته چې شروع ونکړي په سلام سره. **توضيح**: دچاکور ته چې ورسی يادچاکمرې ته ننوزي يا يوځای ته چاله ورسي نودننو تلو نه مخکې داجازت اخيستلو ضرورت وي اواجازت اخيستل سنت دی اوس اجازت په څه طريقه سره اخيستل پکار دی، دروازه ټکول يا په زور سره سلام اچول چې دننه خلک يې واوري. حضور صلى الله عليه وآله وسلم چې به دچا دروازې ورغلو نو السلام عليکم اوپه يوروايت کې السلام عليکم ورحمة الله به يې وويل. (رواه ابوداؤد) معلوم سوه چې داجازت بهتر طريقه سلام دی. ددې وجې نه حضور صلى الله عليه وآله وسلم دا ارشاد وفرمايلو چې کوم سړی تاسو ته راسي اوسلام مخکې وانه چوی نو هغه ته دننه تللو اجازت مه ورکوي څکه چې په راتلونکی باندې حق دی چې دټولو نه مخکې دسلامتی دعا وکړی بياځه خبرې وکړي. دامسئله په قرآن

کریم کي موجود ده اوډیره اهمه مسئله ده په دې کي ډیره کوتاهي کیږي په روایاتو کي راځي چي صحابه کرامو ډیره ډیر سلام اچولو ،وراندي د ترمذي شریف په حواله حدیث (۱۰۱) کي تیرسوی دی چي څوک په سلام کي مخکي والی کوي هغه الله تعالی ته په ټولو خلکو کي خوښ وي . **ترکیب** : لاتأذنو فعل فاعل ، ل جار ،من موصوله ،لم یبداء فعل هو فاعل ،بالسلام جار مجرور متعلق په فعل پوري ،فعل سره د فاعل او متعلق نه جمله فعلیه خبریه صله ،موصول سره د صلې نه مجرور ،جار سره د مجرور نه متعلق په فعل پوري ،فعل سره د خپل فاعل او متعلق نه جمله فعلیه انشائیه سوه .

(۱۴۹) لَاتَنْتِفُوا الشَّیْبَ فَاِنَّهٗ نُوْرُ الْمُسْلِمِ (ابوداود) . تخریج مشکوة صفحه ۳۸۲ س ۱۵ عن عمرو بن شعیب عن ابیه عن جده مرفوعا)

ژباړه : مه باسئ بوډا والی (سپین ویښته) بې شکه داد مسلمان نور دی .

توضیح : سپین ویښته مه وباسی ، ځکه چي داد مسلمان نور دی ، ددې دا مطلب نه دی چي خضاب لګول جائز نه دی ځکه چي حضور ﷺ خضاب لګولی دی . د حضرت عثمان رضی الله عنه څخه روایت دی چي زه ام سلمه رضی الله عنها ته ورغلم نو هغی ما ته د حضور ﷺ یو خضاب لګولی سوی ویښته راوړو (رواه البخاری مشکوة صفحه ۳۸۴) لیکن دښائست لپاره تور خضاب ناجائز دی ،دلته داخبره ده چي سپین ویښته د بیخ مه باسي ځکه چي داد مسلمان نور دی ، او د بخشش باعث دی وراندي یې وفرمایل چی څوک په اسلام کي بوډا سو الله تعالی دهغه لپاره یوه نیکي ولیکله او یوه ګناه معاف کړه او یوه درجه یې لوړه کړه ،مشکوة شرف کي ددې حدیث نه وروسته د کعب بن مرة رضی الله عنه مرفوع روایت دی چي حضور ﷺ وفرمایل چی اسلام کي د بوډا ګانو لپاره د قیامت په ورځ به یو نور وي (رواه الترمذی والنسائي) مطلب دادی چي د ماشوم والی نه مسلمان ؤ او په اسلام کی بوډا سو نو دا ډډه لپاره باعث داجر دی او د مغفرت باعث دی د داسي بوډا په باره کي حدیث قدسی دی .(۱) : الله تعالی پخپله فرمایي چي زما هغه بنده ته دي مبارک وي او هغه بنده دي خوشحاله وي چي په اسلام کي بوډا سوی وي او هغه شرک نه وي کړی (دیلمی) بل حدیث قدسی دی الله تعالی فرمایي چي بوډا ثواب نور دی او نار زما مخلوق دی یعني ددې نور په وجه به داور نه محفوظ وي دا د واړه حدیثونه را اخیستل سوی دی د کتاب څخه چي (په نامه د خدی تعالی خبری) څخه چي د (الاتحاف السنیه بالاحادیث القدسیه) وغیره کتابونو څخه احادیث را اخیستل سوی دی چي دا ردو ترجمه یې هم سوی دی . **لغوي او صرفي تحقیق** : لاتنتفو دا د باب افتعال نه صیغه د جمع ده ،د نفي لپاره دانتفاء معنی کیږي منفی کېدل اولري کېدل بې ځایه کېدل ، نفاه فانتفی یعني هغه دځای نه لري کړو نولري سو .

ترکیب : لاتنتفوا فعل او فاعل ، الشیب مفعول به ، فعل سره د خپل فاعل او مفعول به نه جمله فعلیه انشائیه معلل سوه ف تعلیله ان حرف مشبه بالفعل ه د ده اسم نور المسلم مضاف او مضاف الیه خبر دان ، ان سره د اسم او خبر نه جمله اسمیه خبریه معلل ، معلل سره د خپل معلل نه جمله فعلیه تعلیله سوه .

(۱۵۰) اِزْهَدْ فِی الدُّنْیَا یُحِبَّکَ اللّٰهُ وَاِزْهَدْ فِیْمَا عِنْدَ النَّاسِ یُحِبَّکَ النَّاسُ

(تخریج مشکوة صفحه ۴۴۲ س ۶ سهل بن سعد رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه :خواهشات پريږده(اوبې رغبتي اختيار کړه) ددنيا په باره کې نوالله تعالى به تاسره محبت وکړي اوخواهشات پريږده دهغه شئ په باره کې کوم چې دخلګو سره دى نوخلګ به تاسره محبت کوي.

توضيح اوشان ورود : سهل رضي الله عنه راوي فرمايي چې يوسړى راغى اوهغه تلو سره وويل چې يارسول الله صلى الله عليه وآله وسلم ماته داسي کار وښايه چې زه هغه وکړم نوالله تعالى زما سره محبت وکړي اوخلق هم ماسره محبت وکړي نوپه دې باندې حضور صلى الله عليه وآله وسلم وفرمايل چې ددنيا اعراض وکړه يعني ددې زيب اوزينت ته اوددې مال ته شوق مه لره ځکه چې کله ته په دنيا کې تنوزى نوبيا به دالله تعالى دبندګى نه غافل سي اوکله چې تاددنيا نه بې رغبتي وکړه نوتاته به دالله تعالى دعبادت لپاره فارغ وخت پيدا سي ،يوحديث قدسى دى ،ابى هريرة رضي الله عنه فرمايي چې نبي کريم صلى الله عليه وآله وسلم ارشاد وفرمايلو چې الله تعالى فرمايي چې اې دآدم عليه السلام اولاد زما دعبادت لپاره ته ځان فارغ کړه او وخت وياسه نوزه به ستاسينه دبې پرواهې اوغناء څخه ډک کړم اوستا فقر اواحتياج به بند کړم کنى نوستالاس به دشغلاود کارونو څخه ډير زيات ډک کړم اواحتياج به دې لري نکړم ،په دې وجه دنيا څخه بې رغبتي چې دې ته زهد ويل ضرورى ده . (الاتحاف السنية اردو ترجمه صفحه ۱۱۸ بحواله ترمذى وبيهقى) که چيرې ددنيا څخه بې رغبتي اوقطع تعلق وساتلى سي نوالله تعالى به محبت کوي ځکه چې دنيا ملعونه ده په حديث (۱۰۸) کې تيرسوى دى . دغه شان که چيرې داغواړي چې خلګ هم تاسره محبت وکړي نوچې کوم شئ دخلګو سره دى (يعني مال) دهغه نه هم پرهيز وکړه اوپه لږ مال ګذاره وکړه دخلګو مخکې لاسونه مه خوره نوخلګ به پخپله تاسره محبت کوي په دې شرط چې دباقي عباد تونو هم پابند اوسيږى ،انسان چې ددين پابند وي نودنيا پخپله ملاويږي ،په يوحديث قدسي کې الله تعالى دنيا ته خطاب کړى اوفرمايلى يې دى چې څوک زما خدمت کوي ته هم دهغه خدمت کوه . (خدا کى باتين صفحه ۲۹۰ بحواله بيهقي) **ترکيب** : ازهد فعل انت فاعل فى جار الدنيا مجرور ، جار سره دمجرور نه متعلق سو په فعل پورې ، فعل سره دفاعل اومتعلق نه جمله فعليه انشائيه امر ،يحب فعل ک مفعول به لفظ الله فاعل ،فعل سره دفاعل اومفعول به نه جمله فعليه خبريه جواب امر سو ، امر سره دجواب نه جمله فعليه انشائيه امريه معطوف عليه واو عاطفه ازهد فعل فى جار ما موصوله ،عند الناس مضاف اومضاف اليه مفعول فيه سو ،ثبت فعل محذوف لپاره ، ثبت فعل سره دخپل فاعل (هوضمير) اومفعول فيه نه جمله فعليه خبريه صله دموصول،موصول سره دصلې نه مجرور دجار ،جار سره دمجرور نه متعلق په فعل پورې ،فعل سره دخپل فاعل اومتعلق نه امر .فعل ک مفعول به الناس فاعل ، فعل سره دفاعل اومفعول به نه جمله فعليه خبريه جواب دامر ، امر سره دجواب نه جمله فعليه انشائيه امريه معطوفه سوه ،معطوف عليه سره دمعطوف نه جمله معطوفه سوه .

(۱۵۱) كُنْ فِي الدُّنْيَا كَأَنَّكَ غَرِيبٌ أَوْ عَابِرُ سَبِيلٍ

(تخريج مشكوة صفحه ۱۳۹ س ۲۲ عن عبدالله بن عمر رضي الله عنه مرفوعا)

ژباړه : ته سه په دنيا کې داسي لکه چې ته مسافر يې بلکه دلاري تيرونکى يې .**توضيح** :اوشان ورود : حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه فرمايي چې حضور صلى الله عليه وآله وسلم زما اوږه ونيوله بيايې وفرمايل چې په دنيا کې داسي اوسه لکه چې مسافر اوسى بلکه څنګه چې په لاره تيريدونکى اوسيږى يعني دنيا مسافر خانه ده خپل ځان مسافر

وګنړه بلکه تلونکی مسافر وګنړه اې مخاطبه چې کله ته مانښام کړی نو دصبا انتظار مه کوه او کله چې سهار کړی نو مانښام انتظار مه کوه او دخپل صحت نه فائده اودخپل ژوند قدر وکړه .اول یې وفرمایل چې خپل ځان مسافر وګنړه ځکه چې انسان دلږ وخت لپاره مسافروي بیایې وفرمایل چې بلکه په لار د تلونکي پشان ځان وګنړه .مطلب دادی چې مسافر لپاره بیاهم څه موده وي مسافر په یو کور کې دپنځلسو ورځو څخه کم په یو کور کې اوسیدی سي په لاره تلونکی خوروان وي ، ددې وجې نه لکه څنګه چې په لار تلونکي دهر یو قدم ځای پریږدي اوروان وي دغه شان انسان لره داسوچ کول پکار دی چې ماهم دغه شان خپل ژوند پرېښود ل اونوي ژوند طرف ته تلل دی چې هلته به صرف اعمال اوداالله تالی رحمت په کار راځي ،دلته اودبل په معنی دی **ترکیب** : کن فعل امر انت ضمیر اسم دکن ،فی الدنیا جار اومجرور متعلق په فعل پوري ، کان حرف مشبه بالفعل ، ک یې اسم غریب معطوف علیه ، واو عاطفه عابرسبیل مضاف اومضاف الیه معطوف ، معطوف علیه سره دمعطوف نه خبر دکان ، کان سره دخپل اسم اوخبر نه جمله اسمیه خبریه خبر سود کن ، کن سره دخپل اسم اوخبر نه جمله فعلیه انشائیه .

(۱۵۲) لَا تَتَّخِذُوا الضَّيْعَةَ فَتَرْغَبُوا فِي الدُّنْيَا . ترمذی. تخریج مشکوة صفحه ۴۴۱ س ۱۲ عن ابن مسعود رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه : مه نیسه جائداد پس ته به شوق کونکی سی په دنیا کې . **توضیح** : ددضیعه دوې معناګاني کېدی سي اوله پیشه ، دویم جائداد . که چیري لومړی معنی واخلو نو دحدیث شریف مطلب دادی چې داسي پیشه مه نیسئ چې تاسو ددنیا پسې ولګیږی اوستاسو آخرت برباد سي ،مثلا دسود کاروبار یا بل څه ناجائزه پیشه ه نیسئ چې دهغی په وجه دنیا کې مینه محسوسیږي ، که چیري دویمه معنی واخیستل سي نو مطلب دادی چې جائداد پسې دومره لګیا کیږئ چې ددنیا طرف ته زړونه مائل سي اواخرت موهیر سي . ددې دامطلب نه دی چې دجائداد والا کېدل څه عیب یا ګناه ده بلکه ددې مطلب دادی چې الله تعالی هیر نکړئ اوآخرت خراب نکړئ دالله تعالی هروخت یادلرلو مطلب دادی چې څه ګناه ونکړی اودفرائضو ،واجباتو ،سنتو پابندي وکړی . **ترکیب** : لاتتخذوا فعل اوفاعل ، الضیعة مفعول به ،فعل سره دفاعل اومفعول به نه نهی ،ف جوابیه ، ترغبوا فعل ،واو فاعل فی الدنیا جار اومجرور متعلق په فعل پوري ، فعل سره دفاعل اومتعلق نه جمله فعلیه خبریه جواب دنهی ،نهي سره دجواب نهی نه جمله فعلیه انشائیه سوه .

(۱۵۳) أَعْطُوا الْأَجِيرَ حَقَّهُ قَبْلَ أَنْ يَجِفَّ عَرَقُهُ (ابن ماجه) (تخریج مشکوة صفحه ۲۵۸ س ۲۰ عن عبدالله بن عمر رضی الله عنه مرفوع)

ژباړه : ورکړه مزدور ته دهغه مزدوري مخکې ددې څخه چې اوچه سي دهغه خوله . **توضیح** : مزدور ته مزدوري په وخت بلکه د زرور کولو حکم دی ،دانه چې کار پرې ټول ورځ کوی یا ټوله میاشته او کله چې د مزدوري ورکولو وخت راسي نو ټال متول او وروستوالی) کوي داسخته ګناه نه ، ددې حدیث معنی دمشکوة د کرښو مینځ کي په حواله دلمعات لیکلی سوی ده چې زر مزدوري ورکول پکار دی (داخبره ختمه سوه) دمشکوة هم په دغه صفحه باندې په حواله دبخاري شریف یو حدیث قدسی لیکلی سوی دی ، دابی هریرة رضی الله عنه مرفوع حدیث دی ،فرمایي چې حضور صلی الله علیه وآله وسلم وفرمایل الله تعالی ارشاد فرمایي چې دقیامت په ورځ به درې کسان وي چې زه به دهغوی خصم (جګړی والا) یم ،یو هغه کس چې هغه زما په نوم قسم وخوري یا وعده وکړي اوبیا دهوکه وکړي . دویم : هغه

کي چي چا آزاد انسان خرڅ کړو اودهغه قیمت يې وخوړلو . دریم : هغه کس چي هغه څوک مزدور ونیولو اودهغه نه يې کار پوره واخیستلو لیکن هغه ته يې مزدوري ورنکړه ، مزدور ته مزدوري ژر ورکول پکار دی ، که چیري وروسته يې ورکوی نود کار کولو څخه وړاندي مخکي هغه خبرول پکار دی ،دهوکه ورکول اومزدور تنګول حرام اوناجائزدی . **لغوي اوصرفي تحقیق** : یحف دادنصر اوضرب دواړونه استعمال سوی دی ،دلته دضرب څخه دی په معنی داوچیدلو سره ، عرق دادسمع څخه مصدر دی په معنی د(۱):خولی سره .(۲):هغه هډوکی چي دهغه نه غوښه لري کړی سوی وي (۳): ددیوال لوندوالی .ددې څخه عرق په کسره دعین په معنی درګ سره دی .

ترکیب : اعطوا فعل واو فاعل ، الاجیر مفعول اول اجره مضاف اومضاف الیه مفعول ثانی ، .قبل مضاف ،ان ناصبه مصدریه ، یجف فعل ،عرقه مضاف اومضاف الیه فاعل ،فعل سره دفاعل نه جمله فعلیه خبریه په تاویل دمصدر سره مضاف الیه ، مضاف سره دمضاف الیه نه مفعول فیه ، فعل سره دفاعل اومفعول به اومفعول فیه نه جمله فعلیه انشائیه سوه .

(۱۵۴) خَالِفُوا الْمُشْرِكِينَ اَوْفِرُوا اللِّحَى وَأَحْفُوا الشَّوَارِبَ (تخریج مشکوة ص۳۸۰ س۱۴ عن ابن عمر رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه : دمشرکانو مخالفت وکړی زیري کړئ اوبریت ښه پرې کړی. **توضیح** : په دې حدیث شریف کي دمشرکانو اوکافرانو دمخالفت حکم هرمسلمان ته ورکړی سوی دی ، مشرکان زیري خروی اوکموی اوبریت غټوی ،مسلمانانو ته داحکم دی چي تاسو زیري اوږدی کړی اوبریت ښه کټ کړی . **دزیري شرعي حیثیت** : زیره ساتل په هرمسلمان سړي چي عاقل بالغ وي واجب دی . اوځلور ګوتي یعني هر طرف ته یو موتي ساتل واجب دی ،بعضي خلګ په زنه راختلی ویښته ددجي نه پرېکوي چي دهر طرفه زیره راوخیږی بیابه يې بربرډو ، داد دوی سخته غلطي ده اوګناه کبیره ده اوبعضي خلګ دځلورو ګوتونه کمه زیره پریږدي داهم دزیري نه پرېښودلو ګناه لري که چیري دیو طرفه زیره پخپله کمه وي نوپه دې کي څه نقصان نسته ،دتولو ویشتو برابرولو لپاره دیوځای نه ویښته پرېکول یا واړه کول جائز نه دی ،دزیري ثبوت اووجوب دقرآن اوحدیث دواړو نه ملاویږي: .ددې آیت نه دزیري ثبوت وسواود : .ددې آیت نه وجوب ثابتیږي . ځکه چي دزیري کټ کول دالله تعالی پیدا کړی شئ خرابول دی اوپه دې حدیث کي ثبوت اووجوب دواړه دي چي دمشرکانو طریقه زیره خرڅیل دی ، ددې وجي نه تاسو زیري وساتی ، داثبوت سو اوچونکه امر سره ذکر سوی دی ددې وجي نه وجوب هم ثابت سو ،بهرحال زیره ساتل واجب دی ،ددې څخه بغیر روژه ،لمونځ غرض داچي هرقسم عبادت ناقص ګرځي ،یوسړی دنائي خواته ناست ؤ ،زیره يې خرڅیله چاورته وویل ولي زیره خریږ هغه جواب ورکړو چي پخپل مخ باندي چاړه راکاږم تاته څه تکلیف دی تاته خو تکلیف نه درکوم . لومړي سړي ورته وویل په خدای قسم چي ته زما دمحبوب ﷺ زړه ته تکلیف ورکوي .یعني حضور ﷺ ددې څخه په تکلیف کیږي لکه چي دهغه په سینه چاړه راښکلی سي . ددې وجي نه چي کوم سړي ته حضور ﷺ دنورو ټولو شیانو نه محبوب وي (لکه چي دمؤمن کېدلو لپاره داشرط هم دی) اوزیات محبت لري هغه به هیڅکله زیره دیوه موټ نه کمه نه کړي هغه ته په اور سوزیدل په نظر راځي اوپه مخ ګرمه چاړه لګیدل محسوس کیږي ،دزیري په موضوع دیري رسالی لیکلی سوی دی . (۱) داړهي کي شرعی حیثیت (۲)

: اسلام اور داړهي کامقام .(۳): داړهي کاوجوب . چې کوم سړی زیات تحقیق کول غواړي هغه رسالوته دي رجوع وکړي ،دغه شان داخبره یادساتل پکار ده چې دبیري نه انکار او وریاندي خندا کول کفر دی او بیره خرول لنډول فسق اوفجور اوګناه کبیره ده په بیره کي لس شیان مکروه دی ،بعض تحریمي اوبعض تنزیهي زیات تفضیل په مرقات جلد ۸ صفحه ۲۹۱ کي وګورئ .**دبریتو شرعي حیثیت** : دواړو طرفونو ته غاړي پرېښودل چې په خوله کی نه لګی اولاندي طرف ته ځی مستحب دی اوباقي ټول بریت ښه کمول سنت دی ، اوپه شونډوباندي دخولې دطرف نه اوچتول اوباقي واړه کول هم تیک دی ،یعني وېښته واړه کول نیمه شونډه خالي ساتل اونیمه وړووړو وېښتو سره پرېښودل هم تیک دی ،په یو مرفوع روایت کي راځي چې حضور ﷺ به هره جمع بریت اونوکان پرېکول اوپه یو مرفوع روایت کي راځي چې کوم سړی دجمعې په ورځ نوکان پرېکوي الله تعالی هغه ت دویمي جمعې پوري دټولو مصیبتونو څخه محفوظ ساتي ،اوبده اوبده بریت ساتل چې په خوله لګیږي مکروه دی اودخلو وېښتو ورځو نه زیات تیرول اوبریت نه پرېکول هم مکروه دی ، نوکان، بریت اودنامه لاندي وېښتان مکروه دی اودترخونو وېښته خلو وېښت ورځو کي دننه دننه کټ کول ضرور دي کنی نو زموږ په نزد به دوعید مستحق وي (مرقات ص۲۹۱ **لغوي اوصرفي تحقیق** : اوفروا دادافعال نه امر دی په معنی د ډیر اوبده کړی اللحی په کسرې سره اوپه ضمي سره جمع ده دلحیة او کوم شئ چې په اننګو اوپه زنه باندي اوټو کیږي هغه لحیه (بیره) ده . احفوا داهم دباب افعال نه امر دی ،معنی یې ده چې ښه یې کټ کړئ . **ترکیب** : خالفوا فعل واو فاعل ، المشرکین مفعول به ، فعل سره دخپل فاعل اومفعول به نه جمله فعلیه انشائیه مبین سوه اوفروا فعل واو فاعل ،اللحی مفعول به ، فعل سره دفاعل اومفعول به نه معطوف علیه ،واو عاطفه ،احفوا فعل فاعل . الشوارب مفعول به ،فعل سره دفاعل اومفعول به نه معطوف ،معطوف علیه سره دمعطوف نه جمله معطوفه بیان دمبین سو، مبین سره دبیان نه جمله فعلیه انشائیه سوه .

(۱۵۴) **بَشِّرُوا وَلَا تُنَفِّرُوا وَيَسِّرُوا وَلَا تُعَسِّرُوا** (بخاري اومسلم) (تخریج مشکوة صفحه ۳۲۳ س ۲۰ عن ابی موسی رضی الله عنه مرفوعا

ژباړه : خوشخبري (زیری) ورکړی اونفرت مه خوروی اوآساني وکړی اوپه مشکل کی مه اچوی .

توضیح اوشان ورود :دا ارشاد به هغه وخت رسول الله ﷺ بیان فرمایلو چې کله په څه معامله کي به یې یوصحابي چرته لیږلو نو ورته به یې فرمایل : چې خلګو ته خوشخبري واوروه او زیری ورکړه چې ثواب ملاویدلو ملاویدلو والا دی ،غرض دادی چې دالله تعالی درحمت شان اومغفرت ډیر بیانوه او ویفرمایل چې دخلګو په ویرولو کي دومره مبالغه مکوه چې هغو دالله تعالی درحمت څخه ناامیده سي اواعمال صالحه پریږدی او وی فرمایل چې معاملات اسان کړه څومره چې کېدلی سي دهرمؤمن ورور خیال ساته اود دوی لپاره دهرقسم اسانو خیال ساته او دوی په تکلیف کي مه اچوه چې په هغوي باندي مشقتونه واچوی ،په دې امت کي خواساني اوآسانی دی چې په لږه نیکي ډیر زیات ثواب ورکول کیږي ، ددې جې نه عمرونه هم ددې امت کم مقرر سوی دی ،بهرحال دین اسان کړی سوی دی اودې امت ته په تحققه کي ورکړی سوی دی ځکه دآسانی خورولو حکم دی اومشقت نه منع کړی سوی ده ،خامخا به مشقت کي خپل ځان اچول نه دی پکار اود نورو خلګو لپاره صرف داسانی

سوچ کول پکار دی ، دخپل ځان لپاره که څه مشقت هم وي نو د ثواب په نیت سره برداشت کېدلی لیکن دنورو لپاره دلومړی نه داسانی سوچ کولو حکم دی ، خپل ځان هم دزیات مشقت نه بچ ساتل پکار دی ، ځکه چې په حدیث شریف کې راغلی دی چې څوک دحد نه زیات خپل ځان مشقت کې اچوی الله تعالی هغه په مشقت کې پریږدي .

ترکیب : بشروا فعل واو فاعل ، فعل سره دفاعل نه معطوف علیه ، واوعاطفه ، لاتنفرو فعل اوفاعل ، فعل سره دفاعل نه معطوف ، معطوف علیه سره دمعطوف نه جمله فعلیه انشائیه معطوفه سوه ، واو استنافیه ، یسروا فعل واوفاعل ، فعل سره دفاعل معطوف علیه ، واو عاطفه ، لاتعسروا فعل ، واوفاعل ، فعل سره دفاعل نه معطوف . مطعوف علیه سره دمعطوف نه جمله فعلیه انشائیه معطوفه سوه .

(۱۵۶) أَطْعِمُوا الْجَائِعَ وَعُودُوا الْمَرِيضَ وَفُكُّوا الْعَانِيَ ، (بخاری) (تخریج مشکوة صفحه ۱۳۳ س ۱۳ عن ابی موسی رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه : خوراک خوری په اوږي اوپه مریض پوښتنه کوی اوخلاص کړی قیدي . **توضیح** : په دې حدیث کې دهرمسلمان لپاره درې حکمونه دي . **اول** : اوږي ته خوراک ورکړی ددې مطلب څه دی ، هرېنده دخوراک څخه مخکې اوږی وي ایاهرېنده به هرېنده ته خوراک ورکوي ؟ داسي نه ده په دې کې درې صورتونه دي ، فرض عین ، فرض کفایه اوسنت ، طعام ورکول هغه وخت فرض عین دی چې کله یوسړی داضطرار (مجبوری) حالت ته ورسیږي اودهغه سره صرف یوسړی دی نوپه داسي صورت کې دغه سړي لپاره فرض عین دی چې هغه دي اوږي ته طعام ورکړي ، کوم چې مضطر دی اومړ کیږي ، فرض کفایه هغه وخت وي کله چې یوسړی حد اضطرار ته ورسیږي اوطعام ورکونکی ډیروي که چیرې په دوی کې یوهم طعام ورکړو نود ټولو دطرفه به فریضه اداسي ، کنی ټول به ګنهګاروي او کله چې هغه اوږی اضطرار ته نه وي رسیدلی نوهه ته طعام ورکول سنت اومستحب دی . دویم : حکم په حدیث کې دمریض پوښتنه ده ، کله چې یومسلمان ورور مریض سي نودهغه لپاره که چیرې ذمه دار او وارث یعني څوک محافظ وي نوعیادت کول سنت علی الکفایة (دشپې په وخت) دی کنی نوعیادت واجب دی . دریم : حکم دادی چې هغه قیدي کوم چې په ناحقه باندي قید وي هغه خلاص کړي دا واجب علی الکفایه دی ، چې یو کس یې آزاد کړي نود ټولو ذمه فارغ سوه ، ددې یوه معنی داهم کړی سوی ده چې غلامان آزاد کړي . (حاشیه مشکوة صفحه ۷) **لغوي اوصرفي تحقیق** : فکوا دادنصر څخه امر دی په معنی دخلاصولو سره ، العانی داهم دنصر څخه صیغه دصفت ده په معنی دقیدي سره . **ترکیب** : اطعموا فعل واوفاعل ، الجائع مفعول به ، فعل سره دفاعل اومفعول به نه معطوف علیه ، واوعاطفه ، عودوا فعل واو فاعل المریض معفول به ، فعل سره دفاعل اومفعول به نه معطوف ثانی ، معطوف علیه سره دمعطوفینو نه جمله فعلیه انشائیه معطوفه سوه .

(۱۵۷) لَاتَسُبُّوا الدِّيكَ فَإِنَّهُ يُوقِظُ لِلصَّلٰوةِ (تخریج مشکوة صفحه ۳۶۱ س ۲۳ عن زید بن خالد رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه : بنکنځل مه کوئ چرګ ته ، بې شکه دې بیداره کونکی وي دلمانځه لپاره . **توضیح** : چرګ ته بنکنځل مه کوی ځکه چې دابیدارول کوي دلمانځه لپاره یعني دی آواز کوي سهار په وخت اودلمانځه لپاره ټول راخبره وي ، ددې وجې نه ده ته بدمه وایاست ، ددې حدیث شریف په باره کی څوخبري دي (۱) : یوه باریکه اشاره ده هغه داچې په بعضو ځناورو کې بنه عادتونه وي چې دهغه په وجه هغوی ته بنکنځل کولو نه منع سوی ده نودیو مؤن بل مؤمن ته

بسکنځل کول څنګه جائز کېدلی سي، ځکه چې هر یو مؤمن دبنو خویانو ماده لري. (۲): په جرګ کي د ټولو نه لویه عجیبه خبره داده چې هغه دشپې وختونه بنائي. (۳): قاضي حسن رحمه الله اوامام شافعي رحمه الله اومتولی رحمه الله په مجرب جرګ باندي دلمونځو دوختونو داعتماد دجواز فتوی ورکړی ده. (۴): په جامع صغیر کي دجرګ په فضیلت کي ډیر څه ذکر سوی دی ډیر روایات اواحادیث موجود دی (۵): حضور صلی الله علیه وسلم لپاره یوسپین چرګ ؤ اوصحابه کرامو به په سفر کي ځان سره جرګ ساتلو چې دلمانځه لپاره وختونه ورته معلوم سي (۶): په معجم طبراني کي مرفوعا دی چې الله تعالی لپاره یوسپین جرګ دی دي چې دهغه دواړو وزري بنائسته کړی سوی دي په سرو اوشنو کانړو اولعلونو سره، ددغه چرګ یو وزر په مشرق اوبل په مغرب کي دی اودهغه سر دعرش نه لاندي اودهغه پښې په هوا کي دي، هغه آذان کوي هره ورځ دپیښمني وخت کي، دهغه آواز ټول دزمکي والا اوري اواسمان والا، سواد پیریانو اوانسانانو څخه، نو په دغه وخت کي دزمکي ټول چرګان دهغه دآواز اوریدلو جواب ورکوي چې کله قیامت نژدی سي الله تعالی به وفرمایي (چرګ ته) خپلي وزري راټولي کړه اوخپل آواز بند کړه نو ټول داسمان اوزمکي اوسیدونکي به سوا دثقلینو (جن وانس) څخه پوهه سي چې قیامت نژدی دی. (مرقات ص ۱۴۴ ج ۸) **لغوي اوصرفي تحقیق**: د دیک معنی چرګ. دسپرلي موسم، یوقظ داباب افعال څخه مضارع ده په معنی دویښیدو دی. **ترکیب**: لاتسبوا فعل واو فاعل الدیک مفعول به، فعل سره دفاعل اومفعول به نه معلل، ف تعلیلیه ان حرف مشبه بالفعل. ه ضمیر اسم دان، یوقظ فعل هو فاعل، ل جار الصلوة مجرور، جار سره دمجرور نه متعلق په فعل پوري. فعل سره دفاعل اومتعلق نه جمله فعلیه خبریه خبر دان، ان سره داسم اوخبره جمله اسمیه خبریه تعلیل، معلل سره د تعلیل نه جمله فعلیه انشائیه تعلیله سوه.

---

(۱۵۸) لَا يَقْضِيَنَّ حَكَمٌ بَيْنَ اثْنَيْنِ وَهُوَ غَضْبَانُ (بخاري ومسلم) تخریج مشکوة صفحه ۳۲۴ س ۱۲ عن ابی بکرة رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه: بالکل دي فیصله نه کوي یوحاکم د دوو کسانو په مینځ کي په داسي حال کي چې هغه دغصې په حالت کي وي. **توضیح**: داحدیث شریف دهر دوو جګړه کونکو په مینځ کي دفیصلې کونکي په باره کي دی، په دې کي ټول حاکمان، قاضیان، وزیران وغیره شامل دی، مطلب دادی چې څوک حاکم (فیصله کونکی) دي د دو خصمینو په مینځ کي دغصې په حالت کي فیصله نه کوي ځکه چې غصه دفکر اوسوچ کولو لپاره یومنع کونکی شئ دی، دغه شان په سخته یخنۍ کي هیڅکله فیصله اورول نه دي پکار، ځکه چې انسان په یخنۍ کي یخ نیولی وي کېدی سي چې دګرمۍ په وجه ده ته ویره وي اوددغه ویري په وجه فیصله صحیح ونه سي، دغه شان دسختي لوږي په حالت کي اودغه دسختي تلواري په حالت کي فیصله ورکول نه دی پکار، ځکه چې کېدی سي چې په تلواره کولو کي فیصله خرابه وسي، دغه شان دناروغې په حالت کي هم فیصله نه ده پکار ځکه چې په دې کي هم دغلطۍ امکان دی، غرض دادی چې په دې ټولو موقعو کي فیصله کول مکروه دی، ځکه چې په حدیث شریف کی دفیصلې دخرابیدلو په وجه دغصې په حالت کي دفیصلې کولو نه منع کړی سوی ده، نو په دې موقعو کي هم په فیصله کي دغلطۍ دامکان په وجه فیصله مکروه ګرځول سوی ده. **ترکیب**: لایقضین فعل حکم ذوالحال، واو حالیه، هو مبتداء، غضبان خبر، مبتداء سره دخبر نه جمله اسمیه خبریه حال سوه، ذوالحال سره دحال نه

فاعل بین مضاف، اثنین مضاف الیه، مضاف سره د مضاف الیه نه مفعول فیه، فعل سره د فاعل او مفعول فیه نه جمله فعلیه انشائیه سوه.

(۱۵۹) إِيَّاكَ وَالتَّنَعُّمَ فَإِنَّ عِبَادَ اللهِ لَيْسُوا بِالْمُتَنَعِّمِينَ (رواه احمد) (تخریج مشکوة صفحه ۴۳۹ س ۱۱ عن معاذ بن جبل رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه: ته ځان ساته د ناز او نعمت نه، بې شکه د الله تعالی بندګان نه وي د ناز او نعمت والا څخه.

توضیح او شان ورود: د تنعم معنی ده په خپل خواهشات ټوله کول کې ډیر زیاتوالی کول او تلواره کول، کله چې حضور صلی الله علیه وآله وسلم معاذ بن جبل رضی الله عنه یمن لیږلو هغه یې ورته وفرمایل (هر مسلمان ددې مخاطب دی) چې ته ناز او نعمت سره ژوند مه تیروه، د الله تعالی بندګان په لږه باندې ګذاره کوي (وخت تیره وي) او صبر کوي کوم شئ ورته میسر سي په هغه باندې صبر کوي، دچا په وړاندې شکایت او ګیله نه کوي خصوصا د سفر په وخت ناز او نعمت سره اوسیدل ډیر بده خبره ده، داحقر شیخ حضرت مولانا مسیح الله رحمه الله یوه ورځ په جلال آباد کې په یو مجلس کې فرمایلي ؤ (احقر مصنف رحمه الله پخپله اوریدلی ؤ) چې کله سفر کوی نو دوه شیان وغورزوی. اول غصه، دویم: آرام غوښتل، چې دا دوه شیان په سفر کې نه وي نو سفر به خوندور وي، کنی نو سفر به تریخ اوبې خونده وي، دا ازمائیلی سوی سوی، بلکه تجربه سوی طریقه ده چې په سفر کې که چیرې څوک غواړي چې سفر بې مزې اوبې خونده نسي نو غصه دي نه کوي او آرام طلب دي نه جوړیږي چې هروخت دي آرام او سکون وي، بلکه په سفر کې څه تکلیف ونه وي هغه برداشت کول پکار دی، د مشقت په وجه سره لمونځ نیم کړی سوی دی څه نا څه مشقت ضروري اګرچې د طیارې سفروي، بهرحال ناز او نعمت سره اوسیدل منع کړی سوی دی. ځنګه چې په سفر کې آرام طلبي نه ده پکار دغه شان خپل ځان همېشه مسافر ګڼل پکار دي، ځکه چې دنیا مسافر ځانه ده، ددې تفصیل په حدیث ۱۵۱ کې تیر سوی دی، لهذا لکه څنګه چې سړی په سفر کې ناز او نخرې په عام طور نه کوي دغه شان په عام حالاتو کې اوسیدل پکار دی. **ترکیب**: ایاک ضمیر منصوب منفصل مفعول به، تقدیر د عبارت داسي سو اتق نفسک. اتق فعل انت فاعل، نفسک مضاف او مضاف الیه، مضاف سره د مضاف الیه نه معطوف علیه، والتنعم معطوف، معطوف علیه سره د معطوف نه مفعول به. فعل سره د فاعل او مفعول به نه معلل. ف تعلیلیه ان حرف مشبه بالفعل، عباد الله مضاف او مضاف الیه، مضاف سره د مضاف الیه نه اسم دان. لیسوا فعل ناقص، واو ضمیر اسم دلیسو، ب جاره زائده. المتنعمین یې خبر. لیسو سره د اسم او خبر نه جمله فعلیه خبریه خبر، ان سره د اسم او خبر نه تعلیل. معلل سره د تعلیل نه فعلیه انشائیه تعلیلیه.

(۱۶۰) اعْتَدِلُوا فِي السُّجُودِ، وَلَا يَبْسُطْ أَحَدُكُمْ ذِرَاعَيْهِ انْبِسَاطَ الْكَلْبِ.

(بخاري ومسلم. تخریج مشکوة صفحه ۸۳ س ۲۲ عن انس رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه: میانه روي (اعتدال) اختیار کړی په سجدو کې، اونه دی خوروی په تاسو کې څوک خپلي څنګلي (لاسونه) دسپې د خورولو په شان. **توضیح**: په مسجدو کې د اعتدال سالتو مطلب دادی چې سجده د میانه روی په حالت کې ادا کوی، مخکې یې تفصیل هم وفرمایلو چې خپلي څنګې دسپې پشان مه خوره وی. بلکه اوچتي یې ساتی او دزمکي نه یې لوړې کوی، د حضور صلی الله علیه وآله وسلم څنګلي به دزمکي نه دمره اوچتي وي چې د ترخونو مبارکو

سبین والی به په نظر راتللو اودهغوی متې به دپتون نه دومره لري وی چې دیوې وزې بچې به په کې تیریدلی سو ،غرض داچې داعتدال تعلیم ورکړی سوی دی اعتدال دلمانځه په هرکن کې ضروری دی او واجب دی لیکن سجده دلمانځه یولوی رکن دی ، ددې وجې نه ددې ذکر خاص طور سره وکړی سو . (مشکوة حاشیه ۱۱ بحواله مرقات) زیات تفصیل لپاره وګوری رساله (نماز سنت کے مطابق پڑھے) **ترکیب** : اعتدلوا فعل واو فاعل . فی المسجد جار اومجرور ، جارسره دمجرور نه متعلق سو په فعل پورې ،فعل سره دخپل فاعل نه اومتعلق نه معطوف علیه ،واو عاطفه،لا یبسط فعل ،احد کم مضاف اومضاف الیه فاعل ، ذراعیه مضاف اومضاف الیه مفعول به . انبساط الکلب . مضاف اومضاف الیه مفعول مطلق ، فعل سره دفاعل اومفعول به اومفعول مطلق نه جمله فعلیه انشائیه معطوف سوه معطوف علیه سره دخپل معطوف نه جمله فعلیه انشائیه معطوفه سوه .

(۱۳) لَاتَسُبُّوا الْاَمْوَاتَ فَاِنَّهُمْ قَدْ اَفْضَوْا اِلٰی مَاقَدَّمُوْا . (بخاری) تخریج مشکوة صفحه ۱۴۵ س ۲۷ عن عائشه (رض) مرفوعا)

ژباړه : بداورد مه وایه مړو ته ، پس بې شکه هغوی اورسیدل هغه شئ ته کوم چې هغوی وړاندې لیږلی دي .

توضیح : هیڅ یو مړی ته که نوی وي یا زوړ وي نیک وي او که بد ،بنکنځل کول یا بد ورته ویل ترهغه وخت پورې ناجائز دي چې ترڅو یقیني طور سره دانه وي ثابت چې هغه کافر ؤ لکه فرعون ،یاابی لهب،یاابوجهل یاقارون ، ددوی کفر په قطعي طور سره ثابت دی ، ددې وجې نه هغوی ته بدویل ګناه نه ده ، مړي ته بدویلو نه دمنع کولو وجه حضورس وړاندې دابیان کړه چې هغوی کوم څه وړاندې لیږلی دی یعني اعمال وغیره یې کړی دي هغی ته هغوی رسیدلی دي . اوس چې هغوی څنګه عمل کړی دی هم هغه شان به بدله بیا مومي . تاسو هغوی ته ولي وایاست؟ تاسو به خپلو قبرونو ته ځي خپل عملونه به ځان وړی اوهغوی ځان سره خپل عملونه وړي دي ، ددې وجې نه اګر چې هغوی ګنهګار وي هغوی ته بنکنځل مکوی ،په بل حدیث کی راغلی دی چې چې تاسو دالله تعالی ګواهان یې په زمکه باندې تاسو چې څنګه ګواهي کوئ هغه شان به الله تعالی کوی ،یعني که تاسو مړي ته ښه وایي نو هغه به جنت ته اوکه چیري تاسو دهغه بد وایاست نو جهنم ته به ځي . ددې وجې نه پخپله نیکي کول پکار دی . چاته بد رد ویل نه دي پکار ،اوپه بل حدیث کي دحضور ارشاد دی چې څوک مسلمان مړسي اودهغه لپاره دوه کسان هم دخیر اودنیکی ګواهي ورکړی نو الله تعالی به هغه جنت ته داخل کړي .

ترکیب : لاتسبوا فعل واو فاعل ،الاموات مفعول به ، فعل سره دفاعل اومفعول به نه معلل ، ف تعلیلیه ،ان حرف مشبه بالفعل هم ضمیر دده اسم ، قدافضوا فعل فاعل ، الی جار ،ما موصوله قدموا فعل فاعل . فعل سره دفاعل نه جمله فعلیه خبریه صله ، موصول سره دصلې نه مجرور ، جار سره دمجرور نه متعلق په فعل پورې ، فعل سره دخپل فاعل اومتعلق نه جمله فعلیه خبریه ، خبر دان سو ، ان سره داسم اوخبر نه جمله اسمیه خبریه تعلیل سو . معلل سره دتعلیل نه جمله فعلیه انشائیه معطوفه سوه .

(۱۴) مُرُوْا اَوْلَادَکُمْ بِالصَّلٰوةِ وَهُمْ اَبْنَاءُ سَبْعِ سِنِیْنَ وَاضْرِبُوْهُمْ عَلَیْهَا وَهُمْ اَبْنَاءُ عَشْرِ سِنِیْنَ وَفَرِّقُوْا بَیْنَهُمْ فِی الْمَضَاجِعِ
(تخریج مشکوة صفحه ۵۸ س ۱۳ عن عمرو بن شعیب عن ابیه عن جده مرفوعا)

ژباړه : حکم کوئ خپل اولاد ته دلمانځه په داسي حال کي چي هغوی داووه کالو وي اوضرب يعني وهل ورکوی هغوی لره (يعني په لمانځه نه کولو باندي) په داسي حال کي چي هغوی دلسو کالو وي اوجدائي وکړی دهغوی په مينځ کي د وديدو په ځايونو کي. **توضيح** : کله چي اولاد نارينه وي يازنانه داوو کالو سي نوهغوی ته دلمانځه کولو حکم کوئ چي دلمانځه سره يې محبت پيدا سي اوکله چي دلسو کالو سي نوييا که يې لمونځ نه کوی نوهغوی د تربيت لپاره معمولي وهل ورکوی چي دبالغ کېدو څخه مخکي دلمانځه مضبوط عادت تيان جوړ سي.

داوو کالو اولسو کالو دتخصيص وجه : دشريعت احکام سړو اوښځو ټولو لپاره دی اولمونځ د ټولو څخه لوی عبادت دی اودلمانځه حکم د ټولو څخه زيات سخت دی اوعام دی ، ددې وجي نه شريعت هلک اوانجلی ته دبالغ کېدو مخکی دلمانځه دعادت جوړولو حکم ورکړی دی ، انجلی دنهو کالو څخه ترپنځلس کالو پوري بالغه کېدی سي اوهلک د دولس کالو څخه ترپنځلسو کالو پوري بالغ کېدی سي . ددې وجي نه چي کله ماشوم د اووه کالو سي نوهغه ته دلمانځه طريق ښودل پکار دی ، چي دلمانځه عادت يې جوړ سي اوکله چي دلسو کالو سي نوييا په هغه باندي لمونځ په وهلو سره کول پکار دی ، ځکه کهچيري هغه انجلی وي نو کېدی سي چي هغه بالغه سوی وي يابالغ کېدونکی وي اوکه چيري هلک وي نوهغه بالغ کېدو ته نژدی دی ، ددې وجي نه دلمانځه سره دمحبت پيدا کولو لپاره هغه هم دلمانځه عادتي جوړ کړئ .غرض دادی چي دبچي تربيت په ماشوم والي کي په څه طريقې سره وسي هغه به هم هغه شان ژوند تيره وي اوکله چي دلسو کالو سي نوييا هلک اوانجلی جلا جلا ويده کوي لسو کالو څخه وروسته دهلک اوانجلی ګډ پرپوتلو نه منع وفرمايله ليکن دوه هلکان (لوی وي اوکه واړه) اوکه دوی انجوني وي هغه وړی وي اوکه غټي چي جلا کېږي يې اغوستي وي نو په يوه بستره کي پرپوتی سي په دې کي باک نسته ، چي څه غلط اوخيانت کار نه کوي .انجلی اوهلک چي ترڅو پوري دواړه واده سوي نه وي ، په هرحال کي به ځانله ويده کيږی ښځه او خاوند يوځای ويده کېدی سي ، د دوی نه علاوه ټول صورتونه دسړي اوښځي ديوځای ځملاستو يعني په يوځادر کي ناجائزدی . **ترکيب** : مروا فعل واو ضمير بارز هغه يې فاعل ، اولاد کم مضاف اومضاف اليه ذوالحال ، واو حاليه ، هم مبتداء ، ابناء مضاف ،سبع مضاف اليه ، مضاف ، سنين مضاف ، مضاف سره دمضاف اليه بيا مضاف اليه سو ،مضاف سره دمضاف اليه نه خبر ، مبتداء سره دخبر نه جمله اسميه خبريه حال سو ،ذوالحال سره دحال نه مفعول به ،بالصلوة جار اومجرور متعلق سو په فعل پوري ، فعل سره دفاعل اومفعول به اومتعلق نه معطوف عليه ، واوعاطفه،اضربو فعل اوفاعل ،هم ذوالحال ، واو حاليه ، هم ابناء عشرسنين مبتداء خبر جمله اسيمه خبريه حال سو ، ذوالحال سره دحال نه مفعول به ،عليها جار اومجرور متعلق سو په فعل پوري ، فعل سره دفاعل اومفعول به اومتعلق نه معطوف اول ،واو عاطفه ،فرقوا فعلسا اوفاعل ، بينهم مضاف اومضاف اليه مفعول فيه ، فی المضاجع جار اومجرور متعلق په فعل پوري ، فعل سره دفاعل اودانمفعول فيه اومتعلق نه معطوف ثانی ،معطوف عليه سره دمعطوفينو نه جمله فعليه انشائيه مطعوفه سوه.

(۱۴) تَعَاهَدُوا الْقُرْآنَ فَوَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَهُوَ أَشَدُّ تَفَصِّيًا مِنَ الْإِبِلِ فِي عُقُلِهَا

بخاري ومسلم . تخريج مشکوة صفحه ۱۹ س ۱۳ عن ابی موسی الاشعری رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه :یاد کړی قرآن پس قسم دی په هغه ذات دچا په قبضه اوقدرت کي چی زما ساه ده ،البیته دازیات سخت دی داوښ نه دخپل رسی په خلاصولو کي. **توضیح**: دقرآن نه چي څه حصه یاده وي یا ټول یادوي نو دهغه حفاظت کوی اوهمیشه تلاوت کوئ چي دزړه نه ونه وزي ،قرآن نه لوستلو سره هیر یږي ،دقرآن څه حصه یا پوره قرآن یادولو په وخت کي څومره چي یاد وي یادساتل په هرمسلمان سړي اوښځه باندي فرض عین دی ،مثلا چاچي سورة یسین یاد کړو نودیادولو په وخت کي یې یوغلطي کوله څه زمانه پس دوی غلطي سوی نواوس یې دفرضو پرېښودلو پشان ګناه ده ،دغه شان حافظ ته چي دحفظ پوره کولو په وخت کي څومره یاد ؤ هغومره ترمرګ پوري یادساتل فرض عین دی ،که چیري دیوې غلطي اضافه هم وسه نود ګناه کبیره ارتکاب به وي ،روزانه تلاوت نه کولو سره قرآن کریم د زړه څخه وزي ،ددې مثال حضور ﷺ بیان کړو ،چي یواوښ په خپل رسی خلاصولو کي دومره تیز اوبهادر نه دی څومره چي قرآن یعني قرآن دیو اوښ نه هم زیات په تلوار سره کار کوي اود زړونو نه ژر وزي په یویل روایت کي دغه شان راغلی دی چي قرآن یاد کړئ ځکه چي دادانسانانو دسینو څخه ډیر سخت دی په وتلو کي داوښانو خلاصیدلو نه .اصل روایت :فی عُقُلها .دی یعني فی هم موجود دی اوهغه دمن په معنی سره دی عقل په ضمه دعین اوقاف سره دی ،دعقال جمع ده لکه کتب دکتاب جمع ده په دې کي یولغت په سکون دقاف سره دی لیکن هغه ضعیف دی .(مرقات صفحه ۲۱۵) **ترکیب**: تعاهدو فعل اوفاعل ،القرآن معفول به ،فعل سره دفاعل اومفعول به نه معلل ،ف تعلیلیه ،واو قسمیه جار ،الذی موصول نفسی مضاف ،مضاف سره دمضاف الیه نه مبتداء .ب جاره ،یده مضاف اومضاف الیه مجرور .جار سره دمجرور نه متعلق په ثبت فعل محذوف پوري ثبت فعل سره دفاعل (هو ضمیر) اومتعلق نه جمله فعلیه خبریه خبر دمبتداء ،مبتداء سره دخبر نه جمله اسمیه خبریه خبریه صله .موصول سره دصلې نه مجرور دجار ،جار سره دمجرور نه متعلق په اقسم محذوف پوري ،اقسم فعل سره دفاعل (اناضمیریه) اوسره دمتعلق نه قسم .ل تاکیدیه .هو مبتداء ،اشد اسم تفضیل ،من الابل .جار اومجرور متعلق سو داسم تفضیل .په اشد کي هوضمیر ممیز .تفصیا مصدر ،فی جار ،عقلها مضاف اومضاف الیه مجرور ،جار سره دمجرور نه متعلق په تفصیا مصدر پوري ،مصدر سره دخپل متعلق نه تمیز ،ممیز سره دتمیز نه فاعل داشد ،اسم تفضیل سره دفاعل اومتعلق نه شبه جمله خبر ،مبتداء سره دخبر نه جواب دقسم ،قسم سره دجواب نه جمله قسمیه تعلیلیه سوه ،معلل سره دتعلیل نه جمله فعلیه انشائیه معلله سوه .

---

(۶۳) لَا تَجْلِسُوا عَلَى الْقُبُورِ وَلَا تُصَلُّوا إِلَيْهَا ،مسلم ،تخریج مشکوة صفحه ۱۴۸ س ۱۰ عن ابی المرثد الغنوی رضی الله عنه مرفوعا

ژباړه :مه کښینی په قبرونو باندي اومه لمونځ کوی دهغوی وطرف ته. **توضیح**: په قبرونو کي دا صاحب قبر حق تلفی ده اومړی سپک مه ګڼړی اومه یې دومره تعظیم کوی چي قبرونو نه قبله جوړه کړی اولمونځ ورته شروع کړی یعني دحد نه زیات تعظیم نه دی پکار اونه دحد نه تجاوز پکار دی اونه په قبر کښیناستل پکار دی نو قبرونو ته زیارت لپاره تلل اوهلته لوستل اوثواب بخښل جائز دی خصوصا دشعبان په پنځلسمه شپه کي اوعام طور دجمعې په ورځ تلل بهتر دی اودعا غوښتل سنت دی ،بهتر داده چي بغیر دلاس اوچتولو نه دعا وغواړي باقي ټول کارونه په قبرونو باندي یا قبرونو سره مکروه تحریمي دی اویعضي تنزیهي دی مکروه تحریمي لکه قبرونو سره

بول وغیره کول . په قبرونو باندي ویده کېدل . اوقبرونو ته مخامخ لمونځ کول اوقبرونو نه دسجدې ځایون جوړول وغیره . کله چې مینځ کې څه دیوال وغیره نه وي اومکروه تنزیهي لکه قبر دیوې لویښتي نه زیات اوچتول . اودمسلم په یوحدیث کې راغلی دی چې حضور ﷺ دقبر پخولو اوپه قبر باندي عمارت جوړولو اوپه قبر باندي کښیناستلو نه منع فرمایلی ده . امام نووی رحمۃ اللہ علیہ ددې حدیث شریف په شرح کې لیکي چې په قبر باندي عمارت جوړول چې ذاتي ځای وي اود جوړونکی ملکیت وي نومکروه دی اوکه عام قبرستان وي نوبیاحرام دی غرض دادی چې دمړي سپکاوی نه دی ، پکار چې په قبرباندي کښیني اوقبر پائمال کړی سي وغیره ، ددې ټولو کارونو نه منع کړی سوی ده . اونه دومره تعظیم پکار دی چې قبرونه سجده ګاه جوړ کړي سي اوقبرونو ته مخ کړي اولمونځ شروع کړي اعتدال (میانه روي) پکار ده . دزیات تفصیل لپاره دمولانا سرفراز خان صفدر صاحب رحمۃ اللہ علیہ کتاب (راه سنت) کتل پکار دی اودملا علی قاري رحمۃ اللہ علیہ کتاب مرقات جلد ۴ صفحه ۶۸ وګورئ)

ترکیب : لاتجلسوا فعل اوفاعل ،علی القبور جار اومجرور متعلق په فعل پوري ،فعل سره دفاعل اومتعلق نه معطوف علیه . واو عاطفه . لاتصلوا فعل اوفاعل ،الی جار ،ها مجرور ،جارسره دمجرور نه متعلق په فعل پوري ، فعل سره دفاعل اومتعلق نه معطوف ،معطوف علیه سره دمعطوف نه جمله فعلیه انشائیه معطوفه سوه .

(۴۵) اتَّقِ دَعْوَةَ الْمَظْلُومِ فَإِنَّهَا لَيْسَ بَيْنَهَا وَبَيْنَ اللّٰهِ حِجَابٌ

(بخاري ومسلم) تخریج مشکوة صفحه ۱۵۵ س ۵ عن ابن عباس رضی اللہ عنہ مرفوعا)

ژباړه : ځان ساته دمظلوم دبنراؤ ځخه ، پس بې شکه نسته دهغوی اوداللہ تعالی په مینځ کې څه پرده .

توضیح اوشان ورود : حضرت عبداللہ ابن عباس رضی اللہ عنہ ځخه روایت دی چې حضور ﷺ کله معاذبن جبل رضی اللہ عنہ یمن لیږلو نو حضرت معاذ رضی اللہ عنہ ته یې وفرمایل چې : کله ته اهل کتابو ته ورسی نود ټولو ځخه مخکې ورته کلمه شهادت طرف ته دعوت ورکړه ، که هغه یې ومنله نوبیا ورته دا وښایه چې اللہ جل جلالہ په شپه اوورځ کې په تاسو پنځه لمونځونه فرض کړی دی که چیري هغوی داهم ومنله نوبیا هغوی ته دا وښایه چې اللہ تعالی صدقه (زکوة) فرض کړی دی چې دمالدارانو ځخه اخیستل کیږي او غریبانو ته ورکول کیږي . که چیري هغوی داخبره هم ومنله نو ته ځان وساته دهغوی دښه مال اخیستلو نه (انصاف کوه) که چیري هغوی په خوښه سره ښه مال درکوي نو واخله کنی نوبیا یادساته چې دمظلوم دبنراؤ نه ځان بچ ساته ، ځکه چې دمظلوم دبنراؤ اوداللہ تعالی په مینځ کې هیڅ پرده نسته یعني دمظلوم بنیره ډیره ژر قبلیږي ، دې نه په هرحال کې ځان ساتل پکار دی . ځکه چې دمظلوم امداد ضرور کیږي ، حدیث قدسي دی ، ابی هریرة رضی اللہ عنہ ځخه روایت دی چې حضور ﷺ وفرمایل چې درې کسان دي چې دهغوی دعا نه ردیږي . **اول : روژه دار** : چې کله روژه ماته کړي ، دویم انصاف دار بادشاه : یعني مسلمان بادشاه . دریم : دمظلوم دعا ، اللہ تعالی د وریځونه دپاسه وچتوی ، اودآسمان دروازې دمظلوم ددعا لپاره خلاصوي او (رب) فرمایي چې زما په خپل عزت قسم دی چې ستا امداد به کوم اګر که دا امداد څه موده پس وي (خدا کی باتیں ص ۱۲۵ بحواله ترمذی) داحدیث دمظلوم په باره کې ؤاوس یوحدیث قدسي دظالم په باره کې دی . دابن عباس رضی اللہ عنہ ځخه روایت دی چې اللہ تعالی په حضرت داؤد علیہ السلام باندي وحي نازله کړه چې اې داوده ! علیہ السلام ظالمان امرا ، اوحکام

خبر کړه چې هغوی دزما ذکر نه کوي ځکه چې زما دا اصول دي چې څوک زما ذکر کوي نو زه دهغوی ذکر کوم اود دغه ظالمانو ذکر زما سره دادی چې په دوی باندې لعنت وکړم (انتهی) ددې وجې نه هغوی دی زما ذکر نه ځان بچ کړی (دیلمي ابن عساکر په حوالهخدا کی باتی ص صفحه ۵۶) **ترکیب**: فعل انت فاعل ،دعوة المظلوم مضاف اومضاف الیه مفعول به، فعل سره دفاعل اومفعول به نه معلل ،ف تعلیلیه ان حرف مشبه بالفعل ،ه ضمیر اسم ،دلیس دفعل ،ناقص ،بینها ،مضاف اومضاف الیه ، معطوف علیه ، واو عاطفه ،بین الله مضاف اومضاف الیه معطوف ،معطوف علیه سره دمعطوف نه مفعول فیه سو دثابتا محذوف لپاره ،ثابتا اسم فاعل ،(هو ضمیر) اومفعول فیه سره خبر مقدم دلیس ،حجاب اسم مؤخر ،لیس سره دخپل اسم اوخبر نه جمله فعلیه خبریه دان ،ان سره داسم اوخبر نه جمله اسمیه خبریه تعلیل معلل سره دتعلیل نه جمله فعلیه انشائیه .

(۴۳) اِتَّقُوا اللّٰهَ فِیْ هٰذِهِ الْبَهَائِمِ الْمُعْجَمَةِ فَارْكَبُوْهَا صَالِحَةً وَّتُرْكُوْهَا صَالِحَةً (ابوداؤد)

(تخریج مشکوة صفحه ۲۹۲ عن سهل بن الحنظلة رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه : تاسو وویریږي دالله تعالی څخه ددې بې ژبو حیوانانو په باره کې ،پس تاسو سپریږي په دې باندې په داسې حال کې چې داصحیح وي او تاسو پریږدی دوی په داسې حال کې چې صحیح وي . **توضیح اوشان ورود** : راوي حضرت سهل رضی الله عنه فرمایي چې یوځل حضور صلی الله علیه وسلم داسې اوښ سره تیرسو چې دهغه شا دهغه دنس سره لګیدلی وه (ډیر اوږی اوتږی اوښ ؤ) نووی فرمایل : چې تاسو وویریږی دالله تعالی څخه دې بې زبانه څارؤ په باره کې ،پس (اوس واوری ترقیامته پوري فیصله) چې دوی باندې هغه سوریږی کله چې داتندرست (څاریه اوماړه) وي او دوی پریږدي په داسې حال کی چې تندرست (اوڅاریه) وي . **مطلب : اول** :چې تاسو په څاروو سورلی کوی نو په دوی کې که چیرې دتللو طاقت وي نو سورلی ورباندی کوی، کنی نو په تکلیف کې یې مه اچوئ او کله چې تاسو هغه دخوراک لپاره پریږدی نو دهغه ښه خیال ساتی چې څاریه وي . دویم : معنی داهم کړی سوی ده چې تاسو په څاروو باندې سورلی کوی چې کله هغه دسورلی صالحه وي یعني من غیر اتعابها چې ستړی نه وي اوهغه پریږدی : قبل اتعابها . یعني دستړي کېدلو نه وړاندې څاروی پریږدی . چې هغه ارام وکړي . غرض دادی چې دوی حفاظت کوی اود دوی دخوراک خاص خیال ساتی اوبغیر دڅه وجې هغه مه وهئ اوپه دوی باندې زیات بوج مه اچوئ . **ترکیب** : اتقوا فعل اوفاعل ،لفظ الله مفعول به ، فی جار ، هذه اسم اشاره ، البهائم موصوف المعجمة صفت ،موصوف سره دصفت نه مشارالیه ، اسم اشاره سره دمشارالیه مجرور ، جار سره دمجرور نه متعلق په فعل پوري ،فعل سره دفاعل اومفعول به اومتعلق نه مفسر ،ف تفسیریه ،ارکبوا فعل اوفاعل ،ها ضمیر ذوالحال ،صالحه ،حال ،ذوالحال سره دحال نه مفعول به ،فعل سره دخپل فاعل اومفعول به نه جمله فعلیه انشائیه معطوف علیه ، واو عاطفه ،اترکوا فعل اوفاعل ،ها ذوالحال ،صالحة حال ، ذوالحال سره دحال نه مفعول به ،فعل سره دخپل فاع اومفعول به نه جمله فعلیه انشائیه معطوف ،معطوف علیه سره دمعطوف نه جمله فعلیه تفسیر ،مفسر سره دتفسیر نه جمله فعلیه انشائیه تفسیریه سوه .

(۴۴) لَا یَخْلُوَنَّ رَجُلٌ بِامْرَأَةٍ وَلَا تُسَافِرَنَّ امْرَأَةٌ اِلَّا وَمَعَهَا مَحْرَمٌ

(بخاري ومسلم. تخریج مشکوة صفحه ۲۲۱ س ۱۳ عن ابن عباس رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه :هیڅ کله دي یواځي والی نه کوي یوسړی دښځي سره اوهیڅ کله دي سفر نه کوي یوښځه مګر داچي دهغی سره څوک محرم وي . **توضیح اوپوره حدیث** :هرکله چي حضور ﷺ دا ارشاد وفرمایلو چي هیڅ کله دي سړی اجنبي او غیرم محرم بنځي سره نه یواځي کیږي اونه دي ورسره په یواځي والي ورسره کښیني ،نه دي ورسره خبري کوي بلکه نه دي ورسره ځانله کیږي هم اوهیڅکله دي یوه بنځه دخپل بالغ محرم نه بغیر شرعي سفر(اته څلویښت میله فاصله) کوي ، ددې په اوریدلو سره یوصحابي وویل : اکتتبت فی غزوة کذا وکذا . یعني زمانوم ورکړی سوی دي دجهاد لپاره زه جهاد ته ځم اوزما بنځه دحج احرام تړلی او وتلی ده نو په دې باندي حضور ﷺ وفرمایل چي ته ولاړه اودخپل بنځي سره حج وکړه ، ددې څخه معلومه سوه چي دبنځي سره دمحرم تلل په سفر کي ډیر زیات ضروری دی ،ځکه یې دې ته ترجیح ورکړه اوپه جهاد باندي یې مخکي کړلو ، شریعت دبنځي دپاکدامنی خومره خیال ساتلی دی چي دسړي ذمه داري یې ولګوله چي ته به ورسره یوځای ځی ،دښځي سفر یې یواځي ناجائز اوحرام وګرځولو ،دبخاري اومسلم په بل حدیث کي راځي ،ابوهریرة رضی الله عنه فرمایي حضور ﷺ وفرمایل چي هیڅ کله دي یوه بنځه شپه اوورځ سفر نه کوي یعنّي (شپاړس میله) بغیر دخپل محرم نه ،مقصد دادی چي کوم ته په عرف کي سفر ویل کیږي :هغه به بنځه یواځي نه کوي ،دکم سفر شپاړس میله وي یعني دیوې شپې اوورځي سفر ،ددې وجي نه بهتره داده چي هیڅ یوه بنځه به بغیر دمحرم نه سفر نه کوي ،خصوصا دفتنې په زمانه کي ، ځکه چي نهی تاکید سره سوی ده ،لیکن شپاړس اواته څلویښت میله فاصله کي تطبیق په دې طریقه کېدی سي ، چي یوصورت داکېدلی سي چي شپاړس میله کي دننه دننه یواځي سفر کولی سي ،لیکن بیاهم هم بهتره نه ده اودشپاړس میله نه تر اته څلویښت میله پوري دبالغ محرم اودنورو بنځو سره سفر کولی سي اوداته څلویښت یا ددې څخه زیات میله چي نوبغیر دنابالغ محرم نه ناجائز اوحرام دی . (واللّٰه اعلم) په بعضو روایاتو کي شپږ میله اوپه بعضو کي اته اوپه بعضو کي دولس داټول په افضلیت باندي محمول دی . **نکته** : لیکن بیاهم یوه موقعه ده چي هلته شریعت دبنځي بغیر دمحرم نه تلل نه دي منع کړي هغه موقعه صرف اوصرف دهجرت ده ،اوهغه هجرت چي فرض سوی وي چي دانسان لمونځ ،روژه وغیره اداکول ممکن نه وي بیابغیر دمحرم نه هم سفر کولی سي .(مرقات جلد ۵ صفحه ۲۶۸) **ترکیب** :لایخلون فعل ،رجل فاعل ،ب جار .امرأة مجرور ، جار سره دمجرور نه متعلق سو په فعل پوري ،فعل سره دفاعل اومتعلق نه معطوف علیه ،(واو) عاطفه (لاتسافرن) فعل ،امرأة ذوالحال ،الا حرف استثناء لغو ، واوحالیه ، معها :مضاف ،اومضاف الیه مفعول فیه سو دثابت محذوف لپاره ،ثابت اسم فاعل په دې کي ضمیر دی هو هغه یې فاعل ، اسم فاعل سره دخپل فاعل اومتعلق نه خبر مقدم . محرم مبتداء مؤخر ، مبتداء سره دخپل خبر نه جمله اسمیه خبریه حال سو ،ذوالحال سره دحال نه فاعل . لاتسافرن فعل سره دخپل فاعل نه معطوف ، معطوف علیه سره دخپل فاعل معطوف نه جمله فعلیه انشائیه سوه .

(۱۲۸) لَاتَتَّخِذُوا الظُّهُورَ دَوَابَّكُمْ مَنَابِرَ ،ابوداؤد) تخریج مشکوة صفحه ۳۴۰ س ۲ عن ابی هریرة رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه : مه جوړوی دخپلو څاروو بناګاني منبرونه . **توضیح** :اومکمل حدیث : بغیر دځه ضرورت نه په حارو باندي سپر ېدل یا په تلو تلو کي چاسره ودرېدل فضول خبري کول اواخیستل خرڅول شروع کول وغیره داکار په څارؤ

باندي د ظلم حيثيت لري ، د دې څخه يې منع وفرمايله ، چې د خپلو څاروو شاګاني منبر مه جوړوی ، يعني په څاروو د پاسه اود ربدلو نه پرهيز وکړي هغه هم دالله تعالى مخلوق دی ، هغوی ته هم د زيات وزن نه تکليف وي ، بيا يې وراندي وفرمايل : چې الله تعالى څاروي ستاسو لپاره تابع کړ ځولی دي چې تاسو ورسيږی هغه بنار ته چيرې چې تاسو ته پياده تللو کې تکليف رسيږي اووی فرمايل چې الله تعالى ستاسو زمکه پيدا کړی ده تاسو په دې باندي خپل ضرورتونه پوره کړئ څاروي ولي تنکوی ، حضور ﷺ پخپله په عرفات باندي په خپله سورلی باندي خطبه ولوسته هغه هم په ضرورت کې داخل وه . غرض دا دی چې بې څاروی ته بغير د ضرورت نه تکليف ورکول نه دي پکار اود ضرورت په وجه د ضرورت په اندازه کفايت کول پکار دی ، دغه شان داخيال ساتل پکار دی چې چيرې سترې سوی خونه دی يا اوږی سوی خونه دی او بغير د ضرورت نه يو څاروی تنګول نه دي پکار اونه يې وهل پکار دی الله تعالى دي موږ ټولو ته صحيح پوهه نصيب کړي . امين ثم امين . (مرقات صفحه ۳۴۵ جلد ۷) **ترکيب** : لاتتخذوا فعل فاعل ، ظهور مضاف دواب مضاف اليه ، مضاف ، کم مضاف اليه ، مضاف سره د خپل مضاف اليه بيا مضاف اليه سو ، مضاف سره د خپل مضاف اليه نه مفعول به اول ، منابر مفعول به ثانی ، فعل سره د فاعل اود دواړو مفعولينو نه جمله فعليه انشائيه سوه .

(۱۶۹) لَاتَتَّخِذُوا شَيْئًا فِيهِ الرُّوحُ غَرَضًا (مسلم) تخريج مشکوة صفحه ۳۵۷ س ۲۶ عن ابن عباس رضي الله عنه مرفوعا

ژباړه : مه جوړوی دروح والا شئ نښه . **توضيح** : دسا والاشئ نشانه مه جوړوی ، د دې څخه مخکې په مشکوة کې د ابن عمر رضي الله عنه نه مرفوعا روايت دی چې حضور ﷺ لعنت فرمايلی دی په داسې سړي څوک چې ديو ژوندي شئ يو اندام (بغير د سخت ضرورت نه) پرې کوی ، يو بل حديث دی په جامع صغير کې د ابن عباس رضي الله عنه مرفوعا روايت دی (مرقات جلد ۸ صفحه ۱۱۶) چې حضور ﷺ منع کړی ده د داسې شئ نشانه ګرځول چې په هغه کې ساه وي ، امام نووي رحمه الله دا بيان ورکړی دی چې دا نهی او ممانعت د حرام والي لپاره دی چې بغير د څه وجې نه يو ساه لرونکی وهل يا يو اندام پرې کول مکروه تحريمي دی او ناجائز دی ، د څو وجو نه (۱) : دساه والاشئ ته عذاب ورکول دي او دا ناجائز دی . (۲) : دساه والا شئ هلاکول دي کومه چې سخته ګناه ده . (۳) : دساه والاشئ مالیت ضائع کول دي دا هم ناجائز او حرام دی ، بهرحال يو ساه والا شئ بغير د سخت ضرورت نه وژل نه دی پکار ، بلکه بعضي ساه والاشئ دانسان لپاره د مغفرت دعا کوي ، نو زمونږ لپاره د ځانورو وهل د عقل نه هم خلاف دی لکين د قربانی په وخت کې ځناور ذبح کول دا په ځناور ظلم نه دی ځکه چې دا د خلق او مالک حکم دی . (مرقات جلد ۸ صفحه ۱۱۶) **ترکيب** : لاتتخذوا فعل او فاعل ، شيئا موصوف فيه جار او مجرور متعلق په ثابتا پورې ، الروح فاعل د ثابتا لپاره ، ثابتا اسم فاعل سره د خپل فاعل او متعلق نه شبه جمله صفت سو ، موصوف سره د صفت نه مفعول به اول ، غرضا مفعول ثانی ، فعل سره د فاعل اود دواړو مفعولينو نه جمله فعليه انشائيه سوه .

(۱۷۰) لَاتَجْلِسْ بَيْنَ رَجُلَيْنِ اِلَّا بِاِذْنِهِمَا (ابوداؤد) تخريج مشکوة صفحه ۴۰۳ س ۲۴ عن عمرو بن شعيب عن ابيه عن جده رضي الله عنه مرفوعا

ژباړه : ته مه کښينه د دوو سړو په مينځ کې مګر د هغوی د دواړو په اجازت سره . **توضيح** : د دوو خلګو په مينځ کې بغير د اجازت نه دناستي څخه سخته منع سوی ده ، د ډيرو حديثونو څخه دا معلوميږي چې کله دوه کسان

یوځای کښینستل غواړي نود دویم کس لپاره دهغوی دواړو په مینځ کي جدایي راوستل دضرر رسولو سبب ګرځي اود تکلیف سبب دی اودامنع ده لهذا د دوو کسانو په مینځ کي بالکل کښیناستل نه دي پکار ،ځکه چي دمختلفو احادیثو نه منع ثابتیږي ،مثلا هم داحدیث چي دابوداؤد شریف روایت دی ، دویم : دبیهقي روایت دی دابن عمرو رضی الله عنه مرفوعا چي حضور صلی الله علیه وسلم منع کړی ده ، ددوو کسانو په مینځ کي کښینستلو نه ، بغیر دهغوی داجازت نه ، دریم : په مشکوة صفحه ۴۳-۲۳ باندي دعبدالله بن عمرو رضی الله عنه څخه مرفوعا روایت دی چي دیوانسان لپاره حلال نه دی چي هغه جدائي راولی د دوو کسانو په مینځ کي (په هغوی کي دکښیناستلوسره) مګر دهغوی په اجازت سره ، (رواه الترمذی وابوداؤد) **د دوو کسانو په مینځ کي دناستي شرعي حکم** : **مسئله** : که چیري هغه دواړه راتلونکی پیژني اوراتلونکی ته هم دامعلومه وي چي ما پیژني اوزما په ناسته دوی ته تکلیف نه رسیږي ،بیا دسلام اچولو نه وروسته اجازت اخیستلو سره په ناسته کي (چي کله دهغوی دواړو اجازت وي) هیڅ ګناه نسته . دویم : که چیري ناستو دوو کسانو راتلونکی ولیدلو نو پاسیدل یا یې ځای پرېښودلو نو راتلونکی لپاره سلام اچولو سره کښیناستل کافی دی .ځکه چي دهغوی درېدل یاځای ورکول دلیل چي څه تکلیف نسته ،بلکه خوشحالیږي . دریم که چیري راتلونکي ته پته وي چي دا دواړه څه خاص خبره کوي نو ددې ناسته دهغوی درضا نه بغیر اواجازت نه بغیر جائز نه دی **ترکیب** : لاتجلس فعل انت فاعل ،بین رجلین مضاف اومضاف الیه ،مضاف سره دمضاف الیه نه مفعول فیه ،الا حرف استثناء لغوی ،بجار ،اذنهما مضاف اومضاف الیه مجرور ،جار سره دمجرور نه معلق په فعل پوري ، فعل سره دفاعل اومفعول فیه اومتعلق نه جمله فعلیه انشائیه سوه .

(۱۷۱) بَادِرُوا اِلَی الصَّدَقَةِ فَاِنَّ الْبَلَاءَ لَا یَتَخَطَّاهَا (رزین) ،تخریج مشکوة ص ۱۶۷ س ۷ عن علی رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه : تلواره کوی په صدقه کي ، پس بیشکه مصیبت مخکي کیدی نسي دصدقې نه . **توضیح** : تلواره کوی په صدقه کولو کي ځکه چي دمصیبت هیڅ پته نه لګیږي چي کله نازلیږي . ځوک چي په صدقه کولو کي تلواره کوي نو دمصیب نه به محفوظ سي ،داهم ویل سوی دی چي صدقه اومصیبت دهغه دوو آسمانو په شان دی چي په هغوی شرط لګولی سوی وي کوم یو چي مخکي وزي ،نو دویم ونه رسیږي ، دغه شان صدقه که چیري مخکي شئ نو مصیبت به نه رسیږي او کله چي صدقه ونکړی نو تکلیف اومصیبت به نازل سي . (مرقات ج ۴ ص ۱۹۹)

دصدقې فضیلت : اول : دفضیلت په باره کي خو یو حدیث تیرسو . دویم حدیث : سخاوت کونکی الله تعالی ته نژدی وي ،جنت ته نژدی وي اوجهنم نه لري وي ،بخل کونکی دالله تعالی نه لري ، دجنت نه لري وي ،دخلګو نه لري اوجنهم ته نژدی وي سخاوت کونکی جاهل یعني څوک چي صرف فرائض اداکوي اونوافل پریږدي اوسخاوت کوي هغه الله تعالی ته زیات محبوب دی دهغه سړي نه چي ډیر عبادت کونکی وي اوبخیل وي . (عن ابی هریرة رضی الله عنه مرفوعا مشکوة س ۱۶۴) دریم حدیث په صدقه کولو سره انسان دخراب مرګ څخه بچ کیږي اوالله تعالی دغضب څخه بچ کیږي .داحدیث وراندي تیرسوی دی . **صدقه څه ته وایي؟** : دصدقې دائره ډیره وسیع ده صرف مال ورکولو ته صدقه نه ویل کیږي بلکه دصدقې مختلف صورتونه دي . (۱) : دټولو څخه بهتره صدقه هغه کومه چي دمال نه کیږي چي په هغه کي دغریب سره امداد کیږي . (۲) : چاته ښه خبره ښودل هم صدقه ده

(۳): یو مسلمان ورور سره په خوشحالی ملاقي کېدل هم صدقه ده . (۴) : دلاري څخه ازغی یا هډوکی وغیره لیري کول هم صدقه ده . (۵): هر نیک عمل هم صدقه ده . **ترکیب** : بادروا فعل اوفاعل ، بالصدقة جار اومجرور متعلق په فعل پورې ، فعل سره دفاعل اومتعلق نه معلل ، (ف) تعلیلیه ان حرف مشبه بالفعل . البلاء : اسم دان ، لایتخطا : فعل هوفاعل ها : مفعول به . فعل سره دفاعل اومفول به نه جمله فعلیه خبریه خبر دان سو . ان سره داسم اوخبر نه جمله اسمیه خبریه تعلیل سو ، معلل سره د تعلیل نه جمله انشائیه تعلیلیه سوه .

(۱۲) لَا تُظْهِرِ الشَّمَاتَةَ لِأَخِيكَ فَيَرْحَمُهُ اللهُ وَيَبْتَلِيكَ

رواه ترمذی ، تخریج مشکوة صفحه ۴۱۴ س ۸ عن واثلة رضی الله عنه مرفوعا

ژباړه : مه ښکاره کوه دښمن په تکلیف باندې خوشحالي دخپل ورور لپاره پس رحم به وکړي په هغه باندې الله تعالی او په امتحان کي به واچوی تا . **توضیح** : شماتت ویل کیږي دشمن مصیب کي لیدلو سره خوشحالیدل . ددې څخه یې منع وفرمایله ، چې څوک د دښمن په مصیبت کي دلیدلو سره نه خوشحالیږي ځکه کېدی سي چې الله تعالی دغه دښمن د مصیبت څخه خلاص کړي او په هغه رحم وکړي او تا (په خوشحالیدو) مصیبت کي اخته کړي ، ددې وجي نه چالره په تکلیف کي لیدلو سره خوشحالیدل نه دي پکار . ځکه چې دا وخت وخت وي . په یو وخت کي څوک خوشحاله وي او په بل وخت کي خفه وي . ددې برعکس معامله هم کیږي ، په دې حدیث کي چې د دښمن په مصیبت د نه خوشحالیدو حکم دی . ددې څخه معلومه سوه چې څوک دښمن نه وي دوست وي یا اجنبي وي نو دهغه په تکالیف باندې خوشحالیدل ډیره ناپوهي اوکم عقلي ده . **ترکیب** : لاتظهر : فعل انت : فاعل . الشماتة : مفعول به . ل : جار . اخیک : مضاف اومضاف الیه مجرور ، جار سره د مجرور نه متعلق سو په فعل پورې ، فعل سره دفاعل اومفعول به نه معلل ، ف : تعلیلیه . یرحم : فعل ، ه : ضمیر مفعول به . لفظ الله فاعل ، فعل سره دفاعل اومفعول به جمله فعلیه خبریه معطوف علیه سوه ، واو : عاطفه : یبتلی فعل . هو ضمیر فاعل ک : مفعول به ، فعل سره دفاعل اومفعول به نه جمله فعلیه خبریه معطوف . معطوف علیه د معطوف نه تعلیل ، معلل سره د تعلیل نه جمله فعلیه انشائیه تعلیلیه سوه .

(۱۳) اتَّقُوا النَّارَ وَلَوْ بِشِقِّ تَمْرَةٍ فَمَنْ لَمْ يَجِدْ شِقَّ تَمْرَةٍ فَبِكَلِمَةٍ طَيِّبَةٍ

بخاری ، تخریج : مشکوة صفحه ۵۲۴ س ۲۴ عن عدی بن حاتم مرفوعا

ژباړه : وویریږی داور نه که څه هم د کهجورې په ټکړی سره وي پس څوک چې بیا نه مومي نو ښه خبري سره .

توضیح : اوشان ورود : دا اوږد حدیث دی . ددې مفهوم یعني معنی کتونکو ته وړاندې کول کیږي ، راوي عدی بن حاتم فرمایي چې زه د حضور ﷺ سره ناست وم چې یو سړی راغی اود لوږي شکایت یې وکړو چې هر وخت لوږه وي ، ددې په جواب کي حضور ﷺ پیښن ګوئي وفرمایله ، که چیرې ستا عمر اوږد سو نو د کسرې خزانې به فتح سي او که ستا عمر اوږد سي نو داسي وخت به راسي چې دزکوة اوخیرات اخیستونکی به هیڅوک نه وي اوبل یو کس راغی هغه د ډاکي (شوکي) په باره کي خبره وکړه چې شوکي کیږي . ددې په جواب کي حضور ﷺ وفرمایل چې اې عدی ! آیا تاحیره (د کوفي سره نژدی یو ښاردی) لیدلی دی ، په بل روایت کي راځي چې عدی رضی الله عنه وویل

چې نه مې ده ليدلى ، ددې جواب کې يې وفرمايل : چې داسې وخت به راسې چې مسافره ښځه به دحيره څخه دمکې پورې ځي اوهغه ته به هيڅ قسم ويره نه وي، سوا دالله تعالى نه ،يعني دومره امن به وي ،چې دخدا ګې وغيره ويره به نه وي اووى فرمايل چې په کومه ورځ الله تعالى سره بلا واسطه ملاقات وي بنده اؤ.اؤ کوي نوچې بنده ښي طرف ته وګوري نوجهنم به ورته په نظر راځي اوچپ طرف ته چې وګوري نوده ته به جهنم په نظر راځي ،بيايې وفرمايل :اتقوا النار الخ. چې د اور څخه وبيريږى يعني زکوة ورکړى اګر چې دخرما ديو ټکړې اندازه وي ، يعني که لږ واجب سوى وي نولږ ورکړى او که زيات واجب سوى وي زيات ورکړى ، غرض دادى چې هغه په واجب کښې وباندې منحصر دى ،وړاندې يې وفرمايل : څوک چې مال نه لري هغه لره پکار دى چې چا ته ښه خبره وښايي داهم صدقه ده ، راوي فرمايي چې دسفر کونکي ښځې په باره کې چې کومه پيشګويي کړى وه هغه ما پخپله وليدله چې دحيره څخه ترمکې پورې ښځه ولاړه اوهغې ته دهيڅا نه ويره نه وه بغير دالله تعالى يعني هرڅاى امن امن ؤ اود دويمې پيشګوئي په باره کې دوه قوله دي هغه وخت چې دزکوة اخيستلو والا به نه وي پاتې نسي ياخود عمر بن عبدالعزيز زمانه وه يا به دحضرت عيسى عليه السلام دنزول څخه وروسته وي ، دازيات راجح قول دى ځکه چې داوخت يقينا راتلونکى دى ځکه چې په دغه وخت کې به مکمل اسلامي نظام وي اوزکوة به هرسړى ورکوي تردې چې اخستلو والا به ډير ځل نه ملاويږي. **ترکيب** :اتقوا :فعل اوفاعل.النار: مفعول به ،واو :وصليه . لو :حرف شرط .ب:جار. شق :مضاف. تمرة مضاف اليه. ،مضاف سره دمضاف اليه نه مجرور دجار ،جارسره دمجرور نه متعلق په فعل پورې ،فعل سره دفاعل اومفعول به اومتعلق نه امر،ف: جوابيه .من :په معنى دان شرطيه .لم يجد .فعل فاعل ، فعل سره دفاعل نه جمله فعليه خبريه شرط سو،ف : جزائيه .ب:جار. كلمة :موصوف. طيبة :صفت. موصوف سره دصفت نه مجرور .جار سره دمجرور نه متعلق په فعل اتقوا محذوف پورې ، اتقوا فعل سره دفاعل اومتعلق نه جزاء. شرط سره دجزاء نه جمله شرطيه جزائيه جواب دامر سو ،امر سره دجواب امر نه جمله فعليه شرطيه امريه سوه .

(١٧٣) جَاهِدُوا الْمُشْرِكِينَ بِأَمْوَالِكُمْ وَأَنْفُسِكُمْ وَأَلْسِنَتِكُمْ (ابو داود)

(تخريج مشكوة صفحه ٣٣٢ س ١ عن انس رضي الله عنه مرفوعا)

ژباړه : جهاد کوى تاسو دمشرکانو سره په خپلو مالونو اوځانونو اوژبو سره . **توضيح** : مشرکانو سره په هرشان جهاد کوي مال سره هم ،بدن سره هم اوبه ژبې سره هم ، مال سره جهاد دادى چې سامان جنګ تيار کړي اودمجاهدينو امداد کوي څومره چې زيات خرچ په جهاد کې وکړى هغومره به زيات ثواب وي ،ځکه چې دمشکوة په حديث صفحه ٣٣٢ س ١٠ خريم بن فاتک رضي الله عنه څخه روايت دى چې حضور صلى الله عليه وآله وسلم فرمايي چې کوم سړى په جهاد کى څه خرڅ کړل نو دهغه لپاره اوه سوه چنده ثواب ليکل کيږي . (رواه الترمذى والنسائي) اوپه ځان سره جهاد دادى چې خپل ځان دالله تعالى په لاره کې دکفارو سره دجنګ لپاره پيش کړي وړاندې که قتل سې نوشهيد دى اوکه يې هغه قتل کړى نوغازي دى ،شهيد اوغازي الله تعالى په نزد ډير لوړ مقام لري ، په مشکوة صفحه ٣٣٣ س ٤ باندې حديث دى دمقدام بن معديکرب رضي الله عنه څخه روايت دى چې حضور صلى الله عليه وآله وسلم وفرمايل چې دشهيد لپاره الله تعالى سره شپږ خصلتونه (انعامونه) دي .(١): لومړى مرتبه کې به بخښنه ورته کيږي اوجنت به ورته ښودل کيږي .

(۲): دعذاب قبر څخه به خلاصیږي. (۳): دلوی ویري نه به محفوظ کړل سي. (۴): دده په سرباندي به یاقوت تاج ایښودل کیږي، (۵): داویا حوروسره به دده نکاح کول کیږي (۶): داویا کسانو لپاره به سفارش کوي. په ژبي سره جهاد کول دادی چې کافران ویره وي اومسلمانانو کي دجهادشوق راپیدا کوي، ددې هم ډیر زیات فضیلت دی اوهغه داچې داهم جهاد دی اودجهاد په ټولو فضیلتونو کي شامل دی. **ترکیب**: جاهدوا: فعل اوفاعل. المشرکین: مفعول به. ب: جار. اموالکم. مضاف اومضاف الیه معطوف علیه، واو: عاطفه. انفسکم: مضاف اومضاف الیه معطوف اول. واو: عاطفه: السنتکم: مضاف اومضاف الیه معطوف ثانی، معطوف الیه سره د دواړو معطفینو نه مجرور دجار، جار سره دمجرور نه متعلق په فعل پوري، فعل سره دخپل فاعل اومفعول به اومتعلق نه جمله فعلیه انشائیه سوه.

اِغْتَنِمْ خَمْسًا قَبْلَ خَمْسٍ: شَبَابَكَ قَبْلَ هَرَمِكَ، وَصِحَّتَكَ قَبْلَ سَقَمِكَ، وَغِنَاكَ قَبْلَ فَقْرِكَ، وَفَرَاغَكَ قَبْلَ شُغْلِكَ، وَحَيَاتَكَ قَبْلَ مَوْتِكَ (رواه الترمذی مرسلا)

(تخریج مشکوة صفحه ۴۴۱ س ۲ عن عمروبن میمون الاودی رضی الله عنه مرسلا مرفوعا)

ژباړه: غنیمت وګڼه پنځه شیان مخکي دپنځو شیانو څخه، خپله ځواني دبوډاوالي څخه مخکي، اوخپل صحت دخپلي ناروغۍ څخه مخکي، اوخپله مالداري دخپلي غریبۍ څخه وړاندي، اوخپل فراغت دخپلي مشغولتیا څخه مخکي اوخپل ژوند دخپل مرګ څخه مخکي. **توضیح اوشان ورود**: حضرت عمرو بن میمون رضی الله عنه فرمایي چې حضور صلی الله علیه وآله وسلم یوسړي ته نصیحت کولو اودپنځه شیانو دقدر کولو نصیحت یې وفرمایلو.

اول: اې مخاطبه! ته دخپلي ځوانۍ قدر وکړه، دبوډا کېدو څخه مخکي. یعني په کومه زمانه کي چې دعبادت کولو زیات طاقت وي هغه طاقت په دغه زمانه کي په عبادت کي خرچ ککړه ځکه چې بوډا سی نوییابه ته دغه شان عبادت نسي کولی. **دویم**: اودخپل صحت قدر وکړه دناروغۍ څخه مخکي، یعني اګرچې بوډا سړی وي دصحت قدر لازم دی یعني خپل طاقت په عبادت کي صرف کړه. **دریم**: اودخپلي مالداری قدر دغریبۍ څخه مخکي وکړه، یعني مالدار کیدلو سره دتکبر نه ځان بچ کړه فخر اوغرور مه کوه کېدی سي چې صبا ته غریب سی، ددې وجي نه نن غریبانو ته وګوره اوپخپله مالداري شکر ګذارسه اوقدر یې وکړه. **څلورم**: اودخپل دفراغت قدر وکړه دخداي پاک په ذکر کي مشغول سه اوخومره زیات عبادت چې کولی هغه وکړه دخپل مشغول کېدلو نه مخکي یعني په څه دنیاوي جائز کار کي مشغول کېدلو نه مخکي یعني اوس په لږ وخت نوکریي کوی یابلکل نوکري نه کوی نو اوس وخت فارغ دی اوپه عبادت کي خرچ کړه اوکله چې څه لږه نوکري یادډیر وخت کار کولو نورکي ولګیده نوییابه دعبادت کولو وخت کم ملاویږي اوددې دامعنی هم ده (زما په نزد) چې دواده څخه مخکي فراغت شان وي په دې وخت کي زیات عبادت کول پکار دی اود واده څخه وروسته مشغولتیا زیاتیږي، ددې وجي نه یې امر وفرمایل چې دخپل فراغت قدر وکړه دخپلي مشغولتیا نه مخکي مخکي. **پنځم**: اودخپل ژوند قدر وکړه دمرګ څخه مخکي، دټولو خبرو خلاصه داسوه چې مرګ ضرور راتلونکی دی اوپه هرسړي راتلونکی دی اوداضروري نه ده چې صرف په بوداوالي کی مرګ راځي بلکه په هروخت کي مرګ راتلی سي، ددې فکر کول پکار دی،

دفرضو،واجبو،سنتو پابندي سره سره دالله تعالی درحمت دنجات امیدلرل هم ساتل پکار دی . الله تعالی دي زمونږ دټولو خاتمه په ایمان سره وکړي اوبغیر دعذاب نه دي زمونږ بخښنه وکړي .امین ثم امین . **فائده اونکته** :به ټول زادالطالبین کی صرفه دوه حدیثونه مرسل دی باقي ټول مسنددي دمرسل معنی مسند حدیثونه هم موجود دی .

پوښتنه : بیایې مرسل دمسند په ځای ولي ذکر کړی ؟ **جواب** :وجه داده چي په نحوي اعتبار سره په یوشان جملو کي حدیثونه ذکر سوی دی ، ددې وجي نه دلته دامرسل مناسب دی . **پوښتنه** :په زادالطالبین کي هغه کوم کوم حدیثونه دي چي مرسل دي؟ **جواب** : یودغه حدیث دی کوم چي اوس تشریح بیان سوه . اودویم دزادالطالبین په صفحه ۳۱ کي دبدعت په باره کي دی . **پوښتنه** : دحدیث مرسل اومسند تعریفونه څه دی ؟ **جواب** :حدیث مرسل هغه حدیث دی چي دهغه دمسند په اخر کي یو راوی غورزیدلی وي اومسند هغه حدیث دی چي په هغه کي ټول راویان ذکر سوی وی ،داتعریف دخیر الاصول فی حدیث الرسول ﷺ صفحه ۴ او ۶ څخه راانخیستل سوی دی . **فائده** : دلته چي کوم داحدیث مرسل دی ددې دامعنی نه چي داضعیف دی اودعمل قابل نه دی بلکه ددې مضمون بل مسند حدیث دمرقات په جلد ۹ صفحه ۳۶۱ باندي په حواله دبیهقي لیکلی سوی دی ، ددې وجي نه دامرسل هم دمسند په حکم کي دی . **ترکیب** : اغتنم :فعل . انت :فاعل . خمسا :مبدل منه اول .شبابک :مضاف اومضاف الیه . معطوف علیه ، واو:عاطفه . صحتک. مضاف اومضاف الیه ،معطوف اول . واو:عاطفه . غناک :مضاف اومضاف الیه . معطوف ثانی . واو عاطفه . فراغک . مضاف اومضاف الیه . معطوف ثالث . واو : عاطفه . حیوتک:مضاف اومضاف الیه . معطوف رابع .معطوف علیه سره دخپلو معطوفات اربعه ؤ نه بدل ،مبدل منه اول سره دخپل بدل نه معفول به . قبل :مضاف .خمسا :مضاف الیه دواړه مبدل منه ثانی . قبل هرم مضاف اومضاف الیه . مضاف . ک: مضاف الیه ، مضاف سره دمضاف الیه بیا مضاف الیه ، بیامضاف الیه سو مضاف سره دمضاف الیه نه معطوف علیه ، واو:عاطفه :قبل سقمک . داهم دغه ټول مضاف اومضاف الیه نه معطوف اول .واو: عاطفه :قبل فقرک . په مخکي ترکیب سره معطوف ثانی ،واو:عاطفه . قبل شغلک ،معطوف ثالث .واوعاطفه : قبل موتک معطوف رابع . معطوف علیه سره دمعطوفات اربعه ؤ څخه بدل .مبدل منه ثانی سره دخپل بدل نه مفعول فیه ،فعل سره دخپل فاعل اومفعول به اومفعول فیه نه جمله فعلیه انشائیه سوه .

لَيْسَ النَّاقِصَة

لَيْسَ الشَّدِيدُ بِالصُّرَعَةِ إِنَّمَا الشَّدِيدُ الَّذِي يَمْلِكُ نَفْسَهُ عِنْدَ الْغَضَبِ (بخاري ومسلم)

تخریج مشکوة صفحه ۴۳۳ س ۱۰ عن ابی هریرة رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه :نه دی پهلوان راپرزونکی بې شکه پهلوان هغه دی څوک چي دخپل نفس مالک وي دغصې په وخت کي .

توضیح : مضبوط اوپهلوان هغه سړی نه دی چي خلګ راپرزوی اوبیوخوابل خو تکبر سره ګرځي اوخلګو دهغه نه ویریږي بلکه بهادر اوپهلوان هغه څوک دی چي دغصې په وخت کي خپل نفس قابو کي وساتي فورا دغصې تقاضا پوره کولو باندي عمل نه کوي ، دحضرت تهانوي رحمة الله علیه ارشاد دی چي غصه اوشهوت دا داسی دوه شیان دي چي ددې په مقتضی باندي فورا عمل کول نه دي پکار ،ددې په درمیانه درجه باندي عمل کول پکار دی

،دغصې درې درجې دي . **اول** : تهور يعني دومره زياته غصه چې دقابو نه بهر سي داناجائزه درجه کي ده . ددې مثال داسي دی چې يوانسان دبجلی په ځای پهنکي وچلولو اوس داسړی دپهنکې چلونکي سره دومره جهګړه کوي چې وهلو ته يې تيارسي داپهلواني نه ده دادغصې ګرمائش اوپې وقوفي ده کوم ته چې دغصې اوچته درجه يعني تهور وبل کيږي **دويم** : جبن بزدلي دغصې ډيرکم والی يا غصه نه موجودبدل داهم په شريعت کي ناجائزده .ددې مثال دادی چې ديوسړي دخور يامورعزت لوټ سي اوده لره غصه نه راځي يا قاضي په عدالت کي دجرم ثابت کېدلو وروسته سزا نه ورکوي دابزدلي ده داهم په شريعت کي ناخوښه کار دی ،شريعت اعتدال خوښوي . **دريم** :شجاعت يعني بهادري داپه غصه کي درميانه درجه ده داسي غصه په هرسړي کي موجودوالی ضروري دی ددې مثال داسي دی چې ماشوم شرارت وکړو پلار يې پوهه کړلو بيايې شرارت وکړو نويو څپيړه يې ووهلو دانه چې لږ شان دطبيعت نه خلاف خبره وسوه ياڅه کار وسو اوسمدستي پرې راباندي کړو دابهادري نه ده ،بهادري دادهه چې سوچ نه پس يې بدله واخيسته اودومره يې واخيسته چې څومره تکليف ورته سوی ؤ ،زياته بدله اخيستلو سره به بيا ظلم سي . **دکلام خلاصه** : خلاصه داده چې طبيعت نه خلاف قول يا فعل باندي دوينې جوش کول غصه ده اوپه غصه کي ميانه روی داده چې دشريعت په حدودو کي ژړه يا لاس استعمال کړي اوغصه قابو کړي دانه چې جنګ په کور کي سوی دی ليکن دغصې اظهار بهرهم کيږي يابرعکس زمونږ شريعت هرځای دميانه روی سبق ورکوي . **ترکيب** : ليس :موصوف الناقصه : يې صفت . مصوف سره دصفت نه مفعول به سو داقراء محذوف فعل لپاره ، اقراء فعل دخپل فاعل (انت) اسره دمفعول به نه جمله فعليه انشائيه سوه ،ليس فعل ناقص. الشديد : اسم دليس .ب: جار. الصرعة: مجرور، جار سره دمجرور نه متعلق په ثابتا محذوف پورې ،ثابتا صيغه داسم فاعل سره دخپل فاعل (هوضمير) نه اومتعلق نه خبر دليس،ليس سره داسم اوخبر نه جمله فعليه خبريه سوه .انما : کلمه دحصر ،الشديد مبتداء ،الذی :موصول .يملک فعل ، هو فاعل،نفسه : مضاف اومضاف اليه مفعول به عند الغضب مضاف مضاف اليه ، مضاف سره دمضاف اليه نه مفعول فيه ،فعل سره دفاعل اومفعول به اومفعول فيه نه صله دموصول، موصول سره دصلې نه خبر ،مبتداء سره دخبر نه جمله اسميه مستانفه سوه .

---

(۱۷۷) لَيْسَ مِنَّا مَنْ خَبَّبَ امْرَاَةً عَلٰى زَوْجِهَا اَوْ عَبْدًا عَلٰى سَيِّدِهٖ (ابوداود) (تخريج : مشکوة صفحه ۲۸۲ س ۶ عن ابی هريرة رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه :نه دی زمونږ نه هغه کس چاچې دهوکه ورکړه يوې ښځې ته دهغه په خاوند باندي يا يوغلام ته دهغه په آقا باندي . **توضيح** :يوې ښځې ته دهغه دخاوند خلاف دهوکه ورکول اوفساد اچول په دې شکل چې فلانکی سړی ډير ښه دی داستا خاوند خوهيڅ شئ نه دی هغه فلانکی خومالدار هم دی اوستا حقونه هم په ښه طريقه سره اداکولی سي ،غرض داچې دپردې سړي صفتونه يې بيان کړل چې دا ښځه دخاوند نه جداسي ،يا يوغلام ته دهغه دمالک خلاف خبري کوي ،چې داغلام وتښتي ،داسي حرکتونو سره ايمان ډير کمزوری کيږي ،ځکه چې دښځې اودخاوند خلاف اودغلام اومولا خلاف خبري کول حرام دی ،دحضور صلی الله عليه وآله وسلم دارشاد مطابق (ليس منا) چې هغه زمونږ څخه نه دی يعني زمونږ په اتباعو کي نه دی هغه فاسق او فاجر دی، کمزوري ايمان والا دی .(مرقات ج ۶ ص ۲۷۴) دکامل اومکمل ايمان والا څوک دی ؟په دې باره کي په مشکوة شريف کي دذکر سوي حديث نه

،دغصې دري درجې دي . **اول** : تهور يعني دومره زياته غصه چې دقابو نه بهر سي داناجائزه درجه کي ده . ددې مثال داسي دی چې يوانسان دبجلی په ځای پهنکي وچلولو اوس داسړی دپهنکې چلونکي سره دومره جهګړه کوي چې وهلو ته يې تيارسي داپهلواني نه ده دادغصې ګرمائش اوبې وقوفي ده کوم ته چې دغصې اوچته درجه يعني تهور ويل کيږي **دويم** : جبن بزدلي دغصې ډير کم والی يا غصه نه موجودېدل داهم په شريعت کي ناجائزده . ددې مثال دادی چې ديوسړي دخور يا مور عزت لوټ سي اوده لره غصه نه راځي يا قاضي په عدالت کي دجرم ثابت کېدلو وروسته سزا نه ورکوي دابزدلي ده داهم په شريعت کي ناخوښه کار دی ،شريعت اعتدال خوښوي . **دريم** :شجاعت يعني بهادري دا په غصه کي درميانه درجه ده داسي غصه په هرسړي کي موجودوالی ضروري دی ددې مثال داسي دی چې ماشوم شرارت وکړو پلار پوهه کړلو بيايې شرارت وکړو نوبيو ځپيږه يې ووهلو دانه چې لږ شان دطبيعت نه خلاف خبره وسوه ياځه کار وسو اوسمدستي پرې راباندي کړو دابهادري نه ده ،بهادري دادهه چې سوچ نه پس يې بدله واخيسته اودومره يې واخيستله چې څومره تکليف ورته سوی ؤ ،زياته بدله اخيستلو سره به بيا ظلم سي . **دکلام خلاصه** : خلاصه داده چې طبيعت نه خلاف قول يا فعل باندي دوينې جوش کول غصه ده اوپه غصه کي ميانه روی داده چې دشريعت په حدودو کي ژړه يا لاس استعمال کړي اوغصه قابو کړي دانه چې جنګ په کور کي سوی دی ليکن دغصې اظهار بهرهم کيږي يابرعکس زمونږ شريعت هرځای دميانه روی سبق ورکوي . **ترکيب** : ليس :موصوف الناقصه : يې صفت . مصوف سره دصفت نه مفعول به سو داقراء محذوف فعل لپاره ، اقراء فعل دخپل فاعل (انت) اسره دمفعول به نه جمله فعليه انشائيه سوه ،ليس فعل ناقص. الشديد : اسم دليس .ب: جار. الصرعة: مجرور، جار سره دمجرور نه متعلق په ثابتا محذوف پوري ،ثابتا صيغه داسم فاعل سره دخپل فاعل (هوضمير) نه اومتعلق نه خبر دليس،ليس سره داسم اوخبر نه جمله فعليه خبريه سوه .انما : کلمه دحصر ،الشديد مبتداء ،الذی :موصول .يملک فعل ، هو فاعل،نفسه : مضاف اومضاف اليه مفعول به عندالغضب مضاف مضاف اليه ، مضاف سره دمضاف اليه نه مفعول فيه ،فعل سره دفاعل اومفعول به اومفعول فيه نه صله دموصول، موصول سره دصلې نه خبر، مبتداء سره دخبر نه جمله اسميه مستانفه سوه .

(۱۷۷) لَيْسَ مِنَّا مَنْ خَبَّبَ امْرَأَةً عَلٰى زَوْجِهَا أَوْ عَبْدًا عَلٰى سَيِّدِهٖ (ابوداود) (تخريج : مشکوة صفحه ۲۸۲ س ۶ عن ابی هريرة رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه :نه دی زمونږ نه هغه کس چاچې دهوکه ورکړه يوې بڼځې ته دهغه په خاوند باندي يا يو غلام ته دهغه په آقا باندي . **توضيح** :يوې بڼځې ته دهغه دخاوند خلاف دهوکه ورکول اوفساد اچول په دې شکل چې فلانکی سړی ډير ښه دی داستا خاوند خوهيڅ شئ نه دی هغه فلانکی خومالدار هم دی اوستا حقونه هم په ښه طريقه سره اداکولی سي ،غرض داچې دپردې سړي صفتونه يې بيان کړل چې دابڼځه دخاوند نه جداسي ،يا يو غلام ته دهغه دمالک خلاف خبري کوي ،چې داغلام وتښتي ،داسي حرکتونو سره ايمان ډير کمزوری کيږي ،ځکه چې دبڼځې اودخاوند خلاف اودغلام اومولا خلاف خبري کول حرام دی ،دحضور صلی الله عليه وآله وسلم دارشاد مطابق (ليس منا) چې هغه زمونږ څخه نه دی يعني زمونږ په اتباعو کي نه دی هغه فاسق او فاجر دی ، کمزوري ايمان والا دی .(مرقات ج ۶ ص ۲۷۴) دکامل اومکمل ايمان والا څوک دی ؟په دې باره کي په مشکوة شريف کي دذکر سوي حديث نه

وروسته په حواله د ترمذی د حضرت عائشې رضی اللہ عنہا څخه مرفوعا روایت دی چې حضور صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم فرمایل چې د ایمان په لحاظ د ټولو څخه کامل ایمان والا هغه سړی دی چې د خلګو سره په ښو اخلاقو ملاویږي او د خپل کور خلګو سره ښه سلوک کوي او د ډې څخه وړاندې په مشکوة شریف کې دی ،د حضرت ابوهریرة رضی اللہ عنہ حدیث دی په حواله د ترمذی چې د ټولو څخه کامل ایمان هغه دی چې ښه اخلاق لري او په تاسو کې د ټولو نه بهر هغه دی چې د خپلو ښځو لپاره بهترین وي . **ترکیب** :لیس:فعل دافعال ناقصه ؤ څخه،من جارنا :مجرور،جار سره دمجرور نه متعلق په ثابتا پوري ،ثابتا اسم فاعل په ډې کې ضمیر دی هو هغه یې فاعل ،اسم فاعل سره د خپل فاعل نه او تعلق نه خبر مقدم.من: موصوله. خبب: فعل هو فاعل ،امرأة: معطوف علیه،او: حرف عطف.عبدا :مطعوف،معطوف علیه سره دمعطوف نه مفعولبه،علی جار،زوجها مضاف اومضاف الیه مجرور، جار سره دمجرورنه معطوف علیه ،او:عاطفه ، علی : جار .سیده: مضاف اومضاف الیه مجرور ،جار سره دمجرور نه معطوف،معطوف علیه سره دمعطوف نه متعلق په فعل پوري ،فعل سره دفاعل اومفعول به اومتعلق نه جمله فعلیه خبریه صله ، موصول سره دصلې نه اسم دلیس ،لیس سره داسم اوخبر نه جمله فعلیه خبریه سوه .

(۱۷۸) لَيْسَ مِنَّا مَنْ لَمْ يَرْحَمْ صَغِيرَنَا ، وَيُوَقِّرْ كَبِيرَنَا وَيَأْمُرْ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَ عَنِ الْمُنْكَرِ (ترمذی)

(تخریج مشکوة صفحه ۴۲۳ س ۶ عن ابن عباس رضی اللہ عنہ مرفوعا)

ژباړه :نه دی زموږ نه هغه سړی څوک چې رحم نه کوي زموږ په کشرانو باندې او عزت نه کوي زموږ د مشرانو او حکم نه کوي دنیکي اونه منع کوی دبدی نه. **توضیح** :څوک چې د مشرانو عزت نه کوي او په کشرانو رحم نه کوي او خپلو ماتحتو باندې رحم نه کوي نهی عن المنکر نه کوی او دنیکی کولو حکم نه کوی هغه د حضور صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم دارشاد مطابق زموږ څخه نه دی یعني کامل مسلمان نه دی صرف په نامه مسلمان دی،داسلام په نامه خوږیره دنیاخوري اوخیټه ساتي،صحیح او کامل مسلمان هغه دی چې همېشه او د هرچاسره ښه اخلاق ساتي یعنی د مشرانو هرځای کې عزت او احترام کوي او کشرانو ته بغیر د ضرورت نه زور نه رټنه نه کوی او عفوه کوي او همېشه د ښه کارونو حکم کوي او په خپله هم پابند وي او د هرید کار نه منع کوي او په خپله یې هم نه کوي د غه کامیاب مؤمن دی او حقیقي مسلمان دی ،غرض داچې اخلاق یې ښه وي او دین زده کړي او وړاندې نورو خلګو ته یې ښایي او هر کار اخلاص سره کوي هغه کامل مؤمن دی. **ترکیب** :لیس:فعل دافعال ناقصه ؤ څخه ،منا :جار او مجرور، جار سره دجرور نه متعلق په ثابتا پوري، ثابتا اسم فاعل سره دخبل چې هو ضمیر دی اومتعلق نه خبر مقدم ،من: موصوله :لم یرحم:فعل ،هو فاعل ،صغیر:مضاف .نا :مضاف الیه ، مضاف سره دمضاف الیه مفعول به ،فع سره دفاعل اومفعول به نه جمله فعلیه خبریه معطوف علیه ، واو،عاطفه) لم یوقر فعل هو فاعل ، کبیرنا :مضاف اومضاف الیه ،مضاف سره دمضاف الیه نه مفعول به ، فعل سره دفاعل اومفعول به نه مفعول اول ،واو:عاطفه یامر:فعل هو فاعل ، بالمعروف :جار او مجرور متعلق په فعل پوري،فع سره دفاعل نه جمله فعلیه خبریه معطوف ثانی،واو عاطفه . ینه فعل هو فاعل عن المنکر : جار او مجرور متعلق په فعل پوري ،فعل سره دفاعل اومتعلق نه

جمله فعليه خبريه معطوف ثالث، معطوف عليه سره دمعطوفات ثلاثه ؤ څخه جمله معطوفه صله سوه، موصول سره دصلې نه اسم دليس سو، ليس سره داسم او خبر نه جمله فعليه خبريه سوه.

(۱۷۹) لَيْسَ الْمُؤْمِنُ بِالَّذِيْ يَشْبَعُ وَجَارُهُ جَائِعٌ اِلٰى جَنْبِهٖ (بيهقي)

(تخريج مشكوة صفحه ۴۲۴ س ۲۳ عن ابن عباس رضي الله عنه مرفوعا)

ژباړه : نه دی مؤمن هغه کی چې هغه خپله خيټه ډک وي او دهغه ګاونډی اوږی وي دهغه په اړخ کې.

توضيح : هغه سړی کامل مسلمان نه دی چې خپله خيټه ډکوی او دهغه ګاونډی وږی وي داسې سړي چې هغه ته دچا احساس څه چې دخپل ګاونډي احساس هم ورسره نه وي ده ته پته ده چې هغه غريب دی او وږی وده کيږي، داسې سړی سخت زړه والا اوسخت ګنهګار دی اود کامل ايمان نه خارج دی او داسړی مطلب پرست اودنيا پرست اولالچي دی اودمال بنده دی. **ترکيب** : ليس: فعل دافعال ناقصه ؤ څخه. المؤمن: اسم دليس، ب: جار، الذی: موصول، يشبع: فعل هوضمير ذوالحال، واو: حاليه. جاره، مضاف اومضاف اليه سره مبتداء، جائع: صفت، الی: جار. جنبه مضاف اومضاف اليه مجرور، جار سره دمجرور نه متعلق په ثابت پوري، خبر دليس، ليس سره داسم اوخبر نه جمله فعليه خبريه سوه.

(۱۸۰) لَيْسَ الْمُؤْمِنُ بِالطَّعَّانِ وَلَا بِاللَّعَّانِ وَلَا الْفَاحِشِ وَلَا الْبَذِيِّ (ترمذی)

(تخريج مشكوة صفحه ۴۱۳ س ۱۸ عن ابن مسعود رضي الله عنه مرفوعا)

ژباړه: نه دی مؤمن پيغور ورکونکی اونه لعنت کونکی اونه ګناه کونکی اونه بې کاره خبره کونکی. **توضيح**: کوم سړی چې چاته پيغور ورکوي يعنې بده وينا کې يادلعنت الفاظ وايي ښکنځل کوي ياخرابي اوناکاره خبري کوي هغه کامل مؤمن نه دی، کامل ايمان هغه سړی کې وي چې دی دهري ګناه څخه ځان ساتی اوضروري کار کوی اوپه غلطي کولو سره توبه وباسي دداسې سړي بخښنه دمرګ سره سمه کيږي ځکه چې دې په: ومنهم مقتصد. کې داخل دی، په دې حديث کې دژبې ګناهون بيانيږي، په دې کې هره يوه ګناه ډيره لويه ده، لعنت اوکفر اوعدواللہ، دا الفاظ چې چاته وويل سي دهغه طرف ته ځي که چيرې هغه سړی دلعنت مستحق نه وي نودغه لعنت په ويونکی باندې پرېوځي لکه چې دابوداؤد په حواله دمشکوة په صفحه ۴۱۳ س ۲۵ باندې صفاذکر سوی دی اوکه چيرې دکفر اوعدو اللہ مستحق نه وي، هغه سړی چاته چې کافر ياعدواللہ ويل سوی دی نودبخاري اومسلم په حواله دمشکوة ص ۴۱۱ س ۱۷ باندې حديث دی بياهغه کفر او عدواللہ دالله دښمن ويونکی طرف ته واپس کيږي، الغرض چاته بده وينا خپل ځان ته بد ويل دی دګناه په اعتبار سره. **فائده**: په دې حديث پاک کې دژبې ګناهونه بيان سو، غيبت، چغلي، درواغ وغيره هم دژبې ګناهونه دي، دوه شيان داسې دی چې جهنم ته بوتلونکي دی. (۱) ژبه. (۲): شرمګاه. دترمذی اوابن ماجه په حواله دمشکوة ص ۴۱۲ س ۲۳ باندې دحضرت ابوهريرة روايت دی چې حضور صلی الله عليه وآله وسلم وفرمايل چې آياتاسو ته پته ده چې خلګو لره جنت ته زيات داخلونکی کوم شيان دی او وی

فرمایل چې دالله تعالی نه ویره اوښه اخلاق ساتل اودغه شان یې دجهنم په باره کې وفرمایل چې اکثر شرمگاه اوژبه خلک اور ته داخلوي . **فائده** :دفاحش څخه مراد هرخراب کار کونکی دی اودبذي نه مراد هغه خرابه وینا کونکی دی. دویم:دفاحش څخه مراد هره خرابه خبره کونکی اودبذی نه همدغه مراد دی ،عطف تفسیر دی اولازائده دی، دریم : دفاحش څخه مراد عام دی خرابه وینا وي یا کار اوبذی خراب قوت ته ویل کیږي ،بذی دفعیل وزن دی دبذاء نه مشتق دی دا په شد اوسکون دواړو سره لوستل کیږي . مرقات ج۹ص۱۵۵) **ترکیب** :لیس:فعل دافعال ناقصه ؤځخه ،المؤمن : ددې اسم .ب:زائد الطعان :معطوف علیه،واو: عاطفه.لا اوب زائد دتاکید لپاره ،اللعان ،معطوف اول ،واو:عاطفه .لا: زائده. الفاحش معطوف ثانی واو عاطفه،لازائده .البذی مطعوف الثالث .معطوف علیه سره د معطوفات ثلثه ؤځخه خبر دلیس ،لیس سره داسم اوخبر نه جمله فعلیه خبریه سوه .

(۱۸۱)لَيْسَ الْوَاصِلُ بِالْمُكَافِئِ وَلَكِنِ الْوَاصِلُ الَّذِي إِذَا قَطَعَتْ رَحِمُهُ وَصَلَهَا (بخاري)

(تخریج مشکوة صفحه ۴۱۹ س ۱۶ عن ابن عمر رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه :په دې ملاویدونکی بدله ورکونکی اولیکن ملاویدونکی هغه دی چې کله رشته داري ختمه کړل سوی وي نو دې دهغوی سره ملاؤ اوپیوځای سي .**توضیح** :قریبانو ته بدله ورکونکی ته واصل (یعني صله رحمي کونکی) نشي ویل کېدی لیکن اصل صله رحمي کونکی هغه دی چې دقریبانو دطرفه قطع تعلق اونا راضګي سره سره دې ورځي اوورسره ملاقی کیږي اوصله رحمي کوي ځکه چې بدله ورکول خوهرسړي پیژني .لیکن صحیح معنی کي صله رحمي دهغه سړي ده چې سره دقطع رحمي کولو دصله رحمي معامله کوي اودبدسلوک بدله کي ښه سلوک کوي. **فائده** : ددې حدیث څخه معلومه سوه چې رحم لوی شئ دی .دبخاري شریف په حواله دمشکوة ص۴۱۹ باندي حدیث دی حضور صلی الله علیه وآله وسلم وفرمایل : چې کوم سړی داخوښوی چې دهغه په رزق کی فراخي راسي اودهغه په مرګ کي وروستوالی راځي هغه لره پکار دی چې صله رحمي کوي دبخاري اومسلم په حاله سره دمشکوة (ص۴۱۹ س۱۶) باندي حدیث دی چې حضور صلی الله علیه وآله وسلم وفرمایل : چې رحم عرش پوري زوړند دی اووایي چې څوک مالره پیوځای کوي الله تعالی به هغه سره پیوځای سي اوچې څوک مالره قطع کوي الله تعالی به وورسره قطع (تعلق) وکړی . **ترکیب** : لیس:فعل ناقص .الواصل:یې اسم . ب:زائده : المکافی :خبر.لیس سره داسم اوخبر نه جمله خبریه معطوف علیه ، واو:عاطفه :لکن حرف مشبه بالفعل ،الواصل : اسم دلکن ،الذی :موصول . اذا : حرف شرط: قطعت :فعل .رحمه :مضاف او مضاف الیه ، مضاف سره د مضاف الیه نائب فاعل ،فعل سره دنائب فاعل نه جمله فعلیه خبریه شرط . وصل فعل هو فاعل ها : مفعول به فعل سره دفاعل اومفعول به نه جمله فعلیه خبریه جزاء شرط سره دجزاء نه صله ،موصول سره دصلې نه خبر سو دلکن لکن سره داسم اوخبر نه جمله اسمیه خبریه معطوفه سوه معطوف علیه سره دمطعوف نه جمله فعلیه خبریه معطوفه سوه .

(۱۸۲)لَيْسَ الْغِنَى عَنْ كَثْرَةِ الْعَرَضِ وَلَكِنَّ الْغِنَى غِنَى النَّفْسِ (بخاري اومسلم)

(تخریج مشکوة صفحه ۴۴۰ س ۱۹ عن ابی هریرة رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه: نه ده مالداري دسامان په زیاتوالي سره لیکن مالداري ده دنفس مالدار کېدو سره.

توضیح: مالداري اوامیري دسامان دزیاتوالي په وجه نه ده بلکه مالداري اوامیري دنفس مالداري ده ،یعني سامان خو دنیا ده څومره چې زیات وي دالله نه به غفلت زیات وي مالداري دنیا سره نه وي ،مالداري هغه وخت وي چې کله نفس مستغنی وي اوبې پرواه وي ، دچانه څه نه غواړي او زړه یې فراخ ي په لوبه کي هم پریشان نه وي اوددنیا شیان اومال دضرورت په قدر طلب کوي اودضرورت په قدر مال خرچ کوي اودالله تعالی چې څه ورکړي دي په هغه شکر باسي. **ترکیب**: لیس فعل ناقص الغنی یې اسم عن جار کثرة العرض مضاف اومضاف الیه مجرور ،جار سره دمجرور نه متعلق په ثابت پوري خبر دلیس ، لیس سره داسم اوخبرنه جمله فعلیه خبریه معطوف علیه ،واو: عاطفه ،لکن: حرف مشبه بالفعل الغنی یې اسم ،غنی النفس : مضاف اومضاف الیه خبرسو دلکن ، لکن سره داسم اوخبرنه جمله اسمیه خبریه معطوف ،معطوف علیه سره دمعطوف نه جمله فعلیه خبریه معطوفه سوه.

(۱۸۳) لَيْسَ الْكَذَّابُ الَّذِي يُصْلِحُ بَيْنَ النَّاسِ وَيَقُولُ خَيْرًا وَيَنْمِي خَيْرًا (بخاري او مسلم)

(تخریج مشکوة صفحه ۴۱۲ س ۵ عن ام کلثوم رض مرفوعا)

ژباړه: نه دی درواغجن هغه سړی څوک چې دخلکو په مینځ کي صلح کوي اووایي ښه خبره اونسبت کړي دښه خبري. **توضیح**: هغه درواغ چې دخلک په مینځ کي یاد دوو کسانو په مینځ کي دصلح کولو لپاره وویل سي هغه مذموم اوبدنه دي ، درواغ به وي لیکن دالله اودخلکو په نزد به بد نه ګنړل کیږي اودصلح راوستلو لپاره درواغ ویونکي ته درواغجن نه ویل کیږي ،دامطلب نه دی چې دې ته په درواغ نه وایو بلکه مطلب دادی چې ناجائز درجه درواغ نه دي ، ددې وجې نه دمبالغې صیغه یې ذکر کړه ، دمبالغې نفي وسوه داصل فعل نفي نه ده سوی ،ددې درواغو ضرورت به څه وي ،وړاندي حدیث کي ذکر سوی دی چې ښه خبره کوی اودښې خبري نسبت کوی ،یعني عمرو ته وایي چې زید په تا سلام ویلو اوستا صفت یې کولو اوزید ته ورسي هغه ته څه خبره ده منسوب کړي یعني داخبره ده چې عمرو ویلی زما دزید سره ډیر زیات محبت دی دینمي خیرا معنی همداده چې دعمرو دطرفه نه یې ورسوله اوخبره پخپله جوړه کړه دزید لپاره. **فائده**: دریې قسمه درواغ صراحتا جائز دی لکه چې داحادیثو څخه ثابت دی . (۱): درواغ دصلح راوستلو لپاره . (۲): دخاوند یابنځې راضي کولو لپاره . (۳): دجنګ په موقعه باندي ،باقي ټول درواغ حرام دی. **فائده**: ام کلثوم دکاف په خمې اوفتحې سره دواړه شان ویل صحیح دی ،ام کلثوم (رض) څخه مراد دحضور ﷺ لور مراد نه ده بلکه دعقبه بن ابی معیط لور مراد ده اودعثمان بن عفان رضی الله عنه خور ده ،دمور دطرفه داپه مکه کي مسلمانه سوه بیا دې هجرت کړو ،مدینې منورې ته ورسیدله په مکه کي ددې خاوند نه ؤ بیا دې سره په مدینه کي زید بن حارثه رضی الله عنه نکاح وکړه او په عزوه موته کي شهید سو ،بیا زبیر بن عوام رضی الله عنه ورسره نکاح وکړله ،بیایې طلاق ورکړ بیایې عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه سره واده وکړو ،بیاهغه وفات سو .بیاعمرو بن العاص رضی الله عنه ددې سره واده وکړ ،دده په نکاح کي یوه میاشت ژوندی وه بیا وفات سوه.

(مرقات ج۹ ص ۱۴۰)

ترکیب : لیس :فعل ناقص،الکذاب : دده اسم .الذی :موصول . یصلح :فعل ، هو فاعل .بین الناس :مضاف اومضاف الیه مفعول فیه فعل سره دفاعل اومفعول فیه نه جمله فعلیه خبریه معطوف علیه ، واو :عاطفه .یقول :فعل ،هو فاعل .خیرا :مقوله (مفعول به) فعل سره دفاعل مقوله (مفعول به نه) جمله فعلیه خبریه معطوف اول .واو عاطفه .ینمي فعل .هو فاعل ،خیرا . مفعول به ،فعل سره دفاعل اومفعول به نه جمله فعلیه خبریه معطوف ثانی سو ،معطوف علیه سره د داړو معطوفینو نه جمله معطوفه صله سوه ،موصول سره دصلې نه خبر دلیس .لیس سره داسم اوخبر نه جمله فعلیه خبریه سوه .

(۱۸۴) لَیْسَ شَیْءٌ أَکْرَمَ عَلَی اللّٰهِ مِنَ الدُّعَاءِ (ترمذی) (تخریج مشکوة صفحه ۱۹۴ س: ۲۷ عن ابی هریرة رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه : نه دی هیڅ شئ زیات عزت والا په الله تعالی باندې ددعا نه .**توضیح** : دالله تعالی په نزد زیات عزت والا شئ دعا ده او په یوحدیث کې راځي ،الله تعالی داخوښه وي چې څوک دده څخه سوال وکړي .(رواه الترمذی) نورهم ډیر احادیث خاص ددعا په باره کې راغلی دی یو حدیث تیرسوی دی :الدعاء مخ العبادة او دوه مو اوس بیان کړل .څلورم : حضور ﷺ وفرمایل : چې څوک دالله تعالی نه سوال نه کوي دهغه نه الله تعالی خفه کیږي (رواه الترمذي)پنځم :کوم سړی چې دا غواړي چې دتکلیف په وخت کې الله تعالی یې دعاقبوله کړي نوهغه لره پکار دي چې دخوشحالۍ په وخت کې دعاوکړي .(رواه الترمذی)شپږم :حضور ﷺ وفرمایل: چې (دهغه مفهوم لیکل سوی دی) درې شرطونه سره دعاقبلیږي .اول : مالم یدع یاثم . یعني څوک دګناه دعاکوي مثلا داچې دفلاني مسلمان په قتل باندې ماقادر جوړ کړي چې ترڅو پورې دګناه ددعاارادې پرې نږدي دعاء به یې نه قبلیږي . دویم : اودقطع رحمي یعني څوک دادعاء غواړي چې اې الله تعالی زما اوزما دفلانکي (مثلا پلار) په مینځ کې لرې والي پیدا کړی . ترڅو چې داده قطع رحمي دعا پرې نه نږدي هیڅ دعاء به یې نه قبلیږي . دریم : مالم یستعجل یعني دا یل چې ماډیري دعاګاني وکړي لیکن ما ونه لیدل چې زما دعا قبوله سه ځکه چې ددعا مقصد صرف اوصرف عاجزي ده انسان یې په زور اوزبردستي سره (په خدای) نشي قبلولی ،ځکه چې دعاانتهایي عاجزي وي که چیرې دابرقراروي نوډیر فضیلت به پکښې وي اوزر به قبوله سي په هره دعاء کې کم ازکم داقبولیت ضروري وي چې دبنده تعلق الله تعالی سره دمخکې نه زیاتیږي . ترکیب : لیس: فعل ناقص . شئ :یې اسم . اکرم . اسم تفضیل . علی الله :جار اومجرورمتعلق اول سو داکرم . من الدعاء جار اومجرور متعلق ثانی سو . داکرم اسم تفضیل دخپل دواړو متعلقینو سره خبر .لیس سره دخپل اسم اوخبر نه جمله فعلیه خبریه سوه

(۱۸۵) لَیْسَ مِنَّا مَنْ ضَرَبَ الْخُدُودَ وَشَقَّ الْجُیُوبَ وَدَعَا بِدَعْوَی الْجَاهِلِیَّةِ (بخاري او مسلم)

تخریج مشکوة صفحه ۱۵۰ س ۱۵ عن عبدالله بن مسعود رضی الله عنه مرفوعا

ژباړه :نه دی زمونږ نه هغه کس چې هغه وهي مخونه اوشلوي ګریوانونه اوچغې وهي دجاهلیت چغې. **توضیح**: هغه خلګ چې دچا په مرګ باندې غم ښکاره کوي که سړی وي یا ښځه (زیات تر ښځې ددې حدیث مصداق جوړیږي) دداسې جاهلانو دغم اظهار دغه شان وي چې دیو تعلق دار په مرګ باندې لاسونه په پښو اومخونو اوسینو باندې وهي اوهائی ته خوداسې وي اوداسې وي ،اوپه مختلفو الفاظو سره دجاهلیت دزمانې په شان آواز کوي ،داهو ښیار توب نه دی بلکه داډیر کم عقل توب دی ، دسوچ خبره داده چې وهلو ټکولو سره مړي ته په ځای دفائدې عذاب ورکول کیږي دغه شان دغور قابل خبره داده چې زمونږ دین دغم لري کولو لپاره طریقه ښودلی ده چې :اناللهوانا الیه راجعون . اووایي اوغم سپک کړي دایې نه دي ویلي چې دغم اظهار وکړی ،دادجاهلیت دزمانې رسمونه دی ،ددې وروسته په مشکوة کې حدیث دی چې نبي کریم ﷺ وفرمایل چې څلور شیانه زما په امت کې د جاهلیت دی زما امت به هغه پرې نږدي یعني حضور ﷺ دخطرې اظهار وفرمایلو چې دا څلور شیان به زما په امت کې هم پاتې وي . (۱): په کرم اوشرف باندې فخر کول په نسب کې چا ته طعنه ورکول (سپک کتل)(۲): داخیال کول چې دستورو په وجه سره باران کیږي . (۴): په مړي باندې اوچت آواز سره ژړل . دغه شان په یوبل حدیث پاک کې راغلی دی چې نبي کریم ﷺ وفرمایل چې زه بې زاره یم دهغه سړي نه چاچې (حلق) دمصیبت په وجه دسر څه ویښتان ایستل (لکه څنګه چې دبعضې عجمیانو رواج وۀ اوچاچې صلق په اوچت آواز سره په مړي وژړل . اوچاچې (خرق) دمصیبت راتلل په جه کپړې څیرې کړی. **خلاصه دکلام** : خلاصه داده چې دحدنه زیات ژړا کونکی اوپه چغو چغو سره آواز ایستلو سره ژړا کونکی په دې قسم وعیدونو کې شامل دی ،چې داخلق زمونږ څخه نه دی یعني زمونږ په طریقه اودین باندې یعني کامل مسلمانان نه دی (مرقات ج۳ ص۸۸) . په مړي باندې ژړا کول بده خبره نه ده لیکن په چغو سره ژړل بده ګناه ده. **ترکیب**: لیس :فعل ناقص .من:جار .نار:مجرور. جار سره دمجرور نه متعلق په ثابتا پرې ،خبرمقدم.من:موصوله.ضرب :فعل هو فاعل ، الخدود : مفعول به .فعل سره دفاعل او مفعول به نه جمله فعلیه خبریه معطوف علیه سوه .واو : عاطفه : شق:فعل هو فاعل . الجیوب : مفعول به ،فعل سره دفاعل اومفعول به نه جمله فعلیه خبریه معطوف اول ،واو : عاطفه ،دعا : فعل هو فاعل، ب: جار . دعوی الجاهلیة :مضاف اومضاف الیه نه متعلق په فعل پورې ،فعل سره دفاعل اومفعول به نه اومتعلق نه جمله فعلیه خبریه معطوف ثانی معطوف علیه سره دمعطوفین نه جمله معطوفه صله دموصول ،موصول سره دصلې نه اسم دلیس . لیس سره داسم نه موخر مقدم نه جمله فعلیه خبریه سوه .

(۱۸۶) لَیْسَ الْخَبَرُ کَالْمُعَایَنَةِ (احمد) تخریج : مشکوة صفحه ۵۱۱ س ۷ عن ابن عباس رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه :نه دی خبر دمشاهدې په شان .یانه ده اوربدلی سوی خبره دلیدلی سوی په شان (دواړه ترجمې صحیح دی) **توضیح** :حضور ﷺ وفرمایل : چې اوربدلی سوی خبره دلیلی سوی خبرې پشان هیڅکله نسي کیدی . ځکه چې دانسان طبیعت دی چې کله هغه څه شئ وینې نو هغه دوجود یقین کوي ، مخکې پوره حدیث دغه شان دی ،بیشکه الله تعالی چې کله موسی علیه السلام ته په کوه طور باندې دسخې دعبادت خبرور کړ ،نو دموسی علیه السلام د لاس نه تختې دتورات پرې نه تلی کله چې هغه ولیدل چې قوم دغه شان کار کړی دی ،نو د غصې په حالت کې یې

ژباړه :نه دی زمور ښه هغه کس چې هغه وهي مخونه اوشلوي ګريوانونه اوچغې وهي دجاهليت چغې. **توضيح**:هغه خلګ چې دچا په مرګ باندې غم ښکاره کوي که سړی وي يا ښځه (زيات تر ښځې ددې حديث مصداق جوړيږي) دداسې جاهلانو دغم اظهار دغه شان وي چې ديو تعلق دار په مرګ باندې لاسونه په پښو اومخونو اوسينو باندې وهي اوهائی ته خوداسې وي اوداسې وي ،اوپه مختلفو الفاظو سره دجاهليت دزمانې په شان آواز کوي ،داهو ښيار توب نه دی بلکه داړير کم عقل توب دی ، دسوچ خبره داده چې وهلو ټکولو سره مړي ته په ځای دفائدې عذاب ورکول کيږي دغه شان دغور قابل خبره داده چې زمور دين دغم لري کولو لپاره طريقه ښودلی ده چې :انا لله وانا اليه راجعون . اووايي اوغم سپک کړي دايې نه دي ويلي چې دغم اظهار وکړی ،دادجاهليت دزمانې رسمونه دی ،ددې وروسته په مشکوة کې حديث دی چې نبي کريم ﷺ وفرمايل چې څلور شيانه زما په امت کې د جاهليت دی زما امت به هغه پرې نږدي يعني حضور ﷺ دخطرې اظهار وفرمايلو چې دا څلور شيان به زما په امت کې هم پاتې وي . (۱): په کرم اوشرف باندې فخر کول په نسب کې چا ته طعنه ورکول (سپک کتل)(۲): داخيال کول چې دستور و په وجه سره باران کيږي . (۴): په مړي باندې اوچت آواز سره ژړل . دغه شان په يوبل حديث پاک کې راغلی دی چې نبي کريم ﷺ وفرمايل چې زه بې زاره يم دهغه سړي نه چاچې (حلق) دمصيبت په وجه دسر څه ويښتان ايستل (لکه څنګه چې دبعضې عجميانو رواج دی اوچاچې صلق په اوچت آواز سره په مړي وژړل . اوچاچې (خرق) دمصيبت راتلل په جامه کې پرې ځيري کړی. **خلاصه دکلام** : خلاصه داده چې دحدنه زيات ژړا کونکی اوپه چغو چغو سره آواز ايستلو سره ژړا کونکی په دې قسم وعيدونو کې شامل دی، چې داخلق زمور څخه نه دی يعني زمور په طريقه اودين باندې يعني کامل مسلمانان نه دی (مرقات ج۳ ص۸۸) . په مړي باندې ژړا کول بده خبره نه ده ليکن په چغو سره ژړل بده ګناه ده . **ترکيب**: ليس :فعل ناقص .من:جار .نار:مجرور. جار سره دمجرور نه متعلق په ثابتا پرې ،خبرمقدم.من:موصوله.ضرب :فعل هو فاعل ، الخدود : مفعول به .فعل سره دفاعل او مفعول به نه جمله فعليه خبريه معطوف عليه سوه .واو: عاطفه : شق:فعل هو فاعل . الجيوب : مفعول به ،فعل سره دفاعل او مفعول به نه جمله فعليه خبريه معطوف اول ،واو: عاطفه ،دعا : فعل هو فاعل ، ب: جار . دعوى الجاهلية :مضاف اومضاف اليه نه متعلق په فعل پورې ،فعل سره دفاعل او مفعول به نه او متعلق نه جمله فعليه خبريه معطوف ثانی معطوف عليه سره دمعطوفين نه جمله معطوفه صله دموصول ،موصول سره دصلې نه اسم دليس . ليس سره داسم نه موخر مقدم نه جمله فعليه خبريه سوه .

(۱۸۶) لَيْسَ الْخَبَرُ كَالْمُعَايَنَةِ (احمد) تخريج : مشکوة صفحه ۵۱۱ س۷ عن ابن عباس رضي الله عنه مرفوعا)

ژباړه :نه دی خبر دمشاهدې په شان ،يانه ده اوربدلی سوی خبره دليدلی سوی په شان (دواړه ترجمې صحيح دی) **توضيح** :حضور ﷺ وفرمايل : چې اوربدلی سوی خبره دليلی سوی خبرې پشان هيڅکله نسي کېدی . ځکه چې دانسان طبيعت دی چې کله هغه څه شئ وينې نو هغه دوجود يقين کوي ، مخکې پوره حديث دغه شان دی ،بيشکه الله تعالی چې کله موسی عليه السلام ته په کوه طور باندې دسخې دعبادت خبرور کړ ،نو دموسی عليه السلام د لاس نه تختې دتورات پرې نه تلی کله چې هغه وليدل چې قوم دغه شان کار کړی دی ،نو د غصې په حالت کې يې

تختی. هم دلاس نه پرپوتلی ،معلومه سوه چي داورېدو قیاس په لیدلو باندي صحیح نه دی ځکه چي لیدلو سره دشئ دوجود یقین کیږي اوپه طبعیت باندي ډیر اثر کیږي. ترکیب:لیس:فعل ناقص:الخیر :اسم دلیس .ک:جاره. المعاینة :مجرور. جار سره دمجرورنه متعلق په ثابتا پوري خبر دلیس،لیس سره داسم اوخبر نه جمله فعلیه خبریه سوه.

(الشرط والجزاء) (۱۸۷) مَنْ تَوَاضَعَ لِلّٰهِ رَفَعَهُ اللّٰهُ وَ مَنْ تَكَبَّرَ وَضَعَهُ اللّٰهُ (رواه البیهقي)

تخریج :مشکوة صفحه ۴۳۴ س ۱۶ عن عمر رضی الله عنه مرفوعا

ژباړه: چاچي تواضع(عاجزي)کړه دالله تعالی لپاره نواوچت به کړی هغه لره الله تعالی اوچاچي تکبر وکړ نورسوابه کړي هغه الله تعالی. **توضیح اوشان ورود** :حضرت عمر رضی الله عنه په منبر باندي وعظ فرمایلو چي اې خلګو !تواضع اختیار کړی عاجزي اختیار کړی .ځکه چي ما پخپله اوربدلی دي چي نبي کریم صلی الله علیه وآله وسلم داسي فرمایل چي څوک عاجزي کوي الله تعالی لپاره نوالله تعالی خپل ځان سره دهغه کس درجه ډیره لوړوي . هغه (متواضع) سړی په خپل نظر کي وړوکي وي اودخلګو په نظر کي لوی ګرځي .(یعني په خلګو کي هم الله تعالی دهغه درجه لویه ګرځوي په جنت کي خوبه ضرور لویه وي . مخکي یې وفرمایل : چي کوم سړي تکبر کوي په لاس یا پښو سره تکبر کوي یا په ژبي سره دفخر په شکل تکبر ګوي .الله تعالی دهغه نه مخکښ درجه هم اخلي اوپه اخرت کي هغه ذلیل ګرځوی ،نوییاهغه متکبر دخلګو په نظر کي ډوکي وي اوخپل ځان هغه لوی ګڼي ،تردې چي هغه دسپي اوخنزیر نه هم زیات ذلیل اوسپک ګرځي .(الحفیظ والامان)

داپوره حدیث اوددې مختصر تشریح وه ، ددې څخه علاه دتکبر په بدوالي کي الله تعالی فرمایي دمسلم حدیث قدسي دی ،ابوسعید خدري رضی الله عنه اوابوهریرة رضی الله عنه روایت کوي. (خدا کی باتیں ص ۱۶۱)

دا دواړه صحابه دحضور صلی الله علیه وآله وسلم څخه روایت کوي چي الله تعالی فرمایي چي عزت زما په لاندیني څادر دی اوکبریایی بره څادر دی ، کوم سړی چي په دې څادر کي ماسره ځان شریکوی ،زه به هغه ته عذاب ورکوم اوداحدیث خومشهور دی چي دکوم سړي په زړه کي داوري دانې په مقدار هم تکبروي هغه به جنت ته داخل نسي ترڅو پوري جهنم کي ساتلو سره دهغه دماغ ټیک نسي ،الله تعالی ته عاجزي خوښه ده څوک چي عاجزي کوي الله تعالی پخپله دهغه عزت په دنیا اوآخرت کي کوي ، کوم سړی چي خپل ځان لی ګڼي الله تعالی یې ښکته کوي ،څوک چي دزړه په اخلاص سره ځان ښکته (عاجز) ګڼي الله تعالی هغه د درجی په اعتبار سره بره اوچتوي په یو حدیث کي نبي کریم صلی الله علیه وآله وسلم وفرمایل : چي درې شیان نجات ورکولو والا دی ، (۱): یوائي والي کي اودتولو خلګ دوړاندي دخدای پاک نه ویریدل. (۲): په خوشحالي اوغم کي حق خبره کول. (۳): مالداري اوغریبی کي میانه روي ساتل اودرې شیان هلاکونکی دی .اول : هغه خواهش چي دهغي فورا اتباع وکړي . دویم : هغه بخل چي دهغه تابعداري وکړي .دریم :دانسان خپل ځان ته ښه ویل (چي هغه ته عجب ویلی سي اوداد تکبر دویم ښاخ دی) اودادباقي نورونه زیات سخت دی (انتهی) **ترکیب** : من شرطیه ،تواضع فعل هوفاعل ،لله جار مجرور سره ،متعلق سوفعل پوري ، فعل سره دفاعل اومتعلق نه جمله فعلیه خبریه شرط سو. رفع :فعل .ه: مفعول به .لفظ الله

فاعل فعل سره د فاعل او مفعول به نه جمله فعليه خبريه جزاء سوه ،شرط سره د جزاء نه معطوف عليه ،واو :عاطفه ،من :شرطيه ،تكبر: فعل هو فاعل ، فعل سره د فاعل نه جمله فعليه خبريه شرط سو ،وضع فعل . ه :مفعول به .لفظ الله : فاعل ،فعل سره د فاعل او معفول به نه جمله فعليه خبريه جزاء شرط سره د جزاء نه معطوف ،معطوف عليه سره د معطوف نه جمله شرطيه جزائيه معطوفه سوه .

(۱۸۸) مَنْ لَمْ يَشْكُرِ النَّاسَ لَمْ يَشْكُرِ اللّٰهَ (اخرجه احمد و ترمذی)

ژباړه: چاچې دخلګ شکريه ادا نکړه هغه دالله تعالی شکريه ادا نکړه . **توضيح**: خلګ چونکه دالله تعالی دنعمتونو رسولو ذريعه جوړيږي ددې وجې نه الله تعالی حکم کړی دی چې دخلګو شکريه ادا کوی نو چې څوک دالله تعالی حکم ونه منی دخلګو شکريه يې ادا نکړه نوده دالله تعالی شکريه ادا نکړه ،دخلګو د شکريې دادا کولو مختلف صورتونه دی ،د چا په څه کار کولو هغه ته څه لږ شان هديه ورکول هم شکريه ده او هغه ته راحتونه ورکول هم شکريه ده او که هيڅ نه وي نو په رونړ تندي سره ملاويدل او جزاک الله خيرا ويل يا څو قدمه تلل وغيره داهم شکريه ده ،دهريو سره ځانله ځانله معامله وي ،اودشکريې طريقه هم جدا وي ،دشکريه لفظ ويلو په ځاب جزاک الله خيرا ويل پکار دی ،داحديث وړاندي را روان دی. **ترکيب** :من شرطيه .لم يشکر ،فعل ،هو فاعل ،الناس مفعول به ، فعل سره د فاعل او مفعول به نه جمله فعليه خبريه شرط سو .لم يشکر الله : فعل هو فاعل لفظ الله مفعول به ،فعل سره د فاعل او مفعول به نه جمله فعليه خبريه جزاء سوه ، شرط سره د جزاء نه جمله فعليه خبريه شرطيه سوه .

(۱۸۹) مَنْ لَمْ يَسْئَلِ اللّٰهَ يَغْضِبْ عَلَيْهِ (ترمذي) (تخريج: مشكوة صفحه ۴۹۵ س ۸ عن ابی هريرة رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه: څوک چې نه غواړي دالله تعالی نه ،نو ناراضه کيږي او په غضب کيږي الله تعالی په هغه باندي **توضيح** :څوک چې الله تعالی نه د تکبر په وجه څه سوال نه کوي ،الله تعالی په دې ډير ناراضه کيږي ، ځکه چې د سوال (غوښتلو) حکم الله تعالی په قرآن کي کړی ده ادْعُونِي أَسْتَجِبْ لَكُمْ . زما نه غواړي زه به قبلوم ،هر کله چې شپه او ورځ د احکم اوږدلی اولوستلی شي بيا په دې باندي عمل نه وي نو بښکاره ده ،چې الله تعالی ناراضه کيږي :

إِنَّ الَّذِينَ يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِي سَيَدْخُلُونَ جَهَنَّمَ دَاخِرِينَ . چې کوم خلګ زما د عبادت نه تکبر کوي يعني تکبرا عبادت نه کوي زړه چې هغوی به ذليل جهنم ته داخل سي ،په دې آيت کي ديو يتفسير مطابق د عبادت نه مراد دعا ده چې د دعا نه تکبر کونکی به جهنم ته داخل سي .دنور تفصيل لپاره حديث ۱۸۴ وګورئ . **ترکيب**: من شرطيه .لم يسئل : فعل هو فاعل ،لفظ الله مفعول به ،فعل سره د فاعل او مفعول به نه جمله فعليه خبريه شرط سو .يغضب فعل هو فاعل ،عليه جار او مجرور متعلق سو په فعل پوري ،فعل سره د فاعل او متعلق نه جمله فعليه خبريه جزاء سوه ،جزاء سره د شرط نه جمله فعليه خبريه شرطيه سوه .

(۱۹۰) مَنِ انْتَهَبَ نُهْبَةً فَلَيْسَ مِنَّا ، ترمذی، تخريج: مشكوة صفحه ۲۵۵ س ۱۹ عن عمران بن حصين رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه : کوم سړی چې ډاکه وغورزوله ډاکي غورزلو سره نو هغه زمور څخه نه دی . **توضیح** : کوم سړی چې ډاکه واچوالې یا یې په چاباندې زبردستي او زور وکړو هغه یې لوټ کړو یا یې غلا وکړه داټول صورتونه په دې کې داخل دی ،پس هغه سړی زمور څخه نه دی یعنې زمږ په کالمه طریقه باندې نه دی ،یعنې که ایمان یې سته نو ډیر زیات ناقص دی . یعنې زمور کامله طریقه باندې نه دی یعنې که چیرې ایمان یې وي نو ډیر زیات ناقص دی یعنې زمور کامل طریقه باندې نه دی یعنې که چیرې ایمان یې وي نو ډیر زیات ناقص دی ،داپه ښکاره ډاکه اوغلا ده ،باطني ډاکه اوغلا هغه ده چې په لمانځه کې یعنې هغه لمونځ چې په هغه کې دسنتو خیال ونه ساتل سي ، هغه لمونځ کامل نه دی ځکه چې لمونځ کونکی دلمانځه سنتونه غلا کړی دي ،داغلا اوډاکه په افعالو کې ده چې داټول صورتونه ناجائز دي ،کومه غلا چې په اقوالو کې کیږي دهغه په باره کې داخبره ده چې د راز خبره دباندې وړل یا ددې ځای خبره هلته اودهغه ځای خبره دلته راوړل چغلي کول ،غیبت کول داټول صورتونه هم داقوالو غلا ده اوناجائز ده ،لیکن دچااشعار یا دچاکلام نقل کول اودانه ښودل چې داد هغه کلام دی اونه خپل ځان ته منسوب کول داد ناجائزي درجې غلا نه ده . **ترکیب**: من: شرطیه.انتهب : فعل هوفاعل ، نهبة:مفعول مطلق . فعل سره دفاعل اومفعول مطلق نه جمله فعلیه خبریه شرط . ف :جزائیه ، لیس :فعل ناقص . هو ضمیر دده اسم . من:جار .نا :مجرور ،جار سره دمجرور نه متعلق سو په ثابتا پوري ،ثابتا اسم فاعل دخپل فاعل (هوضمیر) اومتعلق سره شبه جمله خبر سو ،لیس سره داسم اوخبر نه جمله فعلیه خبریه جزاء سوه ،شرط سره دجزاء نه جمله فعلیه خبریه شرطیه سوه . .

(۱۹۱) مَنْ دَلَّ عَلٰی خَیرٍ فَلَه مِثْلُ اَجرِ فَاعِلِهٖ (مسلم)

(تخریج مشکوة صفحه ۳۳ س ۱۵ عن ابی مسعود الانصاری رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه : چاچې لاره وښودله دنیکی نو هغه لپاره به دهغه د کنکي د ثواب په شان ثواب وي

توضیح : اوشان ورود :روای ابومسعود الانصاري رضی الله عنه وایي چې یوسړی حضور صلی الله علیه وآله وسلم ته راغی او وی ویل چې زما سورلی ستړی سوی ده تاسوماسپاره کړی په بله سورلی باندې ،نوحضور صلی الله علیه وآله وسلم وفرمایل چې زما سره سورلی نسته چې تاورباندې سپور کړم ، په دې وخت کې یوسړي وویل چې اې دالله رسوله ! صلی الله علیه وآله وسلم زه ده ته ښایم هغه څوک چې ده ته بله سورلی ورکړي سورپدلو لپاره ،نوحضور صلی الله علیه وآله وسلم وفرمایل : چې چاصرف رهنمائي وکړه هغه ته به پوره ثواب ورکول کیږي دهغه سړي برابر چاچې پخپله کار کړی دی ځکه چې دهرخیر طرف ته لارښونه هم نیکي وي ، ددې وجې نه څوک چې داسي کوي هغه ته به دکونکی برابر ثواب ورکول کیږي. **من** :شرطیه.دل فعل هوفاعل ،علی جار خیر مجرور،جار سره دمجرور نه متعلق په فعل پوري ،فعل سره دفاعل اومتعلق نه جمله فعلیه خبریه شرط سو . ف جزائیه ل جاره مجرور ، جار سره دمجرور نه متعلق په ثابت پوري ،خبر مقدم ،مثل مضاف اجر مضاف الیه .مضاف .فاعله مضاف سره دمضاف الیه نه مضاف الیه سو داجر لپاره ،بیا مضاف سره دمضاف الیه نه مضاف الیه

سو دمثل لپاره ،اوس مضاف سره دمضاف الیه نه مبتداء مؤخر .خبد مقدم سره دمبتداء مؤخر نه جمله اسمیه خبریه جزاء دشرط .شرط سره دجزاء نه جمله فعلیه خبریه شرطیه سوه .

(۱۹۲) مَنْ حَمَلَ عَلَيْنَا السِّلَاحَ فَلَيْسَ مِنَّا (بخاري)(تخریج مشکوة صفحه ۳۰۵ س۲۱ عن ابن عمر رضی الله عنه وابی مرفوعا)

ژباړه : څوک چې اوچته کړي په موږ باندي وسله نو نه دی هغه زموږ څخه .

توضیح :څوک چې په موږ باندي یعني زموږ خلاف وسله واخلي هغه زموږ څخه نه دی یعني کامل مسلمان نه دی صرف دنوم ایمان یې دی ، دوسلې رااخستلو نه په احادیثو کې سخت وعیدونه راغلي دي ،تردې چې په مسخرو کې هم داسې شئ په چاباندي اوچتول چې په هغه سره سړی وژل کیږي ګناه کبیره ده ، ځکه چې په دې حدیث پسې متصل په مشکوة کې داحدیث هم دی چې رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم وفرمایل :چاچې صرف اشاره هم وکړه خپل ورور ته په اوسپنې سره نوبیشکه په دغه (اوچتونکی) باندي فرشتې ترهغه وخت لعنت وایي چې ترکومې چې هغه شئ لیري نه وي اېښی ، اګرچې حقیقي ورور یې وي ،دحقیقي ورور ذکر یې ددې وجې نه وکړو چې سړي په حقیقي ورور باندي دوژلو په نیت هیڅ شئ نه راپورته کوي . دحقیقي ورور په وړاندي څه قسم شئ اوچتول دهغه دویرولو لپاره اګرچې په مسخرو کې وي ناجائزدی .په دې کې دڅه شئ اوچتولو منع کړل سوی ده ، اودغه شان کوم مسلمان ویرول په خبرو سره یاشکل جوړولو سره داحرام دی ، ددې حرمت هم صراحتا په حدیث نمبر ۱۳۲کې تیرسوی دی. **ترکیب**:من:شرطیه.حمل:فعل هوفاعل ،علینا:جار اومجرور ، جار سره دمجرور نه متعلق سو په فعل پوري ،السلاح :مفعول به ،فعل سره دفاعل اومتعلق اومفعول به نه جمله فعلیه خبریه شرط.ف:جزائیه .لیس: فعل ناقص هوضمیر ، هغه یې اسم .منا:جار مجرور متعلق سوپه ثابتا محذوف پوري ،ثابتاصیغه داسم فاعل سره دخپل فاعل هوضمیر اومتعلق نه شبه جمله خبر دلیس . لیس سره داسم اوخبر نه جمله فعلیه خبریه جزاء .شرط سره دجزاء نه جمله فعلیه خبریه شرطیه سوه .

(۱۹۳) مَنْ صَمَتَ نَجَا (احمد و ترمذی، تخریج مشکوة صفحه ۴۱۳ س۴ عن عبدالله بن عمرو رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه:څوک چې خاموش پاته سو هغه نجات پیدا کړو. **توضیح** :څوک چې خاموش پاتې سو دناکاره خبرې کولو یالیکلونه یاپه چاباندي دلیکلونه نوهغه هرقسم خیرواخیستلو ،کامیاب سو،دویمه معنی داهم ده چې څوک خاموش پاتې سو دګناه دخبرې نه نوګویا چې هغه ددنیا اوآخرت دټولو آفتونونه نجات پیدا کړلو .د دواړو معناګانو دار مدار دنجاپه لفظ باندي دی ،په اول معنی کې دنجامعنی فازده یعني کامیاب سو اوپه دویمه معنی کې دنجا معنی دنجات سره دی.په امتحان کې خبرې کول څنګه دی . په امتحان ګاه کې خبرې کول یعني دچانه پوښتنه کول یابل چاته څه بنودل حرام دی ،ځکه چې په دې کې دنورو حلق تلفي راځي اودغیر محنتي طالب علم په محنت نه کولو کې دهغه امداد کول دي ، ددې وجې نه په امتحان ګاه کې په خاموشي سره پرچه کول پکار دي

لفظ صمت اوسکت کي فرق : سکت يې ونه فرمايل صمت يې وويلو ځکه چې په دې کي فرق دی اوهغه داچې سکوت صرف هغه ځای کي وي چې هلته دخبرو کولو طاقت وي اوصمت په دواړو ځايونو کي وي. کوم ځای چې نطق وي يانه وي يعني ګونګی وي يا خبري کولی سي ليکن چپ پاتي سي ،دلته يې صمت ځکه وويلو چې په دې کي دچپ اوسيدلو معنی زياته مناسبه وه،اودصمت لفظ دسکت نه زيات بليغ دی نواشاره وسوه چې دهري ګناه اوفضول خبري نه خاموش کېدل دنجات لپاره ډير ضروري دی . **ترکيب**:من: شرطيه. صمت:فعل هوفاعل ، فعل سره دفاعل نه جمله فعليه خبريه شرط سو،نجا فعل هوفاعل ،فعل سره دفاعل نه جمله فعليه خبريه جزاء ،شرط سره دجزاء نه جمله فعليه خبريه شرطيه سوه

---

(۱۹۴)مَنْ جَهَّزَ غَازِيًا فِيْ سَبِيْلِ اللهِ فَقَدْ غَزَا وَمَنْ خَلَفَ غَازِيًا فِيْ أَهْلِهِ فَقَدْ غَزَا

بخاري ومسلم، تخريج : مشکوة صفحه ۳۲۹ س۲۵ عن زيد بن خالد رضي الله عنه مرفوعا)

ژباړه:چاچې تياري وکړه جهاد کولو والا ته دالله په لاره کي نوهغه (پخپله) جهاد وکړو اوځوک چې نيک وروسته پاتي کېدونکی جوړسو دهغه په کورو والو کي نو(بياهم) هغه (پخپله) جهاد وکړو . **توضيح** : يعني چاچې يومجاهد ته دجهاد فضيلت بيان کړو يايې وسله ورکړه اوتيار يې کړو نولکه چې ده پخپله جهاد وکړو اوچاچې داهل اوعيال داصلاح لپاره په خپل کورنی کي څوک وروسته پربښودلو نو وروسته پاته کېدونکي هم جهاد وکړو دغه شان تيارونکي هم دجهاد ثواب حاصل کړو اوتياريدونکي هم دجهاد فضيلت حاصل کړو،زيات فضيلت دجهاد مخکي په حديث کي تير سوی هلته يې وګوري(حديث نمبر ۱۷۴)**ترکيب** :من : شرطيه. جهز:فعل ،هوفاعل ،غازيا :مفعول به ،في:جار .سبيل الله :مضاف اومضاف اليه مجرور ، جار سره دمجرور نه متعلق په فعل پوري ، فعل سره دفاعل اومفعول به اومتعلق نه جمله فعليه خبريه شرط سو،ف: جزائيه .قدغزا : فعل هو فاعل . فعل سره دفاعل نه جمله فعليه خبريه جزاء سو،شرط سره دجزاء نه معطوف عليه .(واو) عاطفه :خلف فعل هو فاعل ،غازيا :مفعول به .في:جار. اهله :مضاف اومضاف اليه مجرور ، جار سره دمجرور نه متعلق په فعل پوري ،فعل سره دفاعل اومتعلق نه جمله فعليه خبريه جزاء .شرط سره دجزاء نه معطوف عليه ،معطوف عليه سره دمعطوف نه جمله فعليه خبريه شرطيه معطوفه سوه .

---

(۱۹۵)مَنْ يُّحْرَمُ الرِّفْقَ يُحْرَمُ الْخَيْرَ ،مسلم، تخريج مشکوة صفحه ۴۳۱ س۴ عن جرير رضي الله عنه مرفوعا)

ژباړه:څوک چې محروم سو دنرمی نه هغه محروم سو دخير نه. **توضيح** :څوک چې نرمي نه کوي هغه دخير نه محروم دی يعني ښه اخلاق پکار دی ،همېشه نرمه خبره کار ده ، کورو والو سره هم اوبهر دوستانو سره هم .اګر چې دلوی عهدي خاوند وي ،دکشرانو اوماتحتو خلګو سره خاص طور سره دنرمی معامله کول پکار دي ، دمشکوة په هم دې صفحه باندي دحضرت عائشې رضي الله عنها حديث دی ،هغه فرمايي چې حضور صلى الله عليه وسلم وفرمايل: چاته چې دنرمی نه څه حصه ورکړی سوه ،هه ته ددنيا اودآخرت دښيګړي حصه ورکړی سوه اوځوک چې دنرمی نه محروم کړی سو هغه ددنيا اوآخرت دښيګړي دحصې څخه محروم وګرځول سو ،هم په دغه صفحه باندي يوبل حديث نبي

کریم ﷺ دا وفرمایلو چې په تاسو کې د ټولو څخه زات محبوب ماته هغه څوک دی چې په اخلاقو کې د ټولو څخه ښه وي اودمشکوة په (ص ۴۳۲ س ۲۶) باندې داحدیث دی حضور ﷺ وفرمایل : چې آیازه تاسو ته دا وښایم چې تاسو په ټولو کې غوره څوک دی ،صحابه کرامو وویل : ضرور ! نوبیا هغوی ﷺ وفرمایل : چې په تاسو کې غوره اوبهتر د ټولو څخه هغه څوک دی د چا چې عمر زیات وي او اخلاق یې د ټولو نه ښه وي ،لومړی حدیث دشرح السنة دی اودویم دبخاري اودریم داحمد رحمۃ اللہ علیہ په حواله دمشکوة څخه رااخیستل سوی دی.

ترکیب :من :شرطیه . یحرم: فعل هو نائب فاعل ،الرفق :مفعول به ،فعل سره دنائب فاعل اومفعول به نه جمله فعلیه خبریه شرط سو ،یحرم فعل هو نائب فاعل .الخیر مفعول به ،فعل سره دنائب فاعل اومفعول به نه جمله فعلیه خبریه جزاء .شرط سره دجزاء نه جمله فعلیه خبریه شرطیه سوه .

---

(۱۹۶) مَنْ سَكَنَ الْبَادِيَةَ جَفَا وَمَنِ اتَّبَعَ الصَّيْدَ غَفَلَ وَمَنْ أَتَى السُّلْطَانَ افْتُتِنَ.

حمد وترمذي، تخریج :مشکوة صفحه ۳۲۲ س ۵ عن ابن عباس رضی اللہ عنہ مرفوعا

ژباړه :څوک چې په کلي کې اوسیدو یا په ځنګله کې هغه سخت عقل والا سو اوڅوک چې ښکار پسې ولاړو هغه غافل سو اوڅوک چې بادشاه ته ولاړو هغه په ازمائش کې ولویدو .

توضیح :ددې وجه داده چې په صحراء کې اوسیدونکي عام طور د جمعې اوجمعونه او د عالمانو اوصالحانو د مجلسونو نه لرې اوسیږي اومسائل ورته معلوم نه وي نوداسې سړی بیشکه په خپل ځان د جهالت ظلم وکړو ،کوم سړی چې هغه ته مسائل معلوم وي یا په کلي کې اوسیدو سره عالمانو اوبزرګانو سره تعلق ساتی نوهغه لپاره کلي اوسیدل جائز دی او کوم سړی چې ښکار عادت اولوبه جوړه کړه نو داسړی د عبادت اود جُمعې اوجَمعې د پابندي نه غافل وي او د مشابهت په وجه د څارو اوځنارو سره د رحمت اود زړه د نرمې نه لرې پاتې سو ، نوداسې ښکار ناجائز اوحرام دی اوپه کوم ښکار کې چې همېشه والي اوغفلت نه وي نوهغه جائز دی بلکه د بعضو صحابه کرامو طریقه وه ، چې هغوی به د ذخیره کولو ښکار کولو . **دریم** :من اتی السلطان الخ . مطلب دادی چې چې کوم سړی ظالم بادشاه اود دین نه غافله بادشاه سره دوستي شروع کړي نوداسړی هم په فتنه کې داخل سو ګویا چې د نافرمانې ابتداء وسوه لیکن چې کوم سړی بادشاه ته نصیحت کولی سي اودنیکی حکم اود ګناه نه کولو حکم یې ورته کولی سو نوداسې سړي د بادشاه په مخکې حق خبره کول د ټولو څخه لوی جهاد دی . (مرقات ج۷ ص ۲۲۰)

ترکیب :من :شرطیه. سکن :فعل هو فاعل ، البادیة :مفعول به ،فعل سره د فاعل اومفعول به نه جمله فعلیه خبریه شرط سو ، جفا : فعل .هو فاعل . فعل سره د فاعل نه جمله فعلیه خبریه جزاء . شرط سره د جزاء نه معطوف علیه ،واو عاطفه . من :شرطیه . اتبع :فعل ، هو فاعل ، الصید مفعول به .فعل سره د فاعل اومفعول به جمله فعلیه خبریه شرط . غفل فعل هو فاعل ،فعل سره د فاعل نه جمله فعلیه خبریه جزاء سوه .شرط سره د جزاء نه معطوف اول ، واو عاطفه .من شرطیه .اتی :فعل . هو فاعل . السلطان مفعول به ،فعل سره د فاعل اومفعول به نه جمله فعلیه خبریه شرط سو .افتتن فعل .هو نائب فاعل ، فعل سره د فاعل نه جمله فعلیه خبریه .شرط سره د جزاء نه معطوف ثانی ، معطوف علیه سره د معطوفینو نه جمله فعلیه خبریه شرطیه معطوفه .

(۱۹۷)مَنْ صَلّٰی یُرَائِی فَقَدْ اَشْرَکَ وَمَنْ صَامَ یُرَائِی فَقَدْ اَشْرَکَ وَمَنْ تَصَدَّقَ یُرَائِی فَقَدْ اَشْرَکَ

(رواه احمد ، تخریج مشکوة صفحه ۴۵۵ س ۲۳ عن شداد بن اوس رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه: که چالمونځ وکړو دځان ښوني اوریالپاره نوهغه شرک کړو اوکه چاروژه ونیوله دځان ښوني لپاره نوهغه شرک کړو اوکه چاصدقه ورکړله دځان ښوني لپاره نوهغه شرک کړو. **توضیح** : څوک چې لمونځ کوي دریا لپاره یا روژه نیسي دریاکاري لپاره یا څوک صدقه کوي فرض صدقه په معنی دزکوة سره یانفلي صدقه اوخیرات کوي دریاکاري لپاره نولمانځه اوروژې اوصدقې وغیره ذمه فارغه سوه لیکن هیڅ ثواب نسته ځکه چې ده ریا کاري کړی ده ،دریامعنی داده چې ددین څه کار دغیر الله خوشحالولو لپاره وکړل سي نو په دې کي شرک اصغر دی ددې چې نه دذرې برابر هم ثواب نه ورکول کیږي ، ددې خلاف جائز کارونه دي مثلا قضاء حاجت ،خوراک څښاک خوب وغیره په دې کي که چیري یوسړی ښه نیت وکړي نوداجائز کار هم په ثواب کي لیکل کیږي ،نیت داپکار دی چې زه هرجائز کار د الله تعالی دعبادت دتیاري لپاره کوم اوددین کار دالله تعالی درضا لپاره کوم نو څلیرویښت ساعته به په ثواب کي لیکل کیږي په هرکار کي نیت هرحال کي ضروری دی په هرجائز کار کي دي سړی ښه نیت وکړي . **ترکیب**:من :شرطیه .صلی فعل . هو ذوالحال ،یرائي فعل هو فاعل ،فعل سره دفاعل نه جمله فعلیه خبریه حا ،حال سره دذوالحال نه فاعل دصلی ،فعل سره دفاعل نه جمله فعلیه خبریه شرط سو .ف جزائیه . قداشرک :فعل هو فاعل فعل سره دفاعل جمله فعلیه خبریه جزاء سوه .شرط سره دجزاء نه جمله فعلیه خبریه شرطیه سوه ،دغه شان دباقي دوو جملو ترکیبونه هم دي .

(۱۹۸)مَنْ رَغِبَ عَنْ سُنَّتِی فَلَیْسَ مِنِّیْ (تخریج مشکوة صفحه ۲۷ س ۱۹ عن انس رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه:چاچې مخ واړولو زما دطریقې څخه نوهغه زما څخه نه دی. **توضیح اوشان ورود** :راوي حضرت انس رضی الله عنه فرمایي چې درې کسان دحضور صلی الله علیه وآله وسلم ازواج مطهرات ته راغلل . دحضور صلی الله علیه وآله وسلم دعبادت په باره کي یې پوښتنه وکړه .علی رضی الله عنه عثمان بن مظعون رضی الله عنه عبدالله بن رواحه رضی الله عنه چې کله هغوی ته دحضور صلی الله علیه وآله وسلم دعبادت په هکله معلومات ورکړل سو ،نوهغوی داکم وګنړلو اوسوچ یې وکړو داسي ذات چې دهغه مخکي او وروستني ګناهونه معاف دي دهغوی خودومره عبادت ډیر دی مورد داسي چرته یو ،په دوی کي یوه وویل پس اوس خوبه زه تهجد شپه لمونځ کوم .دویم وویل زه خوبه همیشه دورځي روژه نیسم .اودریم وویل چې زه به دښځو څخه لیري والی اختیاروم اوهیڅ کله به نکاح نه کوم .په دې کي حضور صلی الله علیه وآله وسلم راغی وی فرمایل چې تاسو خلکو داسي داسي خبري کړی په خدای قسم چې زه ستاسو نه زیات دخدای پاک څخه خوف کوم اوویریږم لیکن زه کله روژه نیم اوکله یې نه نیسم اوزه لمونځ هم کوم اوخوب هم کوم اوزه دښځو سره نکاح هم کوم نوچې کوم سړی زما دطریقې څخه اعراض کوي هغه زما څخه نه دی یعني چې کوم سړی همیشه روژه ونیوله هیڅ کله یې روژه ماته نه کړه اوتهجد شپه یې لمونځ کولو څه لږ شان هم ویده نسو اوقصدا اوعمدا هیڅ وخت نکاح ونکړه نوداسي سړي زهد اوتقوی دهغه سره پاتې سوه اوهغه زما دطریقې څخه اعراض وکړو نوهغه زما داتباع څخه خارج

سو اوهغه زما څخه نه دی . **نکات: اوله نکته** : ددې حدیث څخه اود لاصرورة فی الاسلام څخه هم دا معلومه سوه چې واده نه کول څه برزګي او کمال نه دی واده نه کول په اسلام کې نسته بغیر عذر نه رهبانیت دی کوم چې داسلام ضد اومنافي کار دی اوپه دین کې سختي پیدا کوي دی . **دویمه نکته** :په اکثرو ځایونو کې بلکه هرځای کې نبي کریم ﷺ فلیس منا ارشاد فرمایي دلته خاص سره مني ذکر کولو کې څه حکمت دی . **اول حکمت** :چونکه دلته په درې شیانو کې دواده کولو ذکر هم دی او واده دنبي کریم ﷺ طریقه ده ،ددې وجې نه یې دا ارشاد وفرمایلو چې څوک زما دخاص طریقې نه مخ واړه وي هغه زما څخه نه دی یعني ددې لائق نه دی چې ځان ته زما امتي ووایي . **دویم حکمت** : په دې کې ترهیب یعني ویرول دي یعني چې کوم سړی نکاح نه کوي دهغه ویرول مقصود دي . چې هغه زما څخه نه دی اودهغه خاص ماسره څه تعلق نسته .نو د صحابه ؤ سره څنګه تعلق کېدی سي ،ددې وجې نه یې مني وفرمایل . **دریم حکمت** : په دې کې ترغیب دی یعني په خلک کې دواده شوق اوجذبه پیدا کول دي چې دګناه څخه بچ کېدل علاج دی نکاح ، اودچاچې دمخکې نه شوق وي دهغوی جذبه زیاتول مقصود دي .ګوري که چیرې ددې څخه اعراض کوئ نو زما سره ستاسو هیڅ تعلق نسته اوښکاره ده چې دچا تعلق دحضور ﷺ څخه پرېکړل سو نعوذ باالله نود هغه دکامیابی هیڅ لار پاتې نسوه . **څلورم حکمت** : واده تعظیم مقصود دی یعني داکار معمولي مه ګڼړی دا دالله تعالی د تیرو شوو پیغمبرانو سره هم دغه شان معامله وه اوزما سره هم دغه معامله ده اوس که چیرې تاسو کې څوک واده نه کوي نو هغه ګویا چې دالله تعالی معامله اوزما طریقه سپکه ګڼړي ،لهذا دده زما سره هیڅ تعلق نسته . **پنځم حکمت** :دغصې اظهار دی یعني داسي سړي چې زما د طریقې نه اعراض کولو جرأت کوي هغه خاص زما څخه نه دی **شپږم حکمت** :چونکه دواده نه کولو رائیه دډیرو صحابه کرام په ذهن کې وه ،ددې جې نه لومړی خطاب هغوی ته دی په دویم ځلي کې مونږ ته دی ،نو هر کله چې بعضو صحابه داسي ذهن لرلو نو فلیس منا ویلو کې خو هغوی هم داخلیږي حالانکه په دې معامله کې دهغوی نه داخلول مناسب ؤ په دې وجه یې دمني لفظ ارشاد وفرمایلو .چې صحابه هم (دچاچې داسي امید نه ؤ) هم تنبیه سي که چیرې بالفرض اوس تاسو هم نکاح نه کولو ته ترجیح ورکړه نو بیا تاسو هم زما څخه نه یاست . **اووم حکمت** : دخپل ځان څخه یې نفي وکړه دهغه وجه داده چې څوک زما اتباع نه کوي هغه زما دروحاني اولاد څخه نه دی . **اتم حکمت** : چونکه سنتي مفرد دی ددې وجې نه یې دهغه مناسب مفرد ذکر کړو . **ترکیب**: من :شرطیه. رغب فعل هو فاعل. عن جار .سنتی :مضاف اومضاف الیه مجرور . جارسره دمجرور نه متعلق سو په فعل پوري . فعل سره دفاعل اومتعلق نه جمله فعلیه خبریه شرط سو . ف: جزائیه .لیس فعل ناقص . هوضمیر ددې اسم .من جار .ی :مجرور .جارسره دمجرور نه متعلق په ثابتا محذوف پوري .ثابتا اسم فاعل هوضمیر سره دفاعل اومتعلق نه شبه جمله خبر دلیس .لیس سره داسم اوخبر نه جمله فعلیه خبریه جزاء .شرط سره دجزاء څخه جمله فعلیه خبریه شرطیه سوه .

---

(۱۹۹) مَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ فَهُوَ مِنْهُمْ ابوداود ، تخریج مشکوة صفحه ۳۷ س ۱۴ عن ابن عمر رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه :چاچې دکوم قوم مشابهت اختیار کړو نو هغه به هم دهغوی څخه وي . **توضیح** : کوم سړی چې دکوم قوم (که دکافرانو وي او که دفاجرانو وي او که دصالحانو) مشابهت اختیار کړو په څه ګناه یا نیکي نود ګناه یا ثواب

په لحاظ سره به هم دهغه قوم نه شمارل کیږي، دمشابهت نه مراد عام مشابهت دی، اخلاقو، جامو او شکل صورت وغیره ټولو ته شامل دی، ددې وجې نه چې کوم سړی بغیر دضرورت نه په انګریزي ژبه کې خبرې کوي اوجامه همیشه پتلون وغیره کوم چې د کفارو لباس دی اغوندي اوشکل صورت ورانوی مثلا ږیره ختموي یا یې دیوموټي څخه کموي نو دا قسم سړی دآخرت په باره کې ددې حدیث په جه سخت په خطره کې دی، دسخت عذاب او ددې خبرې نه چې داسړی چیرته د کفارو په ډله کې داخل نکړی سي دنبي کریم ﷺ تعلیمات اوعمل اودصحابه کرامو عمل ته وګوري چې هغوی چیرته یو ځای کې په مستحب کار کې هم دهرغیر مسلم دمشابهت نه ځان ساتلو مثلا صرف دلسم محرم روژه چونکه یهودو هم نیوله ددې وجې نه حضور ﷺ حکم وکړو چې تاسو یوه روژه مخکې یا وروسته ضرور نیسی، که چیرې تاسو دمحرم لسمه روژه نیسی هرکله چې زموږ نبي کریم ﷺ اوصحابه کرام دغلطو خلګو دمشابهت نه بچ کېدل نونن موږ د کوم ځایه راغلو او کوم پتې فصل یو چې موږ د کفارو اوفاسقانو طریقه اوعمل دسینې سره لګولی دی، اوناست یو، یادساتی هغه انسان انسان دی اواشرف المخلوقات دی چاچې دنبي کریم ﷺ تعلیمات صحیح وګنړل اوعمل یې ورباندې وکړو، که چیرې کوم سړي عمل نه کوی نوپه هغه کې دنبي کریم ﷺ تهذیب نسته هغه دخنزیر اوسپي نه هم یقینا بدتردی، اګرچې هغه د ۲۲ ګریډ افسر ولي نه وي، سپي اوخنزیر نه به د قیامت په ورځ تپوس نه وي لیکن دافسر څخه به پوښتنه کول کیږي اودهرهغه سړي نه به تپوس کیږي چې هغه په اخلاص سره عمل نه کولو **فائده**: واو په اصل حدیث کې نسته لهذا چې کومه نسخه کې چاپ سوی دی هغه دچاپ غلطي ده. **ترکیب**: من: شرطیه. تشبه فعل، هو: فاعل. ب: جار. قوم: مجرور، جار سره دمجرور نه متعلق سو په فعل پورې، فعل سره دفاعل اومتعلق نه جمله فعلیه خبریه شرط سو، ف: جزائیه هو مبتداء، منهم: جار مجرور متعلق سو، ثابت پورې، ثابت اسم فاعل سره دخپل فاعل هو ضمیر او متعلق نه شبه جمله خبر سو، مبتداء سره دخبر نه جمله اسمیه خبریه جزاء، شرط سره دجزاء نه جمله فعلیه خبریه شرطیه سوه.

---

(۲۰۰) مَنْ غَشَّا فَلَيْسَ مِنَّا (مسلم) (تخریج مشکوة: صفحه ۳۰۵ س ۲۳ عن ابی هریرة رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه: چاچې خیانت وکړو زموږ سره نو هغه زموږ سره نه دی. **توضیح**: کوم سړی چې موږ (یعني دنبي کریم ﷺ اوصحابه کرامو اودهغوی تابعداري کونکو ته) دهوکه ورکړه موږ سره یې په څه معامله کې خیانت وکړو نو زموږ دجماعت څخه خارج دی. د کوم جماعت مشابهت چې هغه اختیار کړی دی نو اوس به ددې هم دهغو څخه وي، بهرحال خو ددې زموږ دجماعت څخه وتلی دی او ایمان یې ډیرزیات کمزوری سوی دی، دایمان کامل کولو لپاره داشرط دی چې په پوره دین باندې عمل وکړي، دهوکه ورکول اوخیانت کول ګناه کبیره ده، اوچې ترکومې یوه ګناه کوي هغه سړي ولي کامل نسي جوړیدلی، اوایمان نه مکمل کیږي ټول ګناهونه پرېښودل ضروري دي. **فائده**: غشّ په حدیث کې دنصر څخه دماضي صیغه استعمال سوی ده او ددې مصدر غش په غین مثلثه سره په معنی د دهوکه ورکولو، خیانت کولو، په کسرې سره په معنی دناچله سکه. اوپه اصل حدیث کې ومن دی یعني واو ورسره ذکر دی ځکه چې داحدیث دمسلم شریف دی اوپه مسلم شریف کې ددې څخه مخکې: من حمل علینا السلاح. جمله ده ددې وجې نه دلته واو دی، چې کله واو موجود دی یاد کاتب نه پاتې سوی دی یامصنف ځکه نه

دی ذکر کړی چې په زادالطالبین کې متصلا څه حدیث نه تیرسوی چې دهغه په وجه واو ذکر کړی سي . کله چې واومذکور دی نو په ترکیب کې واو استنافیه هم جوړېدلی سي اوعاطفه هم .دعاطفه په صورت کې به حدیث نمبر (۱۹۲) معطوف علیه جوړیږي . **ترکیب** : واواستنافیه ،من:شرطیه . غش:فعل هوفاعل ،نا :مفعول به ،فعل سره دفاعل اومفعول به نه جمله فعلیه خبریه شرط سو ،ف :جزائیه .لیس فعل ناقص . هوضمیر دده اسم ،منا جار اومجرور متعلق په ثابتا پوري ،ثابتا اسم فاعل سره دخپل فاعل هوضمیر اومتعلق نه شبه جمله خبر،لیس سره داسم اوخبرنه جزاء ،شرط سره دجزاء نه جمله فعلیه خبریه شرطیه سوه .

(۲۰۱)مَنْ اَرَادَ الْحَجَّ فَلْيُعَجِّلْ .ابوداؤد) تخریج مشکوة صفحه ۲۲۲ س ۶ عن ابن عباس رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه : کوم سړی چې اراده وکړه دحج نوهغه لره پکار دي چې تلواره وکړي .

توضیح : کوم سړی چې دحج اراده وکړي هغه لره پکار دي چې تلواره وکړي ځکه چې حج په کال کې یوځل راځي که چیرې اوس یې ونکړو نو بیا کال به وروسته کړل سي اودمرګ هیڅ تاکلی وخت نسته .حج که چیرې فرض سوی وي نوامر دوجوب لپاره دی اوکه چیرې حج یې کړی وي نودنفلي حج حکم دی اوهغه مستحب دی په مشکوة کې ددې څخه وړاندي حدیث مفهوم دادی چې حج اوعمره وکړی ځکه چې دا دواړه فقر اوګناهونه ختموي .**ترکیب**:من:شرطیه.اراد فعل اوفاعل،الحج :مفعول به فعل سره دفاعل اومفعول به نه جمله فعلیه خبریه شرط سوه ،ف :جزائیه ، لیعجل : فعل امر هو فاعل ، فعل سره دفاعل نه جمله فعلیه انشائیه جزاء سوه ،شرط سره دجزاء نه جمله فعلیه انشائیه شرطیه سوه .

(۲۰۲)مَنْ عَزَّى ثُكْلَى كُسِيَ بُرْدًا فِي الْجَنَّةِ(ترمذی)(تخریج:مشکوة صفحه ۱۵۱ س ۱۴ عن ابی هریرة رضی الله عنه مرفوعا

ژباړه:چاچې تسلي ورکړه ورک سوي ماشوم ومور ته نوهغه ته به جنت کې یوځادر ورواغوستل سي .**توضیح** : دثکلی معنی هغه ښځه چې دهغی بچی ورک سوی وي . یا هغه ښځه چې دهغی بچی مړسوی وي ،دلته دواړوي معناګاني صحیح دي ، چې مقصد غم زده ، ښځي ته تسلي ورکول دي ،برابره خبره که دښځي دبچي په مرګ باندي وي یاورکیدلو باندي وي ،لومړی معنی زیاته مناسبه ده ځکه چې دثکلی اصلي لغوي معنی همدغه ده ،ثکلی مؤنث ده دثاکل صفت دی دادسمع څخه مستعمل دی ،په معنی ورکولو سره اوضائع کول ،په هرحال چاچې داسي ښځي ته تسلي ورکړه نوهغه ته به په جنت کې دکرښو والا کپړی څادر چې هغه به ډیر زیات ښائسته وي ورواغوستل سي . **فائده** : دثکلي معنی چونکه دوي دي ، ددې جې نه دحدیث هم دوې معناګاني دي که چیرې لومړی معنی مراد سي نو په دې وجه هم زیاته مناسبه ده چې دکومي ښځي بچی ورک سي هغه زیاته غمجنه وي په نسبت دهغه ښځي چې دهغی بچی وفات سوی وي ، ځکه چې کوم وفات سو هغه خو راحت ته ورسیدلو اوورسته هم ټولو ته پته ده اوکوم چې ورک دی دهغه په باره کې روزانه داخیال راځي ،چې پته نسته اوس به هغه څومره په تکلیف کې وي ، که چیرې دویمه معنی مراد وي نوهغه هم ددې وجې نه صحیح ده چې دثکلی یوه معنی داهم ده ، اوعزی په معنی دتعزیت کولو سره دی ، په لومړی معنی کې عزی په معنی دتسلي سره دی . دویم داتسلي ورکول

محرم بنځي سره متعلق ده که نامحرم ته تسلي ورکول وي نو پرده ضروري ده ،ځکه چې پرده واجب ده اوتسلي مستحب ده . **ترکیب** : من :شرطیه عزی فعل هوفاعل . ثکلی مفعول به ،فعل سره دفاعل اومفعول به نه جمله فعلیه خبریه شرط سو، کسی فعل هونائب فاعل ،بردا :مفعول به ،فی الجنة : جار اومجرور متعلق سو په فعل پوري ، فعل سره دنائب فاعل اومتعلق نه جمله فعلیه خبریه جزاء سوه ،شرط سره دجزاء نه جمله فعلیه خبریه شرطیه سوه .

(۲۰۳) مَنْ صَلّٰی عَلَیَّ وَاحِدَةً صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ عَشْرًا (مسلم تخریج مشکوة صفحه ۸۶ س ۸ عن ابی هریرة رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه : کـه چاپر ما باندي یوځل درود ووایو نو الله تعالی به په هغه باندي لس ځله رحمت نازل کړي. **توضیح او د درود شریف فضیلتونه** : کوم سړی چې په حضور صلی الله علیه وآله وسلم باندي یوځل درود ووایي الله تعالی په هغه باندي لس ځله رحمت نازلوي .دا درود شریف ډیرلوی فضیلت دی ،یوځو نور فضائل د درود شریف هم سته هغه مورد تاسو وړاندی کوو . حدیث: دانس رضی الله عنه څخه نسائي روایت کړی دی چې حضور صلی الله علیه وآله وسلم وفرمایل چې څوک په پرما باندي یوځل درود ووایي الله تعالی په هغه باندي لس ځله رحمت نازلوي اودهغه لس ګناهونه لري کوي ،اولس درجې دهغه اوچتوي . دویم : دحضرت ابوهریرة رضی الله عنه څخه د ترمذي روایت دی رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم وفرمایل : چې دداسي سړي پوزه دي په خاورو ککړه سي یعني ذلیل دي سي چې دچا په وړاندي زما ذکر وکړی سو اوهغه په ما باندي درود ونه ویلو . څلورم : د ترمذي روایت دی ،دعلي رضی الله عنه څخه رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم وفرمایل چې هغه سړی بخیل دی چې دچا په مخکي زما ذکر وکړل سو اوهغه په ما باندي درود ونه ویلو . پنځم : دبیهقي روایت دی ،دابوهریرة رضی الله عنه څخه چې رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم وفرمایل چې چا زما قبر سره درود ولوستلو نو هغه زه پخپله اورم اوچاچې دلري درود ولوستلو نو هغه ماته رارسول کیږي . شپږم : داحمد روایت دی دعبدالله بن عمر رضی الله عنه څخه حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنه فرمایي چې کوم سړی په حضور صلی الله علیه وآله وسلم باندي یوځل درود ووایي الله تعالی په هغه باندي اویا رحمتونه راليږي او فرشتې هم اویا ځله دمغفرت دعا ګاني کوي .اووم : د ټولو څخه لوی فضیلت په قرآن کریم کې دی چې :اې دایمان خاوندان تاسو هم حضور صلی الله علیه وآله وسلم باندي درود اوسلام ووایاست د فضیلت دا ټول احادیث دمشکوة (صفحه ۸۵) څخه راخیستل سوي دي . **د درود شریف مسئلې** : کوم ځای چې دحضور صلی الله علیه وآله وسلم نوم یاد کړی سي دغه ځای کې کم از کم یوځل درود شریف ویل په هر عاقل اوبالغ سړي اوښځي باندي واجب دی . دویم :لکه څنګه چې ژبې سره دذکر مبارک په وخت درود شریف لوستل واجب دی دغه شان په قلم سره دلیکلو په وخت هم درود شریف قلم سره لیکل واجب دی په (صلعم) باندي اکتفاء جائز نه ده .دریم : په ټول عمر کې یوځل په ژبه درود شریف ویل فرض عین دی لکه څنګه چې کلمة توحید په ټول عمر کې یوځل فرض عین دی باقي وختونو کې مستحب عمل دی . څلورم : دصلوة سره سلام ویل واجب نه دی افضل دی ،په یو باندي هم اکتفاء جائز ده بشیر دنبي نه صلوة اوسلام اصالة عن الجمهور ناجائز دی اوپه ال وغیره باندي تبعا جائز دی . (تفسیر معارف القرآن جلد ۷ صفحه ۲۲۴) **ترکیب** :من شرطیه : صلی فعل هو فاعل ، علی جار مجرور متعلق په فعل پوري ،واحدة مفعول به ،فعل سره دفاعل اومفعول به اومتعلق نه جمله فعلیه خبریه شرط سوه . صلی فعل

.لفظ الله يې فاعل عليه جار اومجرور متعلق په فعل پوري، عشر مفعول به، فعل سره دفاعل اومفعول به اومتعلق نه جمله فعليه خبريه جزاء، شرط سره جزاء نه جمله فعليه خبريه شرطيه سوه .

(۲۰۴) مَنْ قَتَلَ مُعَاهَدًا لَمْ يَرِحْ رَائِحَةَ الْجَنَّةِ. بخاري تخريج مشكوة صفحه ۲۹۹ س ۲۲ عن عبدالله بن عمر رضي الله عنه مرفوعا)

ژباړه: چاچې قتل کړو ذمي نوهغه به محسوس نه کړی بوئی (خوشبو) دجنت. **توضيح**: معاهد په اصل کې هغه سړي ته وايي چې هغه دبادشاه سره دجنګ نه کولو وعده ي خواه ذمي وي يابل څوک ترجمه يې په ذمي سره وکړل سوه اومعاهده دمسلمانانو هم د بادشاه سره معاهده ده ،دداسي سړي وژل چې دهغه معاهده سوی ي دجنت خوشبوئی به هم بوئی نکړي، وړاندي مکمل حديث دادی چې بې شکه دجنت خوشبوئي موندلی سي دځلويشتو کالو (پياده تللو) په مسافت باندي (انتهی) معلومه سوه چې دکوم سړي سره معاهده سوی وي دهغه وژل ډير ناکاره دي اودجنت نه به کم ازکم دځلويښتو کالو فاصله باندي وي يعني عذاب کې به وي ،دجنت خوشبو څومیله لري پوري بوئي کېدی سي ،په دې باره کې تحقيق دمصنف کتاب دجنت اوجهنم متعلق کې دی وګورئ . **ترکيب**: من: شرطيه .قتل :فعل هوفاعل معاهدا :مفعول به ، فعل سره دفاعل اومفعول به نه جمله فعليه خبريه شرط سو ، لم يرح فعل هو فاعل . رائحة :مضاف اومضاف اليه دواړه مفعول به ،فعل سره دفاعل اومفعول به نه جمله فعليه خبريه جزاء ،شرط سره دجزاء نه جمله فعليه خبريه شرطيه سوه .

(۲۰۵) مَنْ يُرِدِ اللّٰهُ بِهٖ خَيْرًا يُفَقِّهْهُ فِي الدِّيْنِ (بخاري) (تخريج مشكوة صفحه ۳۲ س ۱۸ عن معاويه رحمة الله عليه مرفوعا)

ژباړه : چاته چې الله تعالی دنيکی ارادهوکړي نوهغه ته په دين کې پوهه ورکوي .

توضيح : کوم انسان ته چې الله تعالی نيکی ورکول غواړي نو په دين کې پوهه ورکوي اوهغه سړی عالم جوړوي اوددې څخه مخکې جمله کې يې وفرمايل چې زه صرف قاسم يعني علم تقسيم کونکی يم اوالله تعالی ورکړه کوي ، عالم فقيه جوړول دالله تعالی کار دی : ذٰلِكَ فَضْلُ اللّٰهِ يُؤْتِيْهِ مَنْ يَّشَاءُ. ترکيب: من شرطيه . يرد :فعل لفظ الله فاعل ،به جار اومجرور متعلق په فعل پوري . خيرا : مفعول به ،فعل سره دفاعل اومتعلق اومفعول به نه جمله فعليه خبريه شرط سوه :يفقه فعل هوفاعل ه مفعول به ،في الدين جار اومجرور متعلق په فعل پوري فعل سره دفاعل مفعول به اومتعلق نه جمله فعليه خبريه جزاء سوه ،شرط سره دجزاء نه جمله فعليه خبريه شرطيه سوه .

(۲۰۶) مَنْ بَنٰى لِلّٰهِ مَسْجِدًا بَنَى اللّٰهُ لَهٗ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ

(تخريج بخاري ومسلم) (تخريج مشكوة صفحه ۶۸ س ۵ عن عثمان رضي الله عنه مرفوعا)

ژباړه : چاچې دالله تعالی لپاره مسجد جوړ کړو ،جوړ کړي الله تعالی دهغه لپاره کور په جنت کې .**توضيح** : دمسجدا تنونی اوتنکير دتقليل لپاره دی اودبيتا تنوين اوتنکير دتعظيم لپاره دی ،اوس

معنی داده چې کوم سړی وړو کې شان مسجد جوړ کړو یا یې په جوړولو کې حصه واخیستله نو الله تعالی ډیر لوی اوډیر ښائسته محل دهغه لپاره په جنت کې تیاره وي ،دمړک څخه وروسته څوشیان په کار راځي اوصدقه جاریه جوړیږي . اول : یوخودا یعني مسجد یامدرسه جوړول . دویم : علم نافع چې دهغی نه خلق فائده اخلي . دریم :نیک اولاد دهغه نیکی مور اوپلار ته هم ملاویږي .

ترکیب :من شرطیه :بنیٰ :فعل هو فاعل لله :جار اومجرور متعلق سو په فعل پوري ،مسجدا : مفعول به ،فعل سره دفاعل اومفعول به نه جمله فعلیه خبریه شرط سو ،بنی فعل لفظ الله فاعل ، له جار اومجرور ، متعلق اول سو ،بنی فعل ستا :مفعول به فی الجنة جار مجرور متعلق ثانی سو ،دفعل ، فعل سره دفاعل اومفعول به اومتعلقینو نه جمله فعلیه خبریه جزاء سوه ،شرط سره دجزاء نه جمله فعلیه خبریه شرطیه سوه .

---

(۲۰۷) مَنْ صُنِعَ إِلَيْهِ مَعْرُوفٌ ، فَقَالَ لِفَاعِلِهِ : جَزَاكَ اللّٰهُ خَيْرًا ، فَقَدْ أَبْلَغَ فِي الثَّنَاءِ

(ترمذی، تخریج مشکوة صفحه ۲۶۱ س ۱۶ عن اسامه بن زید رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه : چاسره چې وکړل سوه نیکی نوهغه وویل دهغه کونکي ته چې الله تعالی دي تاته ښه بدله درکړي نوهغه مبالغه وکړه په تعریف کولو . **توضیح** : چاسره چې احسان سوی دی هغه ته پکار دی چې احسان کونکی ته دا الفاظ په طور دشکریې سره ووایي (جزاک الله) که چیرې څوک احسان وکړي څه کار پخپله وکړي یا په چاباندي وکړي یاهدیه ورکړي وغیره یابل څه نیکي اوښیګړه وکړي نوهغه لره پکار دي چې نور هیڅ نشي کولي یاهدیه ورکړي وغیره یابل څه نیکي اوښیګړه وکړي نوهغه لره پکار دي چې نور هیڅ نسي کولي نو کم از کم دادعائیه جمله دی ووایي چې دهغه مطلب دادی چې زه خو ناقص یم قصور واریم الله دي تاته ښه بدله درکړي نوداسي ویل کافي دي بلکه مبالغه اوزیاتوالی دي په تعریف لکه چې اوس هغه داحسان بدله ورکړه . **ترکیب** : من شرطیه .صنع فعل .الیه جار اومجرور متعلق په فعل معروف پوري ،نائب فاعل ،فعل سره دنائب فاعل اومتعلق نه جمله فعلیه خبریه معطوف علیه سوه . ف :عاطفه ،قال فعل هو فاعل ل جار فاعله جار فاعله مضاف اومضاف الیه مجرور ،جار اومجرور متعلق په فعل پوري .جزاء :فعل .ک مفعول به اول لفظ الله فاعل خیرا .مفعول به ثانی ،فعل سره دفاعل اومفعولینو نه جمله فعلیه خبریه په تاویل دمصدر سره مقوله مفعول به ،قال فعل سره دخپل فاعل اومتعلق نه اومقوله (مفعول به) نه جمله فعلیه خبریه معطوف ،معطوف علیه سره دمعطوف نه شرط .ف : جزائیه .ابلغ :فعل هو فاعل فی الثناء .جار اومجرور .متعلق په فعل پوري ،فعل سره دفاعل اومتعلق نه جمله فعلیه خبریه جزاء سوه ،شرط سره دجزاء نه جمله فعلیه خبریه شرطیه سوه .

---

(۲۰۸) مَنْ كَانَ ذَا وَجْهَيْنِ فِي الدُّنْيَا كَانَ لَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ لِسَانٌ مِّنْ نَّارٍ

(دارمي، تخریج مشکوة صفحه ۴۱۳ س ۱۷ عن عمار بن یاسر رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه :څوک چې سو دوه مخی په دنیا کې نووي به هغه د قیامت په ورځ د اور ژبه . **توضیح** :د ذاوجهین نه مراد هغه سړی دی چې د دوو کسانو په مینځ کې جنګ وي او دی هریو ته ورځي دهغه ملګرتیا کوي او دهغه دمخالف

اودښمن سره دښمني ښکاره کوي په عرف کي ، ده ته ويل ويل کيږي ،په عرف کي ده ته منافق ويل کيږي ،دحضور ﷺ دزماني منافق مراد نه دی داسي سړی دوه مخی دی ،داسي سړي لپاره به داور ژبه وي دقيامت په ورځ ،دامعنی ډيره مناسب ده ځکه چي نافق سرف دحضور په زمانه کي ؤ اوس يا کافر دی يامسلمان،دوه مخي فاسق مسلمان دی اوعملي منافق دی ، کافرورته نه ويل کيږي. (حاشيه مشکوة نمبر ۹ په حواله دلمعات

ترکيب:من شرطيه. کان فعل ناقص،هو ده اسم،ذاوجهين ،مضاف اومضاف اليه ، خبر د کان،فی الدنيا جار اومجرور متعلق سو په فعل پوري ، کان سره دخپل اسم اوخبر نه اومتعلق نه جملٔه فعليه خبريه شرط سو، کان فعل ماضي له جار اومجرور متعلق پوري ،يوم القيامة مضاف اومضاف اليه ، مفعول فيه ،لسان موصوف من جار نار مجرور جار سره دمجرور نه متعلق سو ثابت پوري ،ثابت اسم فاعل سره دخپل فاعل (هوضمير) اومتعلق نه شبه جمله صفت دموصوف ، موصوف سره دصفت نه فاعل د کان ، کان سره دخپل فاعل اومتعلق اومفعول فيه نه جمله فعليه خبريه جزاء سوه ،شرط سره دجزاء نه جمله فعليه خبريه شرطيه سوه .

(۲۰۹)مَنْ رَأَى عَوْرَةً فَسَتَرَهَا كَانَ كَمَنْ أَحْيَا مَوْءُودَةً

(ترمذي) (تخريج مشکوة صفحه ۴۲۴ س ۸ عن عقبه بن عامر رضي الله عنه مرفوعا

ژباړه : چاچي وليده عيب نو پټ يې کړو هغه نووی به دهغه کس په شان کي چاچي ژوندی کړه ژوندی ښخه کړل سوی ښځه .**توضيح دعورت معنی** (۱): هرهغه شئ چي دهغه نه شرم وکړل سي.(۲):دانسان هغه اندام چي هغ دشرم دوجي نه پټ ساتل کيږي . ددې جمع عَوراتٌ راځي اوعوراتٌ،دحديث مطلب دادی چي کوم سړی څه عيب وليدلو اوخبردار سو بيا يې هغه ښکاره نه کړو دهرچانه يې پټ وساتلو نودغه سړي ته به دهغه سړي برابر ثواب ورکول کيږي چي هغه ژوندی ښځه کړی سوي انجلی ژوندی دقبر نه راويستله يعني ډير زيات ثواب به وي ،ساتر عيب مشبه ده ، محی الموؤدة مشبه به ده وجه دشبه اومناسبت دواړو په مينځ کي دادی چي حيادار انسان دخپلي شرمندګی نه مرګ بهتر ګڼي نوچاچي عيب پټ کړو نو ګويا چي هغه ده لره دمرګ نه بچ کړلو لهذا ساتر دعيب به داسي وي لکه چي ژوندی ښخه کړی سوی انجلی دقبر څخه راوباسي (حاشيه مشکوة نمبر ۴ بحواله لمعات)

ترکيب:من شرطيه : رای فعل هو فاعل،عورة مفعول به ،فعل سره دفاعل اومفعول به نه جمله فعليه خبريه معطوف عليه . ف عاطفه ستر فعل هو فاعل ها مفعول به ، فعل سره دفاعل اومفعول به نه جمله فعليه خبريه معطوف ،معطوف عليه سره دمعطوف نه شرط . کان فعل هو فاعل ، ک جار من موصوله .احيی فعل هوفاعل ،موءودة مفعول به ،فعل سره دفاعل اومفعول به نه جمله فعليه خبريه صله سوه ، موصول سره دصلې نه مجرور ، جار سره دمجرور نه متعلق په فعل پوري ،فعل سره دفاعل اومتعلق نه جمله فعليه خبريه جزاء سوه ،شرط سره دجزاء نه جمله فعليه خبريه شرطيه سوه .

(۲۱۰)مَنْ خَزَنَ لِسَانَهُ سَتَرَ اللهُ عَوْرَتَهُ وَمَنْ كَفَّ غَضَبَهُ كَفَّ اللهُ عَنْهُ عَذَابَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَمَنِ اعْتَذَرَ إِلَى اللهِ قَبِلَ اللهُ عُذْرَهُ (راواه البيهقي) (تخريج مشکوة صفحه ۴۳۴ س ۲۰ عن انس رضي الله عنه مرفوعا)

ژباړه: چاچي حفاظت وکړو دخپلي ژبي پټ به کړي الله تعالی دهغه عیب، اوچاچي بنده کړله خپله غصه ،بندبه کړي الله تعالی دهغه نه خپل عذاب دقیامت په ورځ اوچاچي عذرو کړو الله تعالی ته نو قبول به کړي الله تعالی دهغه عذر.

توضیح: کوم سړی چي دخپلي ژبي حفاظت وکړو یعني دچاعیب یې راونه ایستلو الله تعالی به دقیامت په ورځ هغه رسوا کوي بلکه دهغه ټول عیبونه به پټ کړي ،دخزن لفظ و فرمایلو چي دایواځي عیب نه راویستلو ته شامل نه دی بلکه دژبي ټولو ګناهونو ته شامل دی چي په هغه کي یوه ګناه په ژبه دچاعیب راویستل دي، نواوس مطلب داسو چي کوم سړی دژبي دټولو ګناهونو څخه حفاظت وکړو نو الله تعالی به هم ددې بدله ورکړي ، مخکي یې وفرمایل چاچي خپله غصه بنده کړه دالله تعالی دویري په وجه نو الله تعالی به ددې بدله ورکړي دعذاب نه بچ ساتلو سره چي دقیامت په ورځ به یې الله تعالی دعذاب څخه بچ کړي او مخکي یې وفرمایل چاچي عذرو کړو الله تعالی ته یعني په دنیا کي یې توبه ویسته نو الله تعالی هم دهغه عذر یعني دګناهونو اقرار اوتوبه قبلیږي.

ترکیب: من:شرطیه. حزن فعل هو فاعل .لسانه مضاف اومضاف الیه. مفعول به، فعل سره دفاعل ،غعل اومفعول به نه جمله فعلیه خبریه شرط سو ،ستر فعل لفظ الله فاعل عورته مضاف اومضاف الیه مفعول به ،فعل سره دفاعل اومفعول به نه جمله فعلیه خبریه جزاء ،شرط سره دجزاء نه معطوف علیه .واو :عاطفه .من:شرطیه. کف: فعل هو فاعل غضبه مضاف اومضاف الیه مفعول به ،فعل سره دفاعل اومفعول به نه جمله فعلیه خبریه شرط ﷺ ، کف فعل لفظ الله فاعل عنه جار اومجرور متعلق په فعل پوري ،عذابه مضاف اومضاف الیه مفعول به ،یوم القیامة مضاف اومضاف الیه مفعول فیه ، فعل سره دفاعل اومفعول به اومفعول فیه اومتعلق نه جمله فعلیه خبریه جزاء ،شرط سره دجززاء نه معطول ،واو عاطفه من:شرطیه .اعتذر فعل هو فعل الی الله جار اومجرور متعلق په فعل پوري ،فعل سره دفاعل اومتعلق نه جمله فعلیه خبریه شرط سو ،قبل فعل لفظ الله فاعل ،عذره مضاف اومضاف الیه مفعول به فعل سره دفاعل اومفعول به نه جمله فعلیه خبریه جزاء ،شرط سره دجزاء معطوف ثانی ، معطوف علیه سره دمعطوفینو نه جمله فعلیه خبریه شرطیه معطوفه سوه.

---

(۲۱۱) مَنْ سُئِلَ عَنْ عِلْمٍ عَلِمَهُ ثُمَّ كَتَمَهُ أُلْجِمَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ بِلِجَامٍ مِنْ نَارٍ

(احمد و ترمذی) (تخریج مشکوة صفحه ۳۴ س ۲۳ عن ابي هريرة رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه: دچانه چي پوښتنه وسوه دهغه علم په باره کي دکوم چي هغه ته علم ؤ بیا هغه هغه علم پټ کړو نو هغه ته به (په خله کي) داور واګي واچول سي. **توضیح**: په څه ديني معامله کي یوسړي ته ضرورت پیښ سو دیو عالم نه یې پوښتنه وکړه چي دهغه مسئلې ته ضرورت ؤ اودهغه دعلم نه بهرنه وه نو عالم سره دپوهي نه هغه مسئله ونه ښودله پټه یې کړه یعني یاخو یې بالکل جواب ورنکړو یا یې جواب ورکړو لیکن ګډوډ نو دعلم دوتلو ځای خوله ده ددې وجي نه په خوله کي به ورته داور واګي واچول سي مراد ټول بدن ته عذاب دی .(حاشیه مشکوة صفحه ۱۶ بحواله مرقات) **ترکیب**: من :شرطیه .سئل فعل .هو فاعل .عن جار علم موصوف علم فعل هو فاعل . ه مفعول به .فعل سره دفاعل اومفعول به نه جمله فعلیه خبریه صفت سو .موصوف سره دصفت نه مجرور دجار . جار سره دمجرور نه متعلق په فعل پوري ، فعل سره دنائب فاعل اومتعلق نه جمله فعلیه خبریه معطوف علیه سوه . ثم :عاطفه. کتم فعل هو فاعل . ه مفعول به .فعل سره دفاعل اومفعول به نه جمله فعلیه خبریه معطوف سسو. معطوف علیه سره دمعطوف نه شرط الجم فعل هو نائب فاعل . یوم القیمامة مضاف اومضاف الیه مفعول فیه ، ب جار لجام موصوف ، من

:نار .جار اومجرور متعلق سو په ثابت پوري ،ثابت اسم فاعل سره دخپل فاعل (هوضمير) اومتعلق نه شبه جمله صفت سو ،موصوف سره دصفت نه مجرور ، جار سره دمجرور نه متعلق سو دفعل ،فعل سره دنائب فاعل اومتعلق نه جمله فعليه خبريه جزاء سوه ،شرط سره دجزاء نه جمله فعليه خبريه شرطيه سوه .

(۲۱۲) مَنْ اُفْتِيَ بِغَيْرِ عِلْمٍ كَانَ اِثْمُهُ عَلَى مَنْ اَفْتَاهُ وَمَنْ اَشَارَ عَلَى اَخِيْهِ بِاَمْرٍ يَعْلَمُ اَنَّ الرُّشْدَ فِي غَيْرِهِ فَقَدْ خَانَهُ (ابوداؤد ،تخريج مشكوة صفحه ۳۵ س ۲۱ عن ابی هريرة رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه : کومه فتوی چې ورکړل سوه بغير د علم نه نووی به ګناه د هغه په هغه سړي باندې چاچې دهغه فتوی ورکړی ده اوچاچې مشوره ورکړه خپل ورور ته دداسي کار چې هغه علم اومعلومات وه چې بې شکه خير د دې څخه علاوه په بل شئ کې دی نو هغه دخپل ورور سره خيانت وکړو . **توضيح** :بغير د تحقيق نه فتوی ورکول ګناه کبيره ده که چيرې يکس فتوی واخيستله اومفتي صاحب به لاعلمي کې فتوی ورکړه يعني غلطي ورته وښودله نو په دې صورت کې ګناه په ښودونکو باندې ده ،پوښتنه کونکی بری الذمة دی ليکن که چيرې پوښتنه کونکې ته دبل ځای نه پته ولګيده نوبيا په هغه باندې په صحيح باندې عمل کول واجب دی، د دويمي جملې مطلب دادی چې کوم سړی قصدا يا عمدا غلطه مشوره ورکړه يعني داخبره ورته معلومه وه چې په دې مشوره کې مصلحت نسته ليکن بيايې هم ورکړه نوداسي سړی دمشورې اخيستنکی سره ډير لوی خيانت وکړو ځکه چې سره د علم نه په صحيح باندې غلطه مشوره ورکول خيانت دی . **ترکيب** :من شرطيه :افتی فعل هو نائب فاعل، ب جار .غير علم مضاف اومضاف اليه مجرور ، جار سره دمجرور نه متعلق په فعل پوري ، فعل سره دنائب فاعل اومتعلق نه جمله فعليه خبريه شرط سو ، کان فعل ،اثمه مضاف اومضاف اليه فاعل ،علی جار من موصوله .افتی فعل هو فاعل هو مفعول به ،فعل سره دفاعل اومفعول به نه جمله فعليه خبريه جزاء سوه ،شرط سره دجزاء نه معطوف عليه ،واو : عاطفه ،من شرطيه اشار فعل ،هو فاعل ،علی جار ، اخيه مضاف اومضاف اليه مجرور ،جار سره دمجرور نه متعلق په فعل پوري ، ب جار امر موصوف ،يعلم :فعل هو فاعل ان حرف مشبه بالفعل ، الرشد دده اسم فی جار غيره مضاف اومضاف اليه مجرور ،جار سره دمجرور نه متعلق په ثابت پوري ، ثابت اسم فاعل سره دخپل فاعل (هوضمير) اومتعلق نه شبه جمله خبرد اَنّ . اَنّ سره دخپل اس اوخبر نه جمله اسميه خبريه په تاويل دمفرد سره مفعول به ،يعلم فعل سره دفاعل اومفعول به نه جمله فعليه خبريه صفت ،موصوف سره دصفت نه مجرور دجار، جار سره دمجرور نه متعلق ثانی دفعل ،اشار فعل سره دفاعل اومتعلقينو نه جمله فعليه خبريه شرط . ف : جزائيه . قدخان فعل هو فاعل ه مفعول به ،فعل سره دفاعل اومفعول به نه جمله فعليه خبريه جزاء سوه ،شرط سره دجزاء نه معطوف، معطوف عليه سره دمعطوف نه جمله فعليه خبريه شرطيه معطوفه سوه .

(۲۱۳) مَنْ وَقَّرَ صَاحِبَ بِدْعَةٍ فَقَدْ اَعَانَ عَلَى هَدْمِ الْاِسْلَامِ .

(رواه البيهقی مرسلا عن ابراهيم بن ميسرة . تخريج مشكوة صفحه ۳۱ س ۱۸ عن ابراهيم بن ميسرة مرسلا)

ژباړه : چاچې دبدعتي تعظيم وکړو نوهغه مدد وکړو داسلام په غورزولو کې . **توضيح** :چاچې دبدعتي تعظيم وکړو يايې مدد وکړو (دوقر دواړې معناوي دي) نوګويا هغه داسلام په ورانولو او غورزولو باندې مدد

وکړو . دهدم الاسلام څلور معناګاني دي .اول:اسلام غورزول اونړول . دويم :کمال داسلام ورانول او غورزول . دريم : اهل اسلام ختمول.څلورم:سنت ختمول داڅلور واړه معناوی صحيح دي داخودهغه سړي مذمت سو څوک چې دبدعتي تعظيم او مدد کوي نوپخپله دبدعتي مذمت خو ډير زيات دی . (مرقات جلد ۱ صفحه ۲۵۷)دا روايت اګرچې مرسل دی يعني يو راوي صحابي پکې نسته ،خودمعنی په لحاظ سره مضبوط دی لکه چې وروسته مرفوع حديث دبخاري اومسلم را روان دی ،په هغه کې دبدعت اودصاحب بدعت ډيربدوالی بيان سوی دی . **ترکيب**:من شرطيه.وقر فعل هوفاعل ،صاحب بدعة مضاف اومضاف اليه ، مفعول به ،فعل سره دفاعل اومفعول به جمله فعليه خبريه شرط سو، ف :جزائيه قداعان فعل هوفاعل علی جار هدم الاسلام مضاف اومضاف اليه مجرور جار سره دمجرور نه متعلق په فعل پوري فعل سره دفاعل اومتعلق نه جمله فعليه خبريه جزاء سوه . شرط سره دجزاء نه جمله فعليه خبريه شرطيه سوه .

(۲۱۴)مَنْ أَحْدَثَ فِي أَمْرِنَا هَذَا مَالَيْسَ فِيهِ فَهُوَ رَدٌّ

(بخاري ومسلم،تخريج مشكوة صفحه ۲۷ س ۷ عن عائشة رضی الله عنها مرفوعا)

ژباړه:چاچې زمونږ په دې معامله کې نوی خبره راويستله کومه چې ددې څخه نه وي نوهغه مردود دی .

توضيح:دحضور صلی الله علیه وسلم هرقول اوعمل دقرآن عين مطابق دی ،حضور صلی الله علیه وسلم څخه زيات نه څوک په قرآن پوهه دی اونه پوهيدلی سي ،لهذا په دين کې څه نوی خبره رائج کول دهغه خبري نسبت قرآن يا سنت ته کول په اصل کې په قرآن کريم اورسول الله صلی الله علیه وسلم باندې درواغ تړل دي ، لهذا دداسي سړي قول اوعمل مردود دی اوهغه پخپله هم مردود دی ،حضرت امام مالک رحمة الله علیه فرمايي چې کوم سړی بدعت په اسلام کې رائج کړو اوهغه يې ښه وګڼلو نوګويا چې ده داخيال وکړو چې حضور صلی الله علیه وسلم (نعوذبالله من ذلک) په رسالت کې خيانت کړی دی ،ځکه چې الله تعالی فرمايلی دی : اَلْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ. چې مانن ستاسو لپاره ستاسو دين مکمل کړو (انتهی) علامه نووی رحمة الله علیه فرمايي چې داحديث داسلام دقواعدو نه يوه ډيره لويه قاعده ده اوداد جوامع الکلم نه دی دهربدعت په رد کولو کې (انتهی) حضرت سفيان بن ثوری رحمة الله علیه فرمايي چې بدعتی سره مصافحه کول (لاس ملاول) اسلام ته نقصان رسول دی .(انتهی)**دفی امرنا هذا مالیس منه مطلب**:(۱):ملاقاری رحمة الله علیه په مرقات کې امرنا څخه دين اسلام مراد اخلی.(۲):حافظ ابن حجر رحمة الله علیه هم په فتح الباری کې دامرنا څخه مراد امرالدين اخلی.(۳):علامه عزالدين رحمة الله علیه په سراج المنير کې دين اسلام مراداخلی . (۴): حافظ ابن رجب حنبلی رحمة الله علیه په جامع العلوم والکلم کې هم دين مراداخلی ،بلکه ابن رجب داهم ليکلی دی چې په بعضو روايا تو کې صراحتا دفی امرنا په ځای فی دیننا ذکر دی ،بهرحال دحديث مطلب دادی چې هرڅوک زمونږ په دې دين کې نوی خبره يانوی کار رائج ي مالیس منه چې ددين څخه نه وي ،يعني ددې اصل قوللا ياعملا يااشارة په دين کې نه دی نوهغه بدعت دی ،ددې څخه معلومه سوه چې هربدعت اونوی کاربد نه دی بلکه هغه کاربد چې هغه دين وګڼل سي . (مرقات ج۱ص۲۱۵ فتح الباری ج۵ص۳۳۱ السراج المنير ج۳ص۳۲۰)

لومړی بدعت په دوه قسمه دی

اول : بدعت لغویه اودهغه تحقیق: دلغوي بدعت په باره کي دلغت امام ابوالفتح ناصر بن عبدالسید المطرزی الحنفی رحمۃ اللہ (المتوفی ۶-۶ھ) لیکی چي بدعت دابتداع اسم دی لکه چي رفعت دارتفاع اوخلفت داختلاف اسم دی په معنی دڅه نوي شئ چي ایجاد کړل سي لیکن بیا دبدعت لفظ په داسي شئ باندي غالب راغی چي په دین کي کمي زیاتی وکړی سي. (مغرب جلد ۱ ص ۳۰) دویم: امام رازي رحمۃ اللہ علیہ لیکي چي بدعت داکمال دین څخه وروسته داحداث نوم دی. (مختار الصحاح ص ۲۸۰)

(فیروز اللغات ص ۱۹۴) باندي دی. په دین کي څه نوی شئ راویستل یارسم او رواج راایستل، ظلم اوسختي، جهګړه، فساد شرارت. په مصباح اللغات ص ۲۷ کي باندي لیکلی دی دبدعت دامعنی چي بغیر دنمونې څخه جوړسوی شئ، په دین کي نوی رسم هغه عقیده یاعمل چي دهغه څه اصل په قرون ثلثة مشهود لها بالخیر کي بیانه موندلی سي. **بدعت شرعیه اوددې تحقیق** : دشرعي بدعت په باره کي علامه بدرالدین عیني رحمۃ اللہ علیہ لیکي : چي بدعت په اصل کي داسي نوی ایجاد سوی شئ ته وایي چي دحضور صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم په زمانه کي نه وؤ (عمدۃ القاري ج ۵ ص ۲۵۶) حافظ ابن حجر رحمۃ اللہ علیہ لیکلی دي: بدعت هغه شئ ته وایي چي بغیر دسابقه نمونی نه ایجاد کړی سوی وي، اوپه شریعت کي دسنت په مقابله کي ددې اطلاق کیږي لهذا دابه (په هرحال کي) مذموم وي (فتح الباري ج ۴ ص ۲۱۹) علامه مرتضی الزبیري الحنفی رحمۃ اللہ علیہ (المتوفی ۱۲۰۵ھ) دبدعت دحدیث معنی بیانوي هغه لیکي چي کوم شئ دشریعت داصولو څخه خلاف وي اودسنت موافق نه وي (تاج العروس ج ۵ ص ۲۷۱)

حافظ ابن رجب الحنبلی رحمۃ اللہ علیہ لیکي چي دبدعت څخه مراد هغه شئ دی چي دهغه په شریعت کي هیڅ اصل نه وي چي په هغه باندي دلالت وکړي اوهغه شئ چي دهغی اصل په شریع کي موجود وي چي په هغه باندي دلالت کوي نو هغه شرعا بدعت نه دی اګرچي هغه لغتا بدعت وي (جامع العلوم والحکم ص ۱۹۳)

حکیم الامت مولانا اشرف علی تهانوي رحمۃ اللہ علیہ لیکي چي دنوي خبري څخه مراد دادی چي هغه دشریعت دیو دلیل (قرآن سنت اجماع، قیاس) څخه ثابت نه وي اوداسي خبري په دین کي داخلولو ته دشریعت په اصطلاح کي بدعت وایي.

دویم : دبدعت لغویه پنځه قسمونه دي

واجب. مندوب. مکروه. مباح. حرام

دلغوي بدعت لومړی قسم . بدعت واجبه. یعني هرهغه کار چي په هغه باندي ددین حفاظت موقوف وي مثلا علم النحو وغیره. دویم : بدعت مندوبه : یعني هغه کار چي دهغه څخه بغیر هم دین حاصلیدلی سي مثلا ربط بنودل اومدرسې جوړول. دریم : مکروه بدعت : یعني داختر لمانځه څخه مخکي نفل کول اومسجدونه ښه ښائسته کول. څلورم : مباح بدعت : یعني دخوراک څښاک په شیانو کي فراخي کول

اوهغه ټول مباحات چې دنبي کريم ﷺ په زمانه کې نه ؤ . پنځم حرام بدعت : يعني څومره اهل بدعت چې بدعت شرعيه کوي يعني په دين کې د ثواب کار ګڼل هغه چې دنبي کريم ﷺ په زمانه کې نه ؤ (لمعات التنقيح جلد ۱ ص ۲۵۷)

دبدعت حسنه او سيئه غوره تحقيق

بدعت حسنه يانعمت البدعه : هغه ديني کار چې دهغه مانع دنبي کريم ﷺ څخه وروستمزائل سی يا دهغه سبب اوداعي وروسته پيښ سوی وي اوپه قرآن ،سنت ،اجماع اوقياس کې دهغه لپاره ثبوت ملاويږي نو دهغه نوم بدعت حسنه يانعمت البدعة دی اودالغوي بدعت مذموم نه دی لکه په جماعت سره د ترايح لمونځ کول ،نعمت البدعة اونعمت حسنه دی بلکه سنت دی ، ځکه چې حضور ﷺ دوجوب دويږي څخه جمع پرېښی وه ،بيادحضرت عمر رضی اللہ عنہ په وخت کې شروع سوه ځکه چې مانع زائل سو ، يعني اوس دوجوب ويره نسته ،باقي د ټولو بدعاتو حکم يو دی ،صرف دالفاظو فرق دی ،بدعت سيئه بدعت ضلاله ، بدعت قبيحه بدعت مذمومه بدعت شرعيه ،د ټولو تعريف يو دی چې مخکې سره دحوالې تيرسو هغه بدعت چې په څه کار باندې زيات والی يا کموالی وکړل سي ليکن د قرون ثلاثه څخه وروسته وي اودا زيات والی دشرعيت په حکم سره نه اونه په دې باندې دشارع قول موجود وي اونه فعل نه صراحت اواشاره دداسي بدعت باره کې وعيدونه راغلي دي اوهمدا مراد دي دبدعت ضلاله . (انتهی) **اهمه فائده** : دبدعت په ذات کې حسن بالکل نسته ،حسن صرف په سنت کې دی اوپه سنت باندې عمل کولو کې حسن دی ،بدعت ته نعمت (ښه) اوحسنه صرف دلغت په اعتبار سره ويل کيږي ددې نوي تهذيب په زمانه کې چې کوم سړی مطلقا بدعت شرعيه ته بدعت حسنه وايي ، دهغه قول بالکل باطل دی اومردود دی (الجنة ص ۶۰ وراه سنت ۹۷ مجدد الف ثانی مکتوبات حصه سوم ص ۷۲)

که دحسنه اوسيئه زيات معلومات غواړی نو دغه کتابونه وګوری

(ارشادالساری ج ۳ ص ۳۴۴ عمدة القاری ص ۵ ص ۳۵۶ نووی شرح مسلم ج ۱ ص ۲۸۵ مدخل ج ۲ ص ۲۵۷) وغيره

دبدعاتو په جواز دبدعتيانو دلائل او دهغه جوابونه

اول دليل : مَنْ سَنَّ سنةً حَسَنَةً .الخ چاچې جاري کړه په اسلام کې نيکه طريقه بيا وروسته دغه نيکه طريقه عملي کړل سوه نو وبه ليکل سي ددغه سړي لپاره هغه مقدار ثواب څومره ثواب چې ټولو عمل کونکوته ددې څخه وروسته ليکل کيږي (مسلم ج ۲ ص ۳۴۱) ددې څخه معلومه سوه چې چانوی طريقه ايجاد کړه اوخلګ په هغه باندې عمل وکړو نوداداجر باعث ده په دې کې هيڅ ګناه نسته بدعت راايستل اوسنت حسنه راايستل يوشئ دی. **لومړی جواب** : دمسلم دغه روايت کې د : من سنّ سنة. په ځای أيما داع الى هدىً .الفاظ دی چې کوم داعي دهدايت طرف ته دعوت وکړو نه داچې نوي طريقه يې رائج کړه (مسلم ج ۲ ص ۳۴۱ ابن ماجه ص ۱۹) اودغه حديث په دويمه طريقه کې دا الفاظ وی : أحياسنّةً .الخ چاچې زما يوداسي سنت ژوندی کړو چې هغه زما څخه وروسته مړ سوی ؤ نه داچې دخپل طرفه يې نوی

اوهغه ټول مباحات چې دنبي کريم ﷺ په زمانه کې نه ؤ . پنځم حرام بدعت : يعني څومره اهل بدعت چې بدعت شرعيه کوي يعني په دين کې د ثواب کار ګڼل هغه چې دنبي کريم ﷺ په زمانه کې نه ؤ (لمعات التنقيح جلد ۱ ص ۲۵۷)

دبدعت حسنه او سيئه غوره تحقيق

بدعت حسنه يانعمت البدعه : هغه ديني کار چې دهغه مانع دنبي کريم ﷺ څخه وروسته زائل سی يا دهغه سبب اوداعي وروسته پيښ سوی وي او په قرآن ، سنت ، اجماع او قياس کې دهغه لپاره ثبوت ملاويږي نو دهغه نوم بدعت حسنه يانعمت البدعة دی اودالغوي بدعت مذموم نه دی لکه په جماعت سره د تروايح لمونځ کول ، نعمت البدعة اونعمت حسنه دی بلکه سنت دی ، ځکه چې حضور ﷺ دوجوب دويرې څخه جمع پرپښې وه ، بيادحضرت عمر رضی اللہ عنہ په وخت کې شروع سوه ځکه چې مانع زائل سو ، يعني اوس دوجوب ويره نسته ، باقي د ټولو بدعاتو حکم يو دی ، صرف دالفاظو فرق دی ، بدعت سيئه بدعت ضلاله ، بدعت قبيحه بدعت مذمومه بدعت شرعيه ، د ټولو تعريف يو دی چې مخکې سره دحوالې تير سو هغه بدعت چې په څه کار باندې زيات والی يا کموالی وکړل سي ليکن د قرون ثلاثه څخه وروسته وي اودا زيات والی دشرعيت په حکم سره نه اونه په دې باندې دشارع قول موجود وي اونه فعل نه صراحت اواشاره دداسي بدعت باره کې وعيدونه راغلي دي اوهمدا مراد دي دبدعت ضلاله . (انتهی) **اهمه فائده** : دبدعت په ذات کې حسن بالکل نسته ، حسن صرف په سنت کې دی اوپه سنت باندې عمل کولو کې حسن دی ، بدعت ته نعمت (ښه) اوحسنه صرف دلغت په اعتبار سره ويل کيږي ددې نوي تهذيب په زمانه کې چې کوم سړی مطلقا بدعت شرعيه ته بدعت حسنه وايي ، دهغه قول بالکل باطل دی اومردود دی (الجنة ص ۶۰ وراه سنت ۹۷ مجدد الف ثانی مکتوبات حصه سوم ص ۷۲)

که دحسنه اوسيئه زيات معلومات غواړی نودغه کتابونه وګوری

(ارشادالساری ج ۳ ص ۲۴۴ عمدة القاری ص ۵ ص ۳۵۶ نووی شرح مسلم ج ۱ ص ۲۸۵ مدخل ج ۲ ص ۲۵۷) وغيره

دبدعاتو په جواز دبدعتيانو دلائل اودهغه جوابونه

اول دليل : مَنْ سَنَّ سنةً حَسَنَةً .الخ چاچې جاري کړه په اسلام کې نيکه طريقه پيدا وروسته دغه نيکه طريقه عملي کړل سوه نو وبه ليکل سي ددغه سړي لپاره هغه مقدار ثواب څومره ثواب چې ټولو عمل کونکو ته ددې څخه وروسته ليکل کيږي (مسلم ج ۲ ص ۳۴۱) ددې څخه معلومه سوه چې چانوی طريقه ايجاد کړه اوخلک په هغه باندې عمل وکړو نو داداجر باعث ده په دې کې هيڅ ګناه نسته بدعت راايستل اوسنت حسنه راايستل يوشئ دی . **لومړی جواب** : دمسلم دغه روايت کې د : من سن سنة . په ځای أيما داع الی هدیً .الفاظ دی چې کوم داعي دهدايت طرف ته دعوت وکړو نه داچې نوي طريقه يې رائج کړه (مسلم ج ۲ ص ۳۴۱ ابن ماجه ص ۱۹) اودغه حديث په دويمه طريقه کې دا الفاظ وی : اَحياسنّةً . .الخ چاچې زما يوداسي سنت ژوندی کړو چې هغه زما څخه وروسته مړ سوی ؤ نه داچې دخپل طرفه يې نوی

خبره يانوی کلام راويستلو. **دويم جواب**:ددې حديث دامعنی ده چې د کوم شئ په شريعت کې دلالة يااشارة ثبوت وي نوپه جاري کولو کې به يې ثواب وي اوهغه به هغه فعل وي چې دهغه شئ ضرورت اومحرک په خيرالقرون کې موجود نه وي بلکه وروسته پيدا سوی وي اودادله اربعهؤ څخه نه ديو دليل لاندې داخل وي نه داچې دخپل ځان څخه نوی طريقه ايجاد کړی وي.

دويم دليل: قَالَ عليه السلام مَارَاٰهُ الْمُسْلِمُوْنَ حَسَنًا اللهِ فَهُوَ عِنْدَاللهِ حَسَنٌ. (جاء الحق وزهق الباطل ص ۳۰۱)

کوم کار مسلمانانوښه وګڼړی هغه دالله تعالی په نزد هم ښه دی ،نوددې څخه صفا معلومه سوه چې هربدعت جائز دی ځکه چې هربدت مسلمانان ښه ګڼړي نو کوي يې. لومړی جواب :نورو روايا تو چې وګړي نود المسلمون څخه صحابه کرام مراد کېدلی سي نومورډهم هم وايو چې دقرون ثلاثه څخه وروسته نوی ايجاد سوی چې دين وګڼړي هغه منع دی کوم شئ چې صحابه ښه وګڼړي هغه به ضرور دالله تعالی په نزد ښه وي ،د: مَاانَا عَلَيْهِ وَاَصْحَابِي. دوجې نه. **دويم جواب**:دفتح الملهم ج ۲ ص ۴۰۹) اونصب الرأيه (ج ۴ ص ۱۳۲) څخه معلوميږي چې دا روايت دحضرت عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه پوري موقوف دی ،دحضور صلی الله عليه وآله وسلم خپل بيان نه دی ،لهذا دبدعت جواز ددې حديث په وجه نسي جوړيدلی ،دغه شان حديث کې دمسلمانانو هغه رأيه مراد ده چې ددين ديو اصل څخه ثابت وي. دقرآن اوحديث په رڼا کې دبدعت ترديد اومذمت اوسپيره والی (۱):دقرآن دسورة آل عمران څلورمي رکوع لومړی آيت چې دهغه ترجمه داده چې:اې محمد صلی الله عليه وآله وسلم تاسواعلان و کړی که چيرې تاسو دالله تعالی سره محبت کوی نوزما تابعداري وکړی چې الله تعالی تاسو سره محبت وکړي اوستاسو ګناهونه وبخښي ددې څخه معلوميږي چې صرف دمحمد صلی الله عليه وآله وسلم په اتباع کې دی اودصحابو اوتابعينو اتباع دحضور صلی الله عليه وآله وسلم په حکم سره ده ،نو ګويا چې دصحابه اوتابعينو اودقرون ثلاثهؤ اتباع دحضور صلی الله عليه وآله وسلم اتباع کې داخله ده.

لهذا په دين کې نوی شئ راويستل بدعت اوښکاره ګمراهي ده. (۲):رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم وفرمايل چې :هيڅ قوم بدعت نه ايجاد کوي مګر دهغه مقدار کې دهغوی نه يوسنت پورته کيږي نوسنت مضبوطيا سره نيول دبدعت ايجاد کولو نه بهتر دی (مسند احمد رضی الله عنه ج ۴ ص ۱۰۵ مشکوة ص ۳۱ س ۱۶) عن غضيف بن حارث دبدعت دنحوست (سپيره والی) لپاره دومره کافی وه ليکن په طور دشاهد څو نور روايتونه واوری)

وَكُلُّ بِدْعَةٍ ضَلَالَةٌ. هربدعت ګمراهي ده (مسلم ج ۱ ص ۲۸۵ مشکوة ص ۲۷ س ۹) وَكُلُّ ضَلَالَةٍ فِي النَّارِ. هر ګمراهي دوزخ ته بوتلونکی ده. (نسائي ج ۱ ص ۱۷۹) **دقرآن اوحديث په رڼا کې داهل بدعت مذمت**

:نبي کريم صلی الله عليه وآله وسلم دشرک څخه وروسته چې څومره دبدعت اواهل بدعت ترديد فرمايلی دی شايد چې دبل يوشئ يې دومره ترديد نه ؤ فرمايلی اوحقيقت هم دادی ځکه چې ددين اصلي شکل دبدعت په وجه بدليږي ،ددين ختميدو لپاره قرآن دوه اصولي طريقې بيان کړی دی (۱): کتمان حق (۲):حق

اوباطل.یوبل سره ګډوډ کول ددې وجې مناسب ده چې دبدعت څه تردید اومذمت (چې تیرسوی دی) او(اوس) داهل بدعت تردید اومذمت بیان کړی سي چې په هغه کې به پخپله دبدعت ذکر هم دوباره راسي.**رسول الله ﷺ وفرمایل**:چې الله تعالی نه دبدعتی روژه قبلوی اونه لمونځ اونه صدقه نه حج اونه عمره اوجهاد اوڅه فرض عبادت قبلوی .بدعتي دغه شان داسلام څخه وزي لکه چې دغزلو سوو اوړو څخه ویښته بهر ته راوزي . (ابن ماجه ص عن حذیفه مرفوعا کلید بهشت ص۴۱.رسول الله ﷺ وفرمایل چې :الله تعالی هر بدعتي باندې د توبې دروازه بنده کړې ده (مجمع الزوائد ج۱۰ص۱۸۹ عن انس بن مالک رضی الله عنه مرفوعا)سید البشر ﷺ وفرمایل چې زما په امت کې بدعت بنکارسي اوزما صحابه کرامو ته بد رد وویل سي نو په دغه وخت کې (ددغه وخت عالم)باندې ضروري ده چې خپل علم بنکاره کړي اوچې کوم سړی داسی نه کوي (دبدعت خلاف په حرکت کې نه راځي) نو په هغه دي دالله تعالی اودفرشتو اوټول مخلقو لعنت وي (کتاب الاعتصام ج۱ص۵۸ عن معاذ رضی الله عنه مرفوعا)یو اوبد حدیث دی دهغه په اخر کې دی چې دحوض کوثر به یوسړی وشړلی سي په دغه وخت به زه ووایم چې اې زما پروردګار! داخوزما دامت څخه دی داولي وشړل سو ،ارشاد به وکړل سي :مَا تَدْرِیْ مَا اَحْدَثُوْا بَعْدَکَ. چې تا ته پته نسته چې دوی ستا څخه وروسته کومي نوي خبري په دین کې ایجاد کړی دي(مسلم ج۱ص۱۲۶ خدا کی باتیں ص۱۰۲ ع انس بن مالک رضی الله عنه . اصحاب البدع کلاب اهل النار .حضور ﷺ وفرمایل چې بدعتیان د دوزخیانو سپیان دي. (جامع صغیر ج۱ص۷۰ عن ابوامامه مرفوعا .مخکې تیرسوي دي: مَنْ وَقَّرَ صَاحِبَ بِدْعَةٍ (الحدیث نمبر۱۲)

په سورة الفاتحه کې د :ولا الضالین .څخه مراد دیو تفسیر مطابق بدعتیان دي .

فائده :دبدعت په باره کې چې کوم څه په دې کتاب کې ذکر سو دا ددې کتابونو خلاصه ده (مشکوة صفحه ۲۷ تا ۳۲ وغیره .مرقات ج۱ص۲۱۵ .لمعات ج۱ص۱۰۶ والمنهاج الواضح ص۶۷ تا ۱۱۲ .سنت وبدعت ص۱۱ تا ۴۷)

دروغ مزاج والا لپاره دومره هم کافي ده چې دبدعت څخه ځان وګوري اواهل بدعت سره یوځای نه سي اوسنت مضبوط ونیسي . **ترکیب**:من :شرطیه.احدث فعل هوفاعل ،فی جار امرنا مضاف اومضاف الیه موصوف ، هذا اسم اشاره صفت .موصوف سره دصفت نه مجرور ، جاراومجرور متعلق په فعل پوري ،ماموصوله .لیس فعل ناقص ،هوپې اسم . منه جار اومجرور متعلق ثابتا پوري شبه جمله خبرسو .لیس سره دخپل اسم اوخبر نه جمله فعلیه خبریه صله سوه ،موصول سره دصلې نه مفعول سو . فعل سره د فاعل اومفعول اومتعلق نه جمله فعلیه خبریه شرط سو ،ف جزائیه هومبتداء ،رد په معنی دمردود سره خبر ،مبتداء سره دخبر نه جمله اسمیه خبریه جزاء ،شرط سره دجزاء نه جمله فعلیه خبریه شرطیه سوه . (۲۱۵)مَنْ تَحَلّٰی بِمَا لَمْ یُعْطَ کَانَ کَلَابِسِ ثَوْبَیْ زُوْرٍ رواه ترمذی (تخریج مشکوة صفحه ۲۶۱ س۱۵ عن جابر رضی الله عنه مرفوعا)**ژباړه**:څوک چې ځان بنائسته سړی هغه شئ سره کوم چې هغه ته نه دی ورکړی سوی

،نو وی به د درواغ دوې جامې اغوستونکی په شان . توضیح اوشان ورود : یو ښځه حضور ﷺ ته راغله وی ویل چې زما یوه بن ده نوایا زما لپاره دا جائزده چې زه هغې ته ووایم چې ماته خاوند ډیر شیان راکوي اوپه حقیقت کې یې نه وي راکړي دا جائز ده اوکه ده جائز؟ په دې باندې حضور ﷺ داجمله ارشاد وفرمایله چې دهغه خلاصه داده چې جائز نه ده څوک چې په داسې شئ ځان ښائسته کړی چې هغه ده ته نه وي ورکړی سوی نو دې به دهغه درواغو جامو اغستونکي پشان برابر گناه گاروي ، یعني د درواغو گناه شمارلی سي . شان ورود کې چې کومه ښځه سائله راغلی ده دهغه دوه گناهونه داسې جوړیږي چې یوخوږې دا وویل چې خاوند ماته راکوي اودویم دادعوه یې وکړه چې زما زیات محبت کوي په نسبت دخپلې بن ، نودا درواغ سول ، نود دوو جامو د درواغو اغوستونکی برابر گناه گار به وي ، د درواغو دوو کپړو څخه مراد (۱): عربو به حقیقتا دوې کپړې اغوستلی چې مورډ ممتاز په خلکو ښکاره سوس اوعزت مند وگنړل سو نوداهم دهغوی د درواغو گناه وه .

(۲): داصرف تشبیه ورکړی سوی ده د دوو کپړو سره ځکه چې خپل ځان لره ښائسته کونکی لکه چې دوه درواغ یې وویل یوداچې دخپل ځان صفت یې داسې بیان کړو چې په ده کې نه ؤ دویم داچې دابیان یې وکړو چې په دې انعام سره زه خاص یم . **فائده**: په اصل حدیث کې واو هم سته لیکن مصنف رحمۃ اللہ علیہ داحادیثو دخلط (گډون) په وجه پریښودی . **ترکیب**: من شرطیه . تحلی : فعل هو فاعل ، ب جار . ما موصوله . لم یعط فعل هو نائب فاعل . فعل سره دفاعل نه جمله فعلیه خبریه صله سوه ، موصول سره دصلې نه مجرور ، جار سره دمجرور نه متعلق په فعل پورې ، فعل سره دفاعل اومتعلق نه جمله فعلیه خبریه شرط . کان فعل هو فاعل ک : جار . لابس مضاف ، ثوبی مضاف الیه ، مضاف . زور مضاف الیه . مضاف سره دمضاف الیه نه مضاف الیه سو ، بیا مضاف اومضاف الیه مجرور دجار ، جار سره دمجرور نه متعلق په فعل پورې ، فعل سره دفاعل اومتعلق نه جمله فعلیه خبریه جزاء سوه ، شرط سره دجزاء نه جمله فعلیه خبریه شرطیه سوه .

(۲۱۶) مَنْ يَضْمَنْ لِي مَا بَيْنَ لَحْيَيْهِ وَمَا بَيْنَ رِجْلَيْهِ أَضْمَنْ لَهُ الْجَنَّةَ

(بخاري) (تخریج: مشکوة ص ۴۱۱ س ۱۰ عن سهل بن سعید رضی اللہ عنہ مرفوعا)

ژباړه : څوک چې ضمانت راکړي ماته دهغه شئ کوم چې دهغه د دوو ژامو په مینځ کې دی اودهغه شئ کوم چې دهغه د دوو پښو په مینځ کې دی نوزه ضمانت ورکوم دهغه لپاره دجنت **توضیح**: کوم سړی چې دخپل ژبې اوشرمگاه دحفاظت ضمانت حضور ﷺ ته ورکوي نو نن هم زمور نبي کریم ﷺ هغه ته دجنت ضمانت ورکولو ته تیار دی بلکه ترقیامته پورې هم څوک چې دژبې اوشرمگاه دگناه څخه کولو ضمانت ورکولو ته تیار دی بلکه ترقیامته پورې هم څوک چې دژبې اوشرمگاه دگناه نه منع سي نوهغه هم دحضور ﷺ په ضمانت کې شاملیدلی سي **فائده**: دزاد الطالبین په بعضو نسخو کې درجلیه په ځای فخذ په ذکر سوی دی ، دبخاري شریف په الفاظو کې دالفظ نشته ددې وجې نه رجلیه پکار دی ، ځکه چې دلته دبخاري شریف روایت بیانول مقصود دی . **ترکیب**: من: شرطیه یضمن : فعل هو فاعل : لی جار اومجرور ، متعلق ، په فعل پورې ، ما موصوله ، بین مضاف . لحییه ، مضاف الیه مضاف ، بیا مضاف اومضاف الیه مفعول فیه سو دثبت محذوف لپاره ، ثبت فعل

هو فاعل او مفعول فيه سره صله دموصول موصول سره دصلې نه معطوف عليه ، واو عاطفه . ما : موصوله ، بين رجليه . مضاف اليه سره دمضاف نه بيا مضاف سره دمضاف اليه نه مفعول فيه دثبت سوه ، اوصله دموصول سوه . صله دموصول سره معطوف ، معطوف عليه دمعطوف نه شرط . اضمن فعل ، انا فاعل له جار مجرور متعلق په فعل پوري . الجنة مفعول به . فعل سره دفاعل او مفعول به او متعلق نه جمله فعليه خبريه جزاء سوه ، شرط سره دجزاء نه جمله فعليه خبريه شرطيه سوه .

(۲۱۷) مَنْ تَمَسَّكَ بِسُنَّتِي عِنْدَ فَسَادِ أُمَّتِي فَلَهُ أَجْرُ مِائَةِ شَهِيدٍ

(تخريج مشكوة صفحه ۳۰ س ۲۳ عن ابی هريرة رضي الله عنه مرفوعا)

ژباړه : چاچې مضبوط يا ره ونيولو زما سنت زما دامت دفساد په وخت کې ، نو هغه لپاره به دسلو شهيدانو ثواب وي .

توضيح : داحديث هم دبدعت تردید کوي حضور صلى الله عليه وآله وسلم وفرمايل چې چا زما سنت مضبوط ونيول زما دامت دفتنې اوفساد په زمانه کې يعني دبدعت ښکاره کېدلو په وخت ، نودده لپاره به دالله تعالى سره شهادت احکام جاري کول کيږي . اوپه آخرت کې به سلو شهيدانو ثواب ورکول کيږي . په دې کې هيڅ شک نسته چې نن (۱۴۱۴ هـ مطابق سن ۱۹۹۳) کې دبدعت غوندې فسادات ښکاره سوی دی ، لهذا په دې زمانه کې دمسواک پشان سنت مضبوط يا سره نيولو کې هم دا درجه ملاويدی سي او بيري پرې ښودلو سره اود بيري خلال کولو سره په اودس کې اوهمېشه دښې طرفه شروع کولو سره هم اوبيت الخلاء ته تللو راتللو کې دعا لوستلو وغيره وغيره سره هم دادرجه ملاويدی سي .

ترکيب : من : شرطيه . تمسک : فعل هو فاعل ، ب : جار سنتي : مضاف اومضاف اليه مجرور ، جار مجرور متعلق په فعل پوري ، عند مضاف فساد امتي : دې مضاف اليه مضاف سره دمضاف اليه نه مفعول فيه ، فعل سره دفاعل اومتعلق اومفعول فيه نه جمله فعليه خبريه شرط سو . (ف) جزائيه . له : جار مجرور متعلق په ثابت پوري خبر مقدم اجر مائة شهيد : داټول مضاف اليه مبتداء مؤخر . خبر مقدم سره دمبتداء مؤخر نه جمله اسميه خبريه جزاء سوه . شرط سره دجزاء نه جمله فعليه خبريه شرطيه سوه .

(۲۱۸) مَنْ شَهِدَ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللّٰهِ حَرَّمَ اللّٰهُ عَلَيْهِ النَّارَ .

مسلم ، تخريج مشكوة صفحه ۱۵ س ۷ عن عبادة بن صامت رضي الله عنه مرفوعا)

ژباړه چاچې گواهي ورکړې چې نشته دی معبود مګر يو الله او داچې محمد صلى الله عليه وآله وسلم دالله جل جلاله رسول دی ، نو په هغه به حرام کړي الله تعالى جهنم .

چاچې په اخلاص سره داګواهي ورکړه په ده باندې به الله تعالى دجهنم اور حرام کړي ، ددې څخه وروسته په مشکوة شريف کې دحضرت عثمان رضي الله عنه څخه روايت دی چې حضور صلى الله عليه وآله وسلم وفرمايل چې څوک په داسي حالت کې مړ سي چې دهغه يقين ي چې دالله تعالى څخه سوا څوک بل معبود نسته نو جنت ته به يوځل ضرور داخليږي ، اودمشکوة په صفحه ۱۵ باندې دا روايت هم دی ، معاذ رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وآله وسلم وفرمايل چې دجنت چابي (دهرچا لپاره) داګواهي کول ي چې دالله تعالى څخه ماسوا بل معبود نسته .

ترکيب : من : شرطيه . شهد فعل . هو فاعل . ان : مخففه من المثقله ، ه ضمير شان محذوف ، د دې اسم . لا : يې نفي جنس . اله موصوف الا په معنى دغير مضاف لفظ الله مضاف اليه ،

مضاف سره دمضاف الیه نه صفت دموصوف، موصوف سره دصفت نه اسم دلا . موجود محذوف خبر دلا . لا سره داسم اوخبر نه جمله اسمیه خبر، معطوف علیه ، واو: عاطفه .ان حرف مشبه بالفعل . محمدا اسم دان .رسول الله مضاف اومضاف الیه خبر دان . ان سره داسم اوخر نه جمله اسمیه خبریه معطوف، معطوف علیه سره دمعطوف نه جمله معطوفه شرط سوه .حرم فعل لفظ الله فاعل .علیه جار اومجرور متعلق په فعل پوري .النار مفعول به، فعل سره دفاعل اومفعول به اومتعلق نه جمله فعلیه خبریه جزاء سوه .شرط سره دجزاء نه جمله فعلیه خبریه شرطیه سوه .

(۲۱۹) مَنْ أَحَبَّ لله وَأَبْغَضَ لله وَأَعْطَى لله، وَمَنَعَ لله فَقَدِ اسْتَكْمَلَ الْإِيمَانَ (ابو داؤد)

(تخریج مشکوة صفحه ۱۴ س ۲۶ عن ابی امامة رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه : چاچي محبت وکړو دالله لپاره اوبغض يې وکړو دالله تعالی لپاره اوورکړه يې وکړه دالله تعالی لپاره اومنع يې وکړه دالله تعالی لپاره نودهغه ايمان کامل سو . **توضیح** : حضور صلی الله علیه وآله وسلم وفرمايل چي کوم سړی ديونيک انسان سره دالله لپاره محبت وکړو اودبدانسان سره يې بغض هم دالله تعالی لپاره وکړو اوچاته يې څه ورکړل دالله تعالی (دثواب لپاره اودالله تعالی درضا لپاره) اوچاچي منع کړه (دځه خراب کار یاخراب خبري څخه) دالله تعالی درضا لپاره نوداسي سړی چي کله په دې څلورو کارونو کي خاص دالله تعالی لپاره نيت وکړي داڅلور کارونه وکړي نوباقي کارونو کي به ضرور دالله درضا نيت کوي نو واوری چي داسي سړي خپل ايمان اودين مکمل کړی دی.

ترکیب : من شرطیه . احب فعل هو فاعل ، لله جار مجرور متعلق په فعل پوري ،فعل سره دفاعل اومتعلق نه معطوف علیه .واو عاطفه ابغض لله هم په دې طريقه سره معطوف اول ،واعطی الله معطوف ثاني .ومنع لله معطوف ثالث،معطوف علیه دخپل درو واړو معطوفاتو سره شرط .ف جزائیه .قداستکمل فعل هوفاعل .الایمان مفعول به ، فعل سره دفاعل اومفعول به نه جمله فعلیه خبریه جزاء .شرط سره دجزاء نه جمله فعلیه خبریه شرطیه سوه .

(۲۲۰) مَنْ أَنْظَرَ مُعْسِرًا أَوْ وَضَعَ عَنْهُ أَظَلَّه الله فِي ظِلِّهِ (رواه مسلم)

(تخریج مشکوة صفحه ۲۵۱ س ۲۰ عن ابی الیسر رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه : چاچي مهلت ورکړو تنګ دست (غریب) ته يا يې معاف کړو دهغه نه (دهغه قرضه) نوالله تعالی به هغه په خپل سوري کي وساتي . **توضیح** : چاچي دقرضې اداکولو په نيت سره قرضه واخيستله اوس په ورکولو کي دتنګدستي په وجه وروسته والی کيږي نوداسي مجبور انسان ته چي چانور مهلت ورکړو يا يې دهغه غريبي (تنګدستي) ته وکتل قرضه يې ورته معاف کړه نوداسي سړي ته په الله تعالی دقيامت په ورځ دخپل عرش دسوري لاندي ځای ورکړي ،يابه يې دقيامت په ورځ دګرمی څخه وساتي . **ترکیب** : من :شرطیه . انظر فعل . هوفاعل ، معسرا مفعول به ، فعل سره دفاعل اومفعول به نه جمله فعلیه خبریه معطوف ، واو :عاطفه وضع فعل هو فاعل عنه جار اومجرومتعلق په فعل پوري ،فعل سره دفاعل اومتعلق نه جمله فعلیه خبریه معطوف ،معطوف علیه سره دمعطوف نه شرط . اظل فعل ه مفعول به لفظ الله فاعل فی جار .ظله مضاف اومضاف

الیه مجرور دجار،جار سره دمجرور نه متعلق په فعل پوري ،فعل سره دفاعل اومفعول به اومتعلق نه جمله فعلیه خبریه جزاء سوه،شرط سره دجزاء نه جمله فعلیه خبریه شرطیه سوه .

(۲۲۱)وَمَنْ كَذَبَ عَلَيَّ مُتَعَمِّدًا فَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ (بخاري)

(تخریج مشکوة صفحه ۳۲ س ۱۶ عن عبدالله بن عمرو رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه :چاچي درواغ وویل په ماباندي په قصد سره پس پکاردی چي جوړ کړي دخپل ځان لپاره کور په جهنم کي **توضیح** : کوم سړی چی قصدا درواغ جوړ کړل یعني څه داسي خبره یې نبي کریم صلی الله علیه وآله وسلم ته منسوب کړه چي هغه نبي کریم صلی الله علیه وآله وسلم نه وي فرمایلی نوداسي سړی په نبي کریم صلی الله علیه وآله وسلم باندي درواغ تړي لهذا هغه لره پکار دي چي خپله ځای دجنت په ځای په جهنم کي جوړ کړي . دحدیث دوضع (دځان څخه دجوړولو) مسئله : یعني دخپل ځان څخه حدیث جوړول دجمهور په نزد ناجائز اوحرام دی نه چي کفر دی . کما قال جوینی.اونه داچي ناجائز دی لکه بعض صوفیان یې دترغیب اوترهیب لپاره یې جائز وایي ،دتولوامامانو اوتولو فقهاؤ په نزد وضع دحدیث حرام ده که زیات تفضیل غواړی نو (الخیر الجاری ج ۱ص ۹۶) وګوري. **فائده** :دلته هم په اصل حدیث واودی لیکن مصنف په زاد الطالبین کي دحدیثو نو دخلط کېدلو څخه دبچ کېدو لپاره پرېښود ،**ترکیب** : من:شرطیه . کذب فعل هوذوالحال ،متعمدا حال .ذوالحال سره دحال نه فاعل ، علی جار اومجرور متعلق په فعل پوري ، فعل سره دفاعل اومتعلق نه جمله فعلیه خبریه شرط سو.ف جزائیه .لیتبوؤ :امرغائب هو فاعل ، مقعده: مضاف اومضاف الیه مفعول به .من النار. جار اومجرور متعلق سوپه فعل پوري ،فعل سره دفاعل اومتعلق نه جمله فعلیه انشائیه جزاء سوه ،شرط سره دجزاء نه جمله فعلیه خبریه شرطیه سوه .

(۲۲۲)مَنْ خَرَجَ فِي طَلَبِ الْعِلْمِ فَهُوَ فِي سَبِيلِ اللهِ حَتَّى يَرْجِعَ (ترمذی)

(تخریج :مشکوة صفحه ۳۴ س ۱۹ عن انس رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه:څوک چي ووتلو دعلم په تلاش کي نوهغه دالله تعالی په لار کي دی تردې چي هغه واپس راسي. **توضیح** : کوم سړی چي دعلم دین په تلاش کولو لپاره ووزي هغه ته د مجاهد پشان ثواب ملاویږي څنګه چي مجاهد کله ولاړسي نوهغه ته واپس کېدو پوري دجهاد ثواب ملاویږي.دغه شان طالب العلم چي د کوم وخت پوري واپس کورته نه وي راغلی ترهغه وخته پوري دعلم سره دجهاد ثواب هم ورته ملاویږي ځکه چی طالب علم دشیطان ذلیل کولو کي مشغول دی اوخپل ځان یې تکلیف کي اچولی دی ددې وجي څخه طالب العلم هم مجاهد دی. **ترکیب**:من :شرطیه.خرج فعل هوفاعل،فی جار.طلب العلم :مضاف اومضاف الیه مجرور.جار سره دمجرورنه متعلق سوپه فعل پري ،فعل سره دفاعل اومتعلق جمله فعلیه خبریه شرط.ف جزائیه .هومبتداء فی جار.سبیل الله مضاف اومضاف الیه مجرور،جارسره دمجرورنه متعلق اول سو دثابت محذوف لپاره .حتی :جار.

یرجع فعل هو فاعل ، فعل سره دفاعل نه جمله فعلیه خبریه په تاویل دمصدر سره ،مجرور،جار سره دمجرور نه متعلق ثانی په ثابت پوري، ثابت اسم فاعل سره دخپل فاعل (هو) ضمیر اومتعلقینو نه شبه جمله خبر سو .مبتداء سره دخبر نه جمله اسمیه خبریه جزاء دشرط .شرط سره دجزاء نه جمله فعلیه خبریه سوه .

(۲۲۳) مَنْ أَذَّنَ سَبْعَ سِنِيْنَ مُحْتَسِبًا كُتِبَ لَهُ بَرَاءَةٌ مِنَ النَّارِ (ترمذی)

(تخریج :مشکوة صفحه ۶۵ س ۱۶ عن ابن عباس رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه:چاچي اذان وکړو اووه کاله دثواب په نیت سره نو ولیکل سو دهغه لپاره دجهنم څخه خلاصون . **توضیح** :چي کوم سړی اوه کال یوائي دثواب حاصللو په نیت سره آذان وکړو نوهغه دجهنم څخه بري کړل سو اودهغه براءت باقاعده لیکل کیږی ، دمؤذن دافضیلت په اووه کاله کي ملاویږي ،دمشکوة صفحه ۶۶س ۱۶ باندي دابن عمر رضی الله عنه مرفوعا داحدیث هم دی دمؤذن په فضیلت کي چي حضور صلی الله علیه وسلم وفرمایل چي کوم سړی دولس کاله آذان وکړ دهغه لپاره جنت ثابت سو ادهغه دهري ورځي آذان کولو بدله کي شپیته نیکی لیکل کیږي اودهري ورځي داقامت بدله کي دیرش نیکی لیکل کیږي .**ترکیب**:من :شرطیه.اذن فعل هو ذوالحال ،محتسبا حال . ذوالحال سره دحال نه فاعل ،سبع سنین مضاف اومضاف الیه سره مفعول فیه ،فعل سره دفاعل اومفعول فیه نه جمله فعلیه خبریه شرط سو، کتب .فعل مجهول له جار اومجرور متعلق سو په فعل پوري ،براءة :موصوف .من النار جار اومجرور متعلق په ثابت پوری صفت ،موصوف سره دصفت نه نائب فاعل . فعل سره دفاعل اومتعلق نه جمله فعلیه خبریه جزاء شرط سره دجزاء نه جمله فعلیه خبریه شرطیه سوه .

(۲۲۴) مَنْ تَرَكَ الْجُمُعَةَ مِنْ غَيْرِ ضَرُورَةٍ كُتِبَ مُنَافِقًا فِي كِتَابٍ لَا يُمْحَى وَلَا يُبَدَّلُ (رواه الشافعی)

(تخریج مشکوة صفحه ۱۲۱ س ۲۵ عن ابن عباس رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه : چاچي پرپښوده جمعه بغیر دعذر څخه هغه منافق لیکل ولیکل سو په داسي کتاب کي چي هغ نه ورانولی سي اونه بدلولی سي . **توضیح** : په مشکوة صفحه کي دې حدیث څخه وروسته داحدیث هم دی کوم چي ددې ضاحت هم دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل څوک چي په الله جل جلاله اودقیامت په ورځ ایمان لري نوپه هغه باندي لازم دی چي هغه دجمعې په روځ ضرور دجمعې لمونځ اداکړي . لیکن پنځه کسان هغه څخه مستثنی دي . (۱): ناروغه . (۲):مسافر .(۳):ښځه .(۴):نابالغ . (۵): غلام . معلومه سوه چي بغیر دسخت ضرورت نه اوشرعي ضرورت نه دجمعې لمونځ پرپښودل بالکل کفر ته نژدی دی ،عملي طور خومنافق لیکل کیږي ،په داسي کتاب کي چي هغه نه ختمیدلی سي اونه بدلیدلی سي ،یعني (لوح محفوظ) کي .

ترکیب:من :شرطیه . ترک :فعل .هو فاعل ، الجمعة مفعول به . من: جار . غیر :ضرورة مضاف اومضاف الیه مجرور، جار سره دمجرور نه متعلق سو په فعل پوري ،فعل سره دفاعل اومفعول به اومتعلق

نه جمله فعليه خبريه شرط سو، كتب فعل، هو مميز، منافقا تميز. مميز سره د تميز نه نائب فاعل، في جار. كتاب موصوف. لا يمحي: فعل هو نائب فاعل، فعل سره د نائب فاعل نه جمله فعليه خبريه معطوف عليه، واو عاطفه، لا يبدل فعل هو نائب فاعل. فعل سره د نائب فاعل جمله فعليه خبريه معطوف، معطوف عليه سره د معطوف نه صفت، موصوف سره د صفت نه مجرور، جار سره د مجرور نه متعلق په فعل پوري، فعل سره نائب فاعل او متعلق نه جمله فعليه خبريه سوه، شرط سره د جزاء نه جمله فعليه خبريه شرطيه سوه.

(۲۲۵) مَنْ مَاتَ وَلَمْ يَغْزُ وَلَمْ يُحَدِّثْ بِهِ نَفْسَهُ مَاتَ عَلَى شُعْبَةٍ مِنْ نِفَاقٍ (مسلم)

(تخريج مشكوة صفحه ۲۳۱ س ۱۵ عن ابی هريرة رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه: څوک چې مړ سي په داسي حال کې چې هغه جهاد ونه کړو اونه ذهغه په نفس کې داخبره پيدا سوه نو مړ سو د نفاق په يوه شعبه باندې. **توضيح**: کوم سړی چې په داسي حال کې مړ سو چې هغه جهاد ونه کړو يا کم از کم د جهاد په هکله يې په زړه کې نه د جهاد جذبه نه بالفعل وي فعل نه بالقوة. نو دده مرګ په د نفاق د شعبو څخه په يوه شعبه کې وي، ځکه چې جهاد اسلام يو رکن دی، دلمانځه، روژې، زکوة، حج پشان نو چا چې جهاد ونه کړو يا يې د ډې سوچ هم ونه کړو نو دده ايمان ناقص دی، د ډې وجې نه عملا د منافقانو پشان دی، د احديث د جهاد په اهميت باندې دلالت کوي. **ترکيب**: من شرطيه: مات فعل هو ذوالحال، واو حاليه. لم يغز فعل هو فاعل، فعل سره د فاعل نه جمله فعليه خبريه معطوف عليه، واو: عاطفه. لم يحدث: فعل هو فاعل. به جار او مجرور متعلق په فعل پوري، نفسه مضاف او مضاف اليه مفعول به. فعل سره د فاعل او مفعول به او متعلق نه جمله فعليه خبريه معطوف، معطوف عليه سره د معطوف نه حال، ذوالحال سره د حال نه فاعل، فعل سره د فاعل نه جمله فعليه خبريه شرط. مات فعل. على جار. شعبة موصوف، من نفاق جار او مجرور متعلق په ثابت پوري صفت سو، موصوف سره د صفت نه مجرور د جار، جار سره د مجرور نه متعلق په فعل پوري، فعل سره د فاعل او متعلق نه جمله فعليه خبريه جزاء شرط سره د جزاء نه جمله فعليه خبريه شرطيه سوه.

(۲۲۶) مَنْ لَمْ يَدَعْ قَوْلَ الزُّورِ وَالْعَمَلَ بِهِ فَلَيْسَ لِلّٰهِ حَاجَةٌ فِي أَنْ يَدَعَ طَعَامَهُ وَشَرَابَهُ

(بخاري) (تخريج مشكوة صفحه ۱۷۶ س ۷ عن ابی هريرة رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه: چا چې پرې نښوده د رواغ خبره او په هغې باندې عمل، نو نسته الله تعالى لپاره څه حاجت په د ډې خبره کې چې هغه پريږدي خپل خوراک اوڅښاک. **توضيح**: کوم سړی چې روژه نيسي اود رواغو اوغلط کارونو څخه نه ساتي نو دهغه د روژې هيڅ ثواب نسته. اګرچې قضا تر ې ساقط يږي. ليکن مقصد اصلي فوت کيږي. او هغه ثواب دی، او الله تعالى راضي کول او راضي ساتل. الله تعالى ته هيڅ حاجت نسته چې تاسو خوراک څښاک پريږدی. يعني دخوراک، څښاک پرېښودل اودلوږې مقصد هغه ثواب دی چې په ناکاره خبرو پرېښودلو او ناکاره کارونو څخه ځان ساتلو سره ملاويږي. د ډې مضمون حديث نمبر ۶۴ کې تيرسوی دی. **ترکيب**: من: شرطيه: لم يدع. فعل قول الزور مضاف او مضاف اليه معطوف عليه، واو عاطفه العمل. مصدر، ذوالحال، به جار مجرور متعلق په ثابتا پوري

حال، ذوالحال سره دحال نه شبه جمله معطوف، معطوف علیه سره دمعطوف نه مفعول به، فعل سره دفاعل او مفعول به جمله فعلیه خبریه شرط. ف جزائیه. لیس فعل. ناقص. لله جار او مجرور، متعلق په ثابت پوري، خبر مقدم حاجة موصوف فیه جار ان مصدریه. یدع فعل هو فعال طعامه مضاف او مضاف الیه معطوف علیه، واو عاطفه، شرابه مضاف او مضاف الیه، معطوف، معطوف علیه سره دمعطوف نه مفعول به، فعل سره دفاعل او مفعول به نه جمله فعلیه خبریه په تاویل دمصدر سره مجرور، جار سره دمجرور نه متعلق په ثابت پوري شبه جمله صفت، موصوف سره دصفت نه اسم دلیس. لیس سره داسم او خبر نه جمله فعلیه خبریه جزاء، شرط سره دجزاء نه جمله فعلیه خبریه شرطیه سوه.

(۲۲۷) مَنْ لَبِسَ ثَوْبَ شُهْرَةٍ فِي الدُّنْيَا أَلْبَسَهُ اللّٰهُ ثَوْبَ مَذَلَّةٍ يَوْمَ الْقِيَامَةِ (رواه احمد وغیره)

(تخریج مشکوة صفحه ۳۷۵ س ۱۴ عن ابن عمر رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه: چاچي واغوستله دشهرت جامه په دنیا کي، نو ورته به واغوستی، الله تعالی دذلت جامی دقیامت په ورځ. **توضیح**: کوم سړی چي دتکبر یادفخر په نیت سره یا په دې نیت سره جامه واغوستله چي خلک دې سید وګڼي یا یې ددې لباره واغوستله چي خلک ورباندي دعالم یا فقیه ګمان وکړی، حال دادی چي پخپله جاهل دی نوداسي سړی ته به الله تعالی دقیامت په ورځ دذلیل کولو جامه واغوندوي اسلام دښو جامو اغوستلو نه منع نه ده کړی بلکه په خراب نیت سره دکپړ اغوستلو یې منع کړی ده، که چیري یو سړی غریب دی اوښه جامه اغوندی نو دهغه لپاره ذلت نه بلکه دلو نیت سره جائزه ده اوچاته چي الله تعالی مال ورکړی دی، دهغه لپاره دامناسب ده چي دښه نه ښه جامې واغوندي اودخدای پاک شکر ادا کړی. **ترکیب**: من: شرطیه. لبس فعل هو فاعل ثوب، شهرة مضاف او مضاف الیه مفعول به. فی الدنیا، جار او مجرور، متعلق فعل پوري، فعل سره دفاعل او مفعول به او متعلق نه جمله فعلیه خبریه شرط سو. البسه فعل ه: مفعول به اول. لفظ الله فاعل ثوب مذلة مضاف او مضاف الیه مفعول به ثانی، یوم القیامة مضاف او مضاف الیه مفعول فیه، فعل سره دفاعل مفعول به او مفعول فیه نه جمله فعلیه خبریه جزاء سوه، شرط سره دجزاء نه جمله فعلیه خبریه شرطیه سوه.

(۲۲۸) مَنْ طَلَبَ الْعِلْمَ لِيُجَارِيَ بِهِ الْعُلَمَاءَ أَوْ لِيُمَارِيَ بِهِ السُّفَهَاءَ أَوْ يَصْرِفَ بِهِ وُجُوهَ النَّاسِ إِلَيْهِ أَدْخَلَهُ اللّٰهُ النَّارَ، ترمذی، تخریج مشکوة صفحه ۳۴ س ۲۵ عن کعب بن مالک رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه: چاچي علم ددې لپاره حاصل کړو چي مقابله کړي په هغه سره دعالمانو یا جهګړه وکړي دهغه په ذریعه جاهلانو سره یا مائل کړي دخلکو مخونه ځان طرف ته نو داخل به کړي هغه الله تعالی په جهنم کي. **توضیح**: دلیجاري دوی معنا ګاني دی (۱): مقابله (۲): فخر. اودلیجاري معنی جهګړه ده، العلماء څخه مراد عالمان دی اوسفهاء جمع دسفیه ده. ددې معنی ده دکم عقل والا، دلته مراد سفهاء څخه جاهلان دي اودیصرف معنی ده مائل کړی دالناس څخه مراد: عوام. طلاب. دخلکو دمخونو مائل کولو نه مقصد

دادی چې مال ورته ملاؤسي او تعظیم یې وکړل سي، دحدیث مطلب داسو چې کوم سړی علم دالله تعالی درضا په ځای دعلماؤسره دمقابلې کولو لپاره یادجاهلانو سره دجګړې کولولپاره یاعوام یا طالبان خپل ځان طرف ته دمتوجه کولو لپاره (چې یاورته مال پیدا سي اویا ورته تعظیم ورکول سي) حاصل کړي، نو ددې علم هیڅ فائده نسته داسي عالم به الله تعالی په جهنم کې وغورزوی. (مرقات ج۱ ص۲۸۶)

ترکیب: من :شرطیه :طلب فعل هو فاعل ، العلم :مفعول به ،لام: کی لیجاري فعل هو فاعل ، به جاراومجرور ، متعلق په فعل پوري ،العلماء مفعول به فعل سره دفاعل اومفعول به اومتعلق نه جمله فعلیه خبریه معطوف علیه ،واو :عاطفه .ل :لام کی .یماری : فعل به جار مجرور متعلق په فعل پوري،فعل سره دفاعل اومفعول به اومتعلق نه جمله خبریه معطوف اول ،او :عاطفه.یصرف فعل هو فاعل ،وجوه الناس مضاف اومضاف الیه مفعول ،الیه جارمجرور متعلق په فعل پوري ، فعل سره دخپل فاعل اومفعول به اومتعلق نه جمله فعلیه خبریه معطوف ثانی ،معطوف علیه سره ددواړو معطوفینو څخه شرط ادخل فعله مفعول به ،لفظ الله فاعل ،النار مفعول فیه .فعل سره دفاعل اومفعول به اومفعول فیه نه جمله فعلیه خبریه جزاء شرط سره دجزاء نه جمله فعلیه خبریه شرطیه سوه .

---

(۲۲۹)مَنْ تَعَلَّمَ عِلْمًا مِمَّا يُبْتَغَى بِهِ وَجْهَ اللهِ لَا يَتَعَلَّمُهُ إِلَّا لِيُصِيبَ بِهِ عَرَضًا مِنَ الدُّنْيَا لَمْ يَجِدْ عَرْفَ الْجَنَّةِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ رواه احمد وابوداود ،تخریج مشکوة صفحه : ۳۴ س۲۶ عن ابی هریرة رضی الله عنه مرفوعا

ژباړه: چاچې علم زده کړ دهغه علمونو نه کوم چې حاصلولی سي دالله تعالی درضا لپاره ،نه یې زده کوی هغه مګر ددې لپاره چې حاصل کړي حصه په دنیا کې .نوبیا به نه مومي هغه د قیامت په ورځ خوشبو د جنت. **توضیح**: مطلب دادی چې څوک علم دین دالله تعالی درضا په ځای ددنیا دګټلو لپاره ذریعه جوړه وي نو داسي سړی به دجنت خوشبوئي قدري هم بوی نکړي یعني دده اودجنت په مینځ کې به فاصله راوستل سي . معلومه سوه چې په علم دین کې هم دچانیت صحیح وي ،یعني دالله تعالی درضا لپاره وي نو هغه علم به په کار راسي ،اوپه هغه به فضیلت بیا مومی . داوعید هغه وخت دی چې کله دمال اودولت حاصلولو په نیت علم زده کوي کنی که څوک علم هم حاصلوی اومال هم ګټي نو هغه په دې وعید کې نه راځي مګر په دې دواړو کې فرق دی ،یودنیا ددې لپاره حاصلوي چې دآخرت اعمال په تسلي سره وکړم اویل داخرت عمل کوي چې دنیا ملاوسي ، بهرحال دنیا تابع وګرځیدله اودین متبوع اواصل مقصود وګرځیدلو ،نوپه دې کې هیڅ حرج نسته ددې په عکس کې ګناه ده ، عرض په سکون دراء سره هرقسم مال ته ویل کیږي ،سواد دسرو اوسپینو زرو نه اوپه فتحې د دواړو سره عام دی چې په دې کې سره زر اوسپین زر هم شامل دي . (مرقات ج۱ صفحه ۲۸۷) **ترکیب**: من شرطیه. تعلم فعل هو ذوالحال . لایتعلم . فعل هو فاعل ه مفعول به.الا :حرف استثناء لغو.ل : تعلیلیه جار. یصیب فعل هو فاعل به جار مجرور متعلق په فعل پوري ، عرضا موصوف من الدنیا جار اومجرور متعلق په ثابتا پوري صفت سو ، موصوف سره دصفت نه مفعول به ،فعل سره دفاعل اومفعول به اومتعلق

نه جمله فعليه خبريه په تاويل دمصدر سره مجرور دجار ، جار سره دمجرور نه متعلق په فعل پوري ،لا يتعلم فعل سره دفاعل اومفعول به اومتعلق نه جمله فعليه خبريه حال ذوالحال سره دحال نه فاعل ،علما موصوف .من جار .ما موصوله .يبتغى فعل مجهول ، به جار مجرور متعلق په فعل پوري ،وجه الله مضاف اومضاف اليه مجرور ،جار سره دمجرور نه متعلق په ثابتا پوري ،شبه جمله صفت دموصوف سو ،موصوف سره دصفت نه مفعول به ،فعل سره دفاعل او مفعول به نه جمله فعليه خبريه شرط سو .لم يجد فعل هو فاعل عرف الجنة مضاف اومضاف اليه مفعول به ،يوم القيامة مضاف اومضاف اليه مفعول فيه ، فعل سره دفاعل اومفعول به اومفعول فيه نه جمله فعليه خبريه جزاء سوه .شرط سره دجزاء نه جمله فعليه خبريه شرطيه سوه .

(۲۳۰) مَنْ أَتَى عُرَّافًا فَسَأَلَهُ عَنْ شَيْءٍ ، لَمْ تُقْبَلْ لَهُ صَلَاةٌ أَرْبَعِينَ لَيْلَةً .

مسلم، تخريج مشكوة صفحه ۳۹۳ س۵ عن حفصه رضي الله عنها مرفوعا)

ژباړه :څوک چې راسی يونجومي ته نودهغه نه يې څه پوښتنه وکړه دځه شئ په باره کې نونه به شي قبول دهغه دځلويښتو شپو لمونځونه .**توضيح** :دعراف معنی کاهن نجومي يعني دستورو په ذريعه سره معلو مونکی ودعراف يعني نجومي حقيقت صرف دومره وي چې دجنا تو سره دهغه دوستي وي اوبعضي ضرر رسونکي پيريان ديويل دپاسه او خيږي اسمان ته ورسي الله تعالى چې کومي خبري فرشتو ته دراتلونکي وخت په باره کې ښائي اوبيا فرشتي خپل په مينځ کې دهغوی ذکروي) د دوی کوشش داوي چې هغه خبري واوري ،دهغه خبرونه چې يوه خبره واوري نوفورا يې لاندينوو ښائي بياهغه نجوميانو ته رسي اوپه دغه طريق دنجوميانو کار چليږي ،په سلو کې دنجوميانو يو خبر رښتيا کيږي .دستورو په ذريعه اندازه لګوي ،بهرحال چې حوک داطريقه صحيح اورښتيا ګڼي ،دوی ته چې څوک دتپوس لپاره ورځي نوهغه ته دځلويښت ورځو دلمونځو يوه زره ثواب هم نه ملاويږي اګرچې فرض دذمې څخه ختميږي ،په مرقات کې دويم روايت په حوال دطبراني داسي دی که څوک کاهن ته ولاړسي اودهغه څخه يې پوښتنه وکړه نو ترځلويښتو ورځو پوري دهغه نه دتوبې دروازه بنده کړل سي که چيرې تلونکي ولاړ اود کاهن دخبري تصديق يې وکړو نوهغه کفر وکړو ،بهرحال نجومي ته تلل يادهغه نه څه تپوس کول حرام دي ليکن پو شرط سره هغه داچې دهغه دخبري تصديق يې هم وکړو کنی نو که صرف په هغه پوري د پسخند وهولو لپاره يا د درواغجن کرځولو لپاره ولاړو نوپه دې کې هيڅ ګناه نسته .(مرقات ج۹ ص۱۵)

ترکيب : من :شرطيه اتى فعل ،هو فاعل ،عرافا مفعول به ،تهول يوځای سره جمله فعليه خبريه معطوف عليه ،ف عاطفه .سئل فعل هو فاعل ه مفعول به عن شئ جار اومجرور ،متعلق په فعل پوري ،فعل سره دفاعل اومفعول به نه جمله فعليه خبريه معطوف .معطوف عليه سره دمعطوف نه شرط .لم يقل فعل مجهول .له جار اومجرور متعلق سو په فعل پوري .صلوة مضاف اربعين ممیز .ليلة تميز ،دواړه مضاف اليه ،مضاف سره دمضاف اليه نه نائب فاعل فعل سره دنائب فاعل اومتعلق نه جمله فعليه خبريه جزاء سوه .شرط سره دجزاء نه جمله فعليه خبريه شرطيه سوه .

(٢٢١)مَنِ اسْتَعَاذَ منكم بالله فأَعِيذُوهُ، وَمَنْ سَأَلَ بالله فأَعْطُوهُ، وَمَنْ دَعَاكُم فأَجِيبُوهُ، وَمَن صَنَعَ إِلَيكُم مَعْرُوفاً فَكَافِئُوهُ، فإِنْ لَم تَجِدُوا ما تُكَافِئُونَهُ فَادْعُوا لَهُ حَتَّى تَرَوْا أَنَّ قَدْ كَافَأْتُمُوهُ، احمد بتخريج مشكوة صفحه ١٧١ س ٢٥ عن ابن عمر رضي الله عنه مرفوعا)

ژباړه: څوک چې پناه غواړي ستاسو نه دالله په واسطې سره، نو تاسو هغه ته پناه ورکړی او څوک چې وغواړي دالله تعالی په واسطې سره نو تاسو هغه ته ورکړی او څوک چې تاسو ته دعوت درکړي نو قبول یې کړی او څوک چې تاسو سره نیکي وکړي نو تاسو دهغه بدله ورکړی پس که تاسو بیانه مومی هغه شئ چې په هغه سره تاسو دهغه بدله ورکړی نو تاسو هغه لپاره دعا کوی تردې چې تاسو پوهه سی چې تاسو یدله ورکړی ده.

توضیح: په دې حدیث کې څلو خبري دي. اول: کوم سړی چې دالله په واسطه سره پناه غواړي نو تاسو هغه ته پناه ورکړی دالله تعالی دنوم عزت وکړئ. دویم: دالله جل جلاله په نامه چې درنه څوک څه وغواړي نو دالله تعالی دنامه عظمت او په خلګو باندې دشفقت خیال وساتی، هغه ته څه ورکړی. په دې شرط چې دهغه کره دیوې ورځې اوشپې دخوراک څښاک سامان موجود نه وي دریم: څوک چې تاسو ته دعوت درکړي نو که شرعا څه عذر نه وي تاسو هغه قبول کړی. څلورم: څوک چې ستاسو سه احسان وکړي (قولا یا فعلا) نو تاسو هم هغه ته داحسان بدله ورکړی یعنې څه مال ورکړی، که چیرې دبدلې ورکولو څه شئ نه وي نو تاسو هغه ته دعا کوی تر هغه چې تاسو ته معلومات وسي چې تاسو دهغوی حق ادا کړی. (مرقات ج ۴ ص ۲۲۳ **ترکیب**: من: شرطیه. استعاذة فعل هو فاعل. منکم جار مجرو متعلق اول سو دفعل، بالله جار مجرور متعلق ثانی، فعل سره دفاعل او متعلقینو نه جمله فعلیه خبریه شرط سو، ف جزائیه. اعیذوا فعل فاعل، ه مفعول به، فعل سره دفاعل او مفعول به نه جمله فعلیه انشائیه جزاء سوه، شرط سره دجزاء نه معطوف علیه، واو: عاطفه. من: شرطیه. سئله فعل هو فاعل، بالله جار او مجرور متعلق په فعل پورې، فعل سره دفاعل او متعلق نه جمله فعلیه خبریه شرط سو، ف: جزائیه. اعطوا: فعل فاعل. هو مفعول به، فعل سره دافاعل او مفعول به نه جمله فعلیه انشائیه جزار. شرط سره دجزاء نه معطوف اول، واو: عاطفه من شرطیه، دعا فعل هو فاعل. کم مفعول به، فعل سره دفاعل مفعول به نه جمله فعلیه انشائیه جزائیه. شرط سره دجزاء نه معطوف ثانی واو: عاطفه من شرطیه صنع فعل هو فاعل. الیکم جار مجرور. متعلق په فعل پورې، معروفا: مفعول به، فعل سره دفاعل مفعول به او متعلق نه جمله فعلیه انشائیه جزاء شرط سره دجزا نه معطوف ثالث. ف: عاطفه ان حرف شرط. لم تجدوا فعل، ما موصوله تکافئوا فعل فاعل ه مفعول به. فعل سره دفاعل او مفعول به نه جمله فعلیه خبریه صله سوه، موصول سره دصلې نه معفول به، فعل سره دفاعل او مفعول به نه جمله فعلیه خبریه شرط. ف جزائیه. ادعوا فعل فاعل، له جار مجرور متعلق اول دفعل، حتی جار ه. تروا: فعل فاعل ان مخففه من المثقله کم محذوف دده اسم. قد کافئتمو فعل فاعل ه مفعول به، فعل سره دفاعل او معفول به نه جمله فعلیه خبریه خبر سو. ان سره داسم او خبر نه جمله اسمیه خبریه قائم مقام دمفعولینو سوه، تر اسره دخپل فاعل او مفعولینو نه جمله فعلیه خبریه په تاویل دمصدر مجرور، جار سره دمجرور نه متعلق ثانی سو ادعو. فعل سره دفاعل او متعلقینو نه جمله فعلیه انشائیه جزاء. شرط سره دجزاء نه معطوف رابع. معطوف علیه سره دمعطوفاتو اربعه ؤ نه جمله فعلیه خبریه شرطیه معطوفه سوه.

(۲۲۲)مَنْ رَأَى مِنْكُمْ مُنْكَرًا فَلْيُغَيِّرْهُ بِيَدِهِ، فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَبِلِسَانِهِ، فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَبِقَلْبِهِ وَذَلِكَ أَضْعَفُ الْإِيمَانِ. مسلم، تخریج مشکوة صفحه ۴۳۶ س ۶ عن ابی سعید خدری رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه: څوک چې ووينې ستاسو څخه بدی نوهغه لره پکار دي چې هغه بنده کړي په لاس سره ، که چيرې ددې طاقت يې نه وي نو په ژبې سره دي بنده کړي ، که چيرې ددې طاقت يې هم نه وي نو په خپل زړه سره ، اوداد تولو څخه کمزوری ايمان دی . **توضيح**: ددې حديث مخاطب ترقيامته پوري مسلمانان دي، اگرچې دمنکم خطاب صحابه کرامو ته دی ليکن تبعا تولو ته شامل دی . په دې حديث کې داستطاعت د ترتيب ذکر دی، د کوم سړي چې د گناه څخه دبندولو طاقت وي نوهغه لره دجوابي کاروائي لپاره ددې ترتيب لحاظ ساتل پکار دی چې گناه کونکی اول په لاس سره منع کړي بيا په منع کولو کې داتفصيل دی چې اول يې په نرمی سره پوهه کړي که نرمي سره ويلو باندي گناه پريږدي نودسختی اوغصې څخه کار اخيستل جائز نه دی ، که چيرې په نرمی کار ونه سو نوبيادي لاس استعمال کړي ، په دې کې هم دغه تفصيل دی . چې په قدر دضرورت لاس استعمال کړي ، مثلا يوځل سره کار کيږي نودويم ځل وهل جائز نه دی ، غرض دادی چې په هري طريقې سره ممکن وي نو گناه منع کول دي ، داخبره دمسلمان دشان مناسب نه دی چې گناه ويني اوصبر کوي که چيرې گناه ختمولو کې اولري کولو کې يې لږ شان غفلت هم وکړو نودحديث په وجه مسلمان کامل نه دی . که چيرې په ژبې يالاس استعمالولو سره دڅه سختي فتنې يادجنگ جگړې خطره وي نوبيا ژبه يالاس استعمالول جائز نه دی ، صرف په زړه کې بد گنړل پکار دی چې څه ايمان خو باقي دی اگرچې د تولو څخه کمزوری ايمان به وي . (رساله مفتی رشيد احمد صاحب ، مشکوة نمبر ۴) **ترکيب**: من شرطيه: راي فعل هو فاعل. منکم جار اومجرور متعلق په فعل پوري . منکرا مفعول به فعل سره دفاعل اومفعول به نه جمله فعليه خبريه شرط سو . ف جزائيه . ليغير فعل امر هو فاعل، ه مفعول به، ب: جار . يده مضاف اومضاف اليه مجرور ، جار سره دمجرور نه متعلق په فعل پوري ، فعل سره دفاعل اومفعول به اومتعلق نه جمله فعليه انشائيه جزاء اول سوه . ف: جزائيه ان حرف شرط . لم يستطيع فعل هو فاعل ، فعل سره دفاعل نه جمله فعليه خبريه شرط سوه ، ف : جزائيه . ب جار . لسانه : مضاف اومضاف اليه مجرور ، جار سره دمجرور نه متعلق سو ليغير پوري ، فعل سره دفاعل اومفعول به اومتعلق نه جمله فعليه انشائيه جزاء سوه ، شرط سره دجزاء نه جزاء ثانی . ف جزائيه ان شرطيه . لم يستطع : فعل هو فاعل ، فعل سره دفاعل نه جمله فعليه خبريه شرط . ف جزائيه . ب جار قلبه مضاف اومضاف اليه مجرور ، جار سره دمجرور نه متعلق په ليغير پوري ، فعل سره دفاعل اومفعول به اومتعلق نه جمله فعليه انشائيه جزاء سوه ، شرط سره دجزاء نه معطوف عليه ، واو عاطفه . ذلک مبتداء . اضعف الايمان مضاف اومضاف اليه خبر . مبتداء سره دخبر نه جمله اسميه خبريه معطوف ، معطوف عليه سره دمعطوف نه جمله معطوفه جزاء ثالث . شرط سره د تولو جزاگانو نه جمله فعليه خبريه شرطيه سوه .

(۲۲۳)مَنْ أَخَذَ أَمْوَالَ النَّاسِ يُرِيدُ أَدَاءَهَا أَدَّى اللَّهُ عَنْهُ، وَمَنْ أَخَذَ يُرِيدُ إِتْلَافَهَا أَتْلَفَهُ اللَّهُ عَلَيْهِ.

بخاري. تخريج مشکوة صفحه ۲۵۲ س ۹ عن ابی هريرة رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه: چاچي واخيستلو دخلکو څخه مال په اراده داداکولو سره ،نو الله تعالی يې دهغه د طرفه اداکوي. اوچاچي واخيستلو دهلاکولو په ارادې ،نوهلاکوی هغه الله تعالی په هغه باندي. **توضيح:** چاچي قرض واخيستلو داداکولو په نيت سره يا بل څه شيء داداکولو په نيت سره نو الله تعالی دهغه په دنيا کي په ادا کولو کي مدد کوي. اوپه اخرت کي به دهغه خصم (مقابل) خوشحاله کړي. اوچاچي مال واخيستلو دخوراک په نيت چي داداکولو نيت يې نه ؤ نو الله تعالی دهغه دطرف په اداکولو کي امداد نه کوي. (حاشيه مشکوة نمبر ۳) نور تفصيل په صفحه ۱۸۸ باندي وګوري. **ترکيب:** من :شرطيه.اخذ :فعل هوذوالحال . يريد فعل هوفاعل . اداءها .مضاف او مضاف اليه مفعول به. فعل سره دفاعل اومفعول به نه جمله فعليه خبريه حال. ذوالحال سره دحال نه فاعل ،اموال الناس مضاف اومضاف اليه مفعول به ، فعل سره دفاعل اومفعول به نه جمله فعليه خبريه شرط . ادی :فعل لفظ الله فاعل .عنه جار اومجرور متعلق په فعل پوري ، فعل سره دفاعل اومتعلق نه جمله فعليه خبريه جزاء . شرط سره دجزاء نه معطوف عليه ، واو عاطفه . من :شرطيه . اخذ فعل . هو ذوالحال . يريد فعل هو فاعل .اتلافها :مضاف اومضاف اليه مفعول به . فعل سره دفاعل اومفعول به نه جمله فعليه خبريه حال سو ، ذوالحال سره دحال نه فاعل داخذ .فعل سره دفاعل نه جمله فعليه خبريه شرط.اتلف فعل هو مفعول به .لفظ الله فاعل . عليه جار مجرور متعلق په فعل پوري ،فعل سره دفاعل اومفعول به اومتعلق نه جمله فعليه خبريه .جزاء شرط سره دجزاء نه معطوف .معطوف عليه سره دمعطوف نه جمله فعليه خبريه شرطيه معطوفه سوه.

---

(۲۲۴) مَنْ اَفْطَرَ يَوْمًا مِنْ رَمَضَانَ مِنْ غَيْرِ رُخْصَةٍ وَلَا مَرَضٍ لَمْ يَقْضِ عَنْهُ صَوْمُ الدَّهْرِ كُلُّهُ وَاِنْ صَامَهُ. رواه احمد ،تخريج مشکوة صفحه ۱۷۷ س ۶ عن ابی هريرة رضی الله عنه مرفوعا.

ژباړه: که چاروژه وخوړله يوه ورځ درمضان څخه بغير داجازت (شرعيه) نه اوبغير دناروغی نه نو پوره به نه کړي دهغه نه همېشه روژې که څه هم روژې ونيسي. **توضيح:** کوم سړی چي بغير دعذر شرعي نه درمضان يوه روژه وخوړله يا يې بالکل په دغه ورځ روژه ونه نيوله نو داسي سړی که ټول عمر روژه ونيسي ليکن دهغه فضيلت بيا نسي پيدا کولی کوم فضيلت چي درمضان دروژې وه که څه هم روژه نيولو سره به ديوې ورځي روژه ساقطه سي اود روژې ماتولو په صورت کي به ۶۱ روژې نيولو سره به يې ذمه فارغه سي ليکن چي کوم فضيلت درمضان دروژې دی هغه دټول عمر روژې نيولو سره هم نسي حاصليدلی. ترکيب: من :شرطيه.افطر :فعل هوفاعل ،يو ما موصوف ،من :رمضان جار مجرور ثابتا پوري متعلق شبه جمله صفت ،موصوف سره دصفت نه مفعول فيه ، من جار غير رخصة مضاف مضاف اليه ، معطوف عليه . واو عاطفه .لازائده مرض معطوف ،معطوف عليه سره دمعطوف نه جمله فعليه خبريه شرط سوه .لم يقض فعل عنه جار .مجرور متعلق په فعل پوري ،صوم الدهر مضاف اومضاف اليه مؤکد . کله مضاف اومضاف اليه تاکيد ،مؤکد سره دتاکيد فاعل ،فعل سره دفاعل اومتعلق نه جمله فعليه خبريه جزاء مقدم .واو حاليه ان شرطيه صام فعل هو فاعل ه مفعول به .فعل سره دفاعل اومفعول به نه جمله فعليه خبريه شرط مؤخر . جزاء مقدم دشرط مؤخر سره جمله شرطيه جزائيه جزاء سوه . شرط سره دجزاء نه جمله فعليه خبريه شرطيه سوه .

(۲۳۵) مَنْ فَطَّرَ صَائِمًا أَوْ جَهَّزَ غَازِيًا فَلَهُ مِثْلُ أَجْرِهِ

(بیهقي) (تخریج مشکوة: ۱۷۵ س ۲۲ ع زید بن خالد رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه: چاچي روژه ماته د یوروژه دار یایې تیار کړو یو مجاهد نوده لپاره دهغه په شان اجر دی. **توضیح**: یو روژه دار روژه مات ورکول یا یو مجاهد د جنګ لپاره تیارول داسي لکه چي ده خپل روژه ماته کړی وي او خپل ځان یې تیار کړی وي او جهاد ته ځي. ځکه چي دچا روژه مات بندوبست کول او دهغه روژه ماتلو کي هم دروژې ثواب ملاویږي او په مجاهد تیارولو کي هم د جهاد ثواب ملاویږي. **ترکیب**: من: شرطیه. فطر فعل هو فاعل، صائما: مفعول به، فعل سره د فاعل او مفعول به نه معطوف علیه. او عاطفه جهز: فعل هو فاعل، غازیا مفعول به تول معطوف، معطوف علیه سره د معطوف نه جمله فعلیه خبریه شرط سو. ف جزائیه له جار مجرور. متعلق په ثبت فعل محذوف پوري ثبت فعل مثال مضاف اجر مضاف الیه مضاف ه مضاف الیه تول مضاف او مضاف الیه سره فاعل، فعل سره د فاعل او متعلق نه جمله فعلیه خبریه جزاء سوه، شرط سره د جزاء نه جمله فعلیه خبریه شرطیه سوه.

(۲۳۵) مَنْ أَخَذَ مِنَ الْأَرْضِ شَيْئًا بِغَيْرِ حَقِّهِ خُسِفَ بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِلَى سَبْعِ أَرَضِينَ

(بخاري) تخریج مشکوة صفحه ۲۵۶ س ۱۲ عن سالم عن ابیه رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه: چاچي واخیستله څه دزمکي په ناحقه نوښخ به کړی سي دې دقیامت په ورځ تراومي زمکي. **توضیح**: چاچي دچادزمکي نه څه حصه په ناحقه واخیستله نودقیامت په ورځ به هغه تراومي زمکي پوري ښخول کیږي چي په حقیقت کي به دادهغه لپاره دردناک عذاب وي، دې حدیث کي دظلم سزابیان سوی ده اومظلوم چي کومي خبري وکړی هغه الله تعالی قبلوی نودابه دهغه لپاره ځان له یو بل عذاب وي نو په دنیا اوآخرت کي به ذلیل وي **ترکیب**: من. :شرطیه. اخذ :فعل هو فاعل. من الارض: جار او مجرور متعلق په فعل پوري. شیئا :موصوف ب: جار غیر مضاف حق مضاف الیه مضاف ه مضاف الیه، دواړه مضاف الیه. بیا مضاف مضاف الیه مجرور، جار سره د مجرور متعلق په ثابتا پوري صفت موصوف سره د صفت مفعول به، فعل سره د فاعل او متعلق او مفعول به ه جمله فعلیه خبریه شرط. خسف. فعل مجهول. ب: د تعدیت لپاره. ه نائب فاعل یوم القیامة مضاف او مضاف الیه مفعول فیه الی جار. سبع ارضین مضاف او مضاف الیه مجرور، جار سره د مجرور نه متعلق په فعل پوري. فعل سره د نائب فاعل متعلق او مفعول فیه نه جمله فعلیه خبریه جزاء سوه، شرط سره د جزاء نه جمله فعلیه خبریه شرطیه سوه.

(۲۳۶) مَنْ أَطَاعَنِي فَقَدْ أَطَاعَ اللَّهَ، وَمَنْ عَصَانِي فَقَدْ عَصَى اللَّهَ، وَمَنْ يُطِعِ الْأَمِيرَ فَقَدْ أَطَاعَنِي، وَمَنْ يَعْصِ الْأَمِيرَ فَقَدْ عَصَانِي (بخاري ومسلم) (تخریج: مشکوة صفحه ۳۱۸ س ۲۵ عن ابی هریرة رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه: چاچي زما اطاعت وکړو نوهغه دالله تعالی اطاعت وکړو اوچاچي زما نافرماني وکړه نوهغه دالله تعالی نافرماني وکړه اوچاچي دامیر اطاعت وکړو هغه زما اطاعت وکړو اوچاچي دامیر نافرماني وکړه هغه زمانافرماني وکړه. **توضیح**: حضور صلی الله علیه وسلم صفا وفرمایل: چي چا زما اطاعت وکړو نوهغه دالله تعالی اطاعت وکړو اوچاچي زما نافرماني وکړه نوهغه دالله تعالی هم نافرماني وکړه ځکه چي الله تعالی زما په ذریعه تاسو ته حکم درکوي، اوس

چي کوم سړی زمانافرماني کوي هغه دالله تعالی نافرماني هم کوي ، اوچاچي دعادل بادشاه اطاعت وکړو نولکه چي هغه زما اطاعت وکړو ځکه چي امیرعالم وي اوهغه څه خبره ددین خلاف نه کوي اوچاچي دامیرنافرماني وکړه نوګویا چي هغه زما نافرماني وکړه ځکه چي امیر چي په (صحیح معنی کي امیروي) زما دمرضې مطابق (زمادسنت مطابق) چلیږي چاچي دهغ مخالفت وکړو نوګویا چي هغه زما نافرماني وکړه . **ترکیب** :من :شرطیه. اطاع فعل هو فاعل . ن : وقایه . ی :متکلم مفعول به ،فعل سره دفاعل اومفعول به نه جمله فعلیه خبریه شرط سو .ف جزائیه قداطاع : فعل هو فاعل .لفظ الله مفعول به ،ټوله جمله فعلیه خبریه جزاء سوه .شرط سره دجزاء معطوف علیه .واوعاطفه .من :شرطیه .عصی فعل هو فاعل ،ن : وقایه . ی :متکلم مفعول به . ټوله جمله فعلیه خبریه شرط سو. ف : جزائیه :قد عصی فعل .هو فاعل . لفظ الله مفعول به . ټوله جمله فعلیه خبریه شرط سو . ف :جزائیه قداطاع فعل هو فاعل ن :وقایه . ی :متکلم مفعول به ، ټوله جمله فعلیه خبریه جزاء سوه ، شرط اوجزاء معطوف ثانی .واو :عاطفه . من :شرطیه . یعصی :فعل .هوفاعل .الامیر :مفعول به . ټول سره یوځای جمله فعلیه خبریه شرط .ف:جزائیه قدعصا فعل هو فاعل ن : وقایه .ی :متکلم مفعول به . ټول سره یوځای جمله فعلیه خبریه جزاء .شرط سره دجزاء معطوف ثالث . معطوف علیه سره دمعطوفات ثلثه نه جمله فعلیه خبریه شرطیه معطوفه سوه .

---

(۲۳۸) مَنْ رَآنِي فِي الْمَنَامِ فَقَدْ رَآنِي فَإِنَّ الشَّيْطَانَ لَا يَتَمَثَّلُ فِي صُورَتِي .

بخاري اومسلم) (تخریج مشکوة صفحه ۳۹۴ س ۱۴ عن ابی هریرة رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه :چاچي زه ولیدم په خوب کي نوهغه زه ولیدم ځکه چي شیطان نسي جوړولی ځان زما په صورت کي .**توضیح** : حضور صلی الله علیه وآله وسلم فرمایي چي چازه په خوب کي ولیدم نودهغه دي داخیال نه کوي چي کېدی سي شیطان په نظر راغلی وي ځکه چي الله تعالی شیطان لپاره په خوب اوویښه کي زما شکل اوجوړول محال ګرځولی دی . وجه داده که چیري شیطان ته دحضور صلی الله علیه وآله وسلم دشکل جوړولو طاقت ورکړی په ویخه یا په خوب کي نوحق اوباطل سره یوځای کیږي اوالله تعالی ددین حفاظت ترقیامته پوري کوي . ددې وجي نه شیطان دحضور صلی الله علیه وآله وسلم دشکل جوړولو څخه منع کړی سو .دخوب قسمونه په حدیث ۴۹ کي تیرسوی دی (مشکوة نمبر ۸ بحواله نووی ومرقات) **ترکیب** :من :شرطیه . رأی : فعل هو فاعل نی :مفعول به .فی المنام جار مجرور متعلق سو په فعل پوري .فعل سره دفاعل اومفعول جمله فعلیه خبریه شرط .ف جزائیه .قدرای : فعل هو فاعل . نی :مفعول به .داټوله جمله فعلیه خبریه جزاء .شرط سره دجزاء نه معلل ،ف :تعلیلیه .ان حرف مشبه بالفعل .الشیطان ، ددې اسم . لایتمثل :فعل هو فاعل فی جار .صورتی :مضاف اومضاف الیه مجرور ،جار سره دمجرور نه متعلق په فعل پوري ،فعل سره دفاعل اومتلعق نه جمله فعلیه خبریه خبر دان . ان سره دخپل اسم اوخبر نه جمله اسمیه خبریه معلل ،معلل سره دمعلل نه جمله فعلیه خبریه شرطیه تعلیلیه سوه .

---

(۲۳۹) مَنِ ادَّعَى مَا لَيْسَ لَهُ فَلَيْسَ مِنَّا وَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ (مسلم) (تخریج :مشکوة صفحه ۳۲۷ س ۱۱ عن ابی ذر غفاری رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه:چاچي دعوه وکړه دهغه شئ کوم چي دده نه وي نو هغه زمونږ څخه نه دی اوپکار ده چي هغه جوړ کړي خپل ځای په جهنم کي. **توضیح**: مثلا دزید اوخالد په مینځ کي دځمشئ په باره کي جګړه وسوه یو وایي چي داشئ زما دی اوس هغه درواغجن دی په خپله دعوه کي. دې دعوه کوي ،دداسي شئ چي هغه دده څخه دی ،نو هغه زمونږ دجماعت څخه خارج دی (یعني دمعمولي درجي ایمان یې دی) دغه شان چي کوم یوانسان دیوصفت سره متعلق نه وي اودهغه دعوه وکړي هغه هم په دې حدیث کي داخل دی لکه چي څوک دعالم یازاهد یاقاري یاسید کېدو دعوه وکړي. **فائده**:ولیبتوأ:په دې حدیث کي اوپه ۲۲۱ کي فالیتبوا .دا دواړه لفظونه لفظا انشاء دي اومعناخبردی. **ترکیب**:من :شرطیه . ادعی :فعل هو فاعل .ماموصوله .لیس فعل ناقص . هو دده اسم له جار مجرور متعلق په ثابتا پوري . شبه جمله خبر.لیس سره دخپل اسم اوخبر نه جمله فعلیه صله سوه ،موصول سره دصلې نه مفعول به .فعل سره دفاعل اومفعول به جمله فعلیه خبریه شرط.ف :جزائیه لیس :فعل ناقص ،هو دده اسم :منا جارمجرور متعلق په ثابتا پوری شبه جمله خبر.لیس سره داسم اوخبر نه جمله فعلیه خبریه معطوف علیه ،واوعاطفه لیتبوء :فعل امر غائب هوفاعل مقعده مضاف اومضاف الیه مفعول به .من النار .جار مجرور متعلق په فعل پوري ،فعل سره دفاعل مفعول به اومتعلق نه جمله فعلیه انشائیه معطوف.معطوف علیه سره دمعطوف نه جزاء.شرط سره دجزاء نه جمله فعلیه خبریه شرطیه.

---

(۲۴۰)مَنْ صَامَ رَمَضَانَ إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ وَمَنْ قَامَ رَمَضَانَ إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ وَمَنْ قَامَ لَيْلَةَ الْقَدْرِ إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ .رواه البخاري ومسلم. تخریج :مشکوة صفحه ۱۷۳ س۸ عن ابی هریرة رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه : چاچي درمضان روژه ونیوله دایمان سره اودثواب په نیت ،بخښنه به وکړل سي ده ته دهغه ګناهونو کوم چي ده وړاندي کړي دی اوخوک چي ودریده په رمضان کي دایمان اوثواب سره نو بخښنه به وکړل سي وده ته دهغه چي کوم ګناهونه ده مخکي کړی دي. خوک چي ودرېدی په لیلة القدر کي دایمان اوثواب سره نو بخښنه به وکړل سي دهغه ګناه ګومه چي ده مخکي کړی ده. **توضیح** : درمضان روژه یا په رمضان کي درېدل نفل وغیره کل یا په لیلة القدر کي ودرېدلو سره په دې شرط چي ایمان وي اودثواب په نیت سره ولاړوي نودده ټول واړه ګناهونه معاف کولی سي ،کبیره ګناه صرف په توبه معاف ګرځي . **ترکیب**:من :شرطیه :صام فعل هو ذوالحال ، ایمانا مصدر په معنی داسم فاعل معطوف علیه،واوعاطفه .احتسابا مصدر په معنی داسم فاعل معطوف، معطوف علیه سره دمعطوف نه ذوالحال .ذوالحال سره دحال نه فاعل ،رمضان مفعول فیه ،فعل سره دفاعل اومفعول فیه نه جمله فعلیه خبریه شرط .غفر فعل مجهول ،له جار مجرور ، متعلق سو په فعل پوري ،ما موصوله ،تقدم فعل هو فاعل .من جار .ذنبه مضاف اومضاف الیه مجرور ، جار سره دمجرور نه متعلق په فعل پوري فعل سره دفاعل اومتعلق نه جمله فعلیه خبریه صله دموصول ، موصول سره دصلې نه نائب فاعل ،فعل سره دنائب اومتعلق نه جمله فعلیه خبریه جزاء،شرط سره دجزاء معطوف

علیه واو عاطفه : وَمَنْ قَامَ رَمَضَانَ إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ. ترکیب هم دغه شان دی جمله فعلیه خبریه معطوف اول .واو عاطفه : وَمَنْ قَامَ لَيْلَةَ الْقَدْرِ إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ. ترکیب هم دغه شان دی .جمله فعلیه خبریه معطوف ثانی ،معطوف علیه سره د دواړو معطوفینونه جمله فعلیه خبریه شرطیه معطوفه سوه .

(۲۴۱) مَنْ أَكَلَ مِنْ هَذِهِ الشَّجَرَةِ الْمُنْتِنَةِ فَلَا يَقْرَبَنَّ مَسْجِدَنَا فَإِنَّ الْمَلَائِكَةَ تَأَذَّى مِمَّا يَتَأَذَّى مِنْهُ الْإِنْسُ. بخاري ومسلم. تخریج مشکوة صفحه ۶۸ س ۲۷ عن جابر رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه : که چاخوراک وکړو ددې بدبویه درختي څخه نو نه دي راځي زمونږ مسجدونو ته ځکه فرشتو ته تکلیف رسیږي دهغه شیانو څخه دکومو شیانو څخه چې انسانانو ته رسیږي **توضیح** : دبدبویه وني څخه مراد بصل (پیاز. اوږه وغیره) دي .مطلب دادی چې دهربدبویه درختي یابوټي څخه تاسو خوراک وکړی نومسجد ته مه راځی ځکه چې فرشتو ته دهغه څخه تکلیف رسیږي ، معلومه سوه چې څوک بدبویه شئ وخوري هغه لره مسجد ته تلل مکروه دی. دغه شان هربدبویه شئ خوړل بالکل یاغوستل اوبیا مسجد ته تلل فقهاؤ مکروه ګرځولی دي.ددې مطلب دانه دی چې کله دجماعت وخت سي نوبدبویه شئ وخوري یایې واغوستلو بیاوایي چې زه نن مسجد ته نه ځم داغلط اوناجائزه حیله ده ، دیوجنب سړي لپاره دجمع لمونځ پرېښودلو حیله جوړول ناجائز دی بلکه دهغه لپاره داحکم دی چې غسل وکړو اودجماعت لمونځ اداکړه .نوبه نورو طریقو سره حیله څنګه جائز کېدلی سي . بهرحال لکه څنګه چې دانسان دتکلیف خیال ساتل پکار دي نودغه شان دملائکو دتکلیف خیال هم ضروری دی. **ترکیب** :من :شرطیه.اکل :فعل .من جار .هذه اسم اشاره.الشجرة موصوف المنتنة : صفت . موصوف سره دصفت نه مشارالیه ،اسم شاره سره دمشارالیه نه مجرور، جار سره دمجرور نه متعلق سو په فعل پورې ،فعل سره دفاعل اومتعلق نه جمله فعلیه خبریه شرط سو.ف : جزائیه .لایقربن:فعل هو فاعل . مسجدنا مضاف اومضاف الیه مفعول به . فعل سره دفاعل اومفعول به نه جمله فعلیه خبریه جزاء .شرط اوجزاء معلل .ف:تعلیلیه. ان حرف مشبه بالفعل .الملائکة : یې اسم . تتاذی : فعل هو فاعل . من جار ما موصوله . یتاذی : فعل .منه :جار اومجرور متعلق په فعل پورې ،الانس فاعل ،فعل سره دفاعل اومتعلق نه جمله فعلیه خبریه صله ،موصول سره دصلې نه مجرور ،جار سره دمجرور نه متعلق په فعل پورې ،فعل سره دفاعل اومتعلق نه جمله فعلیه خبریه خبر سو . ان سره داسم اوخبر نه جمله اسمیه خبریه معلل. معلل سره دمعلل نه جمله فعلیه خبریه شرطیه تعلیلیه سوه .

(۲۴۲) مَنْ جُعِلَ قَاضِيًا بَيْنَ النَّاسِ فَقَدْ ذُبِحَ بِغَيْرِ سِكِّينٍ.

(احمد وترمذي، تخریج مشکوة صفحه ۳۲۴ س ۱۵ عن ابی هریرة رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه : څوک چې قاضي جوړ کړل سو دخلکو په مینځ کې نوهغه ذبح کړی سو بغیر دچړې نه . **توضیح** :څوک چې قاضي جوړ کړی سو هغه دی داخیال نه کوي چې زه دمنسب والا جوړسوم بلکه هغه بغیر

دچړې نه حلال کړل سوی دی ، ځکه چې په دین باندې تللو لپاره هغه په لوی امتحان کې واچول سو داسې دی لکه ده دین ذبح کړی وي ، د قاضي نفس ذبح کول مراد نه دی بلکه دهغه دین هلاکولو طرف ته اشاره ده . په چاړه ذبح کولو سره صرف یوځو مینټه تکلیف وي لیکن قاضي بغیر د چاړې څخه ذبح کړی سوی دی ، یعني دځومنټو تکلیف په ځای (که چیرې څه غلطي وکړي) عمر بلکه تر قیامت پورې به دشرمندګۍ تکلیف برداشت کوي، چې د چاړې ذبح کېدلو د تکلیف نه زیات تکلیف دی . د دې وجې نه پخپله د قضاء عهده غوښتل نه دي پکار . اود وزارت عهده خو بلکل غوښتل نه ده پکار ، لیکن که علماء وقت څه عهده په زور ورکړي نو هغه قبلول پکار دی . **ترکیب** : من :شرطیه . جعل فعل هو نائب فاعل . قاضیا . مفعول به . بین الناس مضاف اومضاف الیه . مفعول فیه ، فعل سره د فاعل او مفعول به او مفعول به نه جمله فعلیه خبریه شرط سو . ف :جزائیه . ذبح :فعل هو فاعل . ب جار غیر سکین: مضاف اومضاف الیه مجرور . جار سره د مجرور متعلق په فعل پورې ، فعل سره د نائب فاعل او متعلق نه جمله خبریه جزاء ، شرط سره د جزاء جمله فعلیه خبریه شرطیه سوه .

(۲۴۳) مَنْ حَلَفَ بِغَيْرِ اللهِ فَقَدْ اَشْرَكَ . (ترمذی ، تخریج مشکوة صفحه ۲۹۶ س ۲۵ عن ابن عمر رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه :چاچې قسم وخوړو د الله تعالی څخه علاوه په بل چاباندې هغه شرک وکړو . **توضیح**:چاچې قسم وخوړو د الله تعالی څخه سوا د بل چا په نامه باندې ، یادنبي په نامه یاد کعبې په نامه باندې نو که چیرې د غیر الله د تعظیم عقیده یې مخصوص طریقې سره درلوده او قسم یې وخوړه نو دا قسم خوړونکی مشرک سو او که چیرې دهغه مخصوص تعظیم (کوم چې د الله تعالی لپاره کیږي) په ځای باندې د تعظیم بلیغ په صورت کې قسم وکړو نو بیا په دې حدیث کې زجر دی ، چې ده د مشرک پشان کار وکړو لکه ریاکار هم شرک اصغر کوي که چیرې د قسم لپاره استعمالیږي نو قسم په وسې کنی قسم نه کیږي . مثلا په قرآن باندې قسم کولو سره قسم کیږي ، اوس د دې پوره کول لازم دی کنی نو کفاره ورکول لازم دی . **ترکیب**:من: شرطیه . حلف:فعل . هو فاعل . ب:جار . غیر الله :مضاف اومضاف الیه مجرور ، جار سره د مجرور نه متعلق په فعل پورې ، فعل سره د فاعل او متعلق نه جمله فعلیه خبریه شرط . ف:جزائیه . قد اشرک :فعل هو فاعل . فعل سره د فاعل نه جمله فعلیه خبریه جزاء . شرط سره د جزاء نه جمله فعلیه خبریه شرطیه سوه .

(۲۴۴) مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلْيُكْرِمْ ضَيْفَهُ وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلَا يُؤْذِ جَارَهُ وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلْيَقُلْ خَيْرًا اَوْ لِيَصْمُتْ

(ترمذي ومسلم، تخریج :مشکوة صفحه ۳۶۸ س ۱۱ عن ابی هریرة رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه:څوک چې ایمان لري په الله تعالی باندې او د قیامت په ورځ باندې نو هغه لره پکار دی چې عزت وکړي د خپل میلمه او څوک چې ایمان لري په الله او د قیامت په ورځ نو هغه دې خپل ګاونډي ته تکلیف

نه ورکوي .اوڅوک چې ایمان لري په الله تعالی اود قیامت په ورځ نوهغه لره پکار ده چې ښه خبره وکړي یاچپ پاتي سي . **توضیح** : دایمان بالله اوایمان بالیوم الاخر ذکر یې وکړو په مینځ کي ټولي درجې دایمان راغلی. معنی داده چې کوم سړی مؤمن کامل جوړیدل غواړي نوهغه لپاره لازم ده چې د میلمه میلمستا وکړي ، درې ورځو پوري وروسته بیا صرف مستحب ده اودغه شان چې څوک کامل مؤمن جوړیدل غواړي نوهغه لره هروخت دالازم ده چې خپل ګاونډي ته تکلیف نه ورکوي . اودغه شان که څوک څه خبره کوي نوښه خبره دی وکړي چې فائده پکې وي .بې فائدې څه خبره دي نه کوي بلک چپ دي سي .

ترکیب:من:شرطیه .کان فعل هویې اسم ،یومؤمن فعل هوفاعل .ب:جار لفظ الله مجرور معطوف علیه،واو:عاطفه.الیوم الاخر.موصوف صفت معطوف ،معطوف علیه سره دمعطوف نه مجرور ، جار سره دمجرور نه متعلق په فعل پوري ،فعل سره دفاعل اومتعلق نه جمله فعلیه خبریه خبر . کان سره داسم اوخبر نه جمله فعلیه خبریه شرط سو .ف :جزائیه : لیکرم : فعل هوفاعل .ضیفه :مضاف اومضاف الیه مفعول به ،فعل سره دفاعل اومفعول به نه جمله فعلیه انشائیه جزاء سوه .شرط سره دجزاء نه معطوف علیه . واو:عاطفه : مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلَا يُؤْذِ جَارَهُ. دمخکي ترکیب په شان جمله فعلیه خبریه معطوف اول . واو عاطفه: مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلْيَقُلْ خَيْرًا أَوْ لِيَصْمُتْ .دتیرسوي ترکیب په شان .جمله فعلیه خبریه معطوف ثانی .معطوف علیه سره ددواړو معطوفینو نه جمله فعلیه خبریه شرطیه سوه .

(۲۴۵)مَنْ صَلَّى الْعِشَاءَ فِي جَمَاعَةٍ فَكَأَنَّمَا قَامَ نِصْفَ اللَّيْلِ وَمَنْ صَلَّى الصُّبْحَ فِي جَمَاعَةٍ فَكَأَنَّمَا صَلَّى اللَّيْلَ كُلَّهُ

،مسلم ،تخریج:مشکوة صفحه ۶۲ س ۲۴ عن عثمان رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه:چاچې لمونځ وکړو دماخوستن په جماعت سره لکه چې دې ودربدلو نیمه شپه . اوچاچې لمونځ وکړو دسهار په جماعت سره لکه چې ده لمونځ وکړو تولې شپه . **توضیح** : دماخوستن لمونځ فضیلت په جماعت سره یوداهم دی چې دنیمي شپې دعبادت ثواب ورکول کیږي اوچاچې دسهار لمونځ په جماعت سره وکړو نوهغه ته دټولي شپې دعبادت ثواب ورکول کیږي .څومره آسان فضیلت دی ،دشپې دثواب ګټلو ،چاچې دواړه لمونځونه په جماعت سره وکړل نوښکاره ده چې دټولي شپې دبیداري ثواب به ورکول کیږي . اوچاچې پنځه وخته دجماعت دلمانځه پابندي وکړه نوهغه ته به څلور ویښت ساعته دنیکو ثواب ورکول کیږي . ترکیب: من شرطیه : صلی فعل . العشاء مفعول به . فی جماعة جار اومجرور متعلق په فعل پوري ټول سره جمله فعلیه خبریه شرط .ف : جزائیه کانما دتاکید لپاره .قام فعل هو فاعل . نصف اللیل مضاف اومضاف الیه مفعول فیه ،فعل سره دفاعل اومفعول فیه نه جمله فعلیه خبریه جزاء سوه .شرط سره دجزاء نه معطوف علیه ،واو عاطفه . من شرطیه .صلی فعل هو فاعل .الصبح مفعول فیه .فی جماعة جار اومجرور متعلق په فعل پوري ،ټول سره یوځای جمله فعلیه خبریه شرط. ف :جزائیه کانما دتاکید لپاره .صلی فعل هوفاعل اللیل مؤکد . کله مضاف اومضاف الیه سره تاکید ،مؤکد سره

دتاکید نه مفعول فیه، فعل سره دفاعل اومفعول فیه نه جمله فعلیه خبریه جزاء .شرط سره دجزاء نه معطوف . معطوف علیه سره دمعطوف نه جمله فعلیه خبریه شرطیه معطوفه سوه .

(۲۴۶)وَمَنْ بَطَّأَ بِهِ عَمَلُهُ لَمْ يُسْرِعْ بِهِ نَسَبُهُ.

مسلم ،تخریج :مشکوة صفحه ۳۳ س ۱ عن ابی هریرة رضی الله عنه مرفوعا

ژباړه : چاچي عمل وروسته کړو هغه به نسب مخکي بونزي .**توضیح** : کوم سړی چي په عمل کولو کي سستي وکړه چي کله عمل کوي کله يې نه کوي نوداسي سړي له خاص طور اوباقي نورو لره عام طور داحديث يادساتل پکار دی .چي دهغه نسب نامه به په کار ورنه سي :إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ. چي بيشکه په تاسو کي دټولو څخه زيات عزت والا دالله تعالی په نزدباندي هغه سړی چي په تاسو کي متقي وي اوښکاره ده چي متقي هغه سړی دی چی نهايت محتاط اندازکي په پوره دين باندي عمل کوي . حضرت فاطمې رضی الله عنها ته رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم فرمايلي ؤ چي عمل کوه داخيال مه کوه چي فاطمه بنت رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم يمه بلکه په خپل عمل به بخښل کېدی سی اوفرمايلي ؤ که چيري فاطمه غلا وکړي نوپه توره به دهغی هم لاس پرېکړم معلومه سوه چي نسب نامه دهيڅا په کار نه ورځي . **ترکیب**:من :شرطيه .بطا فعل به جار اومجرور متعلق په فعل پوري ، عمله مضاف اومضاف اليه سره فاعل ټول سره يوځای جمله فعليه خبريه شرط . لم يسرع:فعل به جار اومجرور متعلق په فعل پوري ،نسبه مضاف اومضاف اليه سره فاعل ټول سره يوځای جمله فعليه خبريه جزاء سوه .شرط سره دجزاء نه جمله فعليه خبريه شرطيه سوه .

(۲۴۷)مَنْ حَجَّ لِلَّهِ فَلَمْ يَرْفُثْ وَلَمْ يَفْسُقْ رَجَعَ كَيَوْمِ وَلَدَتْهُ أُمُّهُ

(بخاري ومسلم، تخريج :مشکوة صفحه ۲۲۱ س ۵ عن ابی هريرة رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه : چاچي حج وکړ دالله تعالی لپاره نه يې (په دې حج کي) جماع وکړه اونه يې خرابه خبره وکړه نوهغه واپس دهغه ورځ په شان په کومه ورځ چي پيدا سو دمور څخه. **توضیح** : رفث ويل کيږي جماع ته ،مطلقا ښځي ته ورتلل اوفسوق بدي خبري ته وايي ،په دې حديث کي د جدال ذکر نه دی سوی په قرآن کريم باندي اکتفاء کړل سوی ده ،غرض داچي کوم سړی دحج په دوران کي څه ناکاره خبره ياڅه ناکاره کار ونه کړو نوچي کله هغه کور ته راځي نوداسي به وي لکه چي مور اوس زېږولی وي يعني دهر قسم ګناه څخه به پاک وي اوهر ګناه به يې معاف سوی وي . **ترکیب** :من :شرطيه :حج فعل هو فاعل : لله جار اومجرور . متعلق په فعل پوري ټول سره يوځای جمله فعليه خبريه معطوف عليه ،ف :عاطفه . لم يرفث فعل هو فاعل ، ،دواړه جمله فعليه خبريه معطوف اول . واو عاطفه .لم يفسق فعل هو فاعل ، فعل اوفاعل جمله فعليه خبريه معطوف ثانی ، معطوف عليه سره دواړو معطوفينو څخه شرط. رجع فعل هو ذوالحال. ک :جار يوم :موصوف. ولدت :فعل .ه مفعول به امه

مضاف اومضاف الیه فاعل، فعل سره دفاعل اومفعول به نه جمله فعلیه خبریه صفت، موصوف سره دصفت نه مجرور ،جار سره دمجرور نه متعلق په طاهرا پوري شبه جمله حال سو ،ذوالحال سره دحال نه فاعل ، فعل سره دفاعل نه جمله فعلیه خبریه جزاء،شرط سره دجزاء نه جمله فعلیه خبریه شرطیه سوه .

(٢٤٨) مَنْ سَأَلَ اللّٰهَ الشَّهَادَةَ بِصِدْقٍ بَلَّغَهُ اللّٰهُ مَنَازِلَ الشُّهَدَاءِ وَإِنْ مَاتَ عَلَى فِرَاشِهِ (مسلم)

(تخریج مشکوة صفحه ٣٣٠ س ٢٦ عن سهل بن حنیف مرفوعا)

ژباړه : چاچي وغوښتلو دالله تعالی څخه شهادت په رښتیا سره الله تعالی به دي ورسوي دشهیدانو مرتبې ته اګرچي هغه په خپله بستره مړسي . **توضیح** : چاي په اخلاص سره دالله تعالی نه شهادت وغوښتلو ،الله تعالی به هغه ته هرچیري چې مړسي ضرور دشهیدانو درجه ورکوي ،اګرچي په خپل کور کي ناست وي اوپخپله بستره يې روځ ووزي . دشهادت مرتبه حاصلولو لپاره صرف دزړه رښتیا والی اودنیت صحیح والی ضروری دی که چیري یوسړي جهاد کوي اومړسي لیکن دهغه نیت خپل نوم روښانه کول وي نوهغه ته دذري برابر ثواب هم نه ورکول کیږي اوچي څوک په اخلاص سره دشهادت آرزو کوي نوییا اګرچي هغه ته زخم هم نه وي رسیدلی په خپله بستره باندي وفات سي نوداسړی به دالله تعالی په نزد شهید وي اودهغه مجاهد نه به زیات ثواب ده ته ورکول کیږي دچاچي نیت خراب وي . **ترکیب** :من:شرطیه فعل هوفاعل .لفظ الله مفعول به اول . الشهادة مفعول به ثانی . بصدق جار مجرور متعلق سو په فعل پوري ،ټول سره یوځای جمله فعلیه خبریه شرط .بلغ :فعل ه مفعول به .لفظ الله فاعل . منازل الشهداء مضاف اومضاف الیه مفعول فیه .فعل سره دفاعل اومفعول به اومفعول فیه نه جمله فعلیه خبریه جزاء مقدم . واو وصلیه ان شرطیه مات فعل هو فاعل . علی جار . فراشه :مضاف اومضاف الیه مجرور .جار سره دمجرور نه متعلق په فعل پوري ،فعل سره دفاعل اومتعلق نه جمله فعلیه خبریه شرط مؤخر .جزاء مقدم سره دشرط مؤخر نه جمله فعلیه جزائیه جزاء .شرط سره دجزاء نه جمله فعلیه خبریه شرطیه سوه .

(٢٤٩) مَنِ احْتَبَسَ فَرَسًا فِي سَبِيلِ اللّٰهِ إِيمَانًا بِاللّٰهِ وَتَصْدِيقًا بِوَعْدِهِ فَإِنَّ شِبَعَهُ وَرِيَّهُ وَرَوْثَهُ وَبَوْلَهُ فِي مِيزَانِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ .بخاري. تخریج مشکوة صفحه ٣٣٦ س ٢٠ عن ابی هریرة رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه :چاچي بند کړو آس دالله په لار کي په الله يې ایمان لرلو اودهغه دوعدې تصدیق يې کولو نوییشکه دهغه خوراک اودهغه خشړه اودهغه بول به دده په تله کي وي دقیامت په ورځ . **توضیح** : کوم سړی چي دجهاد لپاره آس وساتلو دثواب په نیت باندي اوپه الله تعالی باندي ایمان لری اودالله تعالی وعده ریښتونی ګڼړله نوداسي سړی له خوشحالیدل پکار دي اودالله تعالی شکریه ادا کول پکار دی ځکه چي دده په عمل نامه کي چي کله دآس ثواب تللی سي نوچي آس څومره خوراک څښاک اوخشړه اوبول کړی وي هغه به ټولي تللی سي چي دهغه په وجه به وزن زیات کړی سي اوشاید چي همدا دنجات لپاره کافي سي . **فائده** : هرسړی دي خپله سورلی کي دانیت وکړي چي داسورلی مثلا موټرسائیکل یا موټر ددې لپاره ساتم چي دجهاد په وخت جهاد کي اوپه عامو حالاتو کي به يې په هرکار خیر کي استعمالوم نوچي کوم سړی په دې نیت باندي هرقسم سورلی ساتي نودهغه پټرول وغیره به ټول

دقیامت په ورځ په کارراځي. **ترکیب**: من شرطیه . احتبس :فعل هو ذوالحال . ایمانا :مصدر په معنی داسم فاعل هو ضمیر یې فاعل ،بالله جار مجرور متعلق په مؤمنا پوري ،اسم فاعل سره دخپل فاعل اومتعلق نه شبه جمله معطوف علیه ،واو عاطفه . تصدیقا مصدر په معنی داسم فاعل ،هوددہ فاعل . به جار .وعده مضاف مضاف الیه مجرور . جار مجرور متعلق په مصدقا پوري شبه جمله .معطوف معطوف علیه سره دمعطوف نه حال . ذوالحال سره دحال نه فاعل .فرسا مفعول به .فی جار سبیل الله مضاف مضاف الیه مجرور . جار سره دمجرور نه متعلق په فعل پوري ،فعل سره دفاعل اومتعلق اومفعول به نه جمله فعلیه خبریه شرط سوه . ف :جزائیه .ان حرف مشبه بالفعل .شبعه : مضاف اومضاف الیه معطوف علیه ، واو عاطفه ریه معطوف اول ،واو عاطفه رویه مضاف اومضاف الیه معطوف ثانی ،واو عاطفه بوله معطوف ثالث . معطوف علیه سره دمعطوفات ثلثه څخه اسم دان .فی جار میزانه مضاف اومضاف الیه مجرور ،جار سره دمجرور نه متعلق په ثابت پوري .ثابت صیغه داسم فاعل هوضمیر یې فاعل .یوم القیمة مضاف اومضاف الیه مفعول فیه ،ثابت اسم فاعل سره دخپل فاعل اومفعول فیه اومتعلق نه شبه جمله خبر سو ،ان سره داسم اوخبر نه جمله اسمیه خبریه جزاء .شرط سره دجزاء نه جمله فعلیه خبریه شرطیه سوه .

(۲۵۰) مَنْ كَانَ لَهُ شَعْرٌ فَلْيُكْرِمْهُ.

رواه ابوداود، تخریج :مشکوة صفحه ۳۸۲ س۵ عن ابی هریرة رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه : دچاچې ویښته وي هغه ته پکار دي چې عزت یې کوي یعني صفا یې ساتي . **توضیح** : دشعر څخه مراد ویښته دی .مطلب دادی چې کوم سړی ویښتان پرېښوي نوهغه لره پکار چې دویښتانو حق ادا کړي ،چې وینځي یې هم او تیل هم ورباندي لګوي . اوږمنځوی یې هم په ږمنځولو کې دا تفصیل دی چې یوه ورځ پس ږمنځول پکار دی ځکه چې په مشکوة صفحه ۳۲۸ س۱ باندي حدیث شریف دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم منع فرمایلی ده ږمنځولو نه لیکن (غبّا چې ورځ پرېږدي) یعني یوه ورځ یې ږمنځوي اوبله ورځ نه کوي همدا مسنون طریقه ده خو روزانه ږمنځول حرام نه دی ،البته روزانه څوځله ږمنځول کول مناسب هم نه دی ،په حدیث کې ممانعت د روزانه عادت کېدلو اوپه دې باندي همېشوالی کولو کې دی که یوسړی څوورځې روزانه ږمنځوي یې بیا یې یوه ورځ نه کوی نوهغه په ذکر سوي ممانعت کې نه داخلیږي . (مرقات جلد ۸ ص ۳۰۳)

ویښته خوړول : خواره ویښته ګرځیدل دهغه سړي کار دی کوم چې دسنت اودین څخه لري وي ،ویښته ایله پرېښول چې ددې څخه خلق نفرت کوي اوهم په دې حالت کې جمات ته تلل مکروه دي بلکه په حدیث کې داسې سړي ته شیطان ویل سوی دي. مشکوة صفحه ۳۴۸ س۲۷ مرقات جلد ۸ صفحه ۳۲۳)

دسر دویښتانو مسنونه طریقه: دغوږونو پوځکو پورې ویښته ساتل چې په دې کې هرطرف ته ویښته برابر وي چې بودی نه وي چې په هغه کې شاته واړه اومخ ته اوږده وي ،چې داد انګریزانو طریقه ده ،په مشکوة صفحه ۳۸۰ کې حدیث دی چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې یا پوره ویښتان پرېږدی یا یې پوره پرې کوی (داسې نه چې څه دې ساتلي وي اوځه دې خریلی وي) رواه مسلم. **دسر دویښتانو خریل** :صرف جائز

دی سنت نه دیی ،سنت هغه وي چې په هغه کې نبي کریم ﷺ مواظبت او همېشوالی کړی وي او اصول په دې باره کې (چې یو طرف ته د رسول الله ﷺ سنت دی مثلا ویښته پرېښول اوبل طرف ته د سر ویښتان خریل د حضرت علي رضي الله عنه سنت دی)دادی چې اصل سنت کوم چې اصطلاحي سنت دی هغه د حضور ﷺ دی او د حضرت علی رضي الله عنه سنت په معنی لغوي سره دی یعني د جواز ترحده پورې داکار دی لهذا د سر ویښتان خریل ته سنت نه سي ویل کېدی بلکه صرف د جواز درجه ده . **ترکیب** : من :شرطیه : کان فعل .له جار مجرور سره متعلق په فعل پورې ،شعر فاعل، فعل سره د فاعل او متعلق نه جمله فعلیه خبریه شرط سو .ف :جزائیه .لیکرم : فعل امر .ه مفعول به .فعل سره د فاعل او مفعول به نه جمله فعلیه خبریه جزاء شرط سره د جزاء نه جمله فعلیه خبریه شرطیه سوه .

(نوع آخر منه)

(۲۵۱)إِذَا سَرَّتْكَ حَسَنَتُكَ وَسَاءَتْكَ سَيِّئَتُكَ فَأَنْتَ مُؤْمِنٌ (رواه احمد)

(تخریج مشکوة صفحه ۱۶ س ۱۴ عن ابی هریرة رضي الله عنه مرفوعا)

ژباړه : چې کله خوشحاله کړي تا ستانیکي اوخفه کړي تاستابدي نو ته مومن یې .

توضیح اوشان ورود : ابوامامه رضي الله عنه صحابي راوي وایي چې یوسړی د نبي کریم ﷺ څخه تپوس وکړو :ماالایمان یعني دایمان نښه څه ده ،نو په دغه وخت کې نبي کریم ﷺ وفرمایل : چې کله تاته ستانیکی ښکاره سي یعني تاته خوشحالي محسوس سي چې ماته دنیکی توفیق راکړی سو اوچه کله تاته ستابدي ناخوښه سي یعني په ګناه کېدلو سره ستازه غمجن سي اودسزا ویره درسره شروع سي نواوس ته کامل مؤمن یې ،ځکه چې په ګناه اونیکی کې فرق کوی اودنیکی اوګناه د جزاء ملاویدو عقیده ساتی . (حاشیه مشکوة ۱۵ بحواله مرقات) **ترکیب** : اذا شرطیه .سرت فعل ک :مفعول به :حسنتک مضاف اومضاف الیه فاعل ،فعل سره د فاعل اومفعول به نه جمله فعلیه خبریه معطوف علیه ،واو عاطفه .ساءت فعل ک :مفعول به .سیئتک :مضاف اومضاف الیه فاعل ، فعل سره د فاعل اومفعول به نه جمله فعلیه خبریه معطوف،معطوف علیه سره د معطوف نه شرط .ف جزائیه انت مومن مبتداء خبر .جمله اسمیه خبریه جزاء شرط سره د جزاء نه جمله فعلیه خبریه شرطیه سوه .

(۲۵۲)إِذَا وُسِّدَ الْأَمْرُ إِلَى غَيْرِ أَهْلِهِ فَانْتَظِرِ السَّاعَةَ.

بخاري تخریج :مشکوة صفحه ۴۶۹ س ۱۱ عن ابی هریرة رضي الله عنه مرفوعا

ژباړه : چې کله وسپارلی سي کار نااهلو ته نوانتظار کوه د قیامت . **توضیح اوشان ورود** :حضرت ابوهریره رضي الله عنه چې دهغه نوم عبدالرحمن دی په صحیح قول کې .چې د دې حدیث راوی دی هغه وایي چې موږ د نبی کریم ﷺ سره خبري کولی په دې دوران کې یو بانډه چې سړي راغی هغه راتلو سره داتپوس وکړو چې :متی الساعة. یعني د قیامت علامه څه ده؟ یعني قیامت به کله راځي .نو حضور ﷺ وفرمایل چې امانت ضائع کېدل شروع سي نو هغه بیا تپوس وکړو ضایع کېدل به څنګه وي نو په دې باندې نبي کریم ﷺ داجمله وفرمایله :

چې کله څه معامله ناهل ته وسپارلی سي نوییاد قیامت انتظار کوه ،مطلب دادی چې بادشاه یاحاکم یاامیر یاقاضي یا مدرس یامفتی یاامام یاخطیب وغیره داعهدی یوناهل ته ورکړل سي .نوییابه امانت کوم ځای پاتي سي .هرسړی به دخپلي خپتي فکر کوي اوایثار به بالکل ختم سي اوچې کله امانت اوایثار ختم سو دناهل مقرر کېدو په وجه نوییا دقیامت انتظار کوه.(حاشیه مشکوة نمبر ۸-۷) **ترکیب**:اذا: شرطیه. وسد :فعل مجهول الامرنائب فاعل .الی جار.غیرمضاف ،اهله مضاف سره دمضاف الیه نه مضاف الیه ،مضاف سره دمضاف الیه نه مجرور ، جارسره دمجرور نه متعلق سو په فعل پوري،فعل سره دنائب فاعل دنائب فاعل نه جمله فعلیه خبریه شرط سو،ف :جزائیه انتظر فعل امرانت فاعل .الساعة مفعول به ، فعل سره دفاعل اومفعول به نه جمله فعلیه خبریه جزاء سوه .شرط سره دجزاء نه جمله شرطیه جزائیه سوه .

(۲۵۳)إِذَا كُنْتُمْ ثَلَاثَةً فَلَا يَتَنَاجَى اثْنَانِ دُونَ الْآخَرِ حَتَّى تَخْتَلِطُوا بِالنَّاسِ مِنْ أَجْلِ أَنْ يُحْزِنَهُ . (بخاري ومسلم،تخریج :مشکوة صفحه ۴۲۲ س ۲۶ عن عبداللہ بن مسعود رضی اللہ عنہ مرفوعا)

ژباړه: کله چې تاسو درې کسان یاست نودوه کسان دي پټ خبره نه کوي ،ددریم نه علاوه ترهغه چې تاسو یوځای سی ،دخلګو سره ددې وجې نه چې هغه به غمجن سي . **توضیح** : چې لکه تاسو درې کسان یاست نودوه کسان ددریم نه علاوه یواځي یعني پټې خبري دي نه کوئ ځکه چې دهغه زړه به غمجن سي پته لګي چې څه خبره ده چې زما څخه یې پټه وي ،لیکن چې کله دډیرو خلګو سره یوځای سی نوییا هیڅ حرج نسته . ییا چې دوه کسان هرڅومره خبري کول غواړي نوکوي دی . که چیرې ډیره زیاته ضروري خبره کول غواړي نود دریم څخه دي اجازت وغواړي خبره دي وکړي . **ترکیب** : اذا :شرطیه . کنتم :فعل ناقص .تم : ددې اسم .ثلثة :خبر. فعل ناقص سره دخپل اسم اوخبر نه جمله فعلیه خبریه شرط . ف: جزائیه .لایتناجی : فعل .اثنان .فاعل . دون الاخر :مضاف اومضاف الیه معفول فیه.حتی جارتختلطوا :فعل فاعل .بالناس : جارمجرور متعلق اول دفعل . من :جار . اجل :مضاف .ان مصدریه .یحزن :فعل هوفاعل ه مفعول به ،فعل سره دفاعل اومفعول به نه جمله فعلیه خبریه په تاویل دمصدر سره ،مضاف الیه ،مضاف سره دمضاف الیه مجرور،جارسره دمجرور نه متعلق ثانی . فعل سره دفاعل اومتعلقینو نه جمله فعلیه خبریه په تقدیر دان سره مفرد مجرور سو،جارسره دمجرور نه متعلق سو په لایتناجی پوري ،فعل سره دفاعل مفعول به اومتعلق نه جمله فعلیه خبریه معنی انشائیه جزاء .شرط سه دجزاء نه جمله فعلیه شرطیه جزائیه سوه .

(۲۵۴)إِذَا قَضَى اللَّهُ لِعَبْدٍ أَنْ يَمُوتَ بِأَرْضٍ جَعَلَ لَهُ إِلَيْهَا حَاجَةً

،ترمذی .تخریج :مشکوة صفحه ۲۲ س ۲۵ عن مطربن عکامس رضی اللہ عنہ مرفوعا)

ژباړه :چې کله الله تعالی دیوبنده دمرګ اراده وکړي په (فلانی) زمکه نوپیدا کوي الله تعالی دهغه لپاره په هغه ځای کي ضرورت .توضیح : الله تعالی چې کله حوک مرکول غواړي نوچې کوم ځای دمرګ لپاره مقرروي نوهغه سړي اګر چې په سوونو میله لري ناست وي څه کارته هلته دهغه ضرورت پیدا کوي چې هغه هلته ورسیږي کوم ځای کي چې دهغه مرګ واقع کېدل وي .

په مقرر ځای کي مرګ راځي په دې باره کي يوه قصه

دشام په ملک کي سليمان عليه السلام ناست ؤ نور خلک هم ورسره ؤ چي عزرائيل عليه السلام راغی او سليمان عليه السلام دهغه څخه پوښتنه وکړه چي تاسو په يو منټ کي په يو ځای کي او په بل منټ کي زر ميله لري دنورو انسانانو روحونه څنګه وباسی نو هغه جواب ورکړو چي د ټولي دنيا روحونه ايستل ماته داسي دی کله ديو پليټ نه دانارو داني چي ځومره غواړم هغومره را راواخلم په دې دوران کي عزرائيل عليه السلام يوسړي ته ډير ډير کتل چي دسليمان عليه السلام سره ناست ؤ کله چي عزرائيل عليه السلام ولاړو نو هغه سړي راوړاندي سو اوسليمان عليه السلام ته يې وويل چي داڅوک ؤ چي ماته يې ډير ډير کتل نو حضرت سليمان عليه السلام وفرمايل : چي داعزرائيل عليه السلام ؤ، نو هغه سړی وويږيدو چي چرته زما روح ونه باسي په دې وجه تاسو داسي وکړی چي دهوا په ذريعه ماهندوستان ته ورسوی ، نو هغه هندوستان ته ورسيدلو ، دويمه ورځ خبر راغی چی هغه وفات سوی دی ، نوسليمان عليه السلام دعزرائيل څخه تپوس وکړو چي داڅه خبره وه نو هغه ورته وويل چي کوم وخت زه تاته راغلی وم نو داسړی تاسره ناست ؤ ماده ته ددې وجي نه کتل چي ماته دده دروح قبض کولو حکم په هندوستان کي سوی ؤ نو ماده ته په غور سره کتل چي داهم هغه سړی دی يابل څوک دی معلوميږي خو هم هغه ليکن دی خو په آرام سره دشام په ملک کي ناست دی ، دې به په يوه ورځ کي هلته هندوستان ته څنګه ورسيږي ، بهرحال دعزرائيل عليه السلام کتل په مقرر وخت دروح وتلو لپاره سبب جوړ سو : إِنَّ أَجَلَ اللّٰهِ إِذَا جَاءَ لَا يُؤَخَّرُ. کله چي مرګ راسي نو هغه نه وروسته کيږي. ترکيب: اذا شرطيه . قضی فعل . لفظ الله فاعل . لعبد جار مجرور متعلق په فعل پوري ، ان مصدريه يموت فعل هو فاعل ، بارض جار مجرور متعلق په فعل پوري ، فعل سره دفاعل اومتعلق نه جمله فعليه خبريه په تاويل دمصدر سره مفعول به ، فعل سره دفاعل مفعول به اومتعلق نه جمله فعليه خبريه شرط . جعل فعل . هو فاعل . له جار مجرور متعلق اول په فعل پوري ، اليها : جار مجرور تعلق ثانی دفعل ، حاجة : مفعول به . فعل سره دفاعل اومتعلقينو اومفعول به نه جمله فعليه خبريه جزاء . شرط سره دجزاء نه جمله شرطيه جزائيه سوه .

---

(۲۵۵) إِذَا طَبَخْتَ مَرَقَةً فَأَكْثِرْ مَاءَهَا وَتَعَاهَدْ جِيرَانَكَ.

. رواه مسلم، تخريج : مشکوة صحفه ۱۷۱ س ۱۴ عن ابی ذر رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه : چي کله ته بنورو اپخوی نو په هغه کي اوبه زياتي کړه او ګاڼلو ګاونډيانو خيال وساته. **توضيح** : کله چي بنورا پخيږي نو لږي اوبه ورکي زياتی کړی ، چي ګاونډی يې هم وخوري . داکار صرف مستحب دی . مقصد دادی چي دګاونډيانو خيال وساتلی سي اودهغوی وخت په وخت خير واخيستل سي اودهغوی دځان اومال دحفاظت خيال وساتلی سي اودهغوی دهر قسم تکليف نه ځان بچ کړی ، غرض دادی چي دهغوی دآرام اوراحت خيال وساتی. **ترکيب** : اذا : شرطيه . طبخت : فعل فاعل ، مرقة : مفعول به ، تول سره يوځای ، جمله فعليه خبريه شرط سوه . ف : جزائيه . اکثر : فعل ، انت فاعل . ماءها : مضاف مضاف اليه مفعول به . فعل سره دفاعل اومفعول به نه جمله انشائيه معطوف عليه . واو : عاطفه . تعاهد : فعل : انت فاعل . جيرانک : مضاف اومضاف اليه معفول به ، فعل

سره دفاعل اومفعول به نه جمله فعليه انشائيه معطوف. معطوف عليه سره دمعطوف نه جزاء، شرط سره دجزاء نه جمله شرطيه جزائيه سوه.

(۲۵۶) إِذَا لَبِسْتُمْ وَإِذَا تَوَضَّأْتُمْ فَابْدَءُوا بِمَيَامِنِكُمْ

(رواه احمد، تخريج مشكوة صفحه ۴۶ س۸ عن ابی هريرة رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه: چې کله تاسو اغوندی اوچه کله تاسو اودس کوئ نو تاسو شروع کوي دخپل ښئ طرف نه. **توضيح**: کله چې تاسو جامی اغوندی یاخادر په سر کوی یا اودس کوی یاخه شئ تقسیموی یا کله ویده کیږی یادچانه سبق اوری یاخه خوری یاخه څکی یاخپلی په پښو کوی یانوکان پرې کوی یامسواک وهی یاخه لیکی یاچاته څه په لاس کي ورکوی یادچاڅخه څه شئ په لاس کي نیسی یاخه دیني کتاب راڅلی یامصافحه کوی یارانجه ستر ګو کي اچوی یاچاته اشاره کوی یاقرآن پاک مچ کوی یاپه قرآن کریم باندي ګوتي ایږدی تلاوت کوی، په شلو کارونو اوپه هرنیک کار کي دښي لاس نه شروع کوی یقینا برکت به وي. **ترکيب**: اذا: شرطيه. لبستم: فعل فاعل جمله فعليه خبره معطوف عليه، واوعاطفه. اذا شرطيه. توضأتم: فعل فاعل سره جمله فعليه خبريه معطوف. معطوف عليه سره دمطعوف نه جمله معطوفه شرط. ف: جزائيه. ابدؤا: فعل فاعل. ب: جار. ميامنكم: مضاف اومضاف اليه مجرور. جار سره دمجرور نه متعلق په فعل پوري. فعل سره دفاعل اومتعلق نه جمله فعليه خبريه جزاء. شرط سره دجزاء نه جمله شرطيه جزائيه سوه.

(۲۵۷) إِذَا تَوَضَّأْتَ فَخَلِّلْ أَصَابِعَ يَدَيْكَ وَرِجْلَيْكَ

(ترمذی. تخريج مشكوة صفحه ۴۶ س۱۲ عن ابن عباس رضی الله عنهما مرفوعا)

ژباړه: چې کله ته اودس کوی نو خلال کوی دخپلو لاسونو اود پښو د ګوتو. **توضيح**: دلاس اوپښو ګوتي خلالول په اودس کي فرض نه دی بلکه سنت دی په اودسه کي نهه سنت دی. اول: مړوندونو پوري لاس وینځل. دويم: بسم الله ويل: دريم: په خوله کي اوبه اچول. څلورم: پوزه کي اوبه اچول. پنځم: مسواک وهل. شپږم: یوځل د تول سر مسح کول. اووم: هرانداام دري ځله وینځل. اتم: د غوږونو مسح کول. دلاس پښو ګوتي خلالول. ددې څخه ماسوه تول مستحبات دي. (بهشتي زيور حصه اول د اودسه بيان) ترکيب: اذا: شرطيه. توضأت. فعل فاعل. جمله فعليه خبريه شرط. ف: جزائيه. خلل: فعل انت فاعل. اصابع: مضاف. يديک: مضاف مضاف اليه معطوف عليه. واو: عاطفه. رجليک: معطوف. معطوف عليه سره دمعطوف نه مضاف اليه. مضاف سره دمضاف اليه نه مفعول به، فعل سره دفاعل اومفعول به جمله فعليه انشائيه جزاء. شرط سره دجزاء نه جمله شرطيه جزائيه سوه.

(۲۵۸) إِذَا وُضِعَ الطَّعَامُ فَاخْلَعُوا نِعَالَكُمْ فَإِنَّهُ أَرْوَحُ لِأَقْدَامِكُمْ.

دارمی، تخريج مشكوة صفحه ۳۶۸ س ۶ عن انس رضی الله عنه مرفوعا

ژباړه: چې کله خوراک کیښودل سی نو وباسئ خپل پیزار ځکه چې دا زيات ارام ورکونکی دی ستاسو د پښو لپاره. **توضيح**: چې کله کیښودل سي خوراک برابره ده چې هغه طعام يعني ډوډی وی یاخرماوي یاشیدي

یاوریجي وغیره وي نوپیزارایستل اوکښیناستل سنت دی . وجه داده چي پیزار ایستلو سره انسان په آرام کښینستی سي ، که چیري په کرسی ،صوفه وغیره باندي څوک ناست وي نوبیاهم پیزار ایستل اوپه مسنون طریقې سره کښیناستل پکار دی. **ترکیب** :اذا :شرطیه :وضع فعل مجهول .الطعام نائب فاعل .فعل سره دنائب فاعل نه جمله فعلیه خبریه شرط سوه ف:جزائیه .اخلعوا فعل فاعل . نعالکم :مضاف اومضاف الیه مفعول به ، فعل سره دفاعل اومفعول به نه جمله فعلیه انشائیه جزاء .شرط سره دجزاء نه معلل.ف:تعلیلیه ان حرف مشبه بالفعل ه: دده اسم . اروح : اسم تفضیل هو ضمیر ده فاعل .ل :جار. قدامکم مضاف اومضاف الیه مجرور،جارسره دمجرورنه متعلق په اسم تفضیل پوري،اسم تفضیل سره دخپل فاعل اومتعلق نه شبه جمله خبر دان .ان سره داسم اوخبرنه جمله اسمیه خبریه تعلیل،معلل سره د تعلیل نه جمله شرطیه جزائیه تعلیله سوه .

---

(۲۵۹) إِذَا لَمْ تَسْتَحِيْ فَاصْنَعْ مَاشِئْتَ. بخاری.

.تخریج مشکوة صفحه ۴۳۱ س ۸ عن ابن مسعود رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه :چي کله ته حیانه کوی نوکوه چي څه غواړی .**توضیح** : پوره حدیث دغه شان دی چي نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل چي بیشکه دهغه شیانو چي خلکو پیامومندل لومړی خبره دنبوت دکلام نه هغه دادی چي کله شرم اوحیادرکي پاتي نسي نوچي څه غواړی کوه ، مطلب دادی چي تمامو انبیاؤسابقین نه دهرنبي په شریعت کي په دې خبره اتفاق دی چي کله حیاختمه سي نوچي څه غواړی هغه کوه یعني چي کله تالره دګناد کارنه حیانه منع کوي نوبیاچي ستاڅه خوښه وي ګناه کوه دهغه بدله به الله تعالی درکوي ګویا په حدیث کي وعیددی چي دهریوې ګناه نه شرم وکړم اوګناه پریږده،الله تعالی دي وینې ددې جملې دویمه معنی داده چي کله ته کار شروع کړی یاڅه کار کوی نودا وګوره چي په دې کار تاته څه شرم اوحیاشته دی اوکه نسته که چیري شرم اوحیاوي نوفورا یې پریږده اوکه نه وي نوکوه ځکه چي حیادګناه نخښه ده ،دسلیم الطبع انسان لپاره .**فائده** :فاصنع امر دی لهذا انشاء ده خودلته انشاء په معنی دخبر دی په کوم امر کي چي دنامناسبه خبري یاکارحکم وي نوهغه په معنی دخبروي یعني داخبر ورکول کیږي چي دانامناسبه خبره یاکاروکړی نوسزابه درکول کیږي (مرقات ج۹ ص۲۸۹)

فائده:دحیالغوي صرفي تحقیق اودحیاقسمونه (۱) نفساني (۲) ایماني .ددې مثالونه په حدیث نمبر (۷۲) کي تیرسوی دی . **ترکیب** :اذا شرطیه لم تستحی فعل انت فاعل .فعل سره دفاعل نه جمله فعلیه خبریه شرط سو.ف: جزائیه .اصنع فعل انت فاعل .ماموصوله . شئت فعل فاعل . فاعل سره دفاعل نه جمله فعلیه خبریه صله ،موصول سره دصلې نه مفعول به ،فعل سره دفاعل اومفعول به نجمله فعلیه انشائیه جزاء .شرط سره دجزاء نه جمله شرطیه جزائیه سوه .

---

(۲۶۰) إِذَا أَكَلَ أَحَدُكُمْ فَلْيَأْكُلْ بِيَمِيْنِهِ وَإِذَا شَرِبَ فَلْيَشْرَبْ بِيَمِيْنِهِ.

،مسلم،تخریج مشکوة صفحه ۳۶۳ س ۱۴ عن ابی عمر رضی الله عنه مرفوعا.

ژباړه:هرکله چي په تاسو کي څوک خوراک کوي هغه ته پکار دي چي خوراک کوي په ښي لاس سره اوچي کله څښاک کوي نوته پکار دي چي په ښي لاس سره څښاک وکړي . **توضیح** : که چیري

په راسته لاس کي څه تکليف نه وي نوهميشه په ښي لاس خوراک پکار دی اوښي لاندي څښاک پکار دی داسي نه دی پکار چي دخورڅښاک شروع په ښي لاس وکړي او نورباقي يې په ګس لاس وخوړل اووڅښل ځکه چي ښی لاس دخوراک ،څښاک لپاره دی اود ښو شيانو نيولو لپاره دی چپه لاس داستنجاء لپاره دی ،البته دښي لاس امداد لپاره ګس لاس په خوراک څښاک کي هم مددګار جوړولی سي اواستنجاء لپاره اصل ګس لاس دی خو راسته لاس مددګار جوړولی سي .

ترکيب:ان شرطيه : اذا :شرطيه . اکل فعل : احدکم :مضاف اومضاف اليه فاعل . فعل سره دفاعل نه جمله فعليه خبريه شرط سو.ف : جزائيه .ليأکل فعل هوفاعل .ب جار يمينه مضاف اومضاف اليه .مضاف سره دمضاف اليه نه مجرور ،جار سره دمجرورنه متعلق سو په فعل پوري ،فعل سره دفاعل اومتعلق نه جمله فعليه انشائيه جزاء دشرط سوه .شرط سره دجزاء نه معطوف عليه ،واو عاطفه شرب فعل هوفاعل .فعل سره دفاعل نه جمله فعليه خبريه شرط سو.ف: جزائيه . ليشرب :فعل هوفاعل .ب: يمينه مضاف اومضاف اليه ،مضاف سره دمضاف اليه نه مجرور ، جار سره دمجرور نه متعلق سو په فعل پوري ،فعل سره دفاعل اومتعلق نه جمله فعليه انشائيه جزاء سوه ،شرط سره دجزاء نه معطوف .معطوف عليه سره دمعطوف جمله شرطيه جزائيه معطوفه سوه .

---

(۲۶۱)إِذَا دَخَلَ أَحَدُكُمُ الْمَسْجِدَ فَلْيَرْكَعْ رَكْعَتَيْنِ قَبْلَ أَنْ يَجْلِسَ .

رواه بخاري ومسلم : تخريخ : مشکوة صفحه ۶۸ س ۲۳ عن ابی قتاده رضی الله عنه مرفوعا.

ژباړه : کله چي په تاسو کي څوک داخل سي مسجد ته نوهغه لره پکار دي چي دوه رکعته وکړي دکښينستلو وړاندي. **توضيح** :هرسړي لپاره داکارمستحب دی چي کله هغه ديو مسجد په حدود کي داخل سي نود کښيناستلو څخه مخکي دوه رکعته نفل لمونځ وکړي ،د سهاريه وخت کي دوه رکعت سنت کول کافی دی . ځکه چي دسهاردختلو څخه وروسته دلمر ختلو پوري نفل کول مکروه دی . اوکه دمازديګر څخه وروسته مسجد ته داخل سونوبيابه هم نفل نه کوي غرض دادی چي داوقات مکروه نه علاوه هروخت چي مسجد ته داخل سي نودوه رکعته نفل يوائي مستحب دی نه فرض دی اونه واجب يعني که چيري دکښيناستلو څخه خکي يې وکړل نوډير ثواب دی ، که چيري دکښيناستلو څخه وروسته بيا پاڅيدلو اودايې وکړل نو لږ ثواب به ورکول کيږي ،که چيري بالکل يې ونه کړل نوهم هيڅ ګناه نسته ،خويومستحب کار صرف په دې خيال چي دامستحب دی پرېښودل نه دي ځکه چي نيکي که هرڅومره وړه وي وړه يې مه ګڼه ،الله تعالی خوښيږي لپاره بهانه ګوري . **ترکيب**:اذا :شرطيه . دخل :فعل .احدکم : مضاف اومضاف اليه فاعل . المسجد : مفعول به ،فعل سره دفاعل اومفعول به نه جمله فعليه خبريه شرط سو . ف:جزائيه : ليرکع :فعل .هوفاعل . رکعتين :مفعول به .قبل :مضاف ان مصدريه .يجلس :فعل هوفاعل .فعل سره دفاعل

نه جمله فعليه خبريه په تاويل د مصدر سره مفعول فيه سو ،فعل سره د فاعل او مفعول به او مفعول فيه نه جمله فعليه انشائيه جزاء سوه .شرط سره د جزاء نه جمله شرطيه جزائيه سوه .

(۲۶۲)إِذَا انْتَعَلَ أَحَدُكُمْ فَلْيَبْدَأْ بِالْيَمِينِ وَإِذَا نَزَعَ فَلْيَبْدَأْ بِالشِّمَالِ لِتَكُنِ الْيُمْنَى أَوَّلَهُمَا تُنْعَلُ وَآخِرَهُمَا تُنْزَعُ. .بخاري ومسلم،تخريج مشكوة صفحه ۳۷۹ س ۲۷ عن ابی هريرة رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه : چې کله تاسو کې يو کس چمپل په پښو کوي نو هغه ته پکار دی چې شروع وکړي د ښې پښې نه اوچې کله يې اوباسی نو پکار دی چې شروع وکړي د چپه پښې نه . د دې لپاره چې ښي پښه د دې دواړو پښونه (اولنی شئ کوم ته چې اغوستولی سي اودغه دواړو پښو) نه دويمه شی چې ويستلی سي. **توضيح** : په پښو کولو کې سنت طريقه داده چې اول راسته پښه چمپل کې واچول سي اوبيا چپه پښه اوپه ويستلو کې د دې په خلاف کول پکار دی .يعنې اول چپه پښه د چمپل څخه ايستل پکار دی بيادراسته پښې ،چې چمپل په پښو کولو کې او ايستلو دواړو صورتونو کې د ښې پښې خيال وساتل سي ،ځکه چې د پښو کولو په وخت به شروع د ښې پښې نه وي اود ايستلو په وخت کې به هم په ښي پښه اختتام وسي . **فائده** : مسجد ته د تلو په وخت دی اول چپه پښه د چمپل د پيزار نه راوباسي اوهم په دغه پيزار دي کيږدی چې ښي پښه وروسته د پيزار نه ووځي اومسجد ته مخکې ننوځي اود مسجد نه د وتلو په وخت دی اوچپه پښه د مسجد نه وباسي په چمپل کې کيښيږدي چې ښه پښه د مسجد نه وروسته ووزی او اول پيزار ته ننوځي. **ترکيب**:اذا : شرطيه .انتعل :فعل :احدكم :مضاف اومضاف اليه فاعل ،فعل سره د فاعل نه جمله فعليه خبريه شرط . ف: جزائيه .ليبداء فعل هو فاعل .باليمنى جار مجرور متعلق په فعل پوري ،فعل سره د فاعل اومتعلق نه جمله فعليه انشائيه جزاء سوه .شرط سره د جزاء نه معطوف عليه . واو :عاطفه .اذا : شرطيه .نزع :فعل هو فاعل .فعل سره د فاعل نه جمله فعليه خبريه شرط سو ،ف:جزائيه :ليبداء فعل هو فاعل .بالشمال جار مجرور متعلق په فعل پوري ، فعل سره د فاعل اومتعلق نه جمله فعليه انشائيه جزاء .شرط سره د جزاء نه معلل .ل :تعليليه .تكن :فعل .ناقص اليمنى .دده اسم اولهما مضاف اومضاف اليه ذوالحال . تنعل فعل مجهول .هى :نائب فاعل .فعل سره د نائب فاعل نه جمله فعليه خبريه حال .ذوالحال سره د حال نه معطوف عليه ،واو :عاطفه .اخرهما :مضاف اومضاف اليه ذوالحال . تنزع فعل مجهول هى نائب فاعل ،فعل سره د نائب فاعل نه جمله فعليه خبريه حال .ذوالحال سره د حال نه معطوف ،معطوف عليه سره د معطوف نه خبر د فعل ناقص . تكن سره د خپل اسم اوخبر نه جمله فعليه انشائيه تعليل .معلل سره د تعليل نه جمله شرطيه جزائيه تعليله سوه

(۲۶۳)إِذَا طَالَ أَحَدُكُمُ الْغَيْبَةَ فَلَا يَطْرُقْ أَهْلَهُ لَيْلًا.

.بخاري ومسلم،تخريج: مشكوة صفحه ۳۳۹ س ۷ عن جابر رضی الله عنه مرفوعا.

ژباړه : کله چې اوږد کړي يو کس له تاسو څخه غائب والی نو هغه د ې راځي خپل کور ته په شپه کې. **توضيح** : کله چې سفر اوږد سي نو بهتره داده چې د شپې کور ته راتلل نه د ي پکار . اوله وجه داده چې کور والا ته علم نسته د ی

هغوی به په آرام سره اوده وي نو اوس دده په راتلو سره به دهغوی خوب خراب سي . دویمه وجه داده چې دشپې به ښځه کدود حالت کي ،ویښته به خواره واره وي اوعجیبه شکل ب هی ې که چیري دورځي راسي نوهغه به تیاره وي ستا استقبال به وکړوي ،داخبره ددې حدیث څخه وروسته په مشکوة کي دبل حدیث نه معلومیږي چې دجابر رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې کله تاسو دشپې کورته راځی نو ترهغه وخته پورې مه داخلیږی چې ترڅو پورې ښځه تیاري ونه کړي .ویښتان ږمنځ وغیره ونه کړي . (انتهی) ځکه چې یو خوپه دې کي تکلیف ورکول دی ،دویمه داچې دښځې نهدنفرت امکان دی. **ترکیب**:اذا شرطیه .اطال فعل.احد کم مضاف اومضاف الیه فاعل .الغیبة مفعول به ،تول سره یوځای جمله فعلیه خبریه شرط سو . ف:جزائیه .لایطرق فعل اهله مضاف اومضاف الیه مفعول به .لیلا :مفعول فیه ، فعل سره دفاعل مفعول به اومفعول فیه جمله فعلیه انشائیه جزاء شرط سره دجزاء جمله فعلیه شرطیه جزائیه سوه .

(۲۶۴) إِذَا دَخَلْتُمْ عَلَى الْمَرِيضِ فَنَفِّسُوا لَهُ فِي أَجَلِهِ فَإِنَّ ذَلِكَ لَا يَرُدُّ شَيْئًا وَيُطَيِّبُ نَفْسَهُ

(ترمذی. تخریج :مشکوة صفحه ۱۳۷ س ۱۱ عن ابی سعید رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه: کله چې داخل سی په مریض باندې نوتسلي ورکوی هغه ته دهغه دمرګ متعلق ،بیشکه داواپس کول نه کوي دهیڅ شئ اوخوشحالوی دهغه زړه. **توضیح** :چې کله تاسو یو ناروغه ته ورسی نوهغه اګرچې په مرض الموت کي وي نوتاسو هغه ته تسلي ورکړی چې زر به جوړ سي دامه ورته وایاست چې ستا جوړیدل مشکل دی ،بلکه هغه ته ښه تسلي ورکړی چې ناروغي ځي راځي ته هیڅ فکر مه کوه ان شاء الله چې زر به جوړ سي . داتسلي دی لپاره نه وي چې ته مرګ وابس کوي ،بلکه صرف دبیمار زړه خوشحالول مقصودی دی . **ترکیب**:اذا :شرطیه .دخلتم : فعل فاعل .علی المریض :جار اومجرور متعلق په فعل پورې ،فعل سره دفاعل اومتعلق نه جمله فعلیه خبریه شرط سو.ف :جزائیه .نفسوا :فعل امر سره فاعل نه له جار مجرورمتعلق اول په فعل پورې .فی جار .اجله مضاف اومضاف الیه مجرور ،جارسره دمجرور نه متعلق ثانی دفعل لپاره ،فعل سره دفاعل اومتعلقین نه جمله فعلیه انشائیه جزاء ،شرط سره دجزاء نه معلل ،ف: تعلیلیه .ان حرف مشبه بالفعل .ذلک دده اسم .لایرد فعل هوفاعل .شیئا مفعول به .فعل سره دفاعل اومفعول به نه جمله فعلیه خبریه مطعوف علیه سوه .واو عاطفه . یطیب :فعل هوفاعل . ب:جارنفسه :مضاف اومضاف الیه مجرور،جار سره دمجرور متعلق په فعل بورې ،فعل سره دفاعل اومتعلق نه جمله فعلیه خبریه معطوف سوه ،معطوف علیه سره دمعطوف نه خبر دان .ان سره داسم اوخبر نه جمله اسمیه خبریه تعلیل ،معلل سره د تعلیل نه جمله شرطیه جزائیه تعلیله سوه .

(ذکر بعض المغیبات)

التی اخبر النبی بها وظهرت بعد وفاته صلوات الله وسلامه علیه .

ژباړه :دغيب (دبعضو خبرو) څه ذکر .هغه غيب چې دهغه خبرور کړی دی نبي کريم ﷺ اوښکاره سو هغه خبردنبي کريم ﷺ دوفات څخه وروسته ،دالله ﷻ رحمت اوسلامتي دي نازلشي په هغوی باندي .

وَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ وَهُوَ سَيِّدُ الصَّادِقِيْنَ لَا يَزَالُ مِنْ اُمَّتِيْ اُمَّةٌ قَائِمَةٌ بِاَمْرِ اللهِ لَا يَضُرُّهُمْ مَنْ خَذَلَهُمْ وَلَا مَنْ خَالَفَهُمْ حَتّٰى يَأْتِيَ اَمْرُ اللهِ وَهُمْ اَعْلٰى ذٰلِكَ.

.بخاري ومسلم، تخريج :مشكوة صفحه ۵۸۳ س ۱۹ عن معاويه رضي الله عنه مرفوعا)

ژباړه اومختصر مطلب : نبي کريم ﷺ وفرمايل : چې دهغه دربشتونو سردار دی ،چې همېشه به وي زما په امت کې يوجماعت ولاړ دالله تعالی په حکم باندي ،هغوی ته به نقصان نسي رسولی هغه سړی چې د دوی امداد نه کوي اونه هغه سړی چې د دوی مخالفت کوي ،تردې چې راسي حکم دالله تعالی اوهغه به هم په دغه حالت باندي وي يعني دقيامته پوري به زما دامت نه يوجماعت ضرور په حق باندي وي څوک مخالفت يارسوا کونکی به هغوی ته نقصان نه سي رسولی .

وَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ يَكُوْنُ فِيْ آخِرِ الزَّمَانِ دَجَّالُوْنَ كَذَّابُوْنَ يَأْتُوْنَكُمْ مِنَ الْاَحَادِيْثِ بِمَا لَمْ تَسْمَعُوْا اَنْتُمْ وَلَا آبَاؤُكُمْ فَاِيَّاكُمْ وَاِيَّاهُمْ لَا يُضِلُّوْنَكُمْ وَلَا يَفْتِنُوْنَكُمْ

رواه مسلم،تخريج :مشكوة صفحه ۲۸ س ۲۳ عن ابی هريرة رضي الله عنه مرفوعا.

ژباړه اومختصر مطلب :نبي کريم ﷺ وفرمايل : چې وی به په اخيري زمانه کې ډير درواغجن دجالان ،راوړی به تاسو ته هغه احاديث چې هغه به نه تاسو اوربدلی وي اونه ساتو پلار ،نيکه، تاسو خپل ځانونه دهغوی څخه کوری چې هغوی تاسو ګمراه نه کړي اوهغوی تاسو په فتنه کې وانه چوي ،دځان نه داحاديثو جوړولو مسئله مخکې په تفصيل سره په حديث نمبر ۲۲۱ کې سوی دی .دحقيقي دجال نوم يعقوب دی .(موضع القرآن)

وَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ خَيْرُ النَّاسِ قَرْنِيْ ثُمَّ الَّذِيْنَ يَلُوْنَهُمْ ثُمَّ الَّذِيْنَ يَلُوْنَهُمْ ثُمَّ يَجِيْءُ قَوْمٌ تَسْبِقُ شَهَادَةُ اَحَدِهِمْ يَمِيْنَهُ وَيَمِيْنُهُ شَهَادَتَهُ.

رواه بخاري ومسلم، تخريج مشكوة صحفه ۳۲۷ عن ابن مسعود رضي الله عنه مرفوعا)

ژباړه اومختصر مطلب: نبي کريم ﷺ وفرمايل چې په خلکو کې د ټولو څخه بهترين زما دزمانې خلک دی بيا هغه خلک چې دوی ته نژدی وي ،(صحابه او تابعين) بيا هغه خلک چې دوی ته نژدی وي (تبع تابعين) بيا به يوداسي قوم راسي چې په هغوی کې به ديوسړي ګواهي مخکې کيږي دهغه قسم نه اوکله به دهغه قسم وړاندې کيږي .دهغه ګواهي نه يعني قسمونه اوګواهي به عام سي ،هرسړی به دخپل مطلب په خاطر درواغ قسمونه خوري اوکله به د درواغو ګواهي ورکوي .

وَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ لَيَأْتِيَنَّ عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ لَا يَبْقَى أَحَدٌ إِلَّا أَكَلَ الرِّبَا فَإِنْ لَمْ يَأْكُلْهُ أَصَابَهُ مِنْ بُخَارِهِ. احمد وابوداود بتخریج مشکوۃ صفحہ ۲۴۵ س ۱۲ عن ابی ہریرۃ رضی اللہ عنہ مرفوعا

ژباړه او مختصر مطلب : نبي کريم ﷺ وفرمايل چې خامخا به راسي په خلکو باندي يوه زمانه چې په هغه کي به هيڅ يوسړی پاتې نسي مګر سود خوړونکی ، که چيرې هغه سود ونه خوري نو دهغه اثر به ورته ضرور رسيږي. **په سود باندی مختصر نظر** : يو دفطرت سليمه والا انسان داسي بې رحمي نه برداشت کوي چې يو غريب او مجبور انسان کوم دولتمند ته خپل حاجت لپاره ورسي او هغه زکوة ورکول خو پريږده بلکه دا اراده وکړي چې هغه ته څه قرض ورکړي او په هغه باندي سود اضافه واخلم او دهغه په جائيداد وغيره باندي به ظلم سره قبضه وکړم . ددې وجې نه دسود عام رواج دانسان دفائدې مخالف دی ، همدغه وجه چې په تورات کي هم دسود ممانعت موجود دی ، دسود په باره کي لومړی قانوني حکم دغزوه احد په موقعه سه ۳ هـ کي نازل سو او دسود دممانعت اخري قطعي حکم چې اې ايمان والو : دخدای جل جلالہ څخه ويريږي او باقي سود پريږدي ، که چيرې داسي نه کوي نو دالله او دهغه درسول دطرفه اعلان جنګ دی . الخ . داحکم دفتح مکې څخه پس نازل سو . ددې حکم نه پس داسلامي مملکت په دائره حدود کي سودي کاروبار يو فوجداري جرم وګرځيده ، په دغه شان سودي کاروبار کوونکو قبيلو له خبرداری ورکړی سو که چيرې دا کاروبار نه پريږدی نو ستاسو خلاف به فوجي کاروائی وکړل سي ، هم ددې اخري حکم په وجه باندي ابن عباس رضی اللہ عنہ او بعضو نورو اهل علمونه منقول دی چې په دارالاسلام کي سود خوړونکی دي په توبې مجبور کړی سي که چيرې ونه منې نو قتل دي کړل سي . (جصاص ج ۱ ص ۵۵۹ کليد بهشت صفحه ۳۹۰)

دقرآن او حديث په رڼا کي دسود مذمت

قرآن او حديث چې د سود خورنکو دکومو عذابونو دهمکی ورکړی ده دچاچې ستر ګي سته هغوی دا وګوري دچاچې غوږونه سته هغوی د واوري اودچاچې زړونه سته هغوی دي سوچ وکړي هغوی ته ښکاره ويل سوی دی چې (۱) : نه په نورو باندي ظلم کوئ نه په خپل ځان ظلم کوي . (۲) : په سود نه پرېښودلو باندي الله تعالی اورسول ﷺ سره جنګ وکړی (سورة البقرة آيت ۲۷۹) (۳) : حضرت ابوهريرة رضی اللہ عنہ وايي چې رسول الله ﷺ فرمايلی دی چې په هغه کي دتولو څخه وړه ګناه خپلي مورسره دزنا کولو برابر ده . (۴) : عبدالله بن حنظله صحابي وايي چې رسول الله ﷺ فرمايلی دی چې دسود يو درهم دشپږو ديرشو زنا ګانو څخه بدتر دی (مسند احمد دارقطنی بيهقی) (۵) : حضرت ابوهريرة رضی اللہ عنہ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل چې دمعراج په شبه زه يو داسي قوم ته ولاړم چې دهغوی نسونه دومره غټ ؤ لکه ګوتې په هغه کي لوی لوی ماران ؤ چې دبهر څخه صفا بښکار بدل ماوويل چې اې جبرئيله عليہ السلام دا کوم خلک دی ؟ هغوی راته وويل چې دا خلک سود خواره دی (مسند احمد . مشکوة باب الربوا فصل ثالث)

وَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ إِنَّ الدِّيْنَ بَدَءَ غَرِيْبًا وَسَيَعُوْدُ كَمَا بَدَاءَ فَطُوْبٰى لِلْغُرَبَاءِ وَهُمُ الَّذِيْنَ يُصْلِحُوْنَ مَا أَفْسَدَ النَّاسُ مِنْ بَعْدِيْ مِنْ سُنَّتِيْ

ترمذی، تخریج مشکوة صفحه ۳۰ س ۱۳ عن عمروبن عوف رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه اومختصر مطلب : اونبي کريم صلی الله علیه وآله وسلم وفرمايل چي بيشکه دين شروع سوی ؤ.اجنبی (ناآشنا) اونږدی ده چي واپس به بيا هغه شان سي څنګه چي شروع سوی ؤ پس خوشخبري ده .دنا اشنا خلګو لپاره چي اصلاح کوي دهغه شئ چي خلګو خراب کړی دی زما څخه وروسته زما دسنت نه يعني په شروع کي خلګو دين غريب اوناآشنا ګڼلو اوقيامت ته نږدی په دين بيا هغه زوړ حالت ته واپس راسي . هغه خلګ به کامياب وي چي دبدعت وغيره اصلاح کوي اودهغوی لپاره خوشخبري وي.

(۶) وَقَالَ النَّبِيُّ صلی الله علیه وآله وسلم يَحْمِلُ هَذَا الْعِلْمَ مِنْ كُلِّ خَلَفٍ عُدُولُهُ يَنْفُونَ عَنْهُ تَحْرِيفَ الْغَالِينَ وَانْتِحَالَ الْمُبْطِلِينَ وَتَأْوِيلَ الْجَاهِلِينَ (رواه البهقی فی کتاب المدخل)

ژباړه اومختصر مطلب :اونبي کريم صلی الله علیه وآله وسلم وفرمايل چي اوچت به کړي داعلم وروسته راتلونکی کي عادلان خلګ اولري کوي به ددې څخه دتجاوز کونکو خلګو بدلون اودباطلو خلګو درواغ اود جاهلانو تاويل .يعني دصحيح پوهه لرونکی به هم راسي چي دبدعتيانو خلګو دحدنه تجاوز کول او اوهره خبره خپل ځان طرف ته دمنسوب کونکو اودخپل طرفه دقرآن اوحديث غلط تاويلونه کونکی به لري کوي چي دهغه په وجه به اصلي علم اواصلي دين ترقيامته پوري باقي پاتي وي.

(۷) وَقَالَ النَّبِيُّ صلی الله علیه وآله وسلم وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَا تَذْهَبُ الدُّنْيَا حَتَّى يَأْتِيَ عَلَى النَّاسِ يَوْمٌ لَا يَدْرِي الْقَاتِلُ فِيمَ قَتَلَ وَلَا الْمَقْتُولُ فِيمَ قُتِلَ فَقِيلَ كَيْفَ يَكُونُ ذَلِكَ قَالَ الْهَرْجُ. الْقَاتِلُ وَالْمَقْتُولُ فِي النَّارِ.

مسلم، تخريج مشکوة صفحه ۴۲ س ۲۲ عن ابی هريرة رضی الله عنه مرفوعا.

ژباړه اومختصر مطلب : اونبي کريم صلی الله علیه وآله وسلم وفرمايل قسم په هغه ذات دی دچا په لاس کي زما روح دی چي دنيا به ترهغي نه ختميږي چي په خلګوباندي باندي راسي يوه ورځ چي پته به لګي قاتل ته چي په وجه باندي ده قتل وکړو اونه مقتول ته چي په څه باره کي دی قتل کړی سو (صحابه کرامو عرض وکړو) چي دابه څنګه وي نو وی فرمايل چي هغه فتنه ده قاتل اومقتول به جهنم ته ځي مقتول به ځکه جهنم ته ځي چي دا آرزو لرله چي زه دي مخکي قتل کړم.

(۸) وَقَالَ النَّبِيُّ صلی الله علیه وآله وسلم يَتَقَارَبُ الزَّمَانُ وَيُقْبَضُ الْعِلْمُ وَتَظْهَرُ الْفِتَنُ وَيُلْقَى الشُّحُّ وَيَكْثُرُ الْهَرْجُ. قَالُوا وَمَا الْهَرْجُ قَالَ الْقَتْلُ.

بخاري ومسلم، تخريج مشکوة صفحه ۴۲۶ س ۲۱ عن ابی هريرة رضی الله عنه مرفوعا.

ژباړه اومختصر مطلب : اونبي کريم صلی الله علیه وآله وسلم وفرمايل چي يوزمانه به راشي اوعلم به پورته سي اوفتنی به ښکاره سي اوبخل به واچولی سي اوهرج به زيات سي ،صحابه ؤ پوښتنه وکړو چي هرج څه شی دی؟ وی

فرمایل چی قتل دی. یعني هرج په اصل کي فتنې ته ویل کیږي چونکه فتنه به د قتل سبب وي ، ددې وجي نه قتل ته هرج وویل سو. زمانه به نژدی سي ، ددې مطلب په ترمذي کي دانس رضی الله عنه مرفوعا روایت دی چې کال به د میاشت او میاشت به د هفتی په شان او هفته به د ورځې په شان او ورځ د ګینټې په شان او ورځه د ګینټه داور د پڅرې په شان . مطلب دادی زمانه به زر تیریږي پته به نه لګي د وخت قدر به نه لګیږي .

(۹) وَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَا تَذْهَبُ الدُّنْيَا حَتَّى يَمُرَّ الرَّجُلُ عَلَى الْقَبْرِ فَيَتَمَرَّغُ عَلَيْهِ وَيَقُولُ يَا لَيْتَنِي كُنْتُ مَكَانَ صَاحِبِ هَذَا الْقَبْرِ وَلَيْسَ بِهِ الدِّينُ إِلَّا الْبَلَاءُ.

رواه مسلم. تخریج مشکوة صفحه ۴۶۹ س ۲۴ عن ابی هریرة رضی الله عنه مرفوعا

ژباړه او مختصر طلب: اونبي کریم ﷺ وفرمایل چې قسم دی په هغه ذات د چا په لاس کي چې زما روح دی چې دنیا به ختمه نه سي تر هغه وخته پورې چې یو سړی به په قبر باندې تیریږی نو غورزیږي به په هغه باندې اووایي به چې : اې کاش چې زه د دې قبر والا په ځای وای ، دا به د دین په وجه نه وایي بلکه د مصیبت په وجه به وایي یعني پریشانی او مصبتونه به ډیروي قیامت ته نژدی .

(۱۰) وَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ يُوشِكُ أَنْ يَأْتِيَ عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ لَا يَبْقَى مِنَ الْإِسْلَامِ إِلَّا اسْمُهُ، وَلَا يَبْقَى مِنَ الْقُرْآنِ إِلَّا رَسْمُهُ، مَسَاجِدُهُمْ عَامِرَةٌ وَهِيَ خَرَابٌ مِنَ الْهُدَى، عُلَمَاؤُهُمْ شَرُّ مَنْ تَحْتَ أَدِيمِ السَّمَاءِ مِنْ عِنْدِهِمْ تَخْرُجُ الْفِتْنَةُ وَفِيهِمْ تَعُودُ.

بیهقی، تخریج : مشکوة صفحه ۳۸ س ۴ عن علی رضی الله عنه مرفوعا.

ژباړه او مختصر مطلب: اونبي کریم ﷺ وفرمایل نژدی ده چې به راسي په خلکو باندې یو زمانه پاتي به نه سي د اسلام نه مګر د هغه نوم او پاتي به نه سي د قرآن څخه مګر د هغه نقش ، د دغه خلکو مسجدونه به آباد وي او هغه به ویران (خراب) وي ، د هدایت څخه . د هغوی علماء به د ډیرنا کاره وي د آسمان د څرمن دلاندي . د هغوی نه به فتنه راوځي او هم په هغوی کي به بیرته واپس کیږي .

(۱۱) وَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ يَكُونُ فِي آخِرِ الزَّمَانِ أَقْوَامٌ إِخْوَانُ الْعَلَانِيَةِ أَعْدَاءُ السَّرِيرَةِ. فَقِيلَ: يَا رَسُولَ اللهِ كَيْفَ يَكُونُ ذَلِكَ؟ قَالَ: بِرَغْبَةِ بَعْضِهِمْ إِلَى بَعْضٍ، وَبِرَهْبَةِ بَعْضِهِمْ مِنْ بَعْضٍ. رواه احمد. تخریج مشکوة صفحه ۴۵۵ س ۱۹ عن معاذ بن جبل رضی الله عنه مرفوعا.

ژباړه او مختصر مطلب: اونبي کریم ﷺ وفرمایل : چې په اخره زمانه کي به څو قومونه وي چې په ښکاره به سره وروڼه وي او پټ به دښمنان وي ، پوښتنه وکړل سوه دا به څنګه وي . دوی ﷺ فرمایل :

چې دا به دبعضو ډلو دبعضو نه دطمع په وجه وي او دبعضو به دبعضو څخه دويرې په وجه وي يعني مخامخ به دوستان وي او پشې شا به دوښمنان وي تاسو دهغوی نه ځان وساتی.

(۱۳) وَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ يَذْهَبُ الصَّالِحُونَ الْأَوَّلُ فَالْأَوَّلُ وَيَبْقَى حُفَالَةٌ كَحُفَالَةِ الشَّعِيرِ أَوِ التَّمْرِ لَا يُبَالِيهِمُ اللَّهُ بَالَةً. بخاری، تخریج مشکوة صفحه ۴۵۸ س ۲۶ عن مرواس الاسلمی رضی الله عنه من اصحاب الشجرة مرفوعا.

ژباړه او مختصر مطلب: اونبي کريم ﷺ وفرمايل چې نيکان خلک به ولاړ سي يو دبل څخه وروسته اوباقي به پاتي سي بوس څنګه چې دا روبشو او کجرو بوس وي. الله تعالی به دهغوی پروا نه کوي، پروا کولو سره. په يو روايت کي حثالة دی، دحفالة معنی يوه ده، يعني ديوشئ ردي اوبيکاره کچره يعني قيامت ته نژدی به ردي پاتي سي صرف نوم به پاتي وي دکاريه نه وي مطلب دادی چې تاسو نيکان جوړسی په ردي کي مه داخليږي.

(۱۴) وَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى يَكُونَ أَسْعَدَ النَّاسِ بِالدُّنْيَا لُكَعُ بْنُ لُكَعَ.

. تخریج مشکوة صفحه ۴۵۹ س ۵ عن حذیفه رضی الله عنه مرفوعا.

ژباړه او مختصر مطلب: اونبي کريم ﷺ وفرمايل: چې قيامت به نه قائميږي ترهغه وخت پورې چې ددنيا په اعتبار سره په ټولو خلکو کي دټولو څخه زيات نيک به کمينه (رزيل) دکمينه زوی وي يعني يوسړی به هم الله ويونکی پاتي نسي ټول به رزيلان درزيلانو زامن پاتي سي، هله به قيامت راځي.

(۱۴) وَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ يَأْتِي عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ الصَّابِرُ فِيهِمْ عَلَى دِينِهِ كَالْقَابِضِ عَلَى الْجَمْرِ

. ترمذی، تخریج مشکوة صفحه ۴۰۹ س ۱۳ عن انس رضی الله عنه مرفوعا.

ژباړه او مختصر مطلب: اونبي کريم ﷺ وفرمايل: چې رابه سي په خلکو باندي يوه زمانه صبر کونکی به په دغه خلکو کي په خپل دين باندي داسي وي لکه په موټي کي داور سکروټي نيونکی يعني په دين باندي عمل کول به قيامت ته نژدی ډير زيات مشکل سي، دا دهغه وخت ارشاد دی چې نن صبا ډير واضح سوی دی.

(۱۵) وَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ يُوشِكُ الْأُمَمُ أَنْ تَدَاعَى عَلَيْكُمْ كَمَا تَدَاعَى الْأَكَلَةُ إِلَى قَصْعَتِهَا فَقَالَ قَائِلٌ وَمِنْ قِلَّةٍ نَحْنُ يَوْمَئِذٍ قَالَ بَلْ أَنْتُمْ يَوْمَئِذٍ كَثِيرٌ وَلَكِنَّكُمْ غُثَاءٌ كَغُثَاءِ السَّيْلِ وَلَيَنْزِعَنَّ اللَّهُ مِنْ صُدُورِ عَدُوِّكُمُ الْمَهَابَةَ مِنْكُمْ وَلَيَقْذِفَنَّ اللَّهُ فِي قُلُوبِكُمُ الْوَهْنَ». فَقَالَ قَائِلٌ يَا رَسُولَ اللَّهِ وَمَا الْوَهْنُ قَالَ حُبُّ الدُّنْيَا وَكَرَاهِيَةُ الْمَوْتِ .رواه ابوداؤد. تخریج: مشکوة صفحه ۴۵۹ س ۱۹ عن ثوبان رضی الله عنه مرفوعا.

ژباړه او مختصر مطلب: اونبي کريم ﷺ وفرمايل: چې نژدی ده چې امتونه به په تاسو باندي (ستاسو خلاف) يوبل ته دعوت ورکوي لکه چې څنګه دعوت ورکوي سټه خپلي کاسې ته، نوويونکي

وويل چي زمونږ دکمی په وجه به دغه شان کيږي. نبي کريم ﷺ وفرمايل چي نه بلکه تاسو به په دغه ورځ ډير ياست ليکن زګ به ياست. لکه دبهيدونکو ابوزګ. اوخامخا وبه باسي الله تعالی ستاسو ددښمن دسينې څخه ستاسو ويره او وابه چوي ستاسو زړونو کي کمزوری، ويونکی وويل چي وهن چي ته وايي ؟ يارسول الله ! ﷺ هغوی ﷺ وفرمايل : چي کله ددنيا محبت شروع سي اومرګ ناخوښه سي نوبياهغه څنګه جهاد کولی ، لهذا ددا سي خلګو رعب به هم ختميږي اوپه زړه کي بزدلي هم راځي.

(۱۶) وَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى يَخْرُجَ قَوْمٌ يَأْكُلُونَ بِأَلْسِنَتِهِمْ كَمَا تَأْكُلُ الْبَقَرُ بِأَلْسِنَتِهَا (رواه احمد)

ژباړه اومختصر مطلب: اونبي کريم ﷺ وفرمايل چي قيامت به نه قائميږي ترهغه چي يو قوم به راووزي چي په خپلو ژبو سره به داسي خوراک کوي لکه چي څنګه غوا خوراک کوي پخپه ژبه باندي يعني هغه قوم به دحلال اوحرام فرق نه کوي اوپه خپلو ژبو سره به دخلګو تعريف کوي مال به حاصلوی.

(۱۷) وَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ يَأْتِي عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ لَا يُبَالِي الْمَرْءُ مَا أَخَذَ مِنْهُ أَمِنَ الْحَلَالِ أَمْ مِنَ الْحَرَامِ

رواه البخاری. تخريج مشکوة صفحه ۲۴۱ س ۱۴ عن ابی هريرة رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه اومختصر مطلب: نبي کريم ﷺ فرمايلی دی چي رابه سي په خلګو باندي يوه زمانه چي پروا به نه کوي انسان چي کوم مال يې واخيستلو آياد حلال څخه يې واخيستلو اوکه د حرام څخه.

(۱۸) وَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ إِنَّ مِنْ أَشْرَاطِ السَّاعَةِ أَنْ يَتَدَافَعَ أَهْلُ الْمَسْجِدِ لَا يَجِدُونَ إِمَامًا يُصَلِّي بِهِمْ.

(رواه ابوداود تخريج : مشکوة صفحه ۱۰۰ س ۱۶ عن سلامة بنت الحر مرفوعا)

ژباړه اومختصر مطلب: نبي کريم ﷺ وفرمايل چي بيشکه دقيامت دنښانو څخه داده چي مسجد والا به يوبل لري کوي هغوی به نه بيا مومي څوک چي په لمونځ ورته وکړي يعني هيڅوک نيک انسان به نه ملاويږي چي دوی ته امامت ورکړي.

(۱۹) وَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ إِنَّ مِنْ أَشَدِّ أُمَّتِي لِي حُبًّا نَاسٌ يَكُونُونَ بَعْدِي يَوَدُّ أَحَدُهُمْ لَوْ رَآنِي بِأَهْلِهِ وَمَالِهِ (تخريج مشکوة صفحه ۵۸۳ س ۱۸ عن ابی هريرة رضی الله عنه مرفوعا)

ژباړه اومختصر مطلب: نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چي بيشکه زمادامت نه زماسره ډير محبت کونکی به هغه خلګ وي چي زماڅخه وروسته به وي په هغوی کي به يو کس غواړي چي کاش ما ووينې دخپل اهل اوعيال اومال په بدله کي يعني قيامت ته نژدی به هم ماسره محبت کونکی راځي اوهغوبه داتمنا اوارزو کوي چي کاش زمونږ اهل اوعيال اومال قربان سي اومونږ ته دنبي کريم ﷺ زيارت نصيب سي.

(۲۰) وَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ إِنَّهُ سَيَكُوْنُ فِيْ آخِرِ هٰذِهِ الْأُمَّةِ قَوْمٌ لَهُمْ مِثْلُ أَجْرِ أَوَّلِهِمْ يَأْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَيُقَاتِلُوْنَ أَهْلَ الْفِتَنِ.

(رواه البيهقي في دلائل النبوة. تخريج مشكوة صفحه: ۵۸۴ س ۴ عن عبدالرحمن ابن العلاء الحضرمي مرفوعا)

ژباړه اومختصر طلب: اونبي کريم ﷺ وفرمايل: چې بيشکه نژدې ده چې وي به ددې امت په اخر کې يو قوم چې دهغوی لپاره به ددې امت دمخکنيو پشان اجروي هغه به دنيکۍ امر کوي اود ګناه څخه به منع کوي اودفتنې والو سره به جګړه کوي يعني داد قيامت دښو ښونه يو نښه ده چې په اخر کې به دفتنې په وجه دنيکۍ ثواب دمخکنو پشان ملاويږي هغه قوم به دنيکۍ حکم کوي اوبدي نه به منع کوي اودفتنې والا سره به يعني دتولو شيعه ګانو اوبدعتيانو سره به جنګ کوي.

(۲۱) وَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ لَيَأْتِيَنَّ عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ لَا يَنْفَعُ فِيْهِ إِلَّا الدِّيْنَارُ وَالدِّرْهَمُ.

(رواه احمد. تخريج مشكوة صفحه ۲۴۳ س ۲ عن ابي بكر بن ابي مريم رضي الله عنه مرفوعا)

ژباړه اومختصر مطلب: اونبي کريم ﷺ وفرمايل چې خامخا ضرور به راسي په خلګو باندې يوه زمانه چې په هغه کې به د درهم اودينا څخه سوا هيڅ شئ فائده نه ورکوي، په زمانه کې به خلګ دمال دګټلو اودمال جمع کولو په فکر کې مشغول وي که هغه هر څنګه مال وي اومال جمع کول به ورته نبه معلوميږي.

(۲۲) وَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ صِنْفَانِ مِنْ أَهْلِ النَّارِ لَمْ أَرَهُمَا قَوْمٌ مَعَهُمْ سِيَاطٌ كَأَذْنَابِ الْبَقَرِ يَضْرِبُوْنَ بِهَا النَّاسَ وَنِسَاءٌ كَاسِيَاتٌ عَارِيَاتٌ مُمِيلَاتٌ مَائِلَاتٌ رُءُوْسُهُنَّ كَأَسْنِمَةِ الْبُخْتِ الْمَائِلَةِ لَا يَدْخُلْنَ الْجَنَّةَ وَلَا يَجِدْنَ رِيحَهَا وَإِنَّ رِيحَهَا لَيُوجَدُ مِنْ مَسِيرَةِ كَذَا وَكَذَا

(مسلم، تخريج مشكوة صفحه ۳۰۶ س ۲ عن ابي هريرة رضي الله عنه مرفوعا)

ژباړه اومتخصر مطلب: اونبي کريم ﷺ وفرمايل: چې دجهنميانو دوه قسمونه دي چې ما هغه نه دی يوه ډله هغه قوم چې دهغوی سره به کوړې وي لکه دغولکې وي په هغه سره به خلګ وهي اوهغ بنځي چې کپړې به يې اغوستې وي اوبرينډې به وي، دابه دخلګو زړونو کې خواهش پيدا کونکی وي اوخلګو له ره به خپل ځان مائل کونکي وي دهغوی سرونه به داسې وي لکه دبختي اوښ کاږه قبونه هغوی به جنت ته نه داخليږي اونه به دجنت خوشبوئی وويني اوبيشکه دجنت خوشبوئی موندلي کيږي د دومره دومره فاصلې څخه (دلرې څخه)

(۲۳) وَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ إِنَّ اللّٰهَ لَا يَقْبِضُ الْعِلْمَ انْتِزَاعًا يَنْتَزِعُهُ مِنَ الْعِبَادِ وَلٰكِنْ يَقْبِضُ الْعِلْمَ بِقَبْضِ الْعُلَمَاءِ حَتّٰى إِذَا لَمْ يُبْقِ عَالِمًا اتَّخَذَ النَّاسُ رُءُوْسًا جُهَّالًا فَسُئِلُوا فَأَفْتَوْا بِغَيْرِ عِلْمٍ فَضَلُّوا وَأَضَلُّوا.

(بخاري اومسلم. تخريج مشكوة صفحه ۳۳ ص ۹ عن عبدالله بن عمر رضي الله عنه مرفوعا)

ژباړه اومختصر مطلب : اونبي کريم ﷺ وفرمايل : چې بيشکه الله تعالى به علم دخلګو نه اوچتوي په راويستلو سره ليکن اوچتولى به دسي علم دعالمانو په وفات کولو سره ، تردې چې هيڅ يو عالم به پاتې نسي نو خلګ به جاهلان سرداران جوړ کړى نو تپوس به کول کيږي دجاهلانو څخه هغه به بغير دعلم نه فتوى ورکوي نو هغوى پخپله هم ګمراهان وي اونور خلګ به هم ګمراه کړي .

(۲۴) قَالَ النَّبِيُّ ﷺ تَعَلَّمُوا الْعِلْمَ وَعَلِّمُوهُ النَّاسَ تَعَلَّمُوا الْفَرَائِضَ وَعَلِّمُوهُ النَّاسَ تَعَلَّمُوا الْقُرْآنَ وَعَلِّمُوهُ النَّاسَ فَإِنِّي امْرُؤٌ مَقْبُوضٌ وَالْعِلْمُ سَيُنْتَقَصُ وَتَظْهَرُ الْفِتَنُ حَتَّى يَخْتَلِفَ اثْنَانِ فِي فَرِيضَةٍ لَا يَجِدَانِ أَحَدًا يَفْصِلُ بَيْنَهُمَا .

دارمی (تخریج : مشکوة صفحه ۳۸ س ۱۱ عن ابن مسعود رضی الله عنه مرفوعا

ژباړه اومختصر مطلب : اونبي کريم ﷺ وفرمايل چې علم زده کړى اوهغه نورو خلګو ته ورسوى اوتاسو فرائض (داسلام يادميراث علم) زده کړى اوهغه مخکې نورو خلګو ته وښايئ ، بيشکه زه اوچتولى سم اوعلم به همژر دى چې پورته کړى سي اوفتنى په ښکاره سي تردې چې اختلاف به وي د دوو کسان په مينځ کې په يو فرض کې نو دواړه به فيصله کونکى نه مومي يعنې جهالت به عام شوک فيصلې والا عالم به هم نه ملاويږي .

(۲۵) قَالَ النَّبِيُّ ﷺ : اقْرَءُوا الْقُرْآنَ بِلُحُونِ الْعَرَبِ وَأَصْوَاتِهَا ، وَإِيَّاكُمْ وَلُحُونَ أَهْلِ الْعِشْقِ وَأَهْلِ الْكِتَابَيْنِ . وَسَيَجِيءُ قَوْمٌ مِنْ بَعْدِي يُرَجِّعُونَ بِالْقُرْآنِ تَرْجِيعَ الْغِنَاءِ وَالرَّهْبَانِيَّةِ وَالنَّوْحِ لَا يُجَاوِزُ حَنَاجِرَهُمْ ، مَفْتُونَةٌ قُلُوبُهُمْ وَقُلُوبُ الَّذِينَ يُعْجِبُهُمْ شَأْنُهُمْ .

بيهقي . تخريج مشکوة صفحه ۱۹۱ س ۲۱ عن حذيفه رضی الله عنه مرفوعا

ژباړه اومتخصر مطلب : اونبي کريم ﷺ وفرمايل چې قرآن وايي په عربي لهجو باندې په عربي اوازونو باندې اوځان ساتي دعاشقانو دلهجونه اود دوو کتابونو والا دلهجونه (يهود اونصارى نه) اوزرده چې رابه سي زماڅخه وروسته يو قوم چې قرآن به وايي په آوازو اپس کولو سره دسندري راګرځولو پشان او دژړا پشان ، قرآن به د دوى د مريو څخه وړاندې نه تيريږي ، ددوى زړونه به فتنه کې پراته وي اودهغه چا زړونه هم چاله چې خوشحالوى د دوى داحالت دويلو . **فائده** : داپنځه ويښت (۲۵) دغيبو خبرونه نبي کريم ﷺ دالله تعالى دطرف نقل کولو سره ښودلى دى نه داچې پخپله نبي کريم ﷺ پخپله عالم الغيب ؤ ، عالم الغيب خوهغه ځوک دى چې بغير دڅه واسطې نه يعنې بغير دڅه ذريعې نه په خپل قدرت علمي سره څه معلوم کړي اودهغه خبرور کړي ، نبي کريم ﷺ ته چې کوم خبرونه دغيب ښودلى سوى دى نوهغه نبي کريم ﷺ خلګو ته رسوي چې هغه ته انباء غيب (دغيب خبرونه) ويل کيږي نه چې علم غيب (غيب پيژندل) . تم الباب ويليه الباب الثانى بحمد الله وحسن توفيه

(الباب الثانی)

فی الواقعات والقصص وفیه اربعون قصة

(۱) ذَاتَ يَوْمٍ إِذْ طَلَعَ عَلَيْنَا رَجُلٌ شَدِيدُ بَيَاضِ الثِّيَابِ شَدِيدُ سَوَادِ الشَّعَرِ لَا يُرَى عَلَيْهِ أَثَرُ السَّفَرِ وَلَا يَعْرِفُهُ مِنَّا أَحَدٌ حَتَّى جَلَسَ إِلَى النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم فَأَسْنَدَ رُكْبَتَيْهِ إِلَى رُكْبَتَيْهِ وَوَضَعَ كَفَّيْهِ عَلَى فَخِذَيْهِ وَقَالَ يَا مُحَمَّدُ أَخْبِرْنِي عَنِ الإِسْلَامِ. فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم: الإِسْلَامُ أَنْ تَشْهَدَ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ وَتُقِيمَ الصَّلَاةَ وَتُؤْتِيَ الزَّكَاةَ وَتَصُومَ رَمَضَانَ وَتَحُجَّ الْبَيْتَ إِنِ اسْتَطَعْتَ إِلَيْهِ سَبِيلًا. قَالَ صَدَقْتَ. قَالَ فَعَجِبْنَا لَهُ يَسْأَلُهُ وَيُصَدِّقُهُ. قَالَ فَأَخْبِرْنِي عَنِ الإِيمَانِ. قَالَ: أَنْ تُؤْمِنَ بِاللَّهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ وَتُؤْمِنَ بِالْقَدَرِ خَيْرِهِ وَشَرِّهِ. قَالَ صَدَقْتَ. قَالَ فَأَخْبِرْنِي عَنِ الإِحْسَانِ. قَالَ: أَنْ تَعْبُدَ اللَّهَ كَأَنَّكَ تَرَاهُ فَإِنْ لَمْ تَكُنْ تَرَاهُ فَإِنَّهُ يَرَاكَ. قَالَ فَأَخْبِرْنِي عَنِ السَّاعَةِ. قَالَ: مَا الْمَسْئُولُ عَنْهَا بِأَعْلَمَ مِنَ السَّائِلِ قَالَ فَأَخْبِرْنِي عَنْ أَمَارَتِهَا. قَالَ: أَنْ تَلِدَ الأَمَةُ رَبَّتَهَا وَأَنْ تَرَى الْحُفَاةَ الْعُرَاةَ الْعَالَةَ رِعَاءَ الشَّاءِ يَتَطَاوَلُونَ فِي الْبُنْيَانِ. قَالَ ثُمَّ انْطَلَقَ فَلَبِثْتُ مَلِيًّا ثُمَّ قَالَ لِي: يَا عُمَرُ أَتَدْرِي مَنِ السَّائِلُ؟ قُلْتُ اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ. قَالَ: فَإِنَّهُ جِبْرِيلُ أَتَاكُمْ يُعَلِّمُكُمْ دِينَكُمْ.

رواه بخاری، تخریج مشکوة صفحه ۱۱ س ۱۷.

ژباړه: حضرت عمر رضی الله عنه څخه روایت دی هغه ویلی دی چې موږ یوه ورځ نبي کریم صلی الله علیه وآله وسلم سره ناست ؤ یوسړی موږ ته راغی سپینې جامې یې اغوستی وی اوویښته یې ډیر تور ؤ چې دسفر هیڅ اثر وریاندې نه ؤ اوپه موږ کې هیچانه پیژندلو، تردې چې نبي کریم صلی الله علیه وآله وسلم ته راغلی اوکښینستی خپلي ګوڼې (زنګونان) یې دنبي کریم صلی الله علیه وآله وسلم د ګوڼو طرف ته ماتې کړی خپل ورغوی یې دنبي کریم صلی الله علیه وآله وسلم په په زنګونو باندې کښښودل اووی فرمایل: اې محمد! صلی الله علیه وآله وسلم ماته خبر راکړه داسلام په باره کې. نبي کریم صلی الله علیه وآله وسلم ورته وفرمایل: اسلام دادی چې ته ګواهي ورکړی چې دالله تعالی څخه سوا هیڅوک معبود نسته اومحمد صلی الله علیه وآله وسلم دالله رسول دی اوته لمونځ کوي اوزکوة ورکوی اودرمضان روژې نیسی اوته دبیت الله حج کوی که چیرې طاقت دې درلود دلاري وغیره. نوهغه ورته وویل چې تاسو رښتیا وویل: نوموږ حیران سو چې پوښتنه هم کوي اوتصدیق هم کوي. هغه وویل چې تاسو ماته دایمان په هکله ښودنه وکړی. نبي کریم صلی الله علیه وآله وسلم وفرمایل: ایمان دادی چې ته ایمان راوړی په الله اودهغه په فرښتو اودهغه په کتابونو باندې اودهغه په پیغمبرانو اودقیامت په ورځ اوته ایمان راوړی په ښه اوبد تقدیر باندې، نوهغه وویل چې تارښتیا وویل، بیایې وویل چې ماته داحسان په باره کې خبر راکړه. نونبي کریم صلی الله علیه وآله وسلم وفرمایل (احسان دادی) چې ته دالله عبادت وکړی داسې لکه چې ته الله وینې بیشکه که څه هم ته الله تعالی نه وینی. نوهغه

خو تاوینې ،بیایې وویل چې د قیامت په باره ماته خبر راکړه یعني (چې قیامت به کله راځي) نو نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل چې د قیامت متعلق مسؤل (نبي کریم ﷺ . دسائل (جبرائیل علیه السلام ،نه زیات عالم نه دی ،بیاوویل چې تاسو ماته دهغه د نښو په باره کې بیان وکړی نو هغوی ﷺ وفرمایل (۱): چې وزیږدی وینزه خپل مولا (یعني اولاد به نافرمان سي)(۲): چې کله ته وویني لڅو پښو والا اوبرینډ اومحتاج اوشپنیان چې فخریه کوي (په لوړو لوړو) مانۍ جوړولو کې ،راوي وایي چې بیا هغه سړی ولاړی نوزه لږ ساعت هلته ایسار یعني ودریدم حضور ﷺ ماته وفرمایل چې اې عمر! رضی اللہ عنہ آیا ته خبر یې چې دا تپوس کونکی څوک ؤ ،ماورته وویل الله جل جلالہ اودهغه رسول ﷺ ښه پوهیږي. رسول الله وفرمایل : بیشکه داجبرئیل علیه السلام ؤ راغلی ؤ تاسو ته چې تاسو ته یې ستاسو دین ښودلو .

(۲) عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو رضی اللہ عنہ قَالَ رَجَعْنَا مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ ﷺ مِنْ مَكَّةَ إِلَى الْمَدِينَةِ حَتَّى إِذَا كُنَّا بِمَاءٍ بِالطَّرِيقِ تَعَجَّلَ قَوْمٌ عِنْدَ الْعَصْرِ فَتَوَضَّئُوا وَهُمْ عِجَالٌ فَانْتَهَيْنَا إِلَيْهِمْ وَأَعْقَابُهُمْ تَلُوحُ لَمْ يَمَسَّهَا الْمَاءُ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ. وَيْلٌ لِلأَعْقَابِ مِنَ النَّارِ أَسْبِغُوا الْوُضُوءَ.

رواه مسلم، تخریج مشکوة صفحه ۴۶ س ۳

ژباړه: حضرت عبدالله بن عمر رضی اللہ عنہ څخه روایت دی هغوی وفرمایل چې موږ د نبي کریم ﷺ سره د مکې نه مدینې منورې ته واپس تردې چې موږ په لاره کې اوبو ته ټرڅ ؤ نو قوم تلواره وکړه د مازدیګر په وخت کې نو هغوی اودس وکړو په داسي حال چې هغوی تلواره کونکی ؤ چې کله موږ هغوی ته راورسیدو اود هغوی پوندې ښکاریدی چې وچې وی نو نبي کریم ﷺ وفرمایل : چې هلاکت دوي هغه پوندو لره چې داور څخه دی اودس پوره کوي .

(۳) عَنْ أَبِي ذَرٍّ رضی اللہ عنہ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ خَرَجَ زَمَنَ الشِّتَاءِ وَالْوَرَقُ يَتَهَافَتُ . فَأَخَذَ بِغُصْنَيْنِ مِنْ شَجَرَةٍ ،قَالَ: فَجَعَلَ ذَلِكَ الْوَرَقُ يَتَهَافَتُ ، قَالَ : فَقَالَ : يَا أَبَا ذَرٍّ قُلْتُ : لَبَّيْكَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ . قَالَ : إِنَّ الْعَبْدَ الْمُسْلِمَ لَيُصَلِّي الصَّلَاةَ يُرِيدُ بِهَا وَجْهَ اللّٰهِ، فَتَهَافَتُ عَنْهُ ذُنُوبُهُ كَمَا يَتَهَافَتُ هَذَا الْوَرَقُ عَنْ هَذِهِ الشَّجَرَةِ .رواه احمد ،مشکوة صفحه ۵۸ س ۲۳.

ژباړه: اود حضرت ابوذر غفاري رضی اللہ عنہ څخه روایت دی چې نبي کریم ﷺ د باندې یوورځ تشریف یوړلو دیخنی په موسم کې اوپانړې غورزیدلی نو نبي کریم ﷺ د درختي دوې څانګې ونیولی ،راوي وایي چې دنبی کریم ﷺ نیولو سره پانړې غورزیدل شروع سو، بیا یې وفرمایل : چې اې ابوذره! ماعرض وکړو زه حاضریم اې دالله رسوله ! ﷺ نووی فرمایل بیشکه چې مسلمان بنده چې کله لمونځ کوي دالله تعالی رضا غواړي نو دهغه څخه ګناهونه داسي غورزیږي لکه چې دا پانړې د دې درختي څخه راغورزیږي .

(۴)وَعَنْ رَبِيعَةَ بْنِ كَعْبٍ الْأَسْلَمِيِّ قَالَ كُنْتُ أَبِيتُ مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ ﷺ فَأَتَيْتُهُ بِوَضُوئِهِ وَحَاجَتِهِ فَقَالَ لِي سَلْ فَقُلْتُ أَسْأَلُكَ مُرَافَقَتَكَ فِي الْجَنَّةِ. قَالَ أَوَغَيْرَ ذٰلِكَ قُلْتُ هُوَ ذَاكَ. قَالَ فَأَعِنِّي عَلَى نَفْسِكَ بِكَثْرَةِ السُّجُودِ.

رواه مسلم، مشكوة صفحه ۸۴ س ۸.

ژباړه: اود حضرت ربیعه رضی الله عنه څخه روایت دی چې یوځل ماد رسول الله ﷺ سره شپه تیره کړه نو ماهغوی ته اوبه راوړې داودس لپاره اوحاجت لپاره، نبی کریم ﷺ ماته وفرمایل: چې وغواړه ما وویل: زه ستاملګرتیاغواړم په جنت کې هغوی وفرمایل چې ددې څخه علاوه بل څه غواړې. ماورته وویل همداغواړم نووی فرمایل: ته زما امداد وکړه په خپل نفس باندې په ډیروسجدوسره.

(۵)وَعَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ رضی الله عنه قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ لَيُسَوِّي صُفُوفَنَا حَتّٰى كَأَنَّمَا يُسَوِّي بِهَا الْقِدَاحَ حَتّٰى رَأٰى أَنَّا قَدْ عَقَلْنَا عَنْهُ ثُمَّ خَرَجَ يَوْمًا فَقَامَ حَتّٰى كَادَ أَنْ يُكَبِّرَ فَرَأٰى رَجُلًا بَادِيًا صَدْرُهُ مِنَ الصَّفِّ فَقَالَ عِبَادَ اللّٰهِ لَتُسَوُّنَّ صُفُوفَكُمْ أَوْ لَيُخَالِفَنَّ اللّٰهُ بَيْنَ وُجُوهِكُمْ. . رواه احمد، مشكوة صفحه ۹۷ س ۲۶.

اود حضرت نعمان بن بشیر رضی الله عنه څخه روایت دی دې فرمایي چې دالله رسول ﷺ به زمونږ صفونه سیده کول لکه چې نبي کریم ﷺ صفونه نیغوي دغشوپه لرګي سره، تردې چې هغوی معلومه کړه چې مونږ صفونه برابرولو باندې پوهه سو. بیایوه ورځ تشریف راوړو دباندې نژدې وه چې هغوی تکبیر کړی وي نوهغوی ﷺ ولیدل چې دیوسړي سینه دصف څخه دباندې راوتلی وه نووی فرمایل اې دالله بنده ګانو تاسو خپل صفونه برابر کړی کنی الله تعالی به په تاسو کې مخالفت پیدا کړي.

(۶)عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ سَلَامٍ رضی الله عنه قَالَ: لَمَّا قَدِمَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ الْمَدِينَةَ جِئْتُ فَلَمَّا تَبَيَّنْتُ وَجْهَهُ عَرَفْتُ أَنَّ وَجْهَهُ لَيْسَ بِوَجْهِ كَذَّابٍ فَكَانَ أَوَّلُ شَيْءٍ تَكَلَّمَ بِهِ أَنْ قَالَ يَا أَيُّهَا النَّاسُ أَفْشُوا السَّلَامَ وَأَطْعِمُوا الطَّعَامَ وَصَلُّوا بِاللَّيْلِ وَالنَّاسُ نِيَامٌ، تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ بِسَلَامٍ. رواه الترمذی وابن ماجه والدارمی، مشكوة صفحه ۱۶۸ س ۳۰.

ژباړه: دحضرت عبدالله بن سلام رضی الله عنه څخه روایت دی هغه فرمایي چې چې نبي کریم ﷺ مدینې منورې ته تشریف راوړو نوزه راغلم چې کله ماد هغوی ﷺ مخ ته په غور وکتل نوماته معلومه سوه چې دامخ دروغجن نسي کېدی نوهغه خبره چې هغوی ﷺ دتولو څخه مخکې وفرمایله هغه داوه چې اې خلکو سلام خورکړي اوخلکو ته خوراک وکړی اوصله رحمي کوي اولمونځ کوی دشپې په داسي حال کې چې خلک ویده وي نو تاسو به داخل سي جنت په امن اوسلامتیا سره.

(۷)وَعَنْ عَائِشَةَ رضی الله عنها أَنَّهُمْ ذَبَحُوا شَاةً فَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ مَا بَقِيَ مِنْهَا قَالَتْ مَا بَقِيَ مِنْهَا إِلَّا كَتِفُهَا قَالَ بَقِيَ كُلُّهَا غَيْرَ كَتِفِهَا. رواه الترمذی.

ژباړه: اودحضرت عائشې رضی اللہ عنہا څخه روایت دی چې موږ کره یوه ورځ هغوی سریلی ذبح کړه نوحضور صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم وفرمایل پوښتنه یې وکړه ایا څه شئ دهغه (سریلي) څخه پاتي سوی دی نو عائشې رضی اللہ عنہا ورته وویل سودا داوږي (دغوښي) څخه نورهیڅ نه دي پاتي سوي نوحضور صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم وفرمایل چې نه ټوله باقي ده سوا داوږی دغوښې نه یعني چې کومه صدقه سوی ده هغه باقي ده دهغه ثواب به ملاویږي اوکوم چې تاسوسره پاتي ده هغه باقي نه ده ختمیدونکی ده.

---

(۸) عَنْ أَبِي قَتَادَةَ بْنِ رِبْعِيٍّ الْأَنْصَارِيِّ رضی اللہ عنہ أَنَّهُ كَانَ يُحَدِّثُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم مُرَّ عَلَيْهِ بِجِنَازَةٍ فَقَالَ: مُسْتَرِيحٌ وَمُسْتَرَاحٌ مِنْهُ قَالُوا يَا رَسُولَ اللهِ مَا الْمُسْتَرِيحُ وَالْمُسْتَرَاحُ مِنْهُ فَقَالَ الْعَبْدُ الْمُؤْمِنُ يَسْتَرِيحُ مِنْ نَصَبِ الدُّنْيَا وَأَذَاهَا إِلَى رَحْمَةِ اللهِ وَالْعَبْدُ الْفَاجِرُ يَسْتَرِيحُ مِنْهُ الْعِبَادُ وَالْبِلَادُ وَالشَّجَرُ وَالدَّوَابُّ.

رواه البخاري، مشكوة صفحه ۱۳۹ س ۱۹.

ژباړه: اودحضرت ابوقتاده رضی اللہ عنہ څخه روایت دی چې داحدیث به یې بیانولو چې: نبي کریم صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم سره یوه جنازه تیره سوه نونبي کریم صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم وفرمایل: چې داجنازه والا به یا راحت موندي یا به ددې څخه راحت موندل کیږي. صحابه ؤ تپوس وکړو چې دامستریح اومستراح منه څه شئ دی، هغوی وفرمایل: چې مسلمان بنده راحت مومي ددینا دغمونونه اودهغی دتکلیفونوڅخه. دالله تعالی رحمت طرف ته اوګنهګار بنده نه راحت مومي بندګان اوښارونه، درختي اوځناور.

---

(۹) بُرَيْدَةَ رضی اللہ عنہ قَالَ دَخَلَ بِلَالٌ عَلَى رَسُولِ اللهِ وَهُوَ يَتَغَدَّى. فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم الْغَدَاءَ يَا بِلَالُ قَالَ: إِنِّي صَائِمٌ يَا رَسُولَ اللهِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم نَأْكُلُ رِزْقَنَا وَفَضْلَ رِزْقِ بِلَالٍ فِي الْجَنَّةِ. أَشَعَرْتَ يَا بِلَالُ إِنَّ الصَّائِمَ يُسَبِّحُ عِظَامُهُ، وَيَسْتَغْفِرُ لَهُ الْمَلَائِكَةُ مَا أُكِلَ عِنْدَهُ.

رواه البيهقي في شعب الايمان، مشكوة صحفه ۱۸۱ س ۱۹.

ژباړه: دحضرت بریده رضی اللہ عنہ څخه روایت دی هغه وایي چې حضرت بلال رضی اللہ عنہ حضور صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم ته راغلی په داسي کي چې حضور صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم دغرمې ډوډۍ خوړله، نورسول الله صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم وفرمایل: اې بلاله! رضی اللہ عنہ ډوډۍ تیاره. حضرت بلال رضی اللہ عنہ وویل زما روژه ده اې دالله رسوله صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم، رسول الله صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم وفرمایل: موږ خپل (دا) رزق خورو اودبلال رزق باقي سو په جنت کي، ایاتاته پته شته اې بلاله رضی اللہ عنہ چې بیشکه دروژه دار هډوکي دهغه لپاره تسبیح وایي اوفرشتي دهغه لپاره داستغفار دعاکوي ترکومي پوري چې روژه دار په وړاندي خوراک خوړلی کیږي.

---

(۱۰) وَعَنْ جَابِرًا رضی اللہ عنہ يَقُولُ أَتَيْتُ النَّبِيَّ صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم فِي دَيْنٍ كَانَ عَلَى أَبِي فَدَقَقْتُ الْبَابَ فَقَالَ مَنْ ذَا فَقُلْتُ أَنَا فَقَالَ أَنَا أَنَا كَأَنَّهُ كَرِهَهَا. رواه البخاري ومسلم. مشكوة صفحه ۴۰۰ س ۲۶.

ژباړه: دحضرت جابر رضی اللہ عنہ څخه روایت دی هغه فرمایي چي زه دنبي کریم صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم ته راغلم دهغه قرض په باره کي چي زما په پلار باندي وُ ما دروازه وټکوله نونبي کریم صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم وفرمایل چي څوک یې ؟ماورته وویل زه یم .هغوی صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم وفرمایل (زه زه) لکه چي نبي کریم صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم دانه خوښوله یعني نوم ښودل پکار دی (زه زه) څه شئ دی .

---

(۱۱) عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رضی اللہ عنہ قَالَ كَانَ أَخَوَانِ عَلَى عَهْدِ النَّبِيِّ صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم فَكَانَ أَحَدُهُمَا يَأْتِي النَّبِيَّ صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم وَالآخَرُ يَحْتَرِفُ فَشَكَا الْمُحْتَرِفُ أَخَاهُ إِلَى النَّبِيِّ صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم فَقَالَ لَعَلَّكَ تُرْزَقُ بِهِ.

رواه الترمذی، مشکوة صفحه ۴۵۳ س ۲۳

ژباړه: دحضرت انس رضی اللہ عنہ څخه روایت دی هغه فرمایي چي دنبي کریم صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم په زمانه کي دوه وروڼه وُ یوبه نبي کریم صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم ته راتلو اودویم به همېشه کاروبار کولو نوکار والا دخپل ورور شکایت وکړو نبي کریم صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم ته. نوهغوی صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم ورته وفرمایل : چي شاید تاته دده په وجه رزق درکول کیږي .

---

(۱۲) عَنْ وَاثِلَةَ بْنِ الْخَطَّابِ، قَالَ: دَخَلَ رَجُلٌ إِلَى رَسُولِ اللهِ صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم وَهُوَ فِي الْمَسْجِدِ قَاعِدٌ، فَتَزَحْزَحَ لَهُ رَسُولُ اللهِ صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم فَقَالَ الرَّجُلُ: يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّ فِي الْمَكَانِ سَعَةً، فَقَالَ النَّبِيُّ صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم إِنَّ لِلْمُسْلِمِ حَقًّا إِذَا رَآهُ أَخُوهُ أَنْ يَتَزَحْزَحَ لَهُ.

.رواه البيهقي فی شعب الايمان، مشکوة ص ۴۰۴ س ۱.

ژباړه: دحضرت واثله بن خطاب رضی اللہ عنہ څخه روایت دی فرمایي چي یوسړی رسول الله صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم ته راغلی اونبي کریم په مسجد کي تشریف فرماؤ ،نو دالله رسول الله صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم هغه ته لږ ځای پرېښودلو (لږ دخپل ځای څخه وخوزېدو) هغه کس وویل اې دالله رسوله صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم بېشکه ځای فراخه دی (یعني تاسو ولي دخپل ځای څخه وخوزیداست) نونبي کریم صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم وفرمایل چي دمسلمان لپاره حق دی چي کله خپل مسلمان ورور ووینې نو (اګرچي ځای فراخ وي لیکن بیادي هم لږ شان) ځای پرېږدي دهغه لپاره .

---

(۱۳) وَعُمَرَ بْنَ أَبِي سَلَمَةَ قَالَ كُنْتُ غُلَامًا فِي حَجْرِ رَسُولِ اللهِ صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم وَكَانَتْ يَدِي تَطِيشُ فِي الصَّحْفَةِ فَقَالَ لِي رَسُولُ اللهِ صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم يَا غُلَامُ سَمِّ اللهَ وَكُلْ بِيَمِينِكَ وَكُلْ مِمَّا يَلِيكَ.

رواه البخاري، مشکوة ص ۳۶۳ س ۹

ژباړه: دحضرت عمر بن ابی سلمه رضی اللہ عنہ څخه روایت دی فرمایي چي زه ماشوم وم دنبي کریم صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم په غیږ کي وم اوزما لاس په کاسه کي ګرځیدلو نوماته رسول الله صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم وفرمایل چي دالله تعالی نوم واخله اوپه خپل راسته لاس خوراک وکړه اوپه کاسه کي دخپل مخ څخه خوراک کوه .

(۱۴) عَنْ أُمَيَّةَ بْنِ مَخْشِيٍّ رضی اللہ عنہ قَالَ رَجُلٌ يَأْكُلُ فَلَمْ يُسَمِّ حَتَّى لَمْ يَبْقَ مِنْ طَعَامِهِ إِلاَّ لُقْمَةٌ فَلَمَّا رَفَعَهَا إِلَى فِمِهِ قَالَ بِسْمِ اللهِ أَوَّلَهُ وَآخِرَهُ. فَضَحِكَ النَّبِيُّ صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم ثُمَّ قَالَ مَا زَالَ الشَّيْطَانُ يَأْكُلُ مَعَهُ. فَلَمَّا ذَكَرَ اسْمَ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ اسْتَقَاءَ مَا فِي بَطْنِهِ (رواہ ابوداود)

ژباړه: دحضرت امیه رضی اللہ عنہ څخه روایت دی هغه فرمایي چې یوسړي خوراک خوړلو هغه بسم الله نه وه ویلی تردې چې دهغه په خوراک کې یواځې یوه ګوله پاتې سوه نوچې کله هغه اخري ګوله خولې ته واچوله نووی ویل: بسم الله اوله وآخره. نونبي کریم صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم وخندل اوبیایې وفرمایل: چې شیطان دده سره داول څخه شریک ؤپه خوراک کې، خوچې کله هغه دالله تعالی نوم واخیستی نوشیطان هغه څه قی کړو کومر چې دهغه په خیټه کې ؤ، معلومه سوه چې په شروع کې بسم الله هیر بدلو سره (بسم الله اوله واخره) ویل پکار دي.

(۱۵) عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ رضی اللہ عنہ قَالَ كُنَّا يَوْمَ بَدْرٍ كُلُّ ثَلاثَةٍ عَلَى بَعِيرٍ قَالَ فَكَانَ أَبُو لُبَابَةَ وَعَلِيُّ بْنُ أَبِي طَالِبٍ زَمِيلَيْ رَسُولِ اللهِ صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم قَالَ: فَكَانَتْ إِذَا جَاءَتْ عُقْبَةُ رَسُولِ اللهِ صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم قَالا نَحْنُ نَمْشِي عَنْكَ. قَالَ مَا أَنْتُمَا بِأَقْوَى مِنِّي وَلا أَنَا بِأَغْنَى عَنِ الأَجْرِ مِنْكُمَا. رواہ فی شرح السنۃ، مشکوۃ ص۳۳۹ س۲۷)

ژباړه: دحضرت عبدالله بن مسعود رضی اللہ عنہ څخه روایت دی دې فرمایي چې دبدر په ورځ موږ دریو دریو کسان په یواوښ باندې ناسؤ، ابولبابه رضی اللہ عنہ اوحضرت علی رضی اللہ عنہ ملګري ؤ د رسول الله صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم راوي وایي چې کله به درسول الله صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم دپیاده تللو نمبر راغلی هغوی دواړو به ورته عرض کولو چې موږ ستاسو په ځای پیاده ځو، نوپه دې موقع باندې نبي کریم صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم وفرمایل: چې تاسو زمانه زیات طاقتور نه یاست اوزه بې پرواه نه یم داجر څخه ستاسو دواړو څخه (څنګه چې تاسو ته داجر ضرورت دی نوماته هم ضرورت دی.

(۱۶) عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ رضی اللہ عنہ قَالَ لَقِيتُ رَسُولَ اللهِ صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم فَقُلْتُ مَا النَّجَاةُ فَقَالَ يَا عُقْبَةُ أَمْلِكْ عَلَيْكَ لِسَانَكَ، وَلْيَسَعْكَ بَيْتُكَ، وَابْكِ عَلَى خَطِيئَتِكَ. رواہ احمد وترمذی، مشکوۃ صفحہ ۴۱۳ س۵)

ژباړه: دحضرت عقبه بن عامر رضی اللہ عنہ څخه روایت دی هغه فرمایي چې ماملاقات وکړو دنبي کریم صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم څخه اوماور څخه پوښتنه وکړه چې نجات په څه کې دی؟ نونبي کریم صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم فرمایل چې ته حفاظت کوه دخپلې ژبې یعنې په قابو کې وساته خپله ژبه اوته پخپل کور کې اوسه اوته په خپلو غلطیو باندې ژاړه

(۱۷) وَعَنْ عَلِيٍّ رضی اللہ عنہ قَالَ: بَيْنَا رَسُولُ اللهِ صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم ذَاتَ لَيْلَةٍ يُصَلِّي فَوَضَعَ يَدَهُ عَلَى الأَرْضِ فَلَدَغَتْهُ عَقْرَبٌ فَتَنَاوَلَهَا رَسُولُ اللهِ صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم بِنَعْلِهِ فَقَتَلَهَا. فَلَمَّا انْصَرَفَ قَالَ: لَعَنَ اللهُ الْعَقْرَبَ مَا تَدَعُ مُصَلِّيًا

،وَلَا غَيْرَهُ أَوْ نَبِيًّا أَو غَيْرَهُ، ثُمَّ دَعَا بِمِلْحٍ وَمَاءٍ فَجَعَلَهُ فِي إِنَاءٍ ثُمَّ جَعَلَ يَصُبُّهُ عَلَى إِصْبَعِهِ حَيْثُ لَدَغَتْهُ وَيَمْسَحُهَا، وَيُعَوِّذُهَا بِالْمُعَوِّذَتَيْنِ.رواه البيهقي،مشكوة صفحه ۳۹۰ س ۲۳.

ژباړه:دحضرت علي رضي الله عنه څخه روايت دی هغه فرمايي چې يوه شپه نبي کريم صلى الله عليه وآله وسلم دشپې لمونځ کولو نوهغوی خپل لاس په زمکه باندي کيښودلو نولمړم وچيچلو نوهغوی په خپله پنړه لمړم ووهلو اومړيې کړلو چې کله نبي کريم صلى الله عليه وآله وسلم راوګرځيدو (فارغ) سو نووی فرمايل چې الله تعالی دالړم باندي لعنت وليږی ،نه لمونځ کونکی پريږدي اونه بل څوک .يارسول الله صلى الله عليه وآله وسلم دا وفرمايل : (يعني دراوي شک دی) چې نه دې څوک پيغمبر پريږدي اونه بل څوک بيايې اوبه اومالګه راوغوښتله هغه يې په يولوښي کي واچول بياشروع سو چې هغه مالګينی اوبه يې په خپله ګړته(کتهٔ ګوتهٔ) باندی اچولی کوم ځای چې لړم چيچلی ؤ او(بيايې) منبسولو هغه ځای اومعوذتين يې لوستل.

(۱۸)وَعَنْ أُسَامَةَ بْنَ زَيْدِ بْنِ حَارِثَةَ رضي الله عنه قَالَ بَعَثَنَا رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وآله وسلم إِلَى اناس مِنْ جُهَيْنَةَ فَأَتَيْتُ عَلَى رَجُلٍ مِنْهُم فَذَهَبْتُ أَطْعَنُهُ فقَالَ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللهُ قَالَ فَطَعَنْتُهُ فَقَتَلْتُهُ فَجِئْتُ إِلَى النَّبِيِّ صلى الله عليه وآله وسلم فَأَخْبَرْتُه فَقَالَ أَقَتَلْتَهُ وَقَدْ شَهِدَ أَن لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللهُ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وآله وسلم إِنَّمَا فعل ذَلِكَ تَعَوِّذًا قَالَ فَهَلا شَقَقْتَ عَنْ قَلْبِهِ . رواه البخاري ومسلم،مشكوة صفحه ۲۹۹ س ۱۸.

ژباړه:دحضرت اسامه رضي الله عنه څخه روايت دی فرمايي چې موږ رسول الله صلى الله عليه وآله وسلم دجهينه قبيلې خلګو ته وليږلو نوزه راغلم دهغوی نه په يوسړي باندي(دحملې لپاره) نومانيزه وهل شروع کړل نوهغه وويل (لااله الاالله) نوماهغه په نيزه ووهلو اوقتل مي کړلو ،زه رسول الله صلى الله عليه وآله وسلم ته راغلم اوقصه مي ورته وکړه نونبي کريم صلى الله عليه وآله وسلم وفرمايل چې آيا تا په هغه داسي حال کي قتل کړو چې هغه ګواهي کوله چې دالله تعالی نه سوا دعبادت لائق نسته ،ماعرض وکړو اې دالله رسوله هغه خوداسي کاردځان دخلاصون لپاره وکړو وی فرمايل چې تادهغه زړه ولي نه څيرولو(يعني تانه څه پته ده چې هغه کلمه دزړه په اخلاص نه وويلی تاته دهغه وژل نه ؤ پکار.

(۱۹)عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه أَنَّ رَجُلاً تَقَاضَى رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وآله وسلم فَأَغْلَظَ لَهُ فَهَمَّ أَصْحَابُهُ فَقَالَ دَعُوهُ فَإِنَّ لِصَاحِبِ الْحَقِّ مَقَالاً وَاشْتَرُوا لَهُ بَعِيرًا فَأَعْطُوهُ إِيَّاهُ وَقَالُوا لاَ نَجِدُ إِلاَّ أَفْضَلَ مِنْ سِنِّهِ قَالَ اشْتَرُوهُ فَأَعْطُوهُ إِيَّاهُ فَإِنَّ خَيْرَكُمْ أَحْسَنُكُمْ قَضَاءً . رواه البخاري ومسلم،مشكوة ۲۵۱ س ۲۴.

ژباړه:دحضرت ابوهريرة رضي الله عنه روايت دی چې يوسړي تقاضا وکړه دنبي کريم صلى الله عليه وآله وسلم څخه سخته (تقاضا) يې وکړه دنبي کريم صلى الله عليه وآله وسلم څخه ديواوښ دقرض په باره کي نوصحابه کرامو اراده وکړه (دهغه دوهلو)نووی فرمايل چې دې پريږدی ځکه چې دحقدار لپاره دوينا حق سته تاسو دده لپاره ديواوښ

واخلی او وریې کړی ،نوصحابه کرامو عرض وکړو موږ نه پیاموموکړده داوښ نه دزیات عمروالا اوښ ،نبي کریم ﷺ وفرمایل هغه واخلی اوورته ورکړی ځکه چې په تاسو کې بهترین هغه دی چې په تاسو کې دادا کولو په اعتبار سره ښه وي .

(۲۰) عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ رضی اللہ عنہا أَنَّهَا كَانَتْ عِنْدَ رَسُولِ اللهِ ﷺ وَمَيْمُونَةَ إِذْ أَقْبَلَ ابْنُ أُمِّ مَكْتُومٍ فَدَخَلَ عَلَيْهِ فَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ احْتَجِبَا مِنْهُ . فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ أَلَيْسَ هُوَ أَعْمَى لَا يُبْصِرُنَا فَقَالَ أَفَعَمْيَاوَانِ أَنْتُمَا أَلَسْتُمَا تُبْصِرَانِهِ رواه احمد والترمذی وابوداؤد ،مشکوة صفحه ۲۶۹ س ۱۸.

ژباړه: دحضرت ام سلمه رضی اللہ عنہا څخه روایت دی چې دا اوحضرت میمونه رضی اللہ عنہا دواړه دحضور ﷺ سره ناستي وی ،دغه وخت عبدالله بن ام مکتوم رضی اللہ عنہ راغی نوهغه نبي کریم ﷺ لره دننه راغی رسول الله ﷺ وفرمایل تاسو دواړوي پرده وکړی ، ددې څخه (ام سلمه رضی اللہ عنہا وایي) ما وویل چې ای دالله رسوله ﷺ ولي دې رونده نه دی ، موږ خونه وینې نورسول الله ﷺ وفرمایل ولي تاسو دواړي هم وړندی یاست ولي تاسو یې نه وینی (معلومه سوه چې څنګه دښځي نه سړي پرده ده) دغه شان دښځو هم دسړو نه دنظر پرده ده .

(۲۱) وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضی اللہ عنہ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ كَانَتِ امْرَأَتَانِ مَعَهُمَا ابْنَاهُمَا جَاءَ الذِّئْبُ فَذَهَبَ بِابْنِ إِحْدَاهُمَا فَقَالَتْ صَاحِبَتُهَا إِنَّمَا ذَهَبَ بِابْنِكِ وَقَالَتِ الْأُخْرَى إِنَّمَا ذَهَبَ بِابْنِكِ فَتَحَاكَمَتَا إِلَى دَاوُدَ فَقَضَى بِهِ لِلْكُبْرَى فَخَرَجَتَا عَلَى سُلَيْمَانَ بْنِ دَاوُدَ فَأَخْبَرَتَاهُ فَقَالَ ائْتُونِي بِالسِّكِّينِ أَشُقُّهُ بَيْنَهُمَا فَقَالَتِ الصُّغْرَى لَا تَفْعَلْ يَرْحَمُكَ اللهُ هُوَ ابْنُهَا فَقَضَى بِهِ لِلصُّغْرَى. رواه البخاري ومسلم، مشکوة صفحه ۵۰۸ س ۲۳)

ژباړه: اودحضرت ابوهریرة رضی اللہ عنہ څخه روایت دی هغه دحضور ﷺ څخه روایت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل دوې ښځي وی چې دهغوی سره دوه زامن ؤ شرمخ راغی په هغوی کې یې دیوې زوی یو وړلو دهغی ملګري وویل چې شرمخ ستازوی یووړلو ،دویمي وویل چې هغی ستازوی دی ،دواړو مقدمه داؤد علیہ السلام ته یووړله هغه فیصله وکړه دهلک مشري لپاره (ځکه چې دهغی په لاس کې ؤ) نوهغه دواړه سلیمان علیہ السلام ته راغلی هغه ته یې قصه بیان کړه هغه وفرمایل چې ماته یو چاړه راوړی چې دوې ټکړی یې کړم اوتاسو دواړو ته یې درکړم. کشري وویل چې داسي مکوه الله تعالی دي په تاباندي رحم وکړي دادي زوی دی (یعني زه فی الحال اقرار کوم چې ددې زوی دی چې ته یې ژوندی پریږدي چې زه یې وینم ،مشره دغه وخت بالکل خاموشه وه) نوهغوی فیصله دکشري لپاره وکړه (انتهی) ددې وجې نه (۱): چې دچازوی دی هغه ټکړی کول نه غواړي (۲): مشره خوبالکل خاموشه پاتي سوه (۳): که چیري دمشري وای نوییاد فیصلې لپاره به ماته نه راتله.

،وَلَا غَيْرَهُ أَوْ نَبِيًّا أَو غَيْرَهُ. ثُمَّ دَعَا بِمِلْحٍ وَمَاءٍ فَجَعَلَهُ فِي إِنَاءٍ ثُمَّ جَعَلَ يَصُبُّهُ عَلَى إِصْبَعِهِ حَيْثُ لَدَغَتْهُ وَيَمْسَحُهَا، وَيُعَوِّذُهَا بِالْمُعَوِّذَتَيْنِ، رواه البيهقي، مشكوة صفحه ۳۹۰ س ۲۳.

ژباړه: دحضرت علي رضي الله عنه څخه روايت دی هغه فرمايي چې يوه شپه نبي کريم صلى الله عليه وآله وسلم دشپې لمونځ کولو نوهغوی خپل لاس په زمکه باندې کيښودلو نولمړم وچيچلو نوهغوی په خپله پنړه لمړم ووهلو اومړيې کړلو چې کله نبي کريم صلى الله عليه وآله وسلم راوګرځيدو (فارغ) سو نووی فرمايل چې الله تعالی دالړم باندې لعنت وليږی ،نه لمونځ کونکی پريږدي اونه بل څوک .يارسول الله صلى الله عليه وآله وسلم دا وفرمايل : (يعني دراوي شک دی) چې نه دې څوک پيغمبر پريږدي اونه بل څوک بيايې اوبه اومالګه راوغوښتله هغه يې په يولوښي کي واچول بياشروع سو چې هغه مالګينی اوبه يې په خپله ګړته(کټه ګوټه) باندی اچولی کوم ځای چې لړم چيچلی ؤ او(بيايې) منبولو هغه ځای اومعوذتين يې لوستل.

(۱۸) وَعَن أُسَامَةَ بْنَ زَيْدِ بْنِ حَارِثَةَ رضي الله عنه قَالَ بَعَثَنَا رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وآله وسلم إِلَى اناس مِنْ جُهَيْنَةَ فَأَتَيْتُ عَلَى رَجُلٍ مِنْهُم فَذَهَبْتُ أَطْعَنُهُ فَقَالَ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللهُ قَالَ فَطَعَنْتُهُ فَقَتَلْتُهُ فَجِئْتُ إِلَى النَّبِيِّ صلى الله عليه وآله وسلم فَأَخْبَرْتُه فَقَالَ أَقَتَلْتَهُ وَقَدْ شَهِدَ أَن لاَّ إِلَهَ إِلاَّ اللهُ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وآله وسلم إِنَّمَا فعل ذَلِكَ تَعَوِّذًا قَالَ فَهَلا شَقَقْتَ عَنْ قَلْبِهِ. رواه البخاري ومسلم، مشكوة صفحه ۲۹۹ س ۱۸.

ژباړه: دحضرت اسامه رضي الله عنه څخه روايت دی فرمايي چې موږ رسول الله صلى الله عليه وآله وسلم دجهينه قبيلې خلګوته وليږلو نوزه راغلم دهغوی نه په يوسړي باندې(دحملې لپاره) نومانيزه وهل شروع کړل نوهغه وويل (لااله الاالله) نوماهغه په نيزه ووهلو اوقتل مي کړلو ،زه رسول الله صلى الله عليه وآله وسلم ته راغلم اوقصه مي ورته وکړه نونبي کريم صلى الله عليه وآله وسلم وفرمايل چې آيا تا په هغه داسي حال کي قتل کړو چې هغه ګواهي کوله چې دالله تعالی نه سوا دعبادت لائق نسته ،ماعرض وکړو اې دالله رسوله هغه خو داسي کاردځان دخلاصون لپاره وکړو وی فرمايل چې تادهغه زړه ولي نه څيرولو (يعني تاته څه پته ده چې هغه کلمه دزړه په اخلاص نه وويلی تاته دهغه وژل نه ؤ پکار.

(۱۹) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه أَنَّ رَجُلاً تَقَاضَى رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وآله وسلم فَأَغْلَظَ لَهُ فَهَمَّ أَصْحَابُهُ فَقَالَ دَعُوهُ فَإِنَّ لِصَاحِبِ الْحَقِّ مَقَالاً وَاشْتَرُوا لَهُ بَعِيرًا فَأَعْطُوهُ إِيَّاهُ وَقَالُوا لاَ نَجِدُ إِلاَّ أَفْضَلَ مِنْ سِنِّهِ قَالَ اشْتَرُوهُ فَأَعْطُوهُ إِيَّاهُ فَإِنَّ خَيْرَكُمْ أَحْسَنُكُمْ قَضَاءً. رواه البخاري ومسلم، مشكوة ۲۵۱ س ۲۴.

ژباړه: دحضرت ابوهريرة رضي الله عنه روايت دی چې يوسړي تقاضا وکړه دنبي کريم صلى الله عليه وآله وسلم څخه سخته (تقاضا) يې وکړه دنبي کريم صلى الله عليه وآله وسلم څخه ديواوښ دقرض په باره کي نوصحابه کرامو اراده وکړه (دهغه دوهلو)نووی فرمايل چې دې پريږدی ځکه چې دحقدار لپاره دوينا حق سته تاسو دده لپاره ديواوښ

واخلی او وریې کړی ،نوصحابه کرامو عرض وکړو مورږنه ییامو مو مکرر دده داوښ نه دزیات عمر والا اوښ ،نبي کریم ﷺ وفرمایل هغه واخلی او ورته ورکړی ځکه چې په تاسو کې بهترین هغه دی چې په تاسو کې دادا کولو په اعتبار سره ښه وي .

(۲۰) عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ رضی اللہ عنہا أَنَّهَا كَانَتْ عِنْدَ رَسُولِ اللهِ ﷺ وَمَيْمُونَةَ إِذْ أَقْبَلَ ابْنُ أُمِّ مَكْتُومٍ فَدَخَلَ عَلَيْهِ فَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ احْتَجِبَا مِنْهُ . فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ أَلَيْسَ هُوَ أَعْمَى لَا يُبْصِرُنَا فَقَالَ أَفَعَمْيَاوَانِ أَنْتُمَا أَلَسْتُمَا تُبْصِرَانِهِ رواه احمد والترمذی وابو داؤد ،مشکوة صفحه ۲۶۹ س ۱۸.

ژباړه: دحضرت ام سلمه رضی اللہ عنہا څخه روایت دی چې دا اوحضرت میمونه رضی اللہ عنہا دواړه دحضور ﷺ سره ناستي وی .دغه وخت عبدالله بن ام مکتوم رضی اللہ عنہ راغی نوهغه نبي کریم ﷺ لره دننه راغی رسول الله ﷺ وفرمایل تاسو دواړوي پرده وکړی ، ددې څخه (ام سلمه رضی اللہ عنہا وایي) ما وویل چې اې دالله رسوله ﷺ ولي دې پرونډ نه دی ، مورږ خونه وینې نو رسول الله ﷺ وفرمایل ولي تاسو دواړي هم وړندی یاست ولي تاسو یې نه وینی (معلومه سوه چې څنګه دښځي نه سړي پرده ده) دغه شان دښځو هم دسړو نه دنظر پرده ده .

(۲۱) وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضی اللہ عنہ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ كَانَتِ امْرَأَتَانِ مَعَهُمَا ابْنَاهُمَا جَاءَ الذِّئْبُ فَذَهَبَ بِابْنِ إِحْدَاهُمَا فَقَالَتْ صَاحِبَتُهَا إِنَّمَا ذَهَبَ بِابْنِكِ وَقَالَتِ الْأُخْرَى إِنَّمَا ذَهَبَ بِابْنِكِ فَتَحَاكَمَتَا إِلَى دَاوُدَ فَقَضَى بِهِ لِلْكُبْرَى فَخَرَجَتَا عَلَى سُلَيْمَانَ بْنِ دَاوُدَ فَأَخْبَرَتَاهُ فَقَالَ ائْتُونِي بِالسِّكِّينِ أَشُقُّهُ بَيْنَهُمَا فَقَالَتِ الصُّغْرَى لَا تَفْعَلْ يَرْحَمُكَ اللهُ هُوَ ابْنُهَا فَقَضَى بِهِ لِلصُّغْرَى .رواه البخاري ومسلم،مشکوة صفحه ۵۰۸ س ۲۳)

ژباړه: اودحضرت ابوهریرة رضی اللہ عنہ څخه روایت دی هغه دحضور ﷺ څخه روایت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل دوې ښځي وی چې دهغوی سره دوه زامن ؤ شرمخ راغی په هغوی کې یې دیوې زوی یو وړلو دهغی ملګري وویل چې شرمخ ستازوی یووړلو ،دویمي وویل چې هغی ستازوی دی ،دواړو مقدمه داؤد علیہ السلام ته یووړله هغه فیصله وکړه دهلک مشري لپاره (ځکه چې دهغی په لاس کې ؤ) نوهغه دواړه سلیمان علیہ السلام ته راغلی هغه ته یې قصه بیان کړه هغه وفرمایل چې ماته یو چاړه راوړی چې دوې ټکړی یې کړم او تاسو دواړو ته یې درکړم . کشري وویل چې داسي مکوه الله تعالی دي په تاباندي رحم وکړي دادي زوی دی (یعني زه فی الحال اقرار کوم چې ددې زوی دی چې ته یې ژوندی پریږدي چې زه یې وینم ،مشره دغه وخت بالکل خاموشه وه) نوهغوی فیصله دکشري لپاره وکړه (انتهی) ددې وجې نه (۱): چې دچازوی دی هغه ټکړی کول نه غواړي (۲): مشره خوبالکل خاموشه پاتي سوه (۳): کهچیري دمشري وای نوییاد فیصلې لپاره به ماته نه راتله.

(۲۲)وَعَنْ بُرَيْدَةَ رضی اللہ عنہ قَالَ بَيْنَا رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ يَمْشِي إِذْ جَاءَ رَجُلٌ مَعَهُ حِمَارٌ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ ﷺ ارْكَبْ. فَتَأَخَّرَ الرَّجُلُ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ لَا. أَنْتَ أَحَقُّ بِصَدْرِ دَابَّتِكَ مِنِّي إِلَّا أَنْ تَجْعَلَهُ لِي. قَالَ فَإِنِّي قَدْ جَعَلْتُهُ لَكَ. قَالَ فَرَكِبَ. رواه الترمذی، مشکوۃ صفحہ ۳۴۰ س ۵.

ژباړه: دحضرت بریده رضی اللہ عنہ څخه روایت دی فرمایي چي موږ په دې مینځ کي چي درسول الله ﷺ سره پیدل روان ؤ چي نبي کریم ﷺ ته یوسړی راغی چي دهغه سره خرؤ هغه وویل چي تاسو سپاره سي اوپخپله وروسته سو. نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل چي نه بلکه ته زیات حقداریې دخپل سورلی لپاره په مخکي کښیناستلو باندي. لیکن داچي ته سورلی زما لپاره کړی هغه وویل چي حضرت ماستاسو لپاره داسورلی وګرځوله نوییانبي کریم ﷺ سپور سو.

(۲۳)عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رضی اللہ عنہ أَنَّ رَجُلًا اسْتَحْمَلَ رَسُولَ اللّٰهِ ﷺ فَقَالَ إِنِّي حَامِلُكَ عَلَى وَلَدِ النَّاقَةِ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ ﷺ مَا أَصْنَعُ بِوَلَدِ النَّاقَةِ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ وَهَلْ تَلِدُ الإِبِلَ إِلَّا النُّوقُ. رواه الترمذی وابوداود، مشکوۃ صفحہ ۴۱۶ س ۲۰.

ژباړه: دحضرت انس رضی اللہ عنہ څخه روایت دی چي یوسړي سورلی وغوښتله دحضور ﷺ څخه هغوی وفرمایل چي زه به تاسپور کړم داوښي په بچي باندي هغه وویل چې زه به څه وکړم داوښي په بچي باندي، نورسول الله ﷺ ورته وفرمایل چي نه زیږوي اوښان مګراوښي (یعني هراوښ داوښ بچی وي) مسخرې یې ورسره وکړی.

(۲۴)عَنْ أَبِي أَيُّوبَ الأَنْصَارِيِّ رضی اللہ عنہ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ ﷺ فَقَالَ عِظْنِي وَأَوْجِزْ فَقَالَ إِذَا قُمْتَ فِي صَلَاتِكَ فَصَلِّ صَلَاةَ مُوَدِّعٍ وَلَا تَكَلَّمْ بِكَلَامٍ تَعْتَذِرُ مِنْهُ غَدًا وَاجْمَعِ الإِيَاسَ مِمَّا فِي يَدَيِ النَّاسِ.
(رواه احمد) مشکوۃ صفحہ ۴۴۵ س ۲۴)

ژباړه: دحضرت ابوایوب انصاري رضی اللہ عنہ چي اصل نوم یې خالد دی څخه روایت دی هغه وایي چي یوسړي نبي کریم ﷺ ته راغی نو هغه وویل چي ماته نصیحت وکړه او مختصر راته وفرمایه. نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل چي کله ته لمانځه ته ولاړ یې نو داسي لمونځ وکړه چي لکه داستا اخري لمونځ وي، داسی خبره مه کوه چي صبا ته هغه څخه معذرت غواړی اوته ناامیده سه دهغه شئ نه کوم چي دخلکو سره دی (یعني دخلکو څخه مال مه غواړه)

(۲۵)وَعَنْ أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ رضی اللہ عنہ قَالَ بَيْنَمَا نَحْنُ فِي الْمَسْجِدِ مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ ﷺ إِذْ جَاءَ أَعْرَابِيٌّ فَقَامَ يَبُولُ فِي الْمَسْجِدِ فَقَالَ أَصْحَابُ رَسُولِ اللّٰهِ ﷺ مَهْ مَهْ. قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ لَا تُزْرِمُوهُ دَعُوهُ فَتَرَكُوهُ حَتَّى بَالَ. ثُمَّ إِنَّ رَسُولَ اللّٰهِ ﷺ دَعَاهُ فَقَالَ لَهُ إِنَّ هَذِهِ الْمَسَاجِدَ لَا تَصْلُحُ

لِشَيْءٍ مِنْ هَذَا الْبَوْلِ وَلاَ الْقَذَرِ إِنَّمَا هِيَ لِذِكْرِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ وَالصَّلاَةِ وَقِرَاءَةِ الْقُرْآنِ أَوْ كَمَا قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ قَالَ فَأَمَرَ رَجُلاً مِنَ الْقَوْمِ فَجَاءَ بِدَلْوٍ مِنْ مَاءٍ فَشَنَّهُ عَلَيْهِ.

رواه البخاري ومسلم، مشكوة صفحه ۵۲ س ۷.

ژباړه: دحضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې موږ درسول الله ﷺ سره په مسجد کې ناست ؤ چې يو صحرابي راغی او ودرېدلو په مسجد کې تشي بولي کول يې شروع کړل، نو صحابه کرامو ويل مه، مه، نبي کريم ﷺ وفرمايل چې دې مه منع کوی (يعني دمتيازوبه دوران کې يې مه منع کوی چې حه تکليف ورته ونه رسی) پريږدی دې. نو صحابه کرامو هغه پرېښودلد ترهغه چې بولي يې وکړی، بيا رسول الله ﷺ هغه راوبلو او ورته وی فرمايل چې دا مسجدونه دبولو اوګندګي نه دهيڅ شئ صلاحيت نه لري (يعني دې لپاره نه دي) بلکه دا مسجدونه دالله ذکر اولمونځ اوتلاوت قرآن لپاره دی، ياڅنګه چې رسول الله ﷺ وفرمايل، راوي حضرت انس رضي الله عنه وايي چې بيا نبي کريم ﷺ يوسړي باندي اوبه را غوښتلی چې کله هغه يوه بوکه اوبه راوړی نو حضور ﷺ په هغه ځای اوبه واړولی.

(۲۶) وَعَنْ طَلْقِ بن علی رضي الله عنه قَالَ خَرَجْنَا وَفْدًا إِلَى رَسُولِ اللهِ ﷺ فَبَايَعْنَاهُ وَصَلَّيْنَا مَعَهُ وَأَخْبَرْنَاهُ إِنَّ بِأَرْضِنَا بيعةً لَنَا فَاسْتَوْهَبْنَاهُ مِنْ فَضْلِ طَهُورِهِ فَدَعَا بِمَاءٍ فَتَوَضَّأَ وَتَمَضْمَضَ ثُمَّ صَبَّهُ لَنَا فِي إِدَاوَةٍ وَأَمَرَنَا فَقَالَ اُخْرُجُوا فَإِذَا أَتَيْتُمْ أَرْضَكُمْ فَاكْسِرُوا بِيْعَتَكُمْ وَانْضِحُوا مَكَانَهَا بِهَذَا الْمَاءِ وَاتَّخِذُوهَا مَسْجِدٍ قُلْنَا إِنَّ الْبَلَدَ بَعِيدٌ وَالْحُرُّ شَدِيدٌ وَالْمَاءُ ينشفُ فَقَالَ مُدُّوهُ فَإِنَّهُ لَا يَزِيدُهُ إِلا طيبا (رواه النسائي)

ژباړه: دحضرت طلق رضي الله عنه څخه روايت دی چې موږ ووتلو ديو وفد په صورت کې دنبي کريم ﷺ طرف ته نو موږ بيعت واخيستلو دهغوی نه اودهغوی سره موږ لمونځ وکړو اوموږ رسول الله ﷺ ته داعرض وکړو چې زموږ په زمکه کې يوه ګرجه نو موږ دهغوی نه دهغه داودس نه زياتي اوبه وغوښتلی، هغوی اوبه راوغوښتلی بيا يې اوس وکړو اوخوله يې کنګال کړه بيا يې اوبه په يولوښي کې واړه ولی زموږ لپاره اوموږ ته يې حکم وکړو چې اوس ولاړ سی چې کله تاسو خپلي ګرجی ته ورسيږي هغه ورانه کړی اوپه هغه ځای دا اوبه وپاشی اوپه هغه ځای مسجد جوړ کړی، موږ ووېل چې ښارلري دی ګرمي زياته ده اوبه به وچې سي، نو نبي کريم ﷺ وفرمايل چې اوبه زياتي کړی ځکه چې داسود پاکوالي نه نور هيڅ نه زياتوی.

(۲۷) عَنْ جُوَيْرِيَةَ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ خَرَجَ مِنْ عِنْدِهَا بُكْرَةً حِينَ صَلَّى الصُّبْحَ، وَهِيَ فِي مَسْجِدِهَا، ثُمَّ رَجَعَ بَعْدَ أَنْ أَضْحَى وَهِيَ جَالِسَةٌ فَقَالَ: مَازِلْتِ عَلَى الْحَالِ الَّتِي فَارَقْتُكِ عَلَيْهَا"، قَالَتْ: نَعَمْ، قَالَ النَّبِيُّ ﷺ لَقَدْ قُلْتُ بَعْدَكِ أَرْبَعَ كَلِمَاتٍ ثَلَاثَ مرارٍ لَوْ وُزِنَتْ بِمَا قُلْتِ الْيَوْمَ لَوَزَنَتْهُنَّ، سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ، عَدَدَ خَلْقِهِ وَرِضَا نَفْسِهِ وَزِنَةَ عَرْشِهِ وَمِدَادَ كَلِمَاتِهِ (مشكوة صفحه ۲۰۰ س ۲۵)

د حضرت جويريه رضي الله عنها څخه روايت دی چې نبي کريم صلى الله عليه وآله وسلم تشريف يو ړلو دهغه دخوانه دسهار لمونځ پې وکړو په داسې حال کې چې هغه (جويريه) دخپل لمانځه په ځای کې وه ،بيا تتشريف راوړو ،نبي کريم صلى الله عليه وآله وسلم دخانبنت په وخت کې په داسې حال کې چې هغه په ځای ناسته وه ، نبي کريم صلى الله عليه وآله وسلم وفرمايل چې ته اوس هم په حال يې په کوم حال چې ما پرېښودلی وی او وتلی ووم . حضرت جويره رضي الله عنها عرض وکړو چې هو کی .نونبي کريم صلى الله عليه وآله وسلم وفرمايل چې ماستا څخه وروسته څلور کلمې دري ځله ولوستلی که چيرې هغه تول کړي سي دهغه سره کوم چې تادهغه وخت نه تراوسه پوري لوستلی دی نوخامخا هغه (څلور کلمات چې مالوستلي دي) به زياتي درنې وی ، هغه کلمات دادی : . دالله تعالی ذات پاک دی اوهم دهغه تعريف سره دهغه مخلوق د تعداد برابر ؤ دهغه ذات درضامندي مطابق اودهغه د عرش اود وزن مطابق اودهغه د کلماتو د تعداد برابر .

---

(۲۸) وَعَن قَتَادَةَ الأَنْصَارِيِّ قَالَ قَالَ رَجُلٌ يَا رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وآله وسلم . أَرَأَيْتَ إِنْ قُتِلْتُ فِي سَبِيلِ اللهِ صَابِرًا مُحْتَسِبًا مُقْبِلًا غَيْرَ مُدْبِرٍ يُكَفِّرُ اللهُ عَنِّي خَطَايَا فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وآله وسلم نَعَمْ . فَلَمَّا أَدْبَرَ نَادَاهُ فَقَالَ نَعَمْ إِلاَّ الدَّيْنَ كَذلِكَ قَالَ جبرئيل عليه السلام . رواه مسلم، مشكوة صفحه ۲۵۳ س ۱۰ .

ژباړه :دحضرت ابو قتاده رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايي چې يوسړي وويل اې دالله رسوله صلى الله عليه وآله وسلم تاسو ماته دا وفرمايی که چيرې زه دالله تعالی په لاره کې شهيد کړل سم صبر کونکی چې د ثواب په نيت د دښمن مقابله کوم بغير دشا کړ ځولو نه د دښمن ته نوآيا الله تعالی به دا کفاره وګرځوی زما د ګناهونو .نونبي کريم صلى الله عليه وآله وسلم وفرمايل هو . نوچې کله هغه ولاړه بيايې راوغوښتلو ورته وی فرمايل : چې هو ليکن قرضه (يعني قرض په شهادت سره هم نه معاف کيږي د غه شان ماته جبرائيل عليه السلام ويلي دي .

---

(۲۹) عَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ: دَخَلْتُ عَلَى رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وآله وسلم فَذَكَرَ الْحَدِيثَ بِطُولِهِ إِلَى أَنْ قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ، أَوْصِنِي. قَالَ: أُوصِيكَ بِتَقْوَى اللهِ عَزَّ وَجَلَّ، فَإِنَّهُ أَزْيَنُ لِأَمْرِكَ كُلِّهِ " قُلْتُ: زِدْنِي . قَالَ: عَلَيْكَ بِتِلَاوَةِ الْقُرْآنِ، وَذِكْرِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ، فَإِنَّهُ ذِكْرٌ لَكَ فِي السَّمَاءِ وَنُورٌ لَكَ فِي الْأَرْضِ قُلْتُ: زِدْنِي. قَالَ: عَلَيْكَ بِطُولِ الصَّمْتِ، فَإِنَّهُ مَطْرَدَةٌ لِلشَّيْطَانِ، وَعَوْنٌ لَكَ عَلَى أَمْرِ دِينِكَ قُلْتُ: زِدْنِي. قَالَ: إِيَّاكَ وَكَثْرَةَ الضَّحِكِ، فَإِنَّهُ يُمِيتُ الْقَلْبَ، وَيَذْهَبُ بِنُورِ الْوَجْهِ قُلْتُ: زِدْنِي. قَالَ قُلِ الْحَقَّ وَإِنْ كَانَ مُرًّا " قُلْتُ: زِدْنِي . قَالَ لَا تَخَفْ فِي اللهِ لَوْمَةَ لَائِمٍ قُلْتُ: زِدْنِي. قَالَ: لِيَحْجِزْكَ عَنِ النَّاسِ مَا تَعْلَمُ مِنْ نَفْسِكَ. .مشكوة صفحه ۱۴ س: ۲۷ .

ژباړه :دحضرت ابوذر غفاري رضي الله عنه څخه روايت دی وايي زه داخل سوم په نبي کريم صلى الله عليه وآله وسلم باندي نو داوبد حديث بيانولو څخه وروسته يې وفرمايل:اې دالله رسوله صلى الله عليه وآله وسلم ماته وصيت وکړه،نبي کريم صلى الله عليه وآله وسلم وفرمايل:زه تاته وصيت کوم دالله څخه دوير بدلو ،بيشکه دا (تقوی) به ستاهر کار ته زينت ورکړي ما وويل نورماته وښايه ، نو وی فرمايل : چې ته لازم ونيسه په خپل ځان باندي د قرآن تلاوت

اودالله جل جلاله ذکر چې عزت اوبزرګي والا دی ،بیشکه دابه ذکر وي ستالپاره په اسمانونو کي اونور به وي ستالپاره په زمکه کي ،ماورته وویل نور راته وښایه . نووی فرمایل لازم کړه په ځان ډیرچپ والی ،بیشکه دا (دغفلت خندا) زړه مړکوي اودمخ نور ختموي ماووېل ددې څخه زیات وی فرمایل : ته حق خبره وایه (هره موقع باندي) اګرچې ترخه لګي،ماووېل نور راته وښایه وی فرمایل:چې دالله تعالی په باره کي (په دین باندی عمل کولو په باره کي) دچادملامتیا نه مه ویریږه ماووېل نور راته وی فرمایل تالره پکار ده چې منع سی دخلګو په باره کي دهغه شئ نه (دهغوی دعیبونونه) کوم چې تاته معلوم دی دخپل ځان په باره کي.

(۳۰)عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضی الله عنه أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلی الله علیه وآله وسلم قَالَ أَتَدْرُونَ مَا الْغِيبَةُ قَالُوا اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ. قَالَ ذِكْرُكَ أَخَاكَ بِمَا يَكْرَهُ قِيلَ أَفَرَأَيْتَ إِنْ كَانَ فِي أَخِي مَا أَقُولُ قَالَ إِنْ كَانَ فِيهِ مَا تَقُولُ فَقَدِ اغْتَبْتَهُ وَإِنْ لَمْ يَكُنْ فِيهِ فَقَدْ بَهَتَّهُ . رواه مسلم،مشکوة صفحه : ۴۱۲ س ۱۰.

ژباړه: دحضرت ابوهریرة رضی الله عنه څخه روایت دی چې بیشکه دالله رسول صلی الله علیه وآله وسلم وفرمایل : تاسوخبره یاست چې غیبت څه شئ دی؟نوصحابه ؤعرض وکړو الله اودهغه رسول صلی الله علیه وآله وسلم زیات عالم دی ،نونبي کریم صلی الله علیه وآله وسلم وفرمایل ته دخپل ورور هغه خبره ذکر کړی چې هغه ته ناخوښه وي ،پوښتنه سوه تاسوماته وښایاست که چیري هغه خبره چې زه یې کوم هغه زما په ورور کي موجود وي (بیابه هم غیبت وي کنه؟) نو وی فرمایل که چیري هغه خبره په هغه کي وي نو تادهغه غیبت وکړو اوکه چیري هغه په هغه کي نه وي نو تا په هغه باندي بهتان وویلو.

(۳۱)وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلی الله علیه وآله وسلم أَوْحَى اللَّهُ إِلَى جِبْرِيلَ علیه السلام اقْلِبْ مَدِينَةَ كَذَا وَكَذَا بِأَهْلِهَا . قَالَ:فَقَالَ:يَا رَبِّ إِنَّ فِيهَا عَبْدَكَ لَمْ يَعْصِكَ طَرْفَةَ عَيْنٍ فَقَالَ اقْلِبْهَا عَلَيْهِ وَعَلَيْهِمْ فَإِنَّ وَجْهَهُ لَمْ يَتَمَعَّرْ فِيَّ سَاعَةً قَطُّ . رواه البیهقی .مشکوة صفحه ۴۳۸ س ۲۷.

دحضرت جابر رضی الله عنه څخه روایت دی فرمایي چې رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم وفرمایل چې الله جل جلاله وحي وکړه جبرئیل علیه السلام ته چې فلانکی ښار پورته کړه اونسکور یې کړه ،داسي اوداسي ، نو جبرئیل علیه السلام وفرمایل چې ای پروردګار! بیشکه په هغوی کي خوستافلانکی بنده هم دی چې هغه دستر ګو درپ هومره هم نافرمانی نه ده کړی ،نوالله تعالی ورته وفرمایل چې ته دغه ښار نسکور کړه په ده باندي هم اوپه هغو (دښار په اوسیدونکو) باندي هم ځکه چې بیشکه ددې سړي مخ چیرته هم زما باره کي نه دی متغیر سوی (بدل سوی) یعني دده په وړاندي به ګناهونه کبدل اوده هم هیڅکله بدنه دی ګنړلي.

(۳۲) عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ رضی اللہ عنہ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ ﷺ نَامَ عَلَى حَصِيرٍ، فَقَامَ وَقَدْ أَثَّرَ فِي جَسَدِهِ، فَقَالَ لَهُ ابْنُ مَسْعُودٍ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ ﷺ لَوْ أَمَرْتَنَا أَنْ نَبْسُطَ لَكَ وَنَعْمَلَ فَقَالَ مَا لِي وَلِلدُّنْيَا وَمَا أَنَا وَالدُّنْيَا إِلَّا كَرَاكِبٍ اسْتَظَلَّ تَحْتَ شَجَرَةٍ ثُمَّ رَاحَ وَتَرَكَهَا، رواه الترمذی وابن ماجه. مشکوة صفحه ۴۴۲ س ۸.

ژباړه: دحضرت ابن مسعود رضی اللہ عنہ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ ویده سو په یو چټائي باندي (چې کله) راپورته سو په داسي حال کي چې دهغوی په بدن مبارک باندي دپوزکي ننبي جوړي سوی وي نوابن مسعود رضی اللہ عنہ عرض وکړو اې دالله رسوله! ﷺ کاش چې تاسو موږ ته حکم راکړی وای موږ به ستاسولپاره څه (نرم) شئ اوار کړی وی اوڅه شئ به موجوړ کړی وای، نووی فرمایل: چې څه دي زما لپاره اودنیا لپاره. نه یم زه اودنیا مګر یو سور پشان چې دیوې ونې لاندي یې سوری ونیولو اوآرام کولو څخه پس ولاړه.

(۳۳) عَنْ أَبِي مَسْعُودٍ الْأَنْصَارِيِّ ﷺ قَالَ كُنْتُ أَضْرِبُ غُلَامًا لِي فَسَمِعْتُ مِنْ خَلْفِي صَوْتًا اعْلَمْ أَبَا مَسْعُودٍ لِلّٰهُ أَقْدَرُ عَلَيْكَ مِنْكَ عَلَيْهِ فَالْتَفَتُّ فَإِذَا هُوَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ هُوَ حُرٌّ لِوَجْهِ اللّٰهِ. فَقَالَ: أَمَا لَوْ لَمْ تَفْعَلْ لَلَفَحَتْكَ النَّارُ أَوْ (قَالَ) لَمَسَّتْكَ النَّارُ (رواه مسلم) (مشکوة صفحه ۳۹۱)

ژباړه: دحضرت ابو مسعود رضی اللہ عنہ څخه روایت دی فرمایي چې مایوځل خپل مرئی وهلونو ما دخپل وروسته نه آواز واورېدلو چې اې ابو مسعوده رضی اللہ عنہ پوهه سه چې الله تعالی خامخا زیات قادر دی په تاباندي ستاپه ده باندي (یعني څومره چې ته په ده باندي دوهلو قدرت لري الله تعالی ددې څخه زیات په تاباندي قادر دی چې تاووهي) چې کله زه متوجه سوم نوناڅاپه هغه حضور وه، ما (فورا) وویل ای دالله رسوله ﷺ داده الله تعالی درضا لپاره ازاد دی، نوحضور ﷺ وفرمایل خبردار بیشکه که چیرې تاداسي نه وي کړی نوته به خامخا اورسوځولی وی یا یې وفرمایل ته به خامخا اور مسحه کړی وی.

(۳۴) وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضی اللہ عنہ أَنَّهُ رَكِبَ خَلْفَ رَسُولِ اللّٰهِ ﷺ يَوْمًا فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ يَا غُلَامُ إِنِّي مُعَلِّمُكَ كَلِمَاتٍ يَنْفَعُكَ اللّٰهُ بِهِنَّ احْفَظِ اللّٰهَ يَحْفَظْكَ، احْفَظِ اللّٰهَ تَجِدْهُ تُجَاهَكَ، وإذا سألت فسأل اللّٰهَ، وَإِذَا اسْتَعَنْتَ فَاسْتَعِنْ بِاللّٰهِ وَاعْلَمْ أَنَّ الْأُمَّةَ لَوِ اجْتَمَعُوا عَلَى أَنْ يَنْفَعُوكَ لَمْ يَنْفَعُوكَ إِلَّا بِشَيْءٍ قَدْ كَتَبَهُ اللّٰهُ لَكَ وَلَوِ اجْتَمَعُوا عَلَى أَنْ يَضُرُّوكَ لَمْ يَضُرُّوكَ بِشَيْءٍ قَدْ كَتَبَهُ اللّٰهُ عَلَيْكَ رُفِعَتِ الْأَقْلَامُ وَجَفَّتِ الصُّحُفُ. رواه احمد والترمذی، مشکوة صفحه ۳۹۱ س ۳.

ژباړه: دحضرت عبدالله ابن عباس رضی اللہ عنہ څخه روایت دی هغه وایي چې یوه ورځ زه دحضور ﷺ څخه وروسته وم نوهغوی وفرمایل: اې هلکه! ته الله یادساته، الله تعالی به تایاد ساتی. ته الله یاد کړه الله تعالی به تاسره مومي خپل وړاندي اوچې کله ته سوال کوی نو دالله نه سوال کوه اوچې کله ته امداد غواړی نو دالله تعالی نه مدد غواړه اوته پوهه سه چې بیشکه که چیرې ټول امت جمع سي په دې خبره چې هغوی

تاته نفع ورسوی دځه شي نوهغوی نفع نسي رسولی تاته دهیڅ شئ لیکن دهغه چي کوم الله تعالی ستالپاره لیکلي دي . اوکه هغوی جمع سي په دې خبره باندي چي تاته نقصان ورسوي دځه شي نوهغوی نقصان نسي رسولی تاته دځه شي مګر دهغه چي کوم الله تعالی ستالپاره لیکلی دی . قلمونه لوړ سوی دی اوصحیفې وچي سوی دی .

(۳۵) وَعَنْ عَبدالرحمن بن عبدالله عَنْ اَبِيْه قَالَ كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللهِ ﷺ فِي سَفَرٍ فَانْطَلَقَ لِحَاجَتِهِ فَرَأَيْنَا حُمَرَةً مَعَهَا فَرْخَانِ فَأَخَذْنَا فَرْخَيْهَا فَجَاءَتْ الْحُمَرَةُ فَجَعَلَتْ تَفْرِشُ فَجَاءَ النَّبِيُّ عليه السلام ، فَقَالَ مَنْ فَجَعَ هَذِهِ بِوَلَدِهَا رُدُّوا وَلَدَهَا إِلَيْهَا وَرَأَى قَرْيَةَ نَمْلٍ قَدْ حَرَّقْنَاهَا فَقَالَ مَنْ حَرَّقَ هَذِهِ قُلْنَا نَحْنُ قَالَ إِنَّهُ لَا يَنْبَغِي أَنْ يُعَذِّبَ بِالنَّارِ إِلَّا رَبُّ النَّارِ . رواه ابوداود ، مشکوة صفحه ۳۰۷ س ۲۳

ژباړه : دعبدالرحمن دپلار څخه روایت دی هغه وایي چي موږ دحضور ﷺ سره په سفر کي ؤ نو حضور ﷺ دقضایي حاجت لپاره ولاړی نو موږ حمرة مرغه ولیده چي دهغه سره دوه بچي ؤ موږ هغه دواړه بچي ونیول نو هغه مرغی راغله اوزموږ په وړاندي وزري خوری کړی نو حضور ﷺ تشریف راوړو وی فرمایل چي چا درد رسولی دی (په تکلیف اوویره کي واچوله) دی لره ، ددې دبچو په باره کي ورکړی د ته بچي ددې اونبي کریم ﷺ ولیدلو دمیږو کلی چي هغه موږ سوځلی ؤ نو نبي کریم ﷺ وفرمایل چي چاسوځولی دی داکلی . موږ وویل موږ سوځولی دی نو نبي کریم ﷺ وفرمایل دهیڅا لپاره مناسب نه دی چي هغه چاته د اور عذاب ورکړي مګر د اور پیدا کونکی لره .

(۳۶) وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو رضي الله عنه أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ مَرَّ بِمَجْلِسَيْنِ فِي مَسْجِدِهِ فَقَالَ كِلَاهُمَا عَلَى خَيْرٍ وَأَحَدُهُمَا أَفْضَلُ مِنْ صَاحِبِهِ أَمَّا هَؤُلَاءِ فَيَدْعُونَ اللهَ وَيَرْغَبُونَ إِلَيْهِ فَإِنْ شَاءَ أَعْطَاهُمْ وَإِنْ شَاءَ مَنَعَهُمْ وَأَمَّا هَؤُلَاءِ فَيَتَعَلَّمُونَ الْفِقْهَ أَوْ (قَالَ) وَالْعِلْمَ وَيُعَلِّمُونَ الْجَاهِلَ فَهُمْ أَفْضَلُ وَإِنَّمَا بُعِثْتُ مُعَلِّمًا ثُمَّ جَلَسَ فِيهِمْ . رواه الدارمی ، مشکوة صفحه ۳۶ . س ۲۳ .

ژباړه : دحضرت عبدالله بن عمرو رضي الله عنه څخه روایت دی چي یوځل رسول الله ﷺ تیرسو په دوو مجلسونو باندي په خپل مسجد کي نووی فرمایل چي دواړه نیکي باندي دی ، په دوی کي دیو مجلس فضیلت زیات دی ، د دویم نه هغه خلک چي الله جل جلاله بولي اوشوق لري دهغه طرف ته نو که دالله تعالی خوښه سي دوی ته به ورکړي اوکه خوښه یې سي نو دهغوی نه به یې منع کړي ، باقي داخلک (فقه) یا یې وفرمایل چي (علم) زده کوي اوناواقفه ته دد ین علم ښائي پی دوی دنورونه بهتر دی اوبیشکه زه لیږلی سوی یم ، صرف استاذ بیانبي کریم ﷺ هغوی سره کښیناستلو معلومه سوه چي د تدریس او تعلیم درجه د تبلیغ نه هم اوچته ده .

(۳۷)وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّ رَجُلاً قَعَدَ بَيْنَ يَدَيِ النَّبِيِّ ﷺ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّ لِي مَمْلُوكِيْنِ يُكَذِّبُونَنِي وَيَخُونُونَنِي وَأَشْتُمُهُمْ وَأَضْرِبُهُمْ فَكَيْفَ أَنَا مِنْهُمْ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ إِذَا كَانَ يَوْمُ الْقِيَمَةِ يُحْسَبُ مَا خَانُوكَ وَعَصَوْكَ وَكَذَبُوكَ وَعِقَابُكَ إِيَّاهُمْ فَإِنْ كَانَ عِقَابُكَ إِيَّاهُمْ بِقَدْرِ ذُنُوبِهِمْ كَانَ كَفَافًا لاَ لَكَ وَلاَ عَلَيْكَ وَإِنْ كَانَ عِقَابُكَ إِيَّاهُمْ فَوْقَ ذُنُوبِهِمْ اقْتُصَّ لَهُمْ مِنْكَ الْفَضْلُ فَتَنَحَّى الرَّجُلُ وَجَعَلَ يَهْتِفُ وَيَبْكِي فَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ أَمَا تَقْرَأُ اقول اللهِ تعالى(وَنَضَعُ الْمَوَازِينَ الْقِسْطَ لِيَوْمِ الْقِيَامَةِ فَلاَ تُظْلَمُ نَفْسٌ شَيْئًا وَإِنْ كَانَ مِثْقَالَ حَبَّةٍ مِنْ خَرْدَلٍ اَتَيْنَا بِهَا وَكَفَى بِنَا حَسِبِيْنَ فَقَالَ الرَّجُلُ وَاللهِ يَا رَسُولَ اللهِ مَا أَجِدُ لِي وَلِهَؤُلاَءِ شَيْئًا خَيْرًا مِنْ مُفَارَقَتِهِمْ أُشْهِدُكَ أَنَّهُمْ كُلَّهُمْ أَحْرَارٌ. .رواه الترمذی

ژباړه:دحضرت عائشې رضی اللہ عنہا څخه روایت دی فرمایي چې یوسړی راغی دنبي کریم ﷺ مخکې کښیناستلواو وی ویل اې دالله رسوله بیشکه زما یوڅو غلامان دی چې هغوی ماته درواغ وایي اوزما مال کې خیانت کوي اوزماخبره نه مني اوزه هغوی ته بدرد وایم اوهغوی وهم نوزه به څنګه یم دهغوی په وجي سره (یعني زما مستقل به څنګه وي دالله تعالی سره) نورسول الله ﷺ وفرمایل چې کله دقیامت ورځ سي نوحساب به کولی سي دهغه شئ کوم چې یې ستانه خیانت کړی دی اوستانافرمانی یې کړی ده اوکوم چې تاته یې درواغ ویلی وي اوستاهغوی ته دسزا ورکولو به هم حساب وکړی سي که چیرې ستاسزا ورکول دهغوی دګناهونو برابر وي نودابه کافي نه به ستالپاره فائده وي اونه نقصان اوکه چیرې ستاسزا ورکول دهغوی دګناهونو څخه کم وي نوستالپاره به فضیلت وي اوکه چیرې ستاسزا ورکول دهغوی دګناهونو څخه زیاته وي نوستانه به دزیادت بدله اخیستل کیږي نوهغه سړی یوطرف ته اوپه چغواوژړا سرسو.نونبي کریم ﷺ وفرمایل چې ولي تادالله تعالی قول نه دی لوستلی :وَنَضَعُ الْمَوَازِينَ الْقِسْطَ.چې موږ به دانصاف تله ودرو دقیامت په ورځ نولم به نسي کولی په هیڅ نونفس باندي دیوشئ اګر چې د(اوری) ددانی برابر وي موږ به هغه راوړو اوموږ به دحساب کولو لپاره کافي یو .نوهغه سړي وویل اې دالله رسوله ﷺ زه نه بیاموم دخپل ځان اودهغه غلامانو لپاره بهترشئ دهغوی دجدا کولو نه زه تاګواه کوم چې هغوی ټول آزاد دی.

وَعَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رضی اللہ عنہ يَقُولُ جَاءَ ثَلاَثَةُ رَهْطٍ إِلَى بُيُوتِ أَزْوَاجِ النَّبِيِّ ﷺ يَسْأَلُونَ عَنْ عِبَادَةِ النَّبِيِّ ﷺ فَلَمَّا أُخْبِرُوا كَأَنَّهُمْ تَقَالُّوهَا فَقَالُوا وَأَيْنَ نَحْنُ مِنَ النَّبِيِّ ﷺ قَدْ غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ وَمَا تَأَخَّرَ قَالَ أَحَدُهُمْ أَمَّا أَنَا فَإِنِّي أُصَلِّي اللَّيْلَ أَبَدًا وَقَالَ آخَرُ أَنَا أَصُومُ الدَّهْرَ . وَلاَ أُفْطِرُ وَقَالَ آخَرُ أَنَا أَعْتَزِلُ النِّسَاءَ فَلاَ أَتَزَوَّجُ أَبَدًا فَجَاءَ رَسُولُ اللهِ ﷺ فَقَالَ : أَنْتُمُ الَّذِينَ قُلْتُمْ كَذَا وَكَذَا أَمَا وَاللهِ إِنِّي لأَخْشَاكُمْ لِلَّهِ وَأَتْقَاكُمْ لَهُ لَكِنِّي أَصُومُ وَأُفْطِرُ وَأُصَلِّي وَأَرْقُدُ وَأَتَزَوَّجُ النِّسَاءَ فَمَنْ رَغِبَ عَنْ سُنَّتِي فَلَيْسَ مِنِّي. رواه البخاری، مشکوة صفحه ۲۷ س ۱۹.

ژباړه :اودحضرت انس رضی اللہ عنہ څخه روایت دی فرمایي چي د درې کسانو جماعت راغی دنبي کریم صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم پاکو بیبیانو نه هغوی تپوس کولو درسول الله صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم دعبادت متعلق چي کله هغه خلکو ته وښودلی سودهغوی دعبادت په باره کي نولکه چي هغوی درسول الله صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم عبادت کم ګڼلو ،نووی ویل موږ چیرته یو دحضور صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم پشان حال دادی چي دهغه مخکاو وروستني ټول ګناهونه معاف سوی دی نوپه هغوی کی یوه وویل چي زه به همېشه تولهشپه لمونځ اودویم وویل چي زه به همېشه ددورځي روژه نیسم اوهیڅ کله به روژه نه ماتوم او دریم وویل چي زه به دښځو نه ډډه کوم پی هیڅکله به واده نه کوم ،نونبي کریم صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم تشریف راوړو دوی ته وفرمایل : چي تاسو داسي داسي وینا ککړی ده ،خبردار! په خدای پاک قسم چي زه دالله پاک څخه زیات ویریږم په تاسو کي اوزه ستاسو نه زیات پرهیزګاریم دالله تعالی لپاره لیکن زه روژه هم نیسم اوکله یې پریږدم اوزه د(شپې) لمونځ هم کوم اووید یږم هم اوزه دښځو سره واده هم کوم نوچي کوم سړی زمادسنت نه اعراض وکړو (دواده نه یاد ټولو کارونو څخه هغه زماڅخه نه دی)ددې حدیث مفصل بحث په حدیث ۱۹۸ کي تیرسوی دی .

وَعَنِ الْعِرْبَاضِ بن سَارِيَة رضی اللہ عنہ قَالَ صَلّى بِنَارَسُوْلُ اللهِ صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم ذَاتَ يَوْمٍ ثُمَّ اَقْبَلَ عَلَيْنَا بِوَجْهِهِ فَوَعَظَنَا رَسُولُ اللهِ صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم مَوْعِظَةً بَلِيغَةً. ذَرَفَتْ مِنْهَا الْعُيُونُ وَوَجِلَتْ مِنْهَا الْقُلُوبُ. فَقَالَ قَائِلٌ يَا رَسُولَ اللهِ، كان هَذِهِ مَوْعِظَةُ مُوَدِّعٍ فَاَوْصِنَا أُوصِيكُمْ بِتَقْوَى اللهِ وَالسَّمْعِ وَالطَّاعَةِ وَإِنْ كَانَ عَبْدًا حَبَشِيًّا فَإِنَّهُ مَنْ يَعِشْ مِنْكُمْ يَرَى بَعْدِي اخْتِلَافًا كَثِيرًا فَعَلَيْكُمْ بِسُنَّتِي وَسُنَّةِ الْخُلَفَاءِ الرَّاشِدِينَ الْمَهْدِيِّينَ وَعَضُّوا عَلَيْهَا بِالنَّوَاجِذِ وَإِيَّاكُمْ وَمُحْدَثَاتِ الْأُمُورِ فَإِنَّ كُلَّ مُحْدَثَةٍ بِدْعَةٌ وَإِنَّ كُلَّ بِدْعَةٍ ضَلَالَةٌ. رواه احمد وابوداود ،مشکوة صفحه ۲۹ س ۲۶.

ژباړه : دحضرت عرباض رضی اللہ عنہ څخه روایت دی فرمایي چی یوه ورځ نبي کریم صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم موږ ته لمونځ راکړو بیا موږ ته متوجه سو په خپل مخ مبارک سره اوهغوی موږ ته یوبلیغ وعظ وفرمایلو چي په هغه سره سترګي (اوښکي) وبهیدلی او زړونه ویرېدل نویوسړی وویل چي اې دالله رسوله صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم لکه چي دادرخصت کونکی نصیحت دی نوتاسو موږ ته وصیت وکړی نونبي کریم صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم وفرمایل چي زه تاسو ته وصیت کوم دالله تعالی نه دویري کولو اوخبري اوریدلو اودحکم منلو اګرچي (حکم کونکی) حبشي غلام وي ،بیشکه څوک چي ژوندی پاتي سو زماڅخه وروسته نو هغه به ډیر زیات اختلاف وویني ،نولازم دی په تاسو باندي زماسنت اوزماد خلفاء راشدینو سنت چي هدایت موندونکی دی تاسو هغه مضبوط ونیسی اوتاسو هغه په غاښونو کي ونیسی تاسو ځان ساتی دنورو خبرونه څخه بیشکه هره نوی خبره بدعت دی اوهر بدعت ګمراهي ده ،دبدعت په موضوع باندي مفصل اومدلل بحث په حدیث نمبر ۲۱۴ کي تیرسوی دی .

عَنْ مُعَاذٍ ﷺ قَالَ كُنْتُ رِدْفَ النَّبِيِّ ﷺ عَلَى حِمَارٍ لَيْسَ بَيْنِي وَبَيْنَهُ اِلاَّ مُؤْخَرَةُ الرَّحل فَقَالَ يَا مُعَاذُ هَلْ تَدْرِي حَقَّ اللهِ عَلَى عِبَادِهِ وَمَا حَقُّ الْعِبَادِ عَلَى اللهِ قُلْتُ اللهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ قَالَ فَإِنَّ حَقَّ اللهِ عَلَى الْعِبَادِ أَنْ يَعْبُدُوهُ ، وَلاَ يُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا وَحَقَّ الْعِبَادِ عَلَى اللهِ أَنْ لاَ يُعَذِّبَ مَنْ لاَ يُشْرِكُ بِهِ شَيْئًا . فَقُلْتُ : يَا رَسُولَ اللهِ أَفَلاَ أُبَشِّرُ بِهِ النَّاسَ قَالَ : لاَ تُبَشِّرْهُمْ فَيَتَّكِلُوا.

رواه البخاري ومسلم، مشكوة صفحه ۱۶۸ س ۲۱.

ژباړه: دحضرت معاذ څخه روایت دی فرمایي چې زه دنبي کریم ﷺ څخه وروسته په یوخره باندي سپورم اونه وه زما اودهغوی په مینځ کي لیکن د کجاوې وروستی لرګی .نوحضور ﷺ وفرمایل چې اې معاذه ! ﷺ آیا ته خبریې چې څه حق دی دالله تعالی په خپلو بندګانو باندي اوڅه حق دی دبندګانو په الله تعالی باندي ،ماعرض وکړو الله ﷻ اودهغه رسول ﷺ ښه پوهیږي . رسول الله ﷺ وفرمایل : چې بیشکه دالله تعالی حق په بندګانو باندي دادی چې هغوی دالله تعالی عبادت وکړي اودهغه سره هیڅوک شریک نه کړي اودبندګانوحق په الله تعالی دادی چې هغه عذاب ورنه کړي هغه سړي ته څوک چې هغه لره شریک جوړنه کړي ،ماورته وویل چې آیا زه داخوشخبري خلګوته ورکړم ؟ نبي کریم ﷺ وفرمایل : چې ته خلګوته خوشخبري مه ورکوه بیابه هغوی په همدې باندي بهروسه وکړي (نوراعمال به پریږدي)

تمت بعون الله تعالی فی یوم الجمعة ۱۴۳۷ھ (۲۰۱۶/۱۴/۲)

ترتیب کونکی اومصصح :مولوي عبدالدیان (حلیم) ولایت زابل ولسوالي نوبهار

فاضل جامعه محمدیه منان چوک کوئټه

ناشر المكتبة السلطانيه الهاشميه

زیر اهتمام سید مطیع الله (هاشمي)

مکتبه هاشمیه کاسي روډ کوټه

دارشاد الطالبین دمضامینو فهرست

دعلماؤ تقریظونه ..... (۱-۲)

دزاد الطالبین طریقه او خاصیتونه ..... (۳)

دارشاد الطالبین طریقه اوخاصیتونه ..... (۴)

دهمدي شرحي مأخذونه او ورکړسوي حوالي ..... (-)

زمورږد استاذانو نومونه ..... (-)

امابعدُ له کوم وخت څخه شروع سو ..... (۸)

دطالب اوطلیب په مینځ کي فرق ..... (۱۰)

اَلبَابُ الاوّلْ ..... (۱۲)

ددنیا تعریفونه اووجه د تسمیه ..... (۱۴)

اَلجُمْلَةُ الْاِسْمِیّة ..... (۱۵)

دلفظ دین لغوی اوصرفي تحقیق ..... (۱۶)

دمخ معاني ..... (۱۷)

دمسواک فائدې ..... (۲۲)

نکته ..... (۲۸)

بل لفظ العجزدی ..... (۳۰)

داحدیث دمعتزلهؤ دلیل دی ..... (۳۵)

داحد او واحد خاص فرق ..... (۴۷)

فائده ..... (۴۹)

دتوبې تعریف ..... (۶۷)

په یوحدیث قدسي کي الله تعالی داسي فرمایي ..... (۷۴)

دحضرت عبدالله بن مبارک رحمه الله اودبوی بوډی قصه ..... (۷۶)

دابن تحقیق ..... (۷۸)

دذکر تعریف ..... (۸۰)

په بیان اوتبیان کي فرق ..... (۹۱)

رزق به مقرر وخت باندي ملاویږي ..... (۹۷)

مرګ هم په مقرر وخت راځي ..... (-)

دارشادالطالبین دمضامینو فهرست

دګاونډي قسمونه.....(۱۲۹)
لومړی بحث.....(۱۳۱)
دویم بحث.....(۱۳۲)
دریم بحث.....(۱۳۳)
د تصویر په حرمت باندي نقلي دلائل.....(۱۳۳)
څلورم بحث.....(۱۳۴)
پنځم بحث.....(۱۳۵)
فائده.....(۱۳۵)
د کلام خلاصه.....(۱۳۶)
دویمه فائده:.....(۱۳۸)
مسئله.....(۱۴۰)
دمروج ټلو استعمال جائز دی:.....(۱۴۱)
د ګنګرو والا پازیب اچول جائز نه دی.....(-)
د تبلیغ شرعي حیثیت.....(۱۴۲)
عجیبه نکته.....(۱۴۳)
نکته.....(۱۴۵)
دربیري شرعي حیثیت.....(۱۵۲)
دبریتو شرعي حیثیت.....(۱۵۳)
داوو کالو اولسو کالو د تخصیص وجه.....(۱۵۸)
توضیح اوپوره حدیث.....(۱۶۲)
نکته.....(-)
د دوو کسانو په مینځ کي دناستي شرعي حکم.....(۱۶۴)
دصدقې فضیلت.....(-)
صدقه څه ته وایي؟.....(-)
فائده اونکته.....(۱۶۸)
فائده.....(-)
د کلام خلاصه.....(۱۶۹)

دارشادالطالبین دمضامینو فهرست

فائده ..... (۱۷۱)

فائده ..... (۱۷۲)

فائده ..... (۱۷۳)

خلاصه د کلام ..... (۱۷۵)

لفظ صمت اوسکت کې فرق ..... (۱۸۰)

نکات ..... (۱۸۳)

:اوله نکته ..... (-)

دویمه نکته ..... (-)

اول حکمت ..... (-)

دویم حکمت ..... (-)

دریم حکمت ..... (-)

څلورم حکمت ..... (-)

پنځم حکمت ..... (-)

شپږم حکمت ..... (-)

اووم حکمت ..... (-)

اتم حکمت ..... (-)

فائده ..... (۱۸۴)

فائده ..... (-)

فائده ..... (۱۸۵)

د درود شریف فضیلتونه ..... (۱۸۶)

د درود شریف مسئلې ..... (-)

د عورت معنی ..... (۱۸۹)

د فی امرنا هذا مالیس منه مطلب ..... (۱۹۲)

لومړی بدعت په دوه قسمه دی ..... (۱۹۳)

بدعت شرعیه اوددې تحقیق ..... (-)

دویم: د بدعت لغویه پنځه قسمونه دي ..... (-)

د لغوي بدعت لومړی قسم ..... (-)

دارشادالطالبین دمضامینو فهرست


دبدعت حسنه اوسیئه غوره تحقیق..... (۱۹۴)
بدعت حسنه یانعمت البدعه..... (-)
اهمه فائده..... (-)
دبدعاتو په جواز دبدعتیانو دلائل اودهغه جوابونه..... (-)
دقرآن اوحدیث په رنړا کي داهل بدعت مذمت..... (۱۹۵)
رسول الله ﷺ وفرمایل..... (۱۹۶)
فائده..... (-)
فائده..... (۱۹۷)
فائده..... (-)
فائده..... (۲۰۰)
فائده..... (۲۱۱)
ویښته خورول..... (۲۱۷)
دسر دویښتانو مسنونه طریقه..... (-)
دسر دویښتانو خریل..... (-)
په مقرر ځای کي مړ ک راځي په دې باره کي یوه قصه..... (۲۲۰)
فائده..... (۲۲۲)
ذکر بعض المغیبات..... (۲۲۵)
دقرآن اوحدیث په رنړا کي دسود مذمت..... (۲۲۷)
الباب الثانی، فی الواقعات والقصص وفیه اربعون قصة..... (۲۳۴)


دکاتب اوناشر خواهش:


محترمو ویونکو اسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته! بعد مودِ حسب القدرة خپل کوشش په همدي کتابت اولیکنه اوهم تصحیح کي کړی دی خو بیاهم انسان انسان دی که چیري تاسو ته په همدی کتاب کي یوه اندازه دکاتب غلطي اویااملائي غلطي په نظر درسي زمودِ دمکتبه سلطانیه هاشمیه سره اړیکه ونیسئ دابه ستاسو لوی احسان وي ده دویم ایډیشن دپاره به مودِ دا غلطي اصلاح کړو. والسلام

ستاسو د دعا په هیله مولوي عبدالدیان حلیم

ولایت زابل ولسوالي نوبهار







مکتبہ سلطانیہ الھاشمیہ
کانسی روڈ۔ کوئٹہ